ناول: زما غږ حرام حرام

ليكوال: خواجه زي.

نشركونكې چينل: https://t.me/pashtoonovels0




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بِسمِ اَآاَللَّهِ اَآاَلرِحمَٰنِ اَآاَلرِحيِم"

دا نړۍ هم بېحد عجيبه نړۍ ده! يو دقه په يو حال،رنګ او بوي وي او بل دقه پر بل ساز او سرود! که د نن څخه پخوا يو چا راته ويلې وايي چې يوه ورځ به داسې راشي چې ته به خپل د جسد مخکې ولاړه اوسېږي او خپل د کورنۍ، مور، پلار،ورونو او خويندو ژړا او ماتم به خپل پر جسد و ويني نو څه حال به دې وي؟ نو ضرور به مې خندلې وايي او هغه کس ته به مې ويلې وايي: چې يا به زه په هغه ورځ مړه اوسېږم او هغه کتوونکي به زما روح وي چې زما جسد او د کورنۍ وير او ماتم ته ګوري! يا به مې ضرور هغه کس ته ويلې وايي: چې ته د يو رواني ډاکټر مشوري ته زښت اړتيا لرې، خو اوس! نه پوهېدم چې آيا زه مړه يم او دا زما روح ده! يا که زه د يو رواني ډاکټر مشوري ته اړتيا لرم؟

اخر څنګه امکان لري چې زما جسد دې هلته پروت وېې او خلک دې ورباندې ژاړۍ خو زه دې دلته د هغوي تماشې ته ولاړه اوسيږم؟

نه پوهېدم د وخت او حال څخه بېخبره وم په هېڅ شې مې سر نه خلاصيدو فکر مې کاوه مړه شوې يم! خو اخر ولې مړه شوې يم؟ ما حتا ياد ته نه راتلل چې زه ولې دې حالت ته رسيدلې يم؟ خپل پر دماغو مې بوج راوړو ترڅو ياد کړم زه ولې دې حالت ته ورسېدم؟ خو نه؛ هېڅ مې ياد ته نه راتلل، همغسې ګنګس حالت کې ولاړه وم چې يو چا زما پر اوږي لاس کېخود او په لوړ غږ يې په کوټه کې موجود کسانو ته وويل: وخت خلاص شو مريض يوازي پرېږدي ټول بهر لاړشي،په تلوار مې شاته وکتل هغه نفر چې زما پر اوږي لاس کېخودلې وو يو د عمر پوخ ډاکتر معلومېده! زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حیرت ناک نظر په لېدو یې په مهربانۍ وویل: زوي ته هم لاړ شه د باندې او دا نور هم ځان سره بیرون ویسه...

حیرانه شوم اول دا چې هغه څنګه زما روح ولېده؟ او دویم دا چې ولې راته ووېل زویه؟ غوښتل مې وریسی غږ وکړم چې تازه مې خپل ځانته فکر شو! تور نارینه کالي، مې په ځان وه د تور واسکټ او پټو سره او ... خپل لاسونه مې راپورته کړل غټ نارینه د ویښتیانو ډک لاسونه راپورته شول په وحشت شاته شوم، دا.... دا څه خبره ده؟ زما په وحشت شاته تلو باندې خپل د مور غږ مې واوریده چې په ژړا یې زما خوا ته مخ کړو او ویې ویل: و دې لېدو فاتح زویه د ګل پشان لور مې د مرګ پر بستری راته پرېوته ...

او بیا د ژړا غږ یې پورته شو فاتح؟ ذهن مې په تلوار سرچ او پلټنه پېل کړل ترڅو پوهه شم دا فاتح اخر څوک دی؟ پلار مې مور د اوږی څخه ونیول او زما د جسد له څنګ یې پورته کړه خور او دوه ورونه مې هم پاځېدل ترڅو له کوټې ووځې! هر یو چې زما د څنګ تېرېده یو نظر یې زما خوا ته کوو، د زیات وېري څخه زما ژبه بنده شوی وه! د ټولو د وتلو سره سم بغیر لدي چې خپل بې ساه جسد ته وګورم چې ډاکتران ورباندي لګیا وه، او یوه یې فشار کتو بل ورته سیروم جوړه وو، په تلوار د کوټې څخه ووتم او په بېحد ژړغونې او وېرېدلې غږ مې غوښتل مور ته غږ کړم او ووایم چې زه دلته یم او دا څه چل روان دې؟ چې ناڅاپه مې نظر په درې څلور طالبانو ولګېدو چې د یو ډاکټر سره یې زما پلار او ورونه په هغه تنګ سالون د شفخانه کې را ایسار کړې وه او ولاړ وه!

په وحشت مې خپل لارې تېرې کړې، نه پوهېدم چې هغوي د څه لپاره راغلې او ولې زما پلار او ورونه یې چار چاپېر راګېر کړې؟ او ولې زما پلار دومره غوسه دي؟ په وېره، وېره مې هغوي ته کتل چې د پلار غږ مې لوړ شو او په قهرجن غږ یې داسي حال کې چې هغه ډاکټر ته مخ کړې وو خو مخاطب یې طالبان وه وویل: راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاست چې تحقیق وکړې چې ولې زما لور د ځان وژني کوښښ کړې؟ ها؟ تاسو فکر کوي دا کوم د کورنۍ تاوتریخوالی له لاسه را پیښ شوې تصادف دې؟

پلار مې داسې حال کې چې څهره یې له غوسې تکه سره شوې وه خپل ګیره لاس کې موټ کړل او ویې ویل: زما لور ستاسو له لاسه ځان وژنه وکړه، د هغې اخرې کال د درس وو تاسو چې انسټیوټ بند کړو هغې دا بلا خپل پر سر راوستوه اوس مو وجدان راحته شو؟ اوس نو ورځې او مور خپل په غم او درد باندې خوشې کړې.

د پلار خبره مې ذهن کې انګازی پېل کړې"زما لور ستاسو له لاسه ځان وژنه وکړه، د هغې اخرې کال د درس وو تاسو چې انسټیوټ بند کړو هغې دا بلا خپل پر سر راوستوه" یعنې ما ځان وژنه کړې وه؟ نو ولې زما یاد ته نه راتلو؟ نه امکان نلرې! نه ...زه هېڅکله داسې کار نشم کولې! نه ما ځان وژنه نده کړې، دا امکان نلرې! نو هغه زما جسد! خو زه خو ژوندې یم! اصلاً ولې زما یاد ته نه راځې چې زه دلته څنګه راغلم؟ پلار مې د طالبانو سره یوڅه نور بحث وکړو او اخره کې هغوي لکه چې قانع شول او لاړل.

د هغوي په تلو او د دومره خبرو په اورېدو زما بدن کې د وېرې لړزه خپره شوه! نه پوهېدم چې دا څه چل روان دې، مور مې د خور په غېږه کې سر کېخودلې وو او ژړل یې، د هغې د ژړا په لېدو زما زړه نور هم بې طاقت شو او غږ مې کړل: موری ...

خپل د غږ په اوریدو خپله مې حیرت او وحشت وکړو! یو بډ نارینه غږ مې ترغوږ شو چې راوتې زما له مرۍ وو! زما په غږ مور مې راوکتل او اوښکي بهېدل یې لا پسې زیات شول! پلار مې تندی تروش کړو او ویې ویل: پلار دې څلور پنځه زنګ ووهل اوس خو دی ولېده چې طبعیت یې ښه دی او خطر رفع شوی نو کور ته دې لاړشه.

غوښتل مې ورته ووایم چې کوم کور ته؟ کوم پلار درته زنګ وهلې دې پلاره؟ خو پلار مې مخ راڅخه وګرځه وو او روان شو، د ډېر وېرې څخه مې لاسونه لړزېدل زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې غوښت وژاړم فکر مې کاوه، فشار مې صفر شوي او ټول نړۍ مې پر سر څرخې، مغزو کې مې زر رقم فکرونه او خیالونه په ګرځېدو شوه، دا څه روان دي؟ یو ځل مې د هغه کوټې دورازی ته کتل چې زما جسد پکې پروت وو او څو ډاکتران ورباندې لګیا وه بیا مې په سالون کې په ناستو څوکېو خپل مور ته کتل چې سر یې زما د خور په غیږ کې ایښودلې وو او په سلګو سلګو یې ژړل بیا مې نظر خپل د پلار خوا ته شو چې لاسونه یې شاته تړلې وه او په غوسه د سالون منځ کې په ګرځېدو راګرځېدو وو.

او تسبیح اړول او کله ناکله درېده او یو نیم نظر یې زما خوا ته کوو، بیا مې نظر خپل دوه ورونو خوا ته لاړو چې څنګ په څنګ ولاړ وه او په تروش تندې زما خوا ته راکتل! نه پوهېدم چې خبره اخر څه ده؟ پلار مې یوه شېبه د ګرځېدو څخه و درېده او زما مشر ورور ته یې وویل: الهام! خپل مور او خور ویسه کور ته زه دلته پاتې کېږم هر وخت بلقیس په هوښ راغله تاسو ته خبر درکوم، دلته ستاسو اوسېدل هېڅ ګټه نلرې.

بلقیس! خپل د نوم په اوریدو مې سترګې د اوښکو ډکې شوي شا شاته لاړم او په سالون کې پر پرتو څوکۍ کښېناستم خپل لاسونو ته مې وکتل،خپل کالو ته مې وکتل، خپل پر مخ مې لاس کش کړو ګڼ ببره ږیره مې لاس کې راغلل، په تلوار لځایه پاسېدم او تشناب په لټه شوم زه باید یو دوه لپه اوبه مخ ته واچوم ترڅو دا بیځایه فکرونه مې له ذهن څخه ووځې، هوو دا خامخا یو بد خوب دي زما د ټول بد خوبونو پشان دا هم یو بد خوب دی، په تلوار تشناب ته ننوتلم، د اوبو نل د هېنداری مخامخ وو! جرئت مې نه درلود خپل څهرې ته په هېنداره کې وګورم! ستونې مې وچ شوي وو ذهن کې مې راپیښ شوی ټولې صحنې له خیال تېرې شوي، خپل جسد مې سترګو ته پورته ښکته کېده که دا حقیقت وی بیا؟

نه دا امکان نلری زه بلقیس یم او دا ټول خوب دي، هو دا خوب دی باید په یو چل ځان راویښ کړم یو ځل مې د شبنم څخه اوریدلی وه چې ویل یې که غواړې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان د خوب را پاڅوې نو یو ناڅاپه کار وکړه په خوب کې! مطلب ناڅاپه اوبه وشېنده په ځان یا ځان و واهه! زه هم اول اوبه اچوم همدا به کار وکړی کنه دویم لاره به امتحان کړم، په همدی فکرونو په لړزانه ګامو د هېنداری خوا ته نږدی شوم غوښتل مې د اوبو نل خوشې کړم چې ناڅاپه مې سترګي په هېنداره کې په دوه تور سترګو کې خښې شوي او په یوه شېبه کې مې ذهن د خاطراتو او یادونو طوفان را اوچت کړو، او زه یې لڅانه سره ویوړم ...

***

خپل کوټه کې ناسته وم ژړل مې مخي ته مې پراته د پوهنتون چپټرونه وه، باور مې نکېدو اصلاً د باور وړ نه وه، د دومره ستونزو او مشکلاتو وروسته اخر پاي داسي شو؟ اوښکي مې نه دریدل او بې کنټرول مې پر مخ بهېدې یاالله دا نو انصاف دی؟ زړه مې اور اخلې ته یو کار وکړه، ته یو لاره جوړه کړه،دا نو څنګه امکان لری؟ خپل هغه زاریو او ژړاو زوره ولم چې دوه کال مخکې مې د ټول کورنۍ منتونه وړې وه، زارۍ مې کړې وه، ترڅو د درس ویلو لپاره اجازه راکړې!

او کله چې د دومره ستونزو وروسته د کورنۍ لخوا اجازه صادر شوه ترڅو لوړو زده کړو ته دوام ورکړم طالبانو انسټیوټ بند کړو! هغه هم زما د زده کړو په اخرې کال؟ هغه وخت چې زه په تمه وم د دې دومره کلونو د زاریو، ستونزو او زحمتونو یوه خوږه بدله ترلاسه کړم؟ څنګه هغوي په دومره آسانې وویل د انجونو په مخ درس ویل بند دی! په دی فکرونو مې بیا ژړا زور واخیسته چې د کوټې د باندې خپل د پلار غږ مې واوریده ..

پلار: ښه نو زه څه وکړم؟ زما خو د اول هم زړه نه و چې بهر لاړه شې، خو تا ډېر وویل ما هم اجازه ورکړل اوس چې انستیوټ بند شوي نو زه څه وکړم؟ ما خو ندې بند کړې چې دې داسې پر ما ماتم نېولې! ورته ووایه د کوټې څخه راووځه او راشه د انسان بچي پشان ډوډۍ وخوره، او دا ناز او نخري دې هم خوشې کوه. درس ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په څه درد خوری؟ سبا ورځ ستا خاوند ستا د درس پوښتنه نکوې ستا د کار او دیګ پوښتنه کوې.

د مور غږ مې واوریده چې کوښښ یې کاوه پلار مې چوپ کړې ترڅو زما په زخمونو نور مالګه ونه دوره وې.

مور- سړی ماشومه ده اوس لږ خفه ده خوشې کړه لږ خپل د زړه براس وباسې خپل راځې ډوډۍ خورې ته ولې دومره ورته اندیښمن یې؟
پلار- د څه براس؟ د څه غوسه ویستل؟ بند شو، بند شو بلا مې توره وریسې، ډېر یې هم ښه کار وکړو اصلا زه خو وایم بیخې د نرتوب کار وکړو، د همدي درس ویلو او پوهنتون ویلو په بهانې لږ انجوني خو د هلکانو سره جوړی نشوی او پیغورونه یې خو خپل مور او پلار ته پرینخودل! ښه وشو چې بند شو. ښځۍ! په همدي کې به زموږ خیر وو کنه خداي خبره ستا دا نازولې لور به زموږ په سر څه بلاوي راوړي وایې.

مور- داسي مه وایه خدای دی نکوې، ستا لور ده خپل په لور لا باور نلرې؟
پلار- زه خپل په سا لا باور نلرم چې کله به راځخه ځی؟ او ته وایې خپل په لور باور نلرې؟

خپل د مور او پلار د کش مکش غږونه مې اوریدل او ژړا مې لا پسی زیاتیده، یالله زه دې ولې یو داسې بدبخت نرۍ کې پېدا کړې یم چې هلته ښځه اوسېدل جرم او ګناه ده؟ ولې زما ورورنه هر کار چې غواړی کولې شي خو ځکه پښه لړه کړه کېدم ټول مې په سر وهئ او وایې ته خو جنۍ یې! داسې مکوه؟ ولې دی زه انجلۍ پېدا کولم؟ زه دا ژوند او دا جسم نغوارم خدایه ستا دا کار انصاف ندې، خدایه ته داسې بې انصافه نشې اوسېدی. که موږ بد یو نو ولې دې پیدا کولو؟ که موږ کم عقل یو نو تا ولې خپل وخت د یو کم عقل او نجس مخلوق پر جوړه ولو تېره وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ګیلې مې له خدایه کول او اوښکې مې پر مخ لکه سیلاب روان وه، چې د مور او پلار د شور ماشور غږ خپ شو، نه پوهېږم څومره وخت به تېر شوي وو چې د کوټې د دروازې په غږ مې اوږې وپرېدې شاته مې ونه کتل د کتلو څخه بغیر مې لا د هغه شتون محسوس کولې شو دروازه بېرته د غژ غژ په غږ بنده شوه د درانه ګام اخیستلو غږ مې خپل شاته اورېده چې زما خوا ته رانږدې شو! همغه تریخ قیمتي عطر بوي یې زما تر پوزې شو اوښکې بهېدل مې لا پسې زیات شول، د هغه د غوسې څخه اخستلې زوروري سا ګانې مې خپل شاته محسوس کول، د تل پشان پلار مې خپل نازولې راغوښتې وو ترڅو ما ورباندې ادب کړې!

– ماته راوګوره..
د هغه پر غږ اورې مې وپرېدلې خو بیا هم د شاته کتلو جرئت مې ونکړو جرئت نه باید و وایم زړه مې نغوښت ورته وګورم، دا کس مې نغوښت دا ځان خوښوونکې، کبرجن او متکبر کس مې نغوښت خپل ومخ ته پرته چېټرونه ته مې وکتل او اوښکې مې لاپسې زیاتېدې اخر ولې؟
– تاته وایم غوږونه دې هم نه اورې؟ وایم دیخوا راوګوره.

نه مې غوښتل ورته وګورم، د هغه د قوارې مې لا ښه نه راتلل خو پوهېدم که ورته ونګورم نو نه مې خوښې کوې خپل پر حال، په همدې خاطر له مجبورې مې په کرکه او نفرت باندې مخ د هغه خوا ته وګرځه وو، غټې تورې سترګې، غنم رنګ څهره او اوږده ببره رېږه، او پر سر یې کندهارې خولې په لومړۍ نظر کې د هغه څخه یو طالب جوړ کړې وو! خو دا ټول ظاهرې بڼه وه اصل کې هغه طالب نه وو، یواځې د طالبانو په راتلو خپل رېږه یې پرېښودلې وه او د شوق یې دا خولې او پټو راخیستی وو، منم چې ښایست یې درلود خو زما په نظر هلکانو لپاره له ښایست څخه زیات مهم شخصیت دې! پیسې هم نه! یوازې اویوازې اخلاق او شخصیت. چې ده ورڅخه بوې هم نه وو وړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د کرکې او نفرت نظر چې د هغه په مخ دروند شو نو هغه سر وخوځاوه او ويې پوښتل: هـــا؟!

د هغه پداسې مغرورانه او کبرجنه لهجه غوسه مې زيات شوه، غاښونه مې يو پر بل وچيچل او په کرکجنه لهجه مې وويل: ها؟ و دې لېدم؟ صحيح شو؟ زړه دې يخ شو؟ همدغه دې غوښتل کنه؟ تل دې ويل زما لاس کې که وايې قدم مې بهر نه پرېخودی، اومم واخله ارمان دی پوره شو ستا پشان يو څو وحشيانو دا کار نن وکړو او زما آرمانونه يې را خاوری کړل اوس دې زړه راباندې خوشحاله شو هاااا؟

او ناڅاپه مې ژړا زور واخيسته او سلګې وهل مې پېل کړل، داسې احساس مې کاوه چې سا نشم اخيستې او هره شېبه مې د زړه درېدو امکان دې، د هغه مخ ته مې وکتل حيران وو او په خلاصو سترګو يې راکتل شايد د سترګو په تل کې لږ تاسف هم تر سترګو کېده خو هغه تور کبرجنې سترګې يې تر ډېر وخت هغسې پاتې نشول او د څو شېبو وروسته د تل پشان په بې پروا نظر يې راوکتل، په نامېدې مې نظر ورځخه واخيست او خپل خاوری شوی ارامانو ته فکر ويورم خپل تور بخت ته په فکرو شوم چې د هغه دروند غږ مې واوريده چې ويې ويل: اوس پوره يې خو ندې بند کړې تر امر ثاني پوری بن...

په تېزه مې وروکتل چې هغه خپل خبره پری کړل او خاموش شو، زما د نمجنو سترګو په لېدو يې تندی تروش کړو او خپل خولې د سر لرې کړل او د عادت مطابق خپل لاس کې ونېول او خپل ويښتيانو کې لاس وهل پيل کړل، ده غوښتل ما په دې خبرو ختا باسې؟ امر ثاني؟ پوسخند مې پر شونډو خپور شو داسې خبري کول لکه ماشوم چې دوکه کوې، مخ مې ورځخه وګرځه وو او بيا په ارمانجن نظر خپل سترګي مې خپل چېترونو ته ځښې کړې، چې د هغه د پښو غږ مې واورېده چې کرار کرار زما مخامخ ته راغلو او څو شېبې همغسې ولاړ وو او د پورته څخه يې و ماته راکتل، څو شېبې وروسته په دوه پښو زما مخکې کښېناست او يو نظر يې ماته او بيا پر غالې پراته زما چېترونو ته وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس يې را وغځاوه او د غالې په سر پورت زما يو چپټر يې را واخيست او ورقې اړول يې ورڅخه شروع کړل! غوښتل مې خپل چپټر د هغه د لاس څخه کش کړم نه مې غوښتل زما شيانو ته لاس ووهې همدا چې لاس مې د چپټر د راخيستلو لپاره اوږد کړو هغه مخامخ راوکتل، لاس مې نېمه کې و دربېده، د خولې لاړې مې تېرې کړې ما د هغه د داسې وحشيانه نظر څخه وېره درلوده! لاس مې راښکته کړو او خپل ځان مې شاته کش کړو، چې هغه په کرار خپل د لاس چپټر پورته ښکته کړو او د هر ورقي د اړولو سره يې په تندی کې ګونځې ډېرېدی د څو ورقو اړولو وروسته زما سترګو ته يې سترګي خښې کړې او په دروند غږ يې وپوښتل: ته قابلګې وايې کنه؟

ځواب مې ورنکړو چې هغه د چپټر ورقه زما مخي ته وخوځاول او بيا يې وويل: نو دا څه دي؟
هېڅ ځواب مې ورنکړو چې هغه يوځل بيا په ځېر سره چپټر ته وکتل او بيا يې ماته چې په وېره مې ورکتل سترګي راوړل او د شونډو لاندې کرار ځان سره هغه شعر چې ما په چپټر ليکلی وو زمزمه کړو:

له هر کار نه يم ويستلی د يار سترګو
په زړګي يمه ويشتلی د يار سترګو

ساده سترګې مې په جنګ کله پوهيږي
هر ميدان ترينه ګټلی د يار سترګو.

د شعر خلاصېدو وروسته زما خوا ته يې راوکتل، تندې تروش کړو او ويې پوښتل: دا څه دي؟
غوسه مې راغله لدې چې زما په هر کار کې کار درلود او د يو شعر په سر هم بد ګمانه کېدو او فکر يې کاوه ضرور د کوم خاص کس لپاره مې لېکلې! اجازه مې ورنکړل نور د چپټر ورقي واړوي او د لاس څخه مې چپټر کش کړو او په تلوار مې دا نور هم راټول کړل، ما خپل د چپټر په ځېنو ورقو سپين ورقي د کتابچې لګولې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پر هغه باندې مې داسي اشعار چې زما خوښېدل لیکلې وه، یوازې پدې خاطر څکه د شبنم خبره د قابلګي نوټونه او چپټرونه که کور کې پلار او مور مو وګورې نو ضرور به فکر وکړې چې مورږ کوم غلط کار کوو؟

اخ ټول د ښځې په اړه وه هغه هم تصویرې! د هغه د درس ورکولو وخت کې زه ګز ګز له څمکې وتم، داسې بېحیا عکسونه وه، په هر حال همدا مو رشته وه ماشوم زېږونه او د ښځې د هر شې په اړه معلومات! نو څکه ما پدې اشعارو هغه پټ کړې وه ترڅو زما ساده مور او پلار کوم بد ګمان ونکړې، لکه همدا بد دماغو کس پشان! اصلاً دا بدګمانې زمورږ قوم کې لکه چې ارثې مرض وو ټولو درلود ښځو او نرانو په یوه اندازه! ما خپل د درس زیاتر برخه د همدې موضوع له لاسه په موبایل کې ویل او چپټر مې نه اخیست!

په همدې فکرونو کې وم او د هغه داسې بدګمانې ته مې زړه کې بد رد ویل چې هغه په زوره له لاسه کش کړم، دومره زوروه چټکه یې راکړل چې چپټرونه مې دلاس وغورځېدل! د هغه خوا ته مې وکتل چې د هغه د څهرې په لېدو مې د وېرې څخه لاړې تېرې کړې سترګې له غوسې څخه سرې شوې وه او د مغزې رګونه یې راوتې وه! داسې حال کې چې خپل غاښونه یې یو پر بل کلک کول په دروند غږ یې وویل: دا اشعار دې د چا لپاره لېکلې دې ها؟ غوښتل دې کوم هلک ته ورکړې دا چپټرونه؟ د موبایل نمبر دې هم ورسره لیکلې وو؟ دا ټول ژړا دې په همدې خاطر ده؟

داسې حال کې چې بېحد وېرېدلې وم ورڅخه او سا مې لا نشو اېستلې خو د هغه دا خبرو دومره زور راکړو چې بغېر لدې چې د هغه وحشتناکه څهرې او غوسې ته کومه توجه وکړم په کرکې او نفرت مې ورته وویل: توف دې ستا پشان بیغرت وې چې خپل ناموس باندې تهمت لګوې، خپل ګمان پر ما مکوه جناب محمد فاتح! ته به ناموس نه پېژنې او دا...
خبره مې لا پوره شوې نه وه چې پر غومبرو مې د هغه د دروند لاس ګوزار احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو غوږونو کې مې د بنګ ... بنګ ... غږونه انګازی وکړل او نور مې هېڅ وا نه وربېدل ...

***

د یو چا د چغي په غږ د خیالونو لړۍ مې وشلېده او د فکرونو څخه راووتم، په تلوار مې سر پورته کړو، احساس مې کاوه د مخ یو خوا مې تر اوسه درد کوې! داسي لکه چې هغه څپېړه مې همدا اوس خوړلې وې؟ د چغي غږ پسې مې وکتل یوه د ۲۴/۲۵ کالو په عمر هزاره جنۍ مې مخې ته ولاړه وه! ځکه وایم هزاره ځکه سترګي بېخې نه ښکاره کیدي! داسي ننوتې وه، او د کالو په سر چې کوم سپینه چپنه یې اچولې وه معلومیده چې ضرور کوم نرسه به وی! زما مخي ته ولاړه وه او د قهر او غوسي څخه خوتېده! په حیرت مې لومړۍ هغې ته وکتل او بیا مې شاوخوا وکتل ترڅو د هغې د دې ناڅاپي وحشت او داسي غوسي دلیل معلوم کړم! خو د هرڅه د مخه هغه رامخکې شول او ماته یې کنځل پیل کړل! په وازه خوله د حیرت مې ورته کتل..

نرسه- تو شرم نداری با ای سه متر ریش امدی تشناب زنانه؟(او بیا د شونډې لاندې کرار وویل: طالب های جاهل بی فرهنګ." ته شرم نلرې پدې درې متره ږیره د ښځو تشناب ته راغلې یې؟ بی فرهنګ جاهل طالب!"

"بی فرهنګ طالب! تشناب زنانه!"دا خبری مې ذهن کې ګرځېدل او نه پوهېدم چې څه چل دی! دا طالب یې لا څوک دی؟ او تشناب زنانه بیا څه موضوع ده! نو که تشناب زنانه ته لاړه نشم چیرته لاړه شم؟ لځایه پاڅېدم ترڅو ښه ورسره جنګ وکړم بد اخلاقه نرسه اوس وخت ډاکتران دومره بد اخلاق او مغرور ندې څومره چې دا یو لویښت بدرنګې نرسانې دې، زما په پاڅیدو هغه څو ګامه شاته لاړه همدا چې غوښتل مې وربانډی خوله خلاصه کړم او ښه یې بیاب کړم چې ناڅاپه مې نظر د هغې شاته په هېنداره ولګېده او ګونګې شوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ... نه ... خدایه دا نو څنګه خوب دې؟ ولې پای ته نه رسېږي دا عذاب؟ د هغه تصویر په لېدو بیا مې فشار ښکته شو او بغیر لدې چې د هغه نرسې چیغ چوغک غږ او کنځلو ته غوږ ونیسم په تلوار د تشناب ووتم او مخ مې د شفخانې د باندې خوا ته ونیو احساس مې کاوه ساه نشم اخیستی او هر دقه مې د سترګو مخې ته زر رقم تصویرونه راتلل، خپل د پلار،مور، خور او ورونو غږونو مې په مغزو کې انګازې کولې، خپل بې ساه جسد مې د سترګو مخکې مخکې کېدو، د شفخانې څخه ووتم او د سړک خوا ته لاړم ګنګسه وم د زیات فکرونو څخه مې احساس کاوه د سر مغزه مې چوی د سړک غاړې کې د ونې لاندې مې بډه ووهل او خپل سر مې په دواړو لاسونو کلک ونیو.

باېمن شوې وم چې دا کوم خوب یا هم خیال ندې، خو باور کول یې هم د منطق او عقل څخه لرې خبره وه، زه بلقیس! هغه جنۍ چې د عمر 23 کال مې د یوه جنۍ،ښځې، لور، میرمن او خور په حیث ژوند کړې وو، اوس ناڅاپه په یو ځان وژنې چې یاد ته مې هم نه راتلل چې اصلې دلیل یې څه وو؟ د 24 ساعتونو یا هم د هغه څخه په کمه موده کې خپل د اصلیت،جنسیت او نوعیت څخه یو بل ژوند، بدن، شخص، او مکان ته مې تغېر کړې وو! زما بې هوښ جسد د شفخانې پر بستر پروت وو خو زه دلته د یو سړی په جسد کې وم! هغه هم کوم بېګانه کس نه بلکې خپل د کوژدن بدن کې وم؛ فاتح ... محمد فاتح الکوزی ... د فاتح د نوم په ویلو د سترګو وړاندی مې یوه صحنه تېره شوه ...

***

مور- بلقیس لورې راشه فاتح زوی راغلې یو پیاله چاې خو ورته راوړه.

د مور په غږ د موبایل سکرین مې بند کړو او په ناراضه توګه له ځایه راپاڅېدم، عه خدایه هغه به کومه ورځ وې چې د دغه آسمانې غضب بغېر په راحت خیال خپل د زړه یو کار وکړم؟ بغېر لدې چې یو څوک راپسې چغې بوغې و وهې؟ اصلاً دا ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ورځ زموږ کور ته راځې؟ خپل لکه چې کور نلرې که څنګه؟ هره ورځ دلته راروان دی او مور او پلار ماته چغي وهې راشه فاتح راغلې! پر ما یې څه چې راغلې؟ ډېر مې خوښ دې چې هره ورځ خپل دا خیرن مخ زیارت هم رابانديې کوې عه عه...

فاتح! اووو نه باید خالي فاتح ووایم! باید د هغه پشان ووایم ښاغلي محمد فاتح خان الکوزی! زما د مشر کاکا زوی! او زما د بده بخت، د شوم بخته، د بدمرغۍ، د بد شانسې د بد طالع د بد قسمــــــت زما په نوم کوژدن! هو زما کوژدن. د ماشومتوب هغه وخت چې زه د یوې هفتي ماشومه وم او لا نه خپل په ښه پوهېدم او نه بد! پلار مې زه خپل د وراره محمد فاتح خان صیب په نوم کړم، او اوس د هغه خبرې څخه 20 کاله وروسته زه د هغه رسمي، شرعي او قانوني کوژدن او ښځه په حساب راتلم.

البته زما خوښه نه وه، خو هې هې پښتانه! د تل پشان د پلار خبره اخری خبره وې. پلار مې وویل: همدا دې خاوند دې او خبره خلاصه.یو هفته مخکې مو نکاح وتړل! او زه شوم د جناب محمد فاتح خان شرعي او قانوني میرمن او کوژدن، نه پوهېږم ولې ورڅخه کرکه لرم! واقعاً خپله هم په دلیل یې نه پوهېږم، که ووایم بدرنګ دې او بد مې ورڅخه راځې نو دروغ به مې ویلې وې، ځکه هغه ښکلې دې او دا یو تریخ حقیقت دې! که ووایم بې سواد جاهل دې او بد مې ورڅخه راځې نو بیا هم دروغ دې! ځکه هغه ماسټرې لرې د هندوستان هیواد څخه د اقتصاد په برخه کې!

که و وایم غریب دې او زه نغوارم د یو غریب ښځه شم بیا به هم کلک بهانه په حساب رانشې! ځکه زما د مشر کاکا د کورنۍ اقتصادي حالت زموږ څخه سل چنده ښه دې، دوه زامن یې خارج کېدې دوه یې دلته په لوړو دندو بوخت دې او ښه ماش لرې، خپله همدا مغرور او کبرجن فاتح هم زیات پیسه داره دې! که رښتیا ووایم او یو بل تریخ حقیقت هم ومنم نو باید ووایم چې فاتح هغه سړی دې چې زما د دویم کاکا د لورګانو څخه و نېسه زما تر ماما، خاله، عمه، لرې نږدې خپلوانو او ټول قومې انجوني آرمان لرې هغه یو نظر د هغوي خوا ته واچوې، خو هغه زما کوژدن دې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خــــو زما نه خوښېږي د هغه اخلاق، رفتار،بدګماني، شخصیت، او حتا د هغه څهره! منم چې ښکلې دي خو ما ته د هغه ښایست لا کرکجن معلومېږي. نه پوهېږم زما د دې دومره کرکي اصلي دلیل څه دي! خو کله ناکله چې په ژور انداز ورته فکر کوم نو یواځې او یواځې یو دلیل مې ذهن ته راځي او هغه هم دې په نوم د اجبار! او زما په نظر همدا یو دلیل بسنه کوي ترڅو زموږ زړه د یوه شي او یو کس څخه تر قیامته تور شي، فاتح زما د ژوند اجبار وو! هغه که هرڅومره اوس ښه شي بیا هم دا خبره زه نشم هېره ولې چې زما د پېدایښت په اومه ورځ زما پر پښو د هغه د نوم او ناموس د اوسېدو زولنې وتړل شوی.

هغه عمر کې زما څخه پنځه کال مشر دې د همغه ماشومتوب زما پر سر لکه عزرائیل پشان سایه یې اچولې وه، یاد مې دي د 6 کالو وم د ماشومانو سره وتلې وم کوڅې ته او د چېندرو لوبه مو کول چې هغه راغلو هغه وخت یې کورونه زموږ د کور څنګ کې وه دروازه په دروازه وو، د هغه عمر د 11 کالو وو د ښوونځي څخه رخصت شوي وو چې زه یې کوڅه کې د چېندرو کولو حال کې ولېدم، ما ورته وخندل خو هغه د ویښتیانو څخه ونېولم او کور ته یې ننویستم، زما په ژړا چې کله د کور ټول خلک راټول شول او مشر کاکا مې ورڅخه پوښتنه وکړل چې ولې بلقیس وهې؟

نو تر اوسه مې د هغه خبره یاد کېده چې په لوړ غږ او بدماشې چیغه کړه او ویې ویل: د کوڅي هلکانو ورته کتل او دې لوڅ سر لوبې کول! او دا مې هم یاد کېدې چې مشر کاکا مې خپل د زوي پدی جاهلیت څومره خوشحاله شو او افرینونه یې ورکړل. بس د همغه وخت موږ یو د بل سره لکه اور او تېل شو! او د دښمني پېل مو وشو او دا کرکه او نفرت هر څومره چې عمرونه مو پورته تلل هغومره زیات کېده، تر دې چې هغه د درس ویلو په پار هندوستان ته لاړو او د یو څو کالو لپاره ما یوه هوسا سا واخیسته، عجیبه وه خو کله چې د هغه خوا څخه راغلو نو لږ څه ناڅه بدلون یې کړې وو! نور د پخوا پشان لکه وحشي ځناورو رقم یې پر ما وار نکوو بلکې د هغه څخه یې لا یو مردار اخلاق پېدا کړې وه  امر کول او کنټروله ول!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه خوا چې راغلو لا يوه هفته نه وه تېره شوې چې د کوژده کوم او واده غواړم چغې پورته شوې او اوس د يوې هفتې وروسته دا بې حيا دې او زموږ کور دې چې د خوشې کېدو نوم يې نه اخلې او هره ورځ راروان دې، او تل داسې يو کار ضرور کوې ترڅو ما وګوري! البته کتل يې د کوم ميني خبرو يا کارونو لپاره ندې! زه دې ړنده او کاڼه شم چې ما دې په دومره کلونو کې د ده څخه کوم د ناز او محبت خبره اورېدلې وې! بس ما چې و ويني تندی تروش کړې او زر رقم فرمانونه صادر کړې دا وکړه هغه وکړه دا مکړه هغه مکړه، عه خدايه ستا دا بنده په دې يوه هفته کې زما د ژوند څخه دوزخ جوړ کړو.

هره ورځ د ماذديکر په 3:45 دقو زموږ کور ته راځې او يوه حاضری لګوی، پخدای په تنګ راغلې يم د دومره حکم چلولو څخه يې، يوه هفته زموږ د کوژدې تېرېږي او په دې يوه هفته کې پخدای که ما يوه د خير ورځ د ده له لاسه نده لېدلې، هر دقه او ثانيه په تمه يم له يوه خوا څخه يا دې راحاضر شې او تندی راته تروش کړی او امرونه صادر کړی يا يې هم هغه شيشکې خويندي يا هم هغه جنګېره مور!

د مور د دويم ځل غږ سره په ناراضه توګه پخلنځي ته ولاړم او چاې مې دم کړو، او بيا داسې حال کې چې ځان سره لګيا وم او زړه کې مې د هغه ټول کورنۍ په آسمانی افتونو او بلاګانو برباده ول، پتنوس په لاس هغه کوټې ته ننوتم چې جناب پکې تشريف فرما وو، کوټې ته په ننوتلو بغير لدې چې چا ته وګورم غوښتل مې ژر چاې په کوټه کې موجود کسانو ته واچوم او الفرار! خو زما د بدبخت پيالې ته د چاې اچولو وخت کې يو درونډ نظر مې خپل پر ځان احساس کړو او کله چې سر مې پورته کړو او د هغه نظر مې پر ځان ولېده نو دومر ورخطا شوم چې د ترموز سر راڅخه ختا شو او ټول چاې چپه شوو، او زما لاس هم ورسره وسوځېده!

د وېرې او وحشت څخه شاته شوم او بې اختياره مې "اخ" له خولې ووت.او د هغه سره سم کوټه کې يو شور ماشور جوړ شو، مور او خور مې زما خوا ته رامنډه کړل ترڅو وګوري زه خو زياته نه يم سوځېدلې؟ پلار او ورونه مې را پا نځېدل خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغه ځای څخه یې زما رټل پیل کړل چې ولې پام نکوی؟ یو چای نشې اچولې؟ ماشومه خو نه یې؟ او زر نور خبرې د هغوی په دې شان خبرو او هم خپل د لاس د درد څخه سترګو کې مې اوښکې را ټولې شوې، چې همدې وخت کې د دې ټولو کارونو اصلي ملامت خپل غږ پورته کړو او ویې ویل: که زیات سوځېدلې یې حجاب دې واچوه چې ډاکټر ته دې ویسم.

د هغه په غږ په درد او کرکې مې وروکتل، ټول ملامت همدا وو که ده ماته داسی په ځېر ځېر نه وایې را کتلې زه هم نه ورخطا کېدم او چای مې هم نه چپه کوو، اصلاً که دې نه وایې راغلې زه به اوس کراره ناسته وم او خپل ټېک ټاک به مې کتو نه دا چې د یو قوم مخکې وشرمېږم، ورټل شم او سوځم!

— وروره ښه یاست؟
خپل د اوږې په خوځېدو د تېر وخت څخه راووتم، په ډار مې خپل سر ته ولاړ سړی ته وکتل، خوله مې چیغو وهلو ته خلاصه کړه ترڅو ورته ووایم لاس دې زما له اوږې لرې کړه پدر لعنت! په څه حق ماته لاس راوړې؟ خو ناڅاپه خپل د ځان په لېدو مې خوله بنده شوه. زه نر وم! او دا حرکت زما مناسب نه وو. نه پوهېدم څه ورته ووایم؟ اخر بغېر لدې چې کوم ځواب ورکړم د هغه ځایه روانه شوم، د شپې ناوخته وه شاید ساعت یو یا هم دوه بجو شاوخوا وه د لرې لرې څخه د سپو غپل اورېدل کېده نه پوهېدم څه کار وکړم؟ چېرته لاړشم او چاته ووایم؟

یخ مې وشو خپل لاسونو ته مې وکتل غټ نارینه د ویښتیانو څخه ډک لاسونه! تل د دې لاسونو څخه مې وېره او وحشت درلود خو اوس! دا زما په کنترول کېدي،ناڅاپه مې ذهن کې دا خبره را وګرځېده چې فاتح نو چېرته دې؟ کله چې زه د هغه په بدن کې لکه روح پشان ناسته یم نو هغه چېرته دې؟ کوم فکر مې چې ذهن ته راغلو سترګې یې راته د حیرت خلاصې پاتې کړې، نه ... نه ... دا امکان نلرې.

سر مې آسمان خوا ته پورته کړو هېڅکله خپل د 23 کلن ژوند په موده کې داسې یواځې دشپې په دوه بجو د سړک په غاړه نه وم درېدلې او آسمان ته مې نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتلې! سترګي مې پټې کړې او څو ژوره سا ګانې مې واخیسته، که څه هم کوم کار چې راسره شوی وو د انسان د منطق څخه وتلې خبره وه او یو ناممکن کار وو، خو زه د څو ساعتو مخکې پشان ورخطا او ویرېدلې نه وم! خپل هم نه پوهېدم چې ولې ناڅاپه دومره د آرمښت احساس کوم! خو هرڅه چې وو فکر مې کاوه یو غږ راته وایې چې په چیغو وهلو او ژړېدو هېڅ کار مخې ته نه ځې نو فکر وکړه!

دا غږ داسې و لکه یو څوک چې زما د مغز، زړه او وجود د یو کونج دا خبرې راته کوی، د یخ په احساس کولو سترګې مې خلاصې کړې سرګ خوا ته مې وکتل دانه مانه موټر په تلوار روان وه خپل د منزل پخوا، د سړک هغه خوا شفخانه وه کوم خوا څخه چې زه د هغه سړی په غږ راولاړه شوم او دیخوا راغلم، هغه خوا مې وکتل هغه نفر اصل کې د شفخانې ساتونکې ښکارېدې! د شفخانی مخې ته پر څوکۍ ناست وو، کور ته تللې نشوم نه خپل کور ته او نه هم د کاکا کور ته! که څه هم شاید د کاکا کورنۍ راباندی د فاتح ګمان کړې وایې او څه یې نه وایې راته ویلې،

خو بیا هم تللې نشوم! ځکه باید خپل د ځان په هوښ راتلو پورې صبر وکړم سلو کې 95% سلنه ډاډمنه وم چې زما جسم کې د فاتح روح ده! زه باید هلته و اوسیږم او د هغه په هوښ راتلو ورته ټوله کیسه وکړم، خان سره مې وویل ایا باور به وکړی؟ خپل ځواب مې خپل ورکړو خود به یې کوې کله چې خپل جسم کې ما وګورې مجبور دې باور وکړې، په همدی فکرونو د شفخانې خوا ته مې ګامونه چټک واخیستل او دننه لاړم د هغه کوټې خوا ته روانه شوم چېرته چې زما جسد د بېهوښې حال کې و!

په سالون کې یواځې پلار مې په څوکۍ ډډ وهلې ناست وو یوه پښه یې پر بل اچولې وه او تسبیح اړول، نه پوهېدم څه وکړم؟ غوښتل مې زه لومړۍ کس اوسیږم چې خپل د جسم پر هوښ راتلو وخت کې هلته اوسیږم خو پلار مې! ځان سره مې وویل زه فاتح یم! یعنې فعلاً خو د هغه جسم کې یم او ټول راباندې د هغه ګمان کوې او فاتح زما پلار ته زما او حتا زما د ورونو څخه لا زیات ګران دی! نو زما په دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسیدو به غوسه نشې! او همداسی هم وشول پلار مې زما په لېدو خوشحال شو او ویې ویل: پوهېدم چې کور ته نه ځې، ترڅو چې بلقیس دلته ده.

او د لاس په اشاره یې هغه کوټه راته وښودل کوم کې چې زما بې هوښ جسد وو. هېڅ مې ونه ویل او د هغه څنګ ته په څوکۍ کښیناستم، نه پوهېدم څه ورته ووایم؟ خپل پلار سره مخامخ کېدل هغه هم د هغه د زوم په صفت انسان د خبرو اچوی، ځان سره مې وویل: که په دې وخت کې فاتح شتون درلود نو هغه به څه ځواب ورکړې وایې؟ او څه کار به یې کړی وایې؟ خو دا پوښتنه مې بې نتیجې پاتې شوه ځکه ما او فاتح هېڅکله یو د بل سره خبری نه وو کړې! یعنې د نور نامزدانو پشان نه وو چې 24 ساعت موبایل کې یو بل ته جان او قربان ووایو حتا ما د هغه نمبر لا نه درلود نور خبري خو لرې، نو نه پوهېدم چې د هغه احساس او عکس العمل به په دې وخت کې څه وو؟

په ظاهر د شفخانې په څوکۍ خپل د پلار څنګ کې ناسته وم او خپل د جسم د په هوښ راتلو انتظار مې کاوه! خو اصل کې فکر او خیال مې یو بل موضوع باندې ګرځېده شاید عجیبه او یا هم لیونتوب په حساب راشې خو زما فکر پداسې یو حساس وخت کې څو میاشتې مخکې هغه وخت ته تللې وو چې د انسټیوټ یوی ملګري مې راته یو خارجی ژبې څخه را ژباړل شوی ناول او داستان راکړو؟ ما تل د ادبیاتو او شعرونو سره مینه وه تل مې غوښتل ادبیات ووایم او یو تکړه شاعره یا هم لیکواله شم زما زیات خوښېدل د اردو عربي او نور مشهوره ژبو څخه پښتو ته اشعار او ناولونه په مسلکي توګه را وژباړم خو زما د بد قسمته پلار مې د ادبیاتو د رشتې خلاف وو او ما ته یې د دوه کلنې قابلګي ویلو اجازه راکړه هغه هم په سل بنې اسرائیلي شرطونو!

په هر حال د دې لپاره چې د هغه په کور په نوم زندان څخه ازاده شم ما ومنل خو تل مې زړه کې د شعر او ناول سره خاص علاقه درلود او همدا علاقه د دې غټ سبب و چې ما د غلط تصاویرو په بهانه خپل ټول چپټرونو کې اشعار لیکل! په هر حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهن مې د هغه ملګرې لخوا راکړې شوی کتاب ته لاړو! ما هم د اکثریت انجونو پشان یا عاشقانه ناولونه خوښېدل یا هم کله ناکله د زیات خفګان څخه مې غمجن ناولونو ته مخه کول او په ساعتونو مې ژړل او فکر مې کاوه هغه د ناول کار پر ما شوی! خو ملګري مې چې کوم ناول راکړې وو د هغه موضوع ډېر عجیبه وه! یو تخیلې او بېحد عجیب ناول!

د ناول د کیسي پېل د یو اویا کلن سړی څخه کېږی چې ځوانې کې زیات علم پروره او علم خوښوونکي کس دې او دومره د علم سره علاقه او شوق لرې چې هر رشتی او برخې ته لاس اچوې خو یو هم تر سره نه رسه وي! تقریبا لس شل ژبې غواړی زده کړی خو د یو میاشت درس ویلو وروسته نامیده کېږي او هغه کار پرېږدې که څه هم لوې شهکار نکوي خو بیا هم خپل شهر کې د یو لوې فلسیوف او دانشمند په نوم پیژندل کیږی او ډیر خلک ورته احترام ساتې، ښځه یې ورڅخه طلاق اخلې پدی سبب چې هغه خپل ټول ژوند درس ویلو ته وقف کړی او عادی ژوند نلری د هغې د تلو وروسته دې بیا هم خپل درس ویلو ته دوام ورکوی او یوه ورځ کله چې عمر یی اویا کالو ته رسیدلی ډاکټر ورته وایې ته یو عصبی مرض باندی اخته یې او دا د دې سبب کیږی چې ته کرار کرار خپل حافظه له لاسه ورکړې!

هغه چې خپل اویا کاله عمر په بربادۍ کې ویني او خپل دومره د علم زده کولو محنت یې زوره وې نو اراده کوې د دې څخه مخکې چې خپل دومره علم له لاسه ورکړی او یو جاهل کس ورڅخه جوړ شې ځان وژنه وکړي! خو ځکه چې دې ښار کي ډیر مشهوره دې نو نغواړې دلته ځان وژنه وکړی غواړی بل ښار ته لاړشې او ځان و وژني خو د ځان و وژني مخکې خپل وصیت نامه او اخرې خبري لیکي او خپل جیب کی اچوي او د ځان وژنی په نیت روان کیږی، کله چی هغه ښار ته رسیږی نو کوم ځای چی ده د ځان وژني لپاره ټاکلې هغه خوا ته روان کیږی چې ناڅاپه یو تېز باران په ورښت پیل کوی او آسمانې تندر، صاعقه بریښنا د ده پر سر راغورځېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دې تر مرګه رسه وي، ټول خلک فکر کوي چې دې مړ شوي! خو دې ژوندي پاتې کیږی! یعنی د ده جامې او په جامو کې د ننه هغه وصیت نامه او د ځان وژنې څخه مخکې اخري خبرې او هر څه سوځیږي، او د ده د بدن 99% سلنه پوست هم سوځېږی، ډاکتران وايې چې دې به د دوه ساعتو څخه زيات ژوندي پاتې نشې! ځکه ټول بدن يې د تندر له لاسه سوځېدلې دی همدغه حال کې چې دوې د ده پر مړه کېدو خبرې کوې دې يو دم هوښيار دې او دا ټول خبري اوري خو نه خبري کولې شې او نه هم کوم حرکت کولې شې! همدا نن سبا به مړ شې سبا به مړ شې دې تر دوه ورځو ژوندی پاتې کېږی او دا کار ډاکتران حیرت ته اچوې ځکه د ده بدن د دې لځایه چې د مرګ او خراب کېدو خوا ته لاړشې د نوی پوست په را وړولو او رغېدو پیل کوی!

او د څو میاشتو وروسته لکه تازه د ځوانۍ په زور کې راغلې يو ځوان پشان کېږی! حتا غاښونه يې هم د ماشومانو پشان له سر راشنه کېږي! او د ټولو څخه جالب دا چې حافظه يې دومره ښه شوي چې هغه ژبي او کتابونه چې د ځوانۍ وخت کې ويلې وه خو د ډېر ستونزمن اوسېدو له لاسه يې خوشې کړی وه، اوس وربانديې روان خبری کولې او ويلې شې! دا پيښه د ده سره د دويم نړيوالې جګړې په وخت کې پيښ کېږي او دا خبره چې د يو تندر په لګېدو يو اويا کلن سړی څخه يو ځوان او نابغه انسان جوړ شوی! د ټول نړۍ پام د ده خوا ته کوې او همدي وخت کې د هټلر د عجيب غريب آزمايښتونو پروفيسور ډاکتر رودولف هم دې خپل د ازمايښتونو لپاره غواړې خو د فرانسي حکومت نغوړاي خپل يو وګړي نازی حکومت ته ورتسليم کړې او په همدی خاطر د هغوي د زور خبری او د دوی جار او جنجال پيل کېږي..

دا ډېره لويه کيسه وه خو دا کيسه ما يوازی په دی خاطر ياد ته راوړل ځکه زما حالت هم څه ناڅه د هغه کس پشان دې! هغه په يوه شپه کې کله چې د نړۍ څخه نامیده شوي وو او د ځان وژنې هڅه يې کول خو خداي هغه پداسي يو معجزه لروونکي کار او ازمايښت کې راګېر کړو، لکه زما! زه هم د نړۍ څخه نامیده شوي وم او غوښتل مې ځان وژنه وکړم! که څه هم اصلي دليل يې ندي راته معلوم خو خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وژغورلم او زما روح یې زما د کوژدن جسم کې واچول! که څه هم د عقل او منطق څخه لرې خبره ده او انساني عقل دا نشې منلې خو همدا کار شوي وو. او زما اوسېدل دلته خپل د پلار څنګ کې د هغه د زوم په جسم کې یو عیان ثبوت په همدې خبرې دي!

په همدې فکرونو کې وم چې ډاکټر زمونږ خوا ته راغلو او ویې ویل: مریض مو په هوښ راغلې که غواړې ملاقات ورسره کولې شې البته زیات به ورباندې بوج نه راوړې او هېڅ ډول به د خفګان او نارحتې خبرې نکوي.

د ډاکټر د خبرې سره سم زه او پلار دواړه له ځایه پاڅېدو، د پلار خوا ته مې وکتل چې په تلوار یې خپل تسبیح د واسکټ جیب ته واچول او غوښتل د کوټې خوا ته لاړشې چې ما یې مخ ونیوه، زما په لېدو په حیرت یې راوکتل چې ما په بند بند ژبه وویل: ه ... هغه ... که تاسو اجازه راکړې نو زه غواړم لومړی ورسره یو دوه خبرې وکړم، په یواځې ځان.

زما په خبرو پلار مې په پورته شوي وریځو د حیرت په ځېر،ځېر راوکتل او د څو شیبو خاموشې وروسته یې کرار وویل: سمده.
او روان شو بېرته خپل ځای کې کښېناست او تسبیح بېرته د واسکټ راوخیسته، لدې چې اجازه یې راکړه زړه کې مې شکرونه و ویستل او په لړزانده ګامونو د کوټې خوا ته روانه شوم، نه پوهېدم چې څه به راپیښ شې او څه کار به وشې؟ د دروازې لاستې مې ونېو خو د دروازی د خلاصه ولو جرئت مې نه درلود، مخ مې شاته وڅرخه وو پلار مې په مشکوک او بدګمان نظر په ځېر،ځېر راکتل د دروغو یو مسکا مې پر شونډو راویسته او کوټې ته ننوتم.

د دروازی په خرپ د هغه فکر زما خوا ته شو او زما په لېدو یې سترګې د حیرت خلاصې پاتی شوي، څو ځله یې خوله خلاصه او بنده کړه ترڅو یو څه ووایې خو د دا .... دا ... پر ویلو ګونګې شو د هغه پدی رقم ریکشن پوهه شوم چې شک مې یو دم صحیح وو زما جسم کې فاتح وو چې خپل د جسم په لېدو همغه ریکشن یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښودو کوم چې ما ښودلې وو! څو شېبې حق حیران یېراوکتل او ناڅاپه یې سترګی پټې کړل او د ځان سره لګیا شو او همغه کار یې تکرار کړو کوم چې ما وکړو!

ځان سره یې ویل: دا خوب دې فاتح، دا خوب دې. اوس راویښ کېږي دا یو بد خوب دی.

کله چې یو مصیبت یواځې په تا راشې نو ډېر سخت وی خو کله چې هغه مصیبت کې یو بل نفر ځان سره شریک وګوری نو د انسان زړه لږ جمع شې، پر ما هم هغه چل شوې وو، له دې چې یوازی نه وم او دې مصیبت کې یو نفر راسره شریک وو، لږ وېره مې کمه شوې وه. نړدی ورغلم دومره وخت مې نه درلود چې د هغه دا کارونو ته وګورم اوس پلار راتلو او که ما دې نه وایې پوهه کړی نو خلکو به پر ما د لیونۍ ګمان کړی وایې! شاید ظالمه په نظر راشم خو ما دا کار خپل د ځان په خاطر کاوه نه د ده، ما نه غوښتل زه دې خلکو ته لېونۍ معرفي شم هغه جسم زما وو او ما باید ورڅخه ساتنه کړې وایې، که هغه ساتنه خپل د دښمن د ژغورلو په بیه هم وایې نو ما باید دا کار کړې وایې.

په کراره مې ورته غږ کړل: فاتح!
هغه سترګي خلاصي نکړل خو خاموش شو.
– فاتح زه یم بلقیس!

زما په خبري هغه راوکتل، او ما د لومړۍ ځل لپاره خپل ځان،خپل څهره، د یو بل چا له سترګو ولیده! هغه بغېر لدې چې سترګې ورپه وې ماته او بیا خپل ځانته کتل، ورخطا وو لکه زما د څو ساعتو مخکې پشان غوښتل یې یو دلیل پیدا کړې ترڅو دا راپېښ شوی ټولو شیانو څخه انکار وکړی، هغه لکه لیونۍ شاوخوا کتل او ځان سره بیا لګیا شو هېڅ زما خبرو ته یې پام نکوه، مجبوره شوم او د هغه لاس مې خپل لاسونو کې ونیو، زما پدی کار هغه ناڅاپه د حرکت ودرېد او ما د موقع ګټه پورته کړل او د راپیښ شوی حالت تفصیل او کیسه مې د الف څخه تر یا ټوله ورته وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

— غوړ شه اوس پلار مې غواړې راشي او تا وګوری!
فاتح- و ... ولې غواړی ما وګوری؟
په خاموش نظر مې وروکتل، چې هغه خپل لاس پورته کړو ترڅو د عادت مطابق خپل خولې له سر لرې کړی او خپل ویښتیانو کې لاس تېر کړې، خو لاس یې په سر شوې تېکرې باندې ولګېده! د څو شېبو لپاره هغه خپل پر سر ټیکرې ته وکتل او بیا یې زما خوا ته راوکتل چې ما په خاموش ورته وویل: نه وم خبره چې دومره ډارن یې!

زما په خبرې هغه غوسه شو او ویې ویل: زه ډارن نه یم، یوازې د دې راپیښ شوي عذاب څخه لږ څه ورخطا شوي یم.
په پوسخند مې وویل: ډارن یې کنه یوازې پر تا داسې کار ندې شوې ما ته وګوره!

او بیا مې د هغه مخکې خپل نارینه د ویښتیانو ډک لاسونه پورته کړل،خپل پټو او خولې مې ورته وښودل او ومې ویل: وګوره زه هم خپل د جسم څخه راغلې یم ستا دا .." غوښتل مې ورته ووایم ستا دا مردار جسم ته خو خوله مې کنټروله کړل اوس وخت د جنګ نه وو"ستا دا غټ پټ جسم ته.

زما په خبرې هغه پوسخند و واهه او ویې ویل: مه شرمیږه ووایه ستا مردار جسم ته.
— ما داسې ونه ویل!
فاتح- خوله دې ونیول کنه مطلب دی همدا وو.
— نه.
فاتح- انکار مه کوه خپله هم پوهېږې چې مقصد دې همدا وو..

د دې څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم د کوټې دروازه خلاصه شوه او پلار مې رانوت، د هغه په دننه راتلو زما رنګ وپرېده او په وېره وېره مې د فاتح خوا ته وکتل، دعا دعا مې کول چې کوم لیونتوب ونکړی، دا داسی موضوع نه وه چې موږ یې خپل د کورنۍ او یا بل چا سره شریکه کړو دا زموږ دواړو یو مشترک مشکل وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او باید مورِ دوارِو تحقیق کړی وایې چې ولې داسی چل زمورِ دوارِو سره شوې؟ ما نه غوښتل د فاتح په کوم بېځایه خبرې زما نوم د لیونیانو په لیست کې راشې او د خلکو د خندا شم.

پلار مې بغیر لدې چې د فاتح! یعنې زما د جسم څخه چې فاتح پکې شتون درلود او په کټ څملېدلې وو سترګی واخلې د هغه د کټ خوا ته نږدی شو او د هغه مخامخ و درېده، فاتح زما خواته راوکتل او ما ورته په سترګو سترګو کې زاری وکړل چې ته وخدای کار خراب نکړې، پلار مې څو شېبې خاموش ولاړ وو، او یوائې هغه ته کتل. د پلار د داسی دروند نظر په معنا زه ښه پوهېدم او د شرم څخه مې سر نشو پورته کولې، زما پلار که هرڅومره بد انسان وو خو زړه یې مهربانه وو، او د اولاد د ځان وژنې خبر مور او پلار څنګه برباد کوي ما نن په همدي څو ساعتو کې ولېده. د څو شېبو خاموشې وروسته پلار مې کرار پداسی حال کې چې تراوسه یې نظر د فاتح خوا ته وو وویل: ښه یې لورې؟

د پلار په پوښتنې مې د فاتح سترګې له حیرت خلاصې پاتې شوی او خوله یې خلاصه کړه ترڅو ووایې زه فاتح یم! خو کله چې زما خوا ته پام شو نو غلې شو، او لکه چې هغه هم ومنل چې د رښتیا داسې بلا زمورِ داورِو په سر را نازله شوې چې کرار یې وویل: ښه یم کا..." فاتح چې کا کړل ما ټوخ کړل چې هغه ژر وویل:بابا! پلار مې ما او هغه ته په حیرت راوکتل خو څه یې ونه ویل څو دقې ولاړ وو او لږ اخوا دیخوا پوښتنې وکړل خو کله چې زمورِ دوارِو خاموشې ولېدل نو په مشکوک نظر یې زمورِ دوارِو ته راوکتل او بیا یې وویل: د سهار اذنو وخت دی زه به مونځ وکړم بیــ ..

ما په تلوار وویل: هو تاسو لاړشې زه همدلته یم.
پلار مې په حیرت راوکتل او ویې پوښتل: ولې ته مونځ نکوی که څنګه؟
په بند، بند ژبه مې وویل:  و.... ولې کوم یې ه... هغه تاسو لاړشی زه هم درپسی درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار مې د څه ویلو بغیر په مشکوک نظر زمورِ دوارو خوا ته را وکتل او بیا له کوټې ووت. د هغه په تلو مورِ دوارو یوه هوسا ساه واخیسته. زه د کټ څنګ ته په کېخودلې څوکۍ کښېناستم او خپل سر مې په لاسونو کې ونیو نه پوهېدم څه وکړم؟ زړه مې غوښتل په زوره، زوره وژاړم دا نو څه عذاب دی چې زمورِ پر سرونو نازل شوی؟ خپل د پخواني غږ په اوریدو مې سر پورته کړو چې نظر مې پر فاتح ولګېده چې په کراره یې وخندل او ویې ویل: له دې چې داسې نرۍ غږ لرم خندا مې راځي!

حیرانه وم چې هغه څنګه داسې یو حساس وخت کې د داسې یو بیځایه موضوع په خاطر خندلې شي؟ زما د نظر په لېدو هغه وویل: پوهېږم څه فکر کوې خو څه وکړم دا چې داسې نرۍ غږ زما له حنجرې او مرۍ راوځي خندا مې راځي.

او بیا په لوړ غږ په خندا شو، ما هېڅکله داسې نه وخندلې! لومړۍ ځل وو خپل څهره مې داسې د خندا په حال کې لېده، د څو شیبو وروسته هغه کرار شو او ناڅاپه یې وپوښتل: تشناب چیرته دې؟
په ګنګس حالت مې وویل: څه؟
فاتح- وایم تشناب چیرته دې؟ غوارړم خپل دا نوي څهره وګورم.
په بد خلقی می وویل: یعنی غواړې ووایي دا څهره دې بیخې لیدلې نده؟
فاتح په شیطنت وویل: لیدل تر لیدلو فرق لرې ګرانې! زه باید یو عمومي چک اپ وکړم چې څه چل روان دې؟

د هغه په دې بی شرمانه خبري باندې مخ مې تک سور شو او په غوسه مې وویل: بی شرمه!
چې هغه بیا په لوړ غږ وخندل او په همغه شیطنت یې وویل: ولې بی شرم؟ د اول هم زما مال وو، او اوس خو بیخې رسمې زما حق را ورسیده، نو ولې بې شرم؟
د هغه دا خبره مې هېڅ خوښه نشوه او په غوسه مې وویل: زه یو ازاد مخلوق پېدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې يم،زه کوم کنېزه يا غلامه نه يم چې ته مط مالک يا ارباب اوسېږې، او هو زه انساني کرامت لرم کوم بزه يا ميږه نه يم چې ته و وايي زما مال دی.

زما په خبرې د هغه تندی تروش شو خو څه يې ونه ويل، په کرکه مې وروکتل چې هغه بغېږ د څه ويلو پر کټ کښېناست، څو شېبې په خاموشۍ خپل لاسونو ته وکتل او ناڅاپه يې زما خوا ته مخ کړو د غوسی او قهر څخه يې غاښونه وچيچل او ويې ويل: تا .... تا ولې غوښتل ځان و وژني؟

داسي په غوسه يې را وکتل چې احساس مې وکړو هغه خپل په مردانه جسم کېدي او راغلې زما سر ته او داسې حساب کتاب راڅخه اخلې. په بند بند ژبه مې وويل: ن ... نه پوهېږم زما ياد ته نه راځي.

هغه څو شېبې په تروش تندی او مشکوک نظر راوکتل، داسې لکه چې زما د خبرې رښتيا او دروغ يې معلومول غوښتل کله چې ډاډمن شو زه د رښتيا هم نه يم خبره نو سر يې وخوځاوه او خاموش شو چې دا ځل ما په حيرت ورڅخه وپوښتل: ته له کومه خوا خبر شوې چې ما غوښتل ځان و وژنم؟

هغه په متاسف اندازد څو شيبو لپاره راوکتل بيا يې کرار وويل: هغه ورځ کله چې زما او ستا په مېنځ کې د انسټيوټ په چپټرونو کې د ليکل شوې شعرونو پر سر هغه لانجه وشوه نو د هغه وروسته زه کور ته ولاړم او بيحد مې عصاب خراب وه.

په پوسخند مې وويل: ما ته؟
هغه راوکتل او د نه پشان يې سر وخوځاوه او ويې ويل: ځانته مې عصاب خراب وه چې داسی تنده رويه مې ستا سره وکړه.
هغه څپېړه مې راياد شوه او ومې ويل: تند رويه! نه.. بايد و وايې ځناورتوب او وحشيانه رويه..
هغه يوه شېبه په ځېر راوکتل بيا يې وويل: که تا د دې لځايه چې چپټر زما له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کش کړی وایې په کرار دې یو توضیح راکړی وایې نو ما به هېڅکله هم هغه کار نه وایې کړی.

– توضیح! تا مګر زه تر توضیح ورکولو پرېښودم؟ خوله دی خلاصه کړه او هر تهمت او ناروا چې پر خوله دې راتله پر ما دې وتپول.

هغه خوله خلاصه کړه ترڅو ځواب راکړی خو لږ چې پښېمانه شو، ځکه خوله یې بنده کړل او خاموش شو ما هم خوله بنده کړه خو زړه کې مې ورته ښه پرېمانه کنځل وکړل. وایې توضیح دې رانکړه! زه یې د یو شعر پر سر ووهلم، ورټلم،تهمت یې راباندې ولګوه او اوس وایې توضیح دی رانکړل! زه په همدی فکرونو کې وم چې د هغه کرار غږ مې واورېده چې ویې ویل: ستاسو د کور چې راغلم خپل د کړې کار څخه سخت پښېمانه شوم. غوښتل مې درته زنګ ووهم او بخښنه درڅخه وغواړم خو ..

ور ومې کتل چې هغه خپل شونډه تر غاښ لاندی کړه او ویې ویل: خو ومې نشو کړی! شیطان زر رقم خراب فکرونه او خبري ذهن کې را واچول او نه یې پرېښودم ترڅو زنګ درپسی ووهم، زه د ځان سره په کش مکش کې وم چې زنګ ووهم او کنه؟ چې الهام زنګ راته و واهه او ویې ویل .... ویې ویل بلقیس غوښتل ځان ووژنی او مورې اوس ... شفخانه کې یو او راشه، او بس نور مې یاد کې ندی چې څه وشو؟ کله چې سترګې مې خلاصې کړې نو دلته وم او تا راته دا کیسي وکړل، نور زما څه یاد کې ندې.

په حیرت مې د هغه خوا ته وکتل او ناڅاپه خپل د ځان وژني په دلیل پوهه شوم! او یاد ته مې راغله چې ما د همدغه انسان له لاسه خپل ځان غوښته و وژنم، هغه زه و وهلم زما چپېړونه یې راڅخه واخیستل او د تلو وخت کې راته وویل" هر مرګ چې کوې وکړه خو تر یوې هفتې حق نلرې له کور و وځې خبر شوم بهر تللې یې پښې دې قلم در ماته وم،یوه هفته وروسته مور او پلار راستوم ترڅو زموږ د واده په اړه د کاکا سره خبرې وکړې تر واده پورې کوښښ وکړه ځان اصلاح کړې او دا بې شرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې پرېږدې او له ځان څخه ښځه جوړه کړی." د هغه د تلو وروسته تر نیمو شپو مې وژړل او بیا ... بیا په پټه له کوټې ووتم او خپل د مور د فشار ۷۲ ګولۍ مې خولې ته واچول ...

د هغه په غږ د خیال انځور مې وشلېده.
فاتح- تا... تا زما په یوه خپېړې غوښتل ځان وژنه وکړی؟
ور ومی کتل خو هېڅ مې ونه ویل سترګې مې له اوښکو ډکې شوی، وایې زما په یوه خپېړه! ما د هغه د دې ټولو بد اخلاقو او تهمتونو له لاسه غوښتل ځان و وژنم ترڅو ورڅخه بیغمه شم خو خبره نه وم چې خدای به مې د همدغه کس بدن کې وراچوی! هغه متل دې کنه وایې د باران تښتېدم د ناوې لاندې مې شپه شوه. پر ما هم خودې مودې همدا چم شوې وو.

***

سهار د نهه بجو شاوخوا پلار مې د فاتح سره موټر کې کښېناست او زمونږ د کور په خوا راون شوو، او زه یو ځلې بیا یوازی پاتې شوم! د موټر تر پناه کېدو مې ورپسې کتل د فاتح خبری مې ذهن کې ګرځېدلې چې تر اخری شېبې راته ویل" وېرېږه مه خدای مهربان دې، د څو ساعتونو مخکې پشان پیاوړې اوسېږه، او چا ته مه ښکاره کوه چې روح او جسم دې یو ندې! مورږ باید د اوس لپاره په ګډه کوښښ وکړو ترڅو دا خبره خپل مینځ کې پټه وساتو، ځکه دا چې حتا مورږ د دې خبری د منلو لپاره حاضر نه یو نو ته فکر وکړه زمونږ کورنۍ به دا خبرې زمونږ سره ومنې؟

بهتره به دا وې ترڅو چې په اصل موضوع مو سر خلاصیږی او یوه چاره ورته پیدا کوو تر هغه وخت خپل د کورنۍ په وړاندې خپل ځانونه نرمال وښایو، زه له دې ځایه د بلقیس په حیث ستاسو کور ته ځم! او ته هم د فاتح په حیث زما کور ته! هېڅ کوم مشکوک کار به نکوې زه درته زنګ وهم، پوهه شوې بلقیس!؟ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم د هغه داسې امرانه لهجه او دستور صادر کول مې خوښ نشول، خو بله چاره نه وه موږ دواړه په یوه مصیبت کې اخته وو او مجبوره وو خپل د جسم د ساتلو لپاره د مقابل نفر خبره ومنو، د جسم پر ویلو د فاتح د پرون شپې بې ادبانه خبره مې رایاد شوه او مخ مې سور شو د ژبې لاندې مې یو څو بد رد ورته وویل او بیا مې یوه ژوره ساه واخیسته او خپل شاوخوا ګڼې ګوڼې ته مې وکتل، په هر لس نفرو کې یوه ښځه وه نور ټول سړیان وه چې اخوا دیخوا کېدل، د عادت مطابق غوښتل مې خپل ټېکرى پر سر سم کړم ترڅو کوم کوڅه ډب هلک مې مزاحم نشي خو کله چې لاس مې خپل پر سر خولې باندې ولګېده نو لومړۍ مې حیرت وکړو خو د څو شېبو وروسته په لوړ غږ مې وخندل.

زما پر خندا زما شاوخوا ته روان یو څو کسانو راوکتل خو کوم خاص توجه یې ونکړل او بېرته روان شول، ټول ښار راته پر بل رنګ او بوي ښکاره کېده، خپل پر مخ مې لاس کش کړو او کله چې لاس مې پر ږیره ولګېده نو ذهن مې راته یوه خبره رایاد کړه.

***

!دا هلکان ګوره څومره بخته ور دې —

د شبنم په غږ مې لومړۍ د هغې خوا ته وکتل او بیا د هغې د سترګو نظر مې تعقیب کړو او د سړک هغه بلخوا په څو هلکانو مې نظر ولګېده چې په لوړ غږ یې په یو شې پسې خندل څلور پنځه ځوان هلکان وه یو یې د ټولو مخکې روان وو او د یو څه په اړه یې خبرې کول او دا نور د سړک منځ کې په لوړ غږ وریپورې خندل د ټولو لاس کې !هم یو، یو بولانې وو او همدا د خندا او خبرو حال کې خوړل او روان وه

شبنم یو سوړ اسویلې وویست او ماته د راکتو حال کې وویل: وګوره د ټول دنیا او عالم څخه بیغمه خاندې کیسی کوي، خوشحاله دي! داسی حال کې چې موږ انجونۍ دا رقم په لوړ غږ خندا په کور کې لا نشو کولې سړک خو لرى! کور کې لږ په لوړ غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخاندو د څلور خواو څخه غږ پورته شې حتا مور مې لا تندی تروش کړې او وایې:
مږه شې وجنۍ دا نو څنګه خندا ده،بی شرمې غږ دې راښکته کړه خلک به څه وایې!

هېڅ ځواب مې ورنکړو او همغسې کرار کرار څنګ په څنګ ورسره روانه وم چې
هغې خپل حجاب لاس کې ونیو او بیا یې په ارمانجن غږ وویل: کاش دا حجاب سره
مو ازادی درلودا! کاش داسی قانون وایې چی حجاب که واچوې نو په امن کې یې، او
نور څوک درته مزاحمت نکوي، خو ګورې دا دومره ټوکران مو پر ځانونو پېچلې خپل
نفس مو ورباندې تنګ کړې حتا تر دې حد چې خپل د پښو د ګام اخیستلو ځای لا
نشو لېدلې خو بیا هم د دې ټولو خبرو سر بېره، وګوره شاوخوا دا ټول هلکان، سرې
او حتا دا قران شرمه ولې بوډاګان لا زموږ پسی ګوري.

پخدای بلقیس کله چې دوي داسې راپسې راګورې فکر کوم لوڅ لغړه روانه یم! چې
داسی راګوری. دوې ولې نه پوهېږی چې د هغوې په کتو موږ پعذابه کېږو؟
لږ خاموشه شوه بیا یې په ارمانجن لهجه وویل: کاش طالبانو یو قانون د دې سړیو
په اړه هم صادر کړې وایې، چې کوم سړي چې لاره کې د اسلامي حجاب لرونکي
ښځی پسې ګوري باید راګېر او ښه جوړ و ډبول شي، هله به مې زړه یخ شوې وو او
د دوي دولت ته به مې دوه لاسه سلامي کړې وایې.

و مې خندل خو هېڅ مې و نه ویل ځکه د شبنم د خبرو سره موافقه وم موږ د
حجاب پر کولو او په سنګین تګ او راتګ حال کې هم د دوي له لاسه بیغمه نه وو.

شبنم- زړه کې مې آرمان دی یوه ورځ د سړک څنګ ته ودریږم او بولانی وخورم.
د هغه په دې خبرې لږ په زوره مې وخندل چې هغې می اوږه چونډی کړل او په
غوسه یې وویل: خانده مه پخدای زړه کې می آرمان دې بولانی واخلم او د سړک
غاړې کې کینم او همداسې په شوق شوق خلکو ته په کتلو بولانی وخورم، بغیر لدی
چی څوک راته په څیر څیر وګوری یا راته کوم مزاحمت وکړی،
لږ خاموش شو او بیا په بیحد زړه مات غږ وویل: ای کاش زه هم هلک وایې! هغه
وخت همداسې ازاده ګرځیدم او هیچا نه راپسې کتل او نه یې راته مزاحمت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په خندا وویل: اوس د یو بولانۍ خوړلو لپاره غواړې هلک شې؟
شبنم- نه خبره یوازې د یوه بولانۍ نده، په نړۍ کی او بلخصوص زموږ هیواد کې هلکان هر کار کولې شې او هېڅ ستونزه نلرې خو جنۍ تر ډېره حد محدوده ده. او هغه کارونه نشې کولې.
– لکه څنګه کارونه؟
شبنم- ډېر کارونه موږ نشو کولې لنډ مثال یې وګوره همدا تعلیم دي، موږ حتا د تعلیم حق لا نه لرو هغه حق چی موږ ته اسلام راکړي ښوونځي بند دی سبا بل سبا به واروې چی انستیوټ هم بند دې.

– بلا ... داسی منحوس خبرې مکوه خوله دې بنده ساته، انسټیوټ طالبان هېڅکله نه بند کوي،هغه ښوونځي بند کول هم ضرور یو دلیل یی درلود چې موږ نه پوهېږو.
شبنم په پوسخند وویل: هو هو ته په همدی خیال کې کېنه چې دا ورې دې شړې شې.
– ته دا سیاست خبري پرېږده دا راته و وایه چې کوم آرمان دې درلود چې د جنیتوب په سبب پوره نشو؟
شبنم څو شېبې خاموش شوه بیا یې په ارمانجن انداز وویل: ته پوهېږي زه په ښوونځي کې خپل د ښوونځي د کرکټ ټیم مشره وم.
په حیرت مې وروکتل او ومې ویل: رښتیا؟ نه وم خبره.

شبنم- زه د کرکټ سره د خلکو خبره لیونۍ مینه لرم. نګورې کوم ورځ چې د کرکت لوبه وي زه انسټیوټ ته لا نه راځم او وټساپ او نور مجازی نړۍ کې درې سوه زر د کرکټ د تشویق او بریالۍ توب لپاره پوسټونه او سټوریانې کوم.
لږ مې فکر وکړو بیا مې وویل: اممم یو دوه ځل مې فکر شو تا د یو کرکت لوبغاړي عکس خپل په پروفایل لګولې وو او یو استورې دې هم کړی وه "ژوندي دې وي اتلان!" ما فکر وکړو چې..
ومې خندل او ومې ویل: ما فکر وکړو هغه هلک دې خوښ شوی چې داسی عکسونه یې خپل په پروفایل لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پدی خبرې شبنم بد بد راوکتل او ویې ویل: مره شې لخیره زه د یو خاص لوبغاړی عکس نه ږدم یو ځل مې د نوین الحق د کیخود او بل ځل د راشد خان او استوری مې د ګلبدین په عکس کړی وه، نو ستا په نظر ما دا درې سره خوشیږی؟ استغفرالله.

ومې خندل او د هغې د غوسې څخه بک مخ ته مې وکتل او ومې ویل: ولای نه یې پېژنم دا کسان چې نومونه دې واخیستل ما یواځې د هغوپ په تن د افغانستان د کرکټ جامو ته وکتل نور مې کوم خاص پام ونکړو.

سبنم- هې هې رښتیا یې ویلې غوا څه پوهېږې د ګل په بوې!

– بلا بلا زه دا خبرې پرېږده دا راته وایه چې څه چل وشو بیا؟ ښوونځې کې؟

شبنم یوه ژوره ساه و ویسته او ویې ویل: هغه ټیم کې څلور پنځه موږ پښتانه وو او نور فارسیبانانې وې، بغیر د کوم قوم پرستې او بل هر مرګه درته وایم موږ پښتانه هر ځای او هر کار کې د فارسیبانانو څخه تکړه یو باور وکړه، هغه وخت د اشرف غنی د پاچاهې دور وه، زموږ ښوونځې ته د کرکت بورډ څخه یو خارجې د استېرلیا کوچ راغله او غوښتل انجونی لوبغاړی وګوری!

باور کوی بلقیس هغې موږ پنځه پښتنې لوبغاړی انتخاب کړو ویل یې ستاسو لوبه په ټولو کې بهترینه ده، بیا یې موږ یو څو نور ښوونځې انجونو سره په لوبه کړو، هر چا که لوبه ګټلې وایې هغه یې د کابل د انجونو ټیم کې اخیست او وړل یی ولایتې لوبو ته او بیا امکان درلود هیوادې لوبو ته! د ښوونځې لوبو کی څو زر رقم چل او فریب باندې د کورنۍ څخه مو اجازه واخیسته او اوه ښوونځې سره مو لوبه وکړل زموږ ښوونځې د ټولو وګټل.

په هیجان مې ورته وکتل ترڅو د کیسې په ادامه پوهه شم ما شبنم یواځې د یو کال راهیسې په انسټیوټ کې پیژندل خو دومره راته ګرانه وه لکه خپل سکنې خور خو تر اوسه د هغې د ژوند دی کیسی څخه نه وم خبره!

– ښه بیا څه وشو؟ ته یې د کابل ټیم ته انتخاب کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبنم راوکتل او د هو پشان یې سر وخوځاوه او په ماته لهجه یې وویل: زموږ ټیم اوه ښوونځي ته ماته ورکړل کې مو راوړو خپل ښوونځي ته همغه خارجې کوچ راغله ویل یې ما درې نفر انتخاب کړې چې د کابل ټیم ته راشې هغه کې یوه زه وم! اه بلقیس داسې خوشحاله وم داسې چې فکر می کاوه په آسمانو ګرځم نه په ځمکې، موږ ته یې وویل لاړ شې او خپل د کورنۍ رضایت نامه راوړی موږ تاسو ټیم کی نیسو،

یوه میاشت وروسته هرات کې د انجونو لوبه وه ویل هلته مو وړو طیاره کې د هر جنۍ سره یو بل نفر هم د هغې د کورنۍ وړو ځکه افغانان خپل لوڼې یواځې چیرته نه پرېږدی ویل یی یوه ورځ لوبه ده سهار ځو ماذدیګر بیرته راځو، دومره خوشحاله وم چې حد یې نه درلود، لاړم کور ته دا ټول کیسه مې خپل مور او پلار ته وکړل ...

شبنم خاموش شوه او ګامونه یې چټک کړل لکه چې د خبرو ادامه یې نه خوښېده خو زه هم بد کنجکاوه شوې وم او غوښتل مې د خبرې په پاي ځان خبره کړم، ما هم ګامونه چټک کړل د سړک اخر ته رسیدلې وو د دغه سړک هغه خوا زما کور وو خو شبنم کور یوڅه نور هم لری وو دلته موږ تل یو دبل سره خدای پامانی کول ما د شبنم د ایساره ولو کوښښ وکړو ترڅو راته ادامه خبره وکړی خو هغه همغسې په چټک ګامونو راڅخه لاړل.

زه هم مجبوره خپل کور ته لاړم کله چې ورسیدم نو ډیر مسجونه مې وټساپ کې ورته وکړل دوه ځله مې هم زنګ ورپسی و واهه خو هغې کوم ځواب رانکړو بیا نیمه شپه دولس بجو خوا ته یې راته یو اوږد مسج وټساپ کی راستولی وو چې ما د سهار د لمانځه کولو وخت کې ولېده او ومې لوست لیکلې وه:

پلار او ورونو مې اجازه رانکړل زما په زیات زاریو هغوي ګواښ وکړو که یوځل بیا د کرکټ په اړه خبري وکړې د ښوونځي څخه دې باسو، ما هم نور څه ونه ویل زموږ درې انتخاب شوی کسانو څخه یوه هم ولاړ نه! ځکه هغوی ته هم اجازه نه وه ورکړی شوی اخر کی ښوونکي درې نور زموږ ټولګي والې انجوني انتخاب کړل چې د کرکټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لځایه یې سینګار کولو ته زیات شوق وو هغوی یوه میاشت وروسته لاړل هرات ته هلته یې لوبه وبایلل خو لا هم خوشحاله وه، ځکه ورته پیسې ورکړې وه د نفر پر سر لس زره او دا هم ویل شوې وه چې د افغانستان په ملې لوبډلې کې به ونیول شی!

هغوي غوښتل د انجونو یو ملې لوبډله جوړه کړی خو دا هڅه یې د طالبانو په راتلو ناکامه شوه خو هغه استرلیایې کوچې زموږ هغه دری د ښوونځي ملګري له ځان سره استرلیا ته ویوړل د کورنی سره!د هغه درې انجونو څخه د یوې شماره راسره ده کله ناکله هغه ځای کې د تمرین حال کې خپل عکسونه راستوی.
او ورسره یو عکس یې هم راستولې وو چې یوه جنۍ د کرکټ جامې اچولې وه او بیټ په لاس په خلاصه خوله یې خندلې..

***

د موټر په هرنګونو د خیال راووتم، شاوخوا مې وکتل د سړک هغه بلې غاړې ته یو بولانۍ خرخونکي ولاړ وو، په کراړ، کراړ همغه خوا ته نږدې شوم دا چې هېچا راپسې نه کتل او نه یې هم راپورې غرض درلود، دا کار راته داسې عجیب عجیب خو عین حال کې بېحد ښه ښکاریده بولانې والا ته نږدې شوم تازه تازه بولانې پخه ول دغوړو بوی لا راباندې ښه لګېده بولانې والا ته مې وویل چې دوه ګرم د کچالو بولانې راکړې هغه هم په تلوار دوه بولانې راکړل، هملته د سړک غاړې ته کښېناستم همغه شان چې شبنم ویلې وه! زړه کې مې وویل کاش هغه هم دلته وای! د بولانې بوي مې چې پر پوزه ولګېده ټول خبري مې لیاده وویستې، او خولې مې لاړې ورته شروع کړې د دې څخه مخکې چې بولانې خوړولو باندې پیل وکړم دا خبره مې ذهن ته راغلل چې جیب کې پیسې لرم او کنه؟

په دې فکر لړ ورخطا شوم په تلوار خپل په جیبونو کې د پیسو پر موندلو شوم، هسې ما د دې فاتح څخه یوه د خیر ورځ نده لېدلې هسې نه اوس جیب کې یوه پیسه هم نه وې او ما پر خلکو وډبه وي، همدا فکرونه مې کول او جیبونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسو د موندلو په لټه وم او خدای خدای مې کاوه چې د کمیسه په جیب کې مې په کوچنې د پیسو په بکسک باندې لاس ولګېده،همدا چې پر هغه مې لاس ولګېده یوه هوسا ساه مې وویسته که نور ویې کنه شل روپۍ خو به ضرور پکې وې! او همغه ماته بسنه کوی بکس مې له جیب راوویست خلاص مې چې کړو د هغه دومره پیسو په لېدو خوله مې خلاصه پاتې شوه!

د ظالم زوي ټول نوې نوې زرګونان بکس کې اچولې وه؟ خیرن! دا دومره کلونو کې او حتا د کوژدي وخت کې امرونه او فرمانونه خو یې ښه صادر کول خو یوه ورځ یې لا ولاکه راته کوم شې اخیستی وې وړې،تږې، کنجوس، خو خیر اوس خو د ده پر ټول خزانې ما چاپه وهلې نو ښه وړباندې عیش کوم! په دې فکر مې شیطانې مسکا وکړل غوښتل مې بکس بیرته جیب ته کړم چې د بکس اخر شاته جیب کې مې یوع شې ته فکر شو! په مشکوک انداز مې راواخیست عکس معلومیده! کله چې راسته مې کړو نو دوه ماشومان مې ولېدل! یو تقریبا د څلور پنځه کالو هلک وو او بل یو تازه زېږدلې ماشوم معلومېده! هلک هغه ماشوم غیږ کې نیولی وو او خندل یې!

ښه چې ځیر شوم عکس ته نو پوهه شوم چې هغه ماشوم هلک فاتح او غیږه کی ماشومه زه یم! د دې خبری په پوهېدو خوله مې له حیرت خلاصه پاتې شوه، ده خپل بکس کې زما او خپل د ماشومتوب عکس د څه لپاره ساتلی وو؟ څو شیبې هک حیرانه وم خو وروسته د دې فکر په راتلو چې ضرور د دې لپاره یې ساتلې ترڅو هر ځل د هغه عکس په کتو ځان سره ووایې دا زما مال او دولت دې او زه یې څښتن یم! نو له غوسي څخه مې غاښونه وچېچل، ضرور همدا خبره ده کنه فاتح نه ولاکه زما سره مینه وه نه کوم بله خبره.په دی فکر غوسه راغله عکس مې غوښت څېرې کړم خو زړه مې ونشو د بکس څخه مې راواخیست او خپل بل جیب ته مې واچوه په یو سمه موقع او فرصت کې دا یو بل ځای پټ کوم ترڅو دې نور پیدا نکړې شې.

د بولانی والا پیسې مې ورکړل او بې هدف کرار کرار د سړک په غاړه روانه شوم، که څه هم دا ناڅاپه آزادي څخه زښت خوشحاله وم او فکر مې کاوه هر کار چې وغواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولې شم خو څه ناڅه زړه کې مې وېره هم وه، دا هلک کېدل تر یو دوه ورځو ښه دې خو ټول ژوند امکان نلری! نه پوهېږم چېرته روانه وم خو د پښو په درد او ستړیا و درېدم شاوخوا مې وکتل سترې وم او خوب مې هم راتلو باید لاړه شم کور ته او خوب وکړم خو د چا کور ته لاړه شم؟ د فاتح خبره مې یاد ته راغله یو ټاکسې ته مې لاس وخوځاوه، د عمر پوخ سړي راته مخي ته ټاکسې و دره ول او ویې پوښتل: چېرته ځې؟

د هغه په پوښتنه لږ مې ذهن باندې بوج راویست او ومې ویل: *** خواته ځم.
— 200 کرایه کېږي.
بغېر د کوم لانجه وهلو موټر کې کښېناستم، سر مې د موټر کړکۍ خواته وڅرخه وو او د خلکو پر ننداره شوم، یوه ورځ مخکې ما غوښتل د تل لپاره خپل کیسه ختمه کړم او د دې نړۍ څخه لاړه شم! خو اوس ما په یو بل شکل او صورت کې دې نړۍ ته کتل، د رښتیا هم چې د خداي په کار کې بنده هېڅ نشي کولې او نه هم ویلې شې. د موټر به درېدو راښکته شوم د موټروان پیسې مې ورته حساب کړل او مخامخ کوڅې ته په کتو شوم، یوځل یا هم شاید دوه ځله هغه هم یواځې په اخترونو او ودونو کې دغه کور ته راغلې وم او بس.

هېڅکله مې نه د فاتح سره جوړه وه او نه د هغه د کورنۍ د غړو سره! خویندي بیحد مغرورې وې او مور یې بېحد بد اخلاق ښځه وه یاد مې دي زموږ کور ته راغلې وه هغه وخت چې ما او فاتح نکاح نه وه تړلې او هغه هند کې درس ویلو، د دې له ځایه چې زما تعریف وکړې او د انګور په حیث مهربانې راباندې وکړې پر ما یې ملنډې وهل پېل کړل او زیات خبرې راته وکړل هره لسو خبرو کې نهه زموږ غریبې او خپل خانې ته اشاره وه.د همغه ورځ مې هم له هغې بد راغلل او هم د هغې د دوه لورګانو څخه، ځېنې کسانو ته خداې پیسې ورکوي خو څنګ کې شخصیت او عاجزی هم ورکوې، خو دا ځېنې تازه د نن او سبا پیسه داره شوی خانان چې تازه یې پیسي لېدلې نه خدای منې نه قران او هوایې ګرځې لکه زما د خواښې پشان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا فکرونه مې له سر لرې کړل او د هغوي د کور دروازه مې وټکول، د فاتح دوي کور یوه ښایسته درې پوړېز ودانۍ وه چې تازه څو کاله مخکې یې جوړه کړې وه، د دروازې په خرپ سترګي مې د کور د دیوالونو څخه واخیست او دروازې خوا ته مې وکتل ترڅو وګورم چا راته دروازه خلاصه کړې؟

د فاتح د مشر ورور اوه کلن زوي نعمان راته دروازه خلاصه کړې وه! زما په لېدو په خوشحالۍ چغه کړل کاکا راغې، او ژر د کور خوا ته په منډه شو. د خولې لاړې مې تېرې کړې او د بسم الله پر ویلو کور ته ننوتم، دوه قدم حویلې وه او بیا څو زینې چې کور ته تللې وه د زینو څخه پورته شوم په استرس او داسې حال کې چې لاسونه مې لړزېدل بوټونه مې د پښو څخه وویستل، زه د دې کور د خلکو څخه د نفرت او کرکې څنګ کې وېره او وحشت هم لرم بلخصوص د مشر کاکا څخه! دعا دعا مې زړه کې کول ترڅو هغه کور کې ونه اوسېږي، د هغه شنو سترګو زه تل ډار کې اچولم، شاید زما پلار یې هم ډاره ولې وو چې خپل د یوه هفتې تازه زېږدلې لور یې د ده په یوه خبره د ده د زوي په نوم کړې وه!

په همدې فکرونو او وېرې کور ته ننوتم یو لوې سالون چې په سرو قالینو پوښل شوې وه او شاوخوا یې سرې نالې هوارې وې د سالون په سر کې پر نالې مشر کاکا بالښت ته ډډه وهلې ناست وه او څنګ کې د فاتح مشر ورور مصور وو، ښځې د سالون یو کونج کې ناستې وې او په وېره وېره یې شاوخوا کتل! نه پوهېدم چې ولې داسې چل دې؟ زه خپل هم وېرېدلې وم او د دوې داسې کتو نوره هم و وېره ولم، لومړۍ کس چې زما خوا ته راغلو هغه زما خوابښې وه چې په ژړا زما خوا ته راغله او ویې ویل: کاش مره واې خو ستا دا حال مې لېدلې نه وایې.

زما حال! مګر زما پر حال څه شوي چې دا داسې وایې؟ د دې څخه مخکې چې هغه دویمه خبره وکړې مشر کاکا مې په تنده لهجه وویل: بس یې کړه ښځې د ماښام نه تر اوسه زما او د ټول کور عصاب دې را وخوړل.
د مشر کاکا پر خبره خوابښې مې د غوسې څخه سره او شنه شوه او لکه بې شرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو پشان يې چيغه کړه: نه ګورې ستا ورېرې خپل په بې حيايې زما د ګل پشان زوي څه حال ته رسه ولې؟ اوس هم د هغې کور خرابې خوا نيسې.

د هغې خبرې مې غوږونو کې پورته ښکته کېدلې"نه ګورې ستا ورېرې خپل په بې حيايې زما د ګل پشان زوي څه حال ته رسه ولې؟ اوس هم د هغې کور خرابې خوا نيسې." غوښتل مې خوله خلاصه کړم او ورته ووايم ما ستا په جان جانې زوي هېڅ مرګ ندې کړې او دا ستا زوي وو چې زه يې دې حال ته ورسه ولم خو زما د څه ويلو مخکې د مشر کاکا قهرجن غږ چې د ټولو پر وجود يې وېره خپره کړه او زما خواښه يې ګونګه کړه په سالون کې خپور شو.

مشر کاکا- خبر دار که زما د ورېرې په اړه يو بل بېځايه خبره پر خوله راوړې، کنه هر څه که وشو خپله به يې ملامته اوسېږې.
د کاکا خوا ته مې وکتل باور مې نه کېدو چې کاکا دې زما خوا نېولې اوسېږي هغه هم داسې پر کلکه! ما تل فکر کاوه کاکا مې يو ظالم او متاسفانه جاهل سړی دی! خو بايد په يو سم وخت کې يې لاس ښکل کړم او بخښنه ورځخه وغواړم له دې چې داسې فکر او ذهنيت مې د هغه په اړه درلود.

خواښې مې په مکرجنې ژړا او همغه بې شرمې وويل: اوس هم خپل د ورېرې خوا نيسې، نه ګورې څه بدنامې مورږ ته راپيښه کړه؟ نه ګورې زوي درته څه حال ته رسه ولې؟ نه ګورې دا ټول خلک لګيا دې وايې جنۍ پر بل مينه وه او د هغه لپاره يې ځان وژنه کړې، ټول کلي لګيا دې وايې بلقيس په هغه خانه خراب پوهنتون کې د يوه هلک سره يارانه درلود او دا ځان وژنه يې هم د هغه لپاره کړې حتا ويل کېږي د هغه هلک سره يې اړيک..

د خواښې خبره مې لا پوره شوې نه وه چې د شرک غږ ټول کور ونيوه! په خلاصه سترګو او ناباوره انداز مې مشر کاکا ته کتل چې زما خواښې پر مخ په څپېړه وهلې وه! اوس پوهه شوم چې د فاتح د تهمت لګولو او بدګمانې سرچينه د کومې خوا پورته کېږي؟ او همچنان پر دې هم پوهه شوم چې دا وحشي خوي يې د چا څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارث وړي! مصور منډه کړل او مشر کاکا يې له اوږې کلک ونيو ځکه خوابښې مې د دې له ځايه چې خوله بنده کړې لګيا وه او ماته يې بد رد ويل داسې خبري کول چې زما زړه يې هر دقه نور هم له ځان توره وه، باور مې نه کېدو چې يو انسان تر دې حده رزالت ته رسېدي شي!

ما ځان وژنه په څه دليل کړې وه او دوي څه تهمتونه راپسې تړلې وه! زما فکر چېرته وو او د دوي خيال چېرته وو، کاکا مې غوښتل يو بل شرک هم زما د خوابښې پورته کړي خو مصور کلک ونيوو او خپل ښځې او خويندو ته يې چيغه کړه ترڅو زما خوابښې بلې کوټې ته ويسې د هغوې په تلو زه همغسې هک حيرانه ولاړه وم او نه پوهېدم چې څه وکړم؟ يا څه ووايم؟ زړه مې غوښت وژارم، سم په سلګو سلګو وژارم ترڅو شايد لږ مې دا زړه سپک شي ستړګو کې مې اوښکي راغلې وه او ژړا ته مې ځان تياره وه چې ناڅاپه په زوره يو لاس له ګريوانه ونيولم او کش يې کړم!

په يوه شېبه کې مې ژړا لياده ووت او وېره او وحشت مې ټول وجود باندې را خپور شو او ټول بدن مې په لړزېدو شو مشر کاکا زه تر ګريوانه نيولې وم او د يو کوټې خوا ته يې کش کولم، د مصور غږ مې اورېده چې له کاکا يې غوښتل ما خوشې کړي خو کاکا مې بغير له دې چې د هغه خبرو ته کوم پام وکړي زه يې کوټې ته ټېله کړم او دروازه يې کلک بنده کړه، له يوه خوا حيرانه وم او له بلخوا لکه سپی وېرېدلې وم او زړه مې يو سلو اتيا کې درزېدو، کاکا مې د ديوال خوا ته لاړو او کله چې په ديوال ځړېدلې ټوپک ته يې لاس کړو زما زړه خولې ته راغلو، هغه ټوپک زما خواته ونيوه او په غوسه يې چيغه کړه:

مشر کاکا- مور دې رښتيا وايې ښځه دې د بل هلک سره جوړه ده هاا؟
د خولې لاړې مې تېرې کړې او په وحشت مې وروکتل، د زيات وېرې څخه مې ژبه بنده شوې وه چې هغه رانږدې شو ټوپک يې زما پر زړه کېخود او په همغه ډاروونکې غږ يې وويل: که ستا د مور خبره رښتيا ده نو ولې تر اوسه ژوندي ده؟ ولې تر اوسه سا اخلې؟ ها ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ها سره سم يې ټوپک نور هم زما په زړه کلک کړو او ويې ويل: او که دا خبرې رښتيا نه دې او ستا ښځه بد کاره نده، نو ته بېغرت ولې خپل د ښځې خوا نه نيسې؟ چيغه يې کړه: هاا؟ ولې اجازه ورکوی مور، خور، او زر نور کسان د هغې په اړه داسې اپلاتې ووايي؟ زر ځله مې درته ويلې چې خپل د مور د هر خبرې مننونکي په پټو سترګو مه کېږه بيا ولې د هغې خبره منې او داسې کار کوې چې اخره مور ته بدنامې او رسوايې را پاتې شې ها؟

زه بلقيس خپل د لاس د ورغوي پشان پېژنم ضدی ده، بې شرمه ده، ژبه وره ده خو د دې کارو او يارانو نده، ته پرون تللې وې د هغوي کور ته او ستا د راتلو څو ساعت وروسته د هغې د ځان وژنې خبر راغلو څه دې ورته ويلې وه؟ څه کار دې ورسره کړې وه چې هغه جنۍ دې د ژوند څخه پر مرګ راضي کړل؟ ها؟ ما ته ځواب راکړه لکه نر پشان خپل ستونزه راته ووايه نه دې خوښېږي؟ نه يې غواړې؟ ووايه داسې سپې مه جوړېږه او ورباندې تهمت مه لګوه، تاته وايم خوله خلاصه کړه شابه..
مشر کاکا چيغه او د چيغي سره سم ټوپک يې نور هم زما پر سيني کلک کړو چې ناڅاپه ....

***

ناڅاپه له خوب را پاڅېدم په وحشت مي شاوخوا د مشر کاکا او د هغه د ټوپک پسې کتل زړه مې همغسې بې واره درېېده، خو د څو شېبو وروسته پام مې شو چې زه له سره د کاکا کور کې يم نه! زه خپل کوټه کې وم، شاوخوا مې د چيټرونو شلېدلې پاڼې پرتې وې حيرانه دريانه مې شاوخوا کتل چې نظر مې خپل په لاس ولګېده د مور د فشار د ګولې قوطي مې ښي موټې کې کلک نېولې وه! څو دقيقې د وخت او زمان څخه ووتم او يوه خلأ او ګنګس حالت د بېخبرې کې داخله شوم، زه د فاتح په بدن کې وم،ما ځان وژنه کړې وه خپل د مور د فشار په دوا، او دليل د ځان وژني مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د فاتح تهمتونه او جنګ وه د هغه په یاد راوړلو د مخ یوخوا مې وسوځېده، همغه چې فاتح په څپېړه وهلې وم!

د خولې لاړې مې تېرې کړې یعنې دا ټول خوب وو؟ خو څنګه امکان لري؟ زما هره شېبه لکه چې په ویښه راباندې تېره شوې وي یاد وه! په شفخانه کې خپل جسد د مور، خور او ورونو ژړا زما سردرګمي زما د جسم او روح بدلېدل، د فاتح سره هغه خبري! بیا د سړک غاړه کې هغه بولانې خوړل، حتا خپل د خواښې یوه، یوه خبره مې هم یاد کې وه، د هغې د انسانیت څخه وتلې تهمتونه د کاکا لخوا زما طرف نیول، هرڅه داسې وه راته لکه چې ما د رښتیا تجربه کړې وي خو زه خپل په بدن کې خپل په کوټه کې وم او د مور د فشار ګولې مې لاس کې وه! نو مطلب زه د دې وروسته غوارم ځان وژنه وکړم؟ یعنې هغه شیان چې ما ولېدل هغه اینده کې زما سره د راپیښ کېدو تصویر وو؟ خو زه ولې د فاتح په جسم کې وم؟ ما دا ټول شیان ولې د هغه په جسم کې په خوب کې تجربه کړل!

لکه لیونیانو پشان لځایه پاسېدم شاوخوا خپل پر ځان ګرځېدم دا څه روان دي زما سره؟ فکر مې د کوټې کونج کې په سېنګار مېز وشو په تلوار د هغه خوا ته ورغلم فکر مې کاوه تر اوسه د فاتح په جسم کې یم خو نه! زه خپله وم خپل په جسم کې، د مخ په یوه خوا مې د فاتح د ګوتو نښان ښکاره کېده! همغه نښان چې ماته یې ثابت کاوه همدا نن ماذدیګر فاتح زه د دوه شعرونو په خاطر په څپېړه وهلې یم! او دا نښان دا هم راته ثابته ول چې ما لېدلې هغه ټول شیان خوب کې وه! خو باېمنه نه وم فکر مې کاوه هغه خوب نه بلکې حقیقت وو.

په ګنګس انداز هملته کښېناستم خپل سر مې خپل په زنګونو کېخود، فکر مې کاوه د حسن د کیسي چل راباندې شوې! حسن اصل کې د یو عرب هلک د ژوند کیسه وه چې څو کاله مخکې الهام خپل موبایل کې د یو فلم پشان مونږ ته راوړی وه، هغه کې دغه هلک چې نوم یې حسن دې بیحد ګنهکار او نافرمان ځوان دې، نه مونځ کوې نه نیک کار کوي او تل په ګناهونو کې لګیا وې یوه شپه هغه خپل د ملګرو سره ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې قطې کوي چې د سهار اذنونه کېږي مشر ورور يې راځې او ورته وايي بس کړې اذانونه دي د خدای څخه و وېرې د ورور په خبره د هلک ملګري ځې ..

خو هلک بغير له دې چې کومه توجه اذان ته وکړې يا هم خپل د ورور نصيحتونه ته کوم پام وکړې ګوشکي غوږونو ته اچوې او د سندرې اوريدلو ته شروع ورکوي داسې حال کې چې د سهار اذانونه کېږي، همدغه حال کې ويده کېږي، چې ناڅاپه د دروازې په خرپ باندې دې په خوب کې راويښ کېږي! يعنې دې فکر کوي چې زه د رښتيا راويښ شوې يم خو هغه هم اصل کې خوب وې! يعني يو خوب کې بل خوب!

خلاصه چې دي په خوب کې راويښ کېږي او کله چې سترګي خلاصې کوي نو يو ډارونکي او هيبتناک شخص ګوری چې تور جامې اچولې او په بېحد يو ويرونکي انداز کې د ده خوا ته راځې او ورته وايي زه ملک الموت "عزرائيل ع" يم او خدای مقرر کړې يم ترڅو ستا روح واخلم! د هغه کس په خبرو د حسن چغي او بوغي پورته کېږي او هر کار چې کوې خو ځان نشي خوځولي او ملک الموت يې روح په بېحد زجر او عذاب اخلې ..

دلته چې د ده روح واخېستل شې، نو دې خپل د ورور غږ اورې چې و ده ته غږ کوې "حسن راويښ شه سهار مونځ وکړه!" نو حسن يو ځل بيا په خوب کې راويښ کېږي او فکر کوي چې هغه ملک الموت او نور شيان ټول خوب وه! يعنې دې اصل کې په يو خوب کې دوه ځل راويښ کېږي کله چې ويني ژوندي دي نو بېحد خوشحاله کېږي او شکرونه باسې خو ناڅاپه ويني چې ورور يې د ده سر ته ولاړ دې او ژاړې! دې چې هرڅومره ورته وايي" ورور ته ولې ژاړې څه خبره ده؟" خو هغه د ده غږ نه اوری ناڅاپه د ده فکر کېږي چې دې خپل د جسم څخه وتلې او د روح پشان خپل د جسم څنګ ته ولاړ دې!

بس نو دې مړ شو خلک راځې د ته غسل ورکوې هلته خلک د ده پر جسم يخې اوبه اچوې او دلته يو څو هيبتناک کسان راځې او د ده په روح جوشې اوبه اچوې دې څو ځله کوښښ کوې خپل جسم ته داخل شې خو نشې کولې.خپل يو يو ملګري ته خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروړ ته خپل خپلوانو ته ټولو ته چغې وهې او وايې" زه دلته يم، زه ژوندی يم"خو هېڅوک د ده غږ نه اوري او کله چې دې د قبر خوا ته ورېږ ترڅو مړې يې پټ کړې نو ملايکي د ده د روح په پښو کې زولني اچوي او دې د قبر خوا ته چې د خلکو په نظر يو ساده قبر ښکاري خو د ته د اور کنده ښکاری کش کوي او همدا يوه خبره ورته کوې" حسن تعالیٰ ربک، حسن تعالیٰ ربک" د دومره کلونو وروسته هم نه پوهېږم دغه لفظ څه معنا لري؟ خو بېحد ډارونکي وو تر دې حده چې موږ اوس هم يو د بل د ډاره ولو لپاره وايو حسن تعالیٰ ربک ...

خلاصه د خبري کله چې د ده روح هغه کندي ته ملايکي واچوي نو دا ځل دې د رښتيا راويښ کېږي او ګوري چې لا تر اوسه د سهار آذانونه شروع دي! ده دا ټول خوب او واقعه د يو دقيقې په موده کې لېدلې وه! د دې خوب وروسته حسن توبه باسې او يو نيک انسان ورڅخه جوړ کېږي.

ما فکر کاوه زما سره هم کټ مټ همدغه کار شوي دی، زه خپل په خوب کې راويښه شوې وم او ځان مې د فاتح په جسم کې لېدلې وو، او هغه دومره کارونه راسره پيښ شوی وه، هغه دومره خبرې مې اورېدلې وه خو هغه ټول يو خوب وو! لکه څنګه چې حسن په يو خوب کې يو عمر تېر کړې وو، ما هم يو خوب کې يو عمر تېر کړی وو، هغه هم د فاتح په جسم کې! يعنې دا ټول خوب وو؟ باور مې نه راتلو دومره واضح او دقيق خوب مې لېدلې اوسيږی، خو ولې ما داسې خوب ولېده؟ کوټې مينځ کې په پرته د مور د فشار د ګولې په قوطي مې سترګې ولګېده!

ما غوښتل ځان وژنه وکړم خو ناڅاپه دې منځ کې ويده شوې وم، او دومره يو جنون آمېزه خوب مې لېدلې وو.

د سهار آذن يې وکړو پاڅېدم اودس مې وکړو او پر لمانځه و درېدم، د لمانځه کولو وروسته پر سجده پريوتم او لخدايه مې بخښنه وغوښته، او له دې چې زه يې د يو داسې جاهلانه او احساساتي کار څخه وژغورلم شکرونه مې وويستل، زما کار همغه دقه کې د احساساتو پر مبناع نيول شوي جاهلانه پرېکړه وه، اوس چې خپل د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته نتايجو ته فکر کوم نو واقعا پښېمانه يم، زما پر ځان وژني زما خو بېړه غرقه وه جهنم مې ځاې وو دا ژوند خو مې خراب، خراب وو هغه ابدی ژوند مې هم خراب کېدو.

پلار،مور، ورونو او ټول کورنۍ ته مې يو پېغور پاتې کېده، داسې يو پېغور چې د ژوند تر اخيره به نور هېڅکله هغوي د شرم څخه د سر پورته کولو نه وايې، که څه هم پوهېدلې وم هغه يو خوب وو خو زړه مې ويل زما خواښې د رښتيا همدا خبري کول! يعنې ډاډمن وم البته د مشر کاکا په اړه نه پوهېږم چې ايا داسې به وې څنګه چې خوب کې مې لېدلې و کنه؟ خو د زړه د تل مې دعا وکړل چې خدای دې وکړې همغسې اوسيږي، که نه يې خدای دې همغسې جوړ کړې. يو حامې،يو طرفدار، يو پناه ورکونکي، سم لکه يو پلار پشان. سجدی حال کې وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه.

په تلوار مې شاته وکتل چې پلار مې ولېده، زه يې چې پر جاينماز ولېدم پر شونډو يې نرۍ مسکا راغله او کرار يې وويل: مورې ته هم دعا کوه لورې.

سترګې مې د اوښکو ډکې شوي او د څه ويلو بغير مې يوازې سر د "سمده" پسان وخوځاوه هغه هم په همغه مهربانه څهره دروازه بنده کړه او لاړ، د پلار په لېدو مې خوب کې د هغه څهره مخې ته راغله که څه هم تر اخيره يې ونه ژړل خو حالات يې تر ټولو خراب وو، خپل د تاريخ ښوونکي خبره مې رايادہ شوه ويل يې: مور ګانې زيات ژاړې غم کوې او خپل درد ښکاره کوې خو پلرونه داسې نه دي،هغوې خپل درد نه ښکاره کوي هغوې خپل درد ساتې،ساتې او ناڅابه يوه ورځ را غورځېږي او داسې غورځېږي چې نور د پاڅېدلو نه وي.

د لمانځه وروسته له کوټې و وتم زړه مې د ټول کورنۍ پسې دومره تنګ وو، لکه کلونه چې مې لېدلې نه وي. د مور کوټې خوا ته ورغلم ومې ليده تازه د لمانځه لپاره غواړې راپاسې زما په لېدو حيرانه شوه، غوښتل يې چې څه ووايې خو ما ځان ور ورسه وو او کلکه مې غېږه کې ونيول،تر اوسه د مور اوښکې او سلګې مې د سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وراندې وه، بې اختياره مې په ژړا پېل وکړو مور مې هم زه غيږه کې ونيولم او دلداری راکول يې پېل کړل.

مور- هيش گرانۍ لورې مه ژاړه خدای مهربانه دې، خلاص به شې درسونه دې دومره ورته غم مکوه، نامیده شیطان دی بچیه.

له دې چې زما ساده مور تر اوسه فکر کاوه زه د انستېيوټ پر بنديدو ژاړم نور مې هم ژړا زياته شوه، خدايه ما څنگه غوښتل داسې يو ظالمانه کار د دوي په حق کې ترسره کړم؟ما تل هغه انجونو او هلکانو ته خبري کول او رټل مې کوم چې د ميني او د يو جنۍ يا هم هلک په خاطر به يې ځان وژنه کول، تل به مې ويل څومره دا کسان جاهلان او احمقان دې چې خپل مور، پلار او کورنۍ ته نګوری او د یو جنۍ یا هم هلک لپاره د ټول کورنۍ ژوند ورخراب کوې، خو څو ساعته مخکې ما هم همداسې يو کار غوښته تر سره کړم!

کوټې ته د پلار په راتلو ژر له مور جلا شوم خپل اوښکې مې پاکې کړل او غوښتل مې له کوټې و وځم چې پلار مې زما مخې ته خپل لاس ونيو او د تلو څخه يې منع کړم.ځاې پر ځاې و دريدم خو اوښکې مې نه دريدی او بې اختياره مې پر مخ رواني وه پلار مې رامخکې شو سم په ځېر ځېر يې زما خوا ته راوککتل او ناڅاپه تندی تروش کړو او ويې پوښتل: په دې مخ دې څه شوي ولې داسې سور دې دا يوه خوا يې؟

د ژړاځخه په ډک غږ مې وويل: ه ...هيڅ.
پلار- څه مطلب هيڅ؟ د مخ يوه خوا دې داسې سره ده لکه يو چا چې وهـ...
او ناڅاپه خاموش شو لکه چې پوهه شو، اخرې نفر چې زما کوټې ته راغلې وو د ده نازولې زوم وو، په حيرت يې زما د مخ خوا ته راوکتل او لاره يې راته پريښوده زه هم په تلوار له کوټې ووتم.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه بجې د سهار وه او مورې ټول پر سرخانه ناست وو او ډوډۍ مو خوړل، ما خپل پر مخ د معمول خلاف لږ آرایش کړې وو، ترڅو د فاتح د خپېږي نښه پټه شي او ځوک يې ونګوري، البته که څه هم هغه چا چې نه باید لېدلې وایې لېدلې وو، پلار مې په تروش تندی یوه ګوله ډوډۍ خوړه او بیا يې یو نظر زما خوا ته کاوه، خو زه د دې ټولو خبرو با وجود خوشحاله وم له دې چې خدای دا فرصت راکړو ترڅو یو ځل بیا خپل د کورنۍ سره په یوه سرخانه کښېنم او ډوډۍ وخورم، مورې بندګان څومره ناشکره یو ترڅو چې یو شي لرو د هغه په قدر نه پوهېږو خو کله چې له لاسه يې ورکړو تازه په ارزښت يې پوهېږو، ما خپل د ژوند 23 کال په همدی توګه تېر کړې وه او یو ځل مې لا شکر نه وو ویستلي.

چې شکر خدایه مور لرم، پلار لرم،ورونه لرم، خور لرم، یو کور لرم چې په امن کې پکې ژوند کوم، یو مور لرم چې د غم وخت کې تل غیږه راته پرانیستې، یو پلار لرم چې خپل ټول عمر يې زما د هوساینې او ارمښت لپاره خاورې کړو، یو ورور لرم چې خپل د وینې تر اخری څاڅکې به زما د عزت ساتنه کوي، یو خور لرم که څه هم راڅخه لرې ده خو تل زما په فکر کېده او د زړه راز مې ورسره دې،حتا له دې چې د فاتح کوژدنه وم دا هم راته اوس یو د شکر مثله ښکاریده! چې د یو چا په نوم یم او ټول ناپاک سترګي راڅخه اړول شوي دې که څه هم فاتح زما په نظر د دې تعریف حقداره نه دې.

په همدې فکرونو کې وم او د الهام په خبرو مې خندل، الهام د تل پشان مجلس يې ګرم کړې و او د هره خوا يې یوه خبره کول، او زمورې سات يې تېره وه چې د کور دروازه وټکېده ...

الهام- په دې سهار وختې به څوک وي؟
پلار مې داسې حال کې چې خپل د پیالې د چایو څخه غوړپ کاوه ویې ویل: که زحمت وباسې او لاړشې وګورې نو معلوم به شي چې څوک دې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلار په خبره الهام احمد ته وکتل او هغه چې په عمر کې د الهام څخه دوه کاله کوچني وو او ورته نه يې نشو ويلې په تروش تندی لځايه پاځېده او ولاړ، څو شېبې وروسته احمد بيرته راغلو مور ېولو وروکتل مور مې خوله جوړه کړه ترڅو ورڅخه وپوښتي چې چا دروازه ټکوله؟ چې دې وخت کې همغه آشنا دېږ نارينه غږ او بيا خپل فاتح دهلېز ته راننوت او سلام يې کړو!

په دې سهار وختې د هغه داسې راتګ ټول حيران کړل، بلخصوص زه! د هغه په لېدو خوب کې لېدلې ټول انځورونه مې د سترګو مخکې تېر شول، په حيرانتيا مې ورته کتل توره جوړه کالې اچولې وه، د تور پټو او کندهاري غمې داره خولې سره، همغه شان وو لکه څنګه چې ما خوب کې لېدلې وو! د هغه په دې شان لېدو د وېرې څخه مې لاړې تېرې کړې.

پلار مې په حيرت او مشکوک انداز ورڅخه وپوښتل: عليک سلام پخير راغلې، خيرت خو دې؟ څنګه په دې سهار وختې ديخوا راتګ دې وشو؟
فاتح په ګنګس انداز داسې حال کې چې دوه سترګې زما خوا ته نيولې وه وويل: هو .. هو ... خيرت دی .... هغ... هغه ....

د دې څخه مخکې چې کوم بله خبره وکړې مور مې په خوش اخلاقې او مهرباني وويل: سرې پرېږده اول يو پياله چاي وڅښې، بيا به د راتګ دليل ووايې.
پلار مې څه ونه ويل او ما او فاتح ته يې په مشکوک نظر را وکتل چې فاتح د عادت مطابق خپل خولې له سر لرې کړه داسې حال کې چې ويښتيانو کې لاس تېره وه او ماته يې راکتل ويې ويل: هغه ... د کاکا ناوی ... لږ مې د بلقيس سره کار وو.

کله چې زما او زما د کورنۍ حيران نظر يې ولېده نو په تلوار يې وويل: هغ... هغه پرون زما په نظر د بلقيس کوټه کې زما د شرکت کارټ غورځېدلې ... او ...او هغه زما پکار دې، که هغه راته پېدا کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې په تلوار زما خوا ته مخ کړو او ویې ویل: شابه لورې وګوره د فاتح زوي کارتې چېرته دي.

زه پاڅېدم خو تر اوسه په وېره او حیرت مې د فاتح خوا ته کتل د هغه حالت ماته له یوه خوا نرمال نه ښکاره کېده او له بلخوا د هغه جامو زه خپل د لیدلې خوب وخت ته وړې وم، خپل د کوټې خوا ته مې غوښتل روانه شم چې د مور غږ مې واورېده چې فاتح ته یې وویل: راځه زویه ته کینه یو پیاله چاې وڅښه ترڅو بلقیس لور ستا کارتې پیدا کړي.

د پلار غږ مې هم پورته شو چې په مشکوک انداز یې فاتح ته وویل: الهام ته به دې زنګ وهلې وایې هغه به درته کارتې راوړې وو، ولې دی دومره ځان په زحمت کړو په دی سهار وختې؟

فاتح بغیر له دې چې د هغوي خبرو ته کومه توجه وکړې زما خوا ته راغلو او ویې ویل: زه به هم د کارتې په پیدا کولو کې د بلقیس مرسته وکړم.
او بیا بغیر له دې چې د چا اجازې ته په تمه شې زما د کوټې خوا ته روان شو ، ما په حیرت شاته خپل مور او پلار ته وکتل چې مور مې د تلو په اشاره سر راته وخوځاوه خو پلار مې همغسې مشکوک راکتل خو دې منځ کې د الهام شیطان نظر د شرم څخه سره کړم او په تلوار د کوټې خوا ته لاړم.

کوټې ته په ننوتو په فاتح مې نظر ولګېده چې زما د کوټې منځ کې حیریان ولاړ وو او شاوخوا یې کتل خپل د کوټې په لېدو مې تندی تروش شو تر اوسه مې نه وه پاکه کړې د دې و وروسته مې غوښتل شلیدې پاڼې او هغه لعنتي ګولې قوطي او نور لمشې پاک کړم، د دروازې په خرپ فاتح زما خوا ته مخ راوګرځه وو..

سترګې تکې سرې وه لکه چې خوب یې نه وې کړې، یا هم لکه چې سخت ستړې وي، د کالو پورته دوه تڼې شلېدلې وه، پټو یې د تل پشان منظم په اوږو نه وو اچولی، خو همغه جامې اچولې کوم چې ما خوب کې لېدلې وه؟ خپل ځواب مې خپل ورکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه همدا کالي پرون هم اغوستې وه نو ځکه تا په خوب کې د همدې لپاره په دې کالو کې لېدلې وو" زما په کتو هغه ژر زما خوا ته راغلو داسې چټېزه له وېرې په دروازي جوخت و درېدم.

فاتح په اندیښمن لهجه وپوښتل- ښه یې؟
څو شېبې مې په حیرانتیا ورته وکتل، خو ناڅاپه مې یاد ته راغلو چې پرون یې زه وهلې وم نو د هغه لپاره ضرور پوښتنه کوی ښه یې؟ په دې فکر مې تندی تروش کړو او داسې حال کې چې د هغه له سنګه مې غوښتل تېره شم ومې ویل: غواړې و وایې زما په اړه په اندیښنه وې چې سهار وخت راغلې؟

لاس مې وغځاوه ترڅو د غالي له سر شلېدلې پاڼې راوخلم چې د شا لخوا لاس مې کش شوو او د هغه سره سم یو ګرم ځاې کې ننوتم! د هغه د قیمتي عطر بوي چې پوزي ته مې راغلو او د غوږ لاندې د هغه د زړه په زوره درزیدل مې واوریده نو پوهه شوم چې هغه زه غیږه کې نیولې یم!

د وېرې او استرس څخه مې سا نشو اخیستې، لومړۍ ځل وو چې داسې په بې پروا یې ما ته لاس راوړې وو او زه یې غېږه کې نېولې وم، هېڅکله نه د نکاح په وخت کې او نه د هغه څخه مخکې لاس وهل خو لرې حتا سم یې راکتلې لا نه وه، د څو شېبو وروسته چې لږ پر ښود شوم او غوښتل مې د هغه له غېږي جلا شم هغه نور هم کلکه ونیولم او زما د غوږ څنګ کې په ډېر نیولې غږ وویل: خدایه شکر دې... شکر چې ښه ده ... شکر ...

د هغه د غږ په اورېدو حیرانه شوم، نه پوهېدم چې دا کار او دا خبري څه معنا لري؟ چې هغه خپل د غیږي څخه جلا کړم او داسې حال کې چې خپل لاسونه یې زما د غومبرو دواړو خوا ته کیخودلې وه او زما مخ یې خپل په لاسونو پوښلې وو په بېحد مهربانه او مینه ناک غږ یې وویل: ما وبخښه بلقیس ... ما وبخښه ... ما نغوښتل پر تا لاس پورته کړم ... نه پوهېږم ناڅاپه ولې هغسې بې کنټرول شوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دومره چټياټ مې درته وويل ... زه بخښه غواړم زه .... زه  پوهېږم ته د ګل ځخه لا پاکه او معصوم يې ...

د فاتح د خبرو په اورېدو نږدې وو د زيات حيرت ځخه ښاخ مې پر سر را پورت شې، فاتح او داسې مينه ناک خبرې؟ فاتح او داسې مهربانې؟ لکه چې دا هم خوب دې؟ غوښتل مې ورځخه لرې شم خو هغه اجازه رانکړل او خپل په همغه غټ او نارينه لاسونو باندی زما لاسونه ونيول او په يو جنون اميز او ګنګس انداز يې وويل: خوب مې ليده... خوب مې لېده تا زما د لاسه ځان وژنه کړې وې.

د هغه په دې خبره سترګي مې له حيرت خلاصې پاتې شوې چې فاتح لکه ليونيانو پشان لګيا شو: نه پوهېږم ځنګه درته ووايم خوب نه وو! يعنې خوب وو، خو د خوب پشان نه وو، بيخې داسې وو لکه رښتيا چې وې، زه په تا کې وم ... يعنې مطلب زه ستا په جسم کې وم او ته زما په جسم کې وې، يعنې مطلب ځنګه درته ووايم ...
فاتح زما لاسونه خوشې کړل، او زه چې لکه بې ساه جسد پشان د کوټې منځ کې ولاړه وم په راوتلو سترګو له حيرت مې د هغه خوا ته کتل، فاتح داسې حال کې چې خپل ويښتيانو کې لاس کش کاوه په کراره لهجه يې وويل: ډېر يو عجيب او غريب خوب وو، زه ستا په جسم کې راغلم دلته.

زما کوټې ته يې اشاره وکړل بيا لکه ليونيانو پشان په کوټه کې په ګرځېدو شو، زما د د بسترې ځنګ ته ودرېده او ويې ويل: همدلته د کاکا ناوې ماته ځاې واچو ترځو ځملم، يعنې اصل کې ستا جسم ته ځاې واچوه، ځکه تا... تا ...
په مات او غمجن نظر يې راوکتل او ويې ويل: ځکه تا ځان وژنه کړې وه! ټول کورنۍ دې درباندې ځرخېدل او يو دقه يې زه يوازې نه پرېښودم چې هسې نه بيا کوم غلط کار ونکړم.

د هغه په خبرو زما سر په ځرخيدو شو فکر مې کاوه کوټه مې په سر ګرځې غوړونه مې ګيپ شول او نور مې د هغه غږ نشو اورېدلې، ځاې پر ځاې کښېناستم چې فاتح په تلوار ځان تر ما را ورسره وو او داسې حال کې چې زه يې له اوږ ځخه نيولې وم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اندیښنې زما د حال پوښتنه کول، خو ما ورته هېڅ ځواب ورنکړو، هغه خوب وو کنه؟ ما خوب لېدلې وو؟ که خوب وو بیا ولې فاتح هغه ټول په یاد وو؟ باور مې نه کېدو فکر مې کاوه دا اوس حال هم شاید خوب کې اوسېږم؟ کنه څنګه امکان لرې داسې یو کار؟ په همدې فکرونو کې وم چې یو یخ شې مې پرشونډو ولګېده لږ چې پام مې وکړو نو پوهه شوم فاتح د یخو اوبو ګیلاس زما شونډو ته نېولې او کوټه کې دننه ټوله کورنۍ مې هم موجود وه!

مور مې څنګ ته راغله او د فاتح له لاسه یې د اوبو ګیلاس واخیست او داسې حال کې چې زما شونډو ته یې رانږدې کول، د اوښکو ډکو سترګو باندې زما د حال پوښتنه کول فاتح زما له څنګ پاڅېده او په اندیښمن انداز یې راوکتل چې پلار مې په تروش تندی ورباندې غږ کړل او ورته ویې ویل: راشه ستا سره مې لږ کار دې، که څه هم د فاتح زړه نه غوښت او د سترګو څخه یې معلومه وه چې غواړې دلته زما څنګ کې اوسیږی خو له مجبورۍ د پلار پسې شو او له کوټې ووت.

زما د کوټې څخه د وتلو نیم ساعت وروسته د کلا د دروازې ټک شو، او مور مې راته وویل چې فاتح لاړو، زما پر وجود یخه خوله راغلې وه او له وېرې او وحشت څخه لړزېدم مور مې راباندې دوه کمپله اچولې وه او هر دقه یې زما پر تندی لاس کېخوده او د شونډې لاندې ویل: بدن یې داسې یخ دې لکه ساه چې پکې نه وې!
تر غرمې همدا حال مې وو د غرمې وروسته لږه ښه شوم، خو هغه ښه کېدل یوازې د جسمی ارخ وه، روانې ارخ همغسی حال کې وم زر رقم فکر او سوچونه مې ذهن کې ګرځېدل زړه مې غوښت د فاتح سره خبرې وکړم او ورته و وایم چې دا ټول خوب اصل کې رښتیا وو او ما د رښتیا غوښتل ځان وژنه وکړم، خو له یوخوا د هغه څخه ډارېدم له دې ډارېدم که خبر شې ما غوښتل ځان وژنه وکړم هسې خپل د مور ګمان او خیال راباندې ونکړې!

دا فکر دومره وېره ولم چې لاس مې نه تلو ترڅو ورته زنګ ووهم، ماښام تر نیمه شپه ویښه وم او همدا فکرونه مې کول نه پوهېږم ولې خوب مې تښتېدلې وو، سل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځله مې موبايل ته او د هغه نمبر ته لاس لاړو خو زنګ مې ونشو وهلې، او هغه هم هېڅ کوم مسج يا زنګ ونه واهه، البته زما په نظر د هغه سره زما نمبر نه وو! ما خپل نمبر د هغه ټول کورنۍ کې هېچا ته نه وو ورکړې، د هغه د خويندو څخه مې ښه نه راتلل يو کال مخکې مې يو نمبر درلود دوې ته مې ورکړې وو هره ورځ د ده دوه خويندو په وټساپ کې راته خپل د نوي جوړ کړو کاليو عکسونه راستول او پر ما يې ريشخند واهه! ما هم الهام ته وويل چې يو نوي سيمکارټ راته واخلی او هغه نمبر مې بيخی مات کړو، نو ځکه زما دا نوي نمبر د هېچا سره نه وو.

د کوټې د ګروپ تېې مې ووهل او ګروپ مې ګول کړو، راغلم خپل ځاې ته کمپل مې پر ځان کش کړو او ځانته مې دلدارۍ ورکول پيل کړل او کوښښ مې کاوه خپل فکر د دې موضوعاتو او خبرو څخه واړوم، ځکه د سهار څخه تراوسه چې دشپې دوه بجې وه دومره مې د دې موضوع په اړه فکر کړې وو چې نور مې مغزو د اضطرارۍ حالت هشدار راکړې وو او ويل يې که يو بله دقه فکر وکړې نو فداي حملې دربانديې کوم او چوم! نه پوهېدم خپل فکر څنګه د دې خبرو څخه واړوم؟ ناڅاپه يوه خبره مې ذهن ته راغلل يوه مياشت مخکې شبنم ماته وويل: که د ناولونو او د شعرونو شوقې يې نو د دې لځايه چې فسبوک او ګوګل کې وريسې وګرځې ټلګرام ډانلوډ کړه هلته د کتابونو خزانې دې او کولې شې هر رنګ کتاب او شعر چې غواړې پېدا کړې!

ما هم د هغې دا خبره خوښ شوه او په همغه ورځ مې ټلګرام انسټال کړو، شبنم راته د څو چينلونو لينک راوستوه ويل دلته لاړه شه ښه ناولونه او شعرونه لرې په هغه چينلونو کې يو چينل وو په نوم د "پښتو ناولونه د يو سپين زړه سره" دا چېنل د رښتيا هم ښه ناولونه نشر کول خو د ناولونو څنګ ته د هغه چينل مدير چې زما په نظر" شهاب صيب" نومېده يو بل کار هم کاوه چې زما زيات خوښېده! او هغه دا چې هغه به هر ماذديګر يو، يو اروپوهني والا ليکنه چينل کې نشر کول او د رښتيا هم چې ښه خبرې به يې کول .د هغه يوه ليکنه زما تر اوسه په ياد کېده هغه لېکلې وه" که تاسو استرس لرې او بيځايه فکرونو مو نه پرېږدی او هر دقه مو ذهن ته زر رقم خيالونه راځې نو د هغه فکرونو څخه د خلاصون لپاره کوښښ وکړې هغه افکار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سره یاداشت کړې او ویې لیکي ځکه لیکنه د دې سبب کېږي چې نور هغه افکار مو ذهن ته رانشي."

په دې فکر پر شونډو مې نرۍ مسکا راغله موبایل مې راوخیست په ښي اړخ واوښتم او خپل د موبایل د نوټس صفحه مې خلاصه کړه ما تل دلته هغه شعرونه او لیکني ساتل چې زما خوښېدل، د بېحد زیات شعرونو او لیکنو څخه راتېره شوم او د نوټس یو خالي صفحه کې  راباندې د راپیښ شوې حال لیکنه پیل کړه دومره مې ولیکل او ولیکل تر دې چې نور مې فکر کاوه عصاب مې ستړي شوه! او سترګې مې د خوب له لاسه نه خلاصېږي، موبایل مې ګول کړو او خپل پر سترګو مې لاس تېر کړو، د رښتیا هم د هغه دا تخنیک کار وکړو فکر مې کاوه د عصابو څخه مې یو غټ بوج لرې شو، او په کراره ویده شوم ...

***

په سینه مې د یو تیز او کلک شي په لګېدو په وحشت او وېرې سره سترګي خلاصې کړې چې مخي ته مې مشر کاکا ولېده چې ټوپک یې زما پر سینه نیولي او داسې حال کې چې له غوسې څخه یې لاړې د خولې بادېدل ویې ویل: ها؟ تا ته وایم ولې لکه خر زما خوا ته راګورې ځواب راکړه.

د وېرې څخه مې ژبه بنده راغلې وه نه پوهېدم څه ووایم؟ چې ناڅاپه د کوټې دروازه خلاصه شوه او د فاتح مشر ورور نعمان راننوت او د مشر کاکا په لېدو چې زما پر سینه یې ټوپک نیولي وو په وحشت زموږ خوا ته یې رامنډه کړل او مشر کاکا یې زما څخه لرې کړو.

نعمان- پلار دا څه کوی؟
مشر کاکا داسی حال کې چی له غوسې څخه همغسې خوټېده په خشم یې وویل: له سر د انسان شیدي نه دي رودلې، زر ځله مې ورته وویل خپل د مور او خویندو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرو مه ختا وځه، هغوي له سر د بلقيس څخه ښه نه راځي زر رقم تهمت ورپسي ترې ترڅو ستا زړه له هغې تور کړي او مور دې خپل د هغه مردار قوم او قبيلي څخه درته خپل په خوښه يو کم...چی...ني... مرداره وکړي. او ته هم د هغې د خبرو پسې. روان يې.

څو شيبې خاموش شو او بيا داسې حال کې چې په ځېږ،ځېږ يې زما خوا ته راکتل ويې ويل: اوس چې سم ګورم ته زما د وريرى لياقت نلرې. همغه بهتره درنه خوشې کړم ترڅو بيا ستا له لاسه خپل پر سر کومه بلا رانه وړې،که سبا ورځ ورباندې يوځه وشول زه خپل ورور ته څه ځواب ورکړم؟ په کومو سترګو ورته وګورم؟
بيا يې په غوسي راوکتل او داسی حال کې چی خپل ګوته يې زما مخې ته د ګواښ پشان خوځول ويې ويل: سبا ځم د هغې ليدو ته او پوښتنه ورڅخه کوم زما دې قسم وې پر خداى که راته ويی ويل تا نغواړې درڅخه يی خلاصه وم.

نعمان- دا څه واى پلاره!؟
مشر کاکا- همدا چې وا مو وريدل، که هغې وويل دا ...
زما خوا ته يې اشاره وکړل او ويې ويل: که بلقيس وويل دا خر نغواړم نو زما دې قسم وې درته د يوه پلار به پيدا نه يم فاتح! چې خپل وريره مې درڅخه خوشې کړې نه وې! ځم يو څهارپايه خر ته يې ورکوم خو ستا پشان انسان نما دوه پښو خر ته يې نه درکوم، عمر دې د 30 کالو شو خو عقل دې لا خم د يو 5 کلن ماشوم قدر دې د هغه څخه لا کم دې ...

بيا له غوسي څخه سور شو او زما خوا ته يې غوښتل راشې خو نعمان ونيو، په همغه قهر يې مخ د نعمان خوا ته کړو او ويې ويل: زر وارو مې ورته ويلې چی ستا مور بلقيس نه خوښه وې! ځکه زما وريره ده. هغه غواړې ته د هغې د کوم وريرې يا خورزې سره واده وکړې ترڅو ستا ښځه د هغې د لاس لاندې راشې. زر ځله مې ورته ويلې د ښځو په مکر او فريب سر خلاص کړه خو دې بيا هم ځې د هغې خبرو ته غوږ نيسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نعمان د مشر کاکا د ارام کېدو کوښښ وکړو، خو کاکا عصاب دومره خراب وه چې ټوپک یې زما خوا ته را وغورځاوه او د څو کنځلو کولو وروسته له کوټې ووت.
د هغه په تلو نعمان زما خوا ته راغلو او زه یی د اوږې څخه ونیولم ترڅو پاسیږم خو ما خپل لاس د هغه د لاس څخه کش کړو او خپل پر سر می کیخود، گنگسه وم! زه څنگه بیرته دلته راغلی وم؟ داسی وو لکه یو فلم یو ځاې بند کړی او کله چې بیرته راشې نو فلم د همغه ځاې څخه پیل شې! خو عجیبه دا وه چې نه د فلم پشان ښکاریده او نه هم خوب!

سم دم رښتیا وو، نعمان زما څنگ ته کښېناست او ماته یې دلداریۀ راکول، خو ما یواځې ورته کتل! ناڅاپه په تلوار لځایه پاسېدم زه باید خپل کور ته لاړه شم! په دې فکر په تلور د کور د دروازی خوا ته روان شوم نعمان هم راپسې شو او ناری وهل او پوښتنه یې کول چې چیرته روان یې؟ خو ما د ځواب ورکولو لځایه گامونه چاپک کړل خپل د خواښې غږ مې اورېده چې ما ته یې ښېراوي او بد رد ویل له کور ه ووتم او خپل د کور خوا ته مې مخ کړو، د شاوخوا څخه بېخبره نه پوهېږم په کوم تلوار کور ته ورسېدم، دروازه مې وټکول څو شېبې وروسته الهام دروازه راته خلاصه کړه او زما په لېدو یې کرار وویل:

الهام- پخیر... ما فکر کاوه شاید اوس کور کې ویده اوسیږی درسته شپه دې روغتون کې په ویښه تېره کړې وه!
بغیر لدې چې ورته کوم پام وکړم د خولې لاړې مې تېری کړی او ومې ویل: غوارم..
پر ځان مې بوج راوسته او ومې ویل: غوارم بلقیس وگورم اجازه شته؟
الهام په خندا د دروازی له مخې لری شو او ویې ویل: هو، هو راځه صاحب د اجازې یاست د کاکازو خپل کور د دې.

د الهام پسې کور ته ننوتم زما په تگ ټولو یو رقم عجیب، عجیب راکتل البته د هغوې څخه زیات زه خپله په حیرت کې وم! پلار مې هم د الهام خبره تکرار کړه چې ولې ویده شوی نه یی درسته شپه دی په ویښه تېره کړی وه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ما ورته یواځې سر وخوځاوه او په کراره مې وویل: بلقیس یو ځل وګورم بیا ځم.
هغوی هم فکر وکړو زه داسې د بلقیس سینه چاق مین یم چې د لېدو بغیر یې خوب نه راځې!

مور مې په کراره وویل: که څه هم ویده ده خو بیا هم لاړ شه یوځل وې ګوره ترڅو زړه دې جمع شې.

د مور خبره لا خلاصه شوې نه وه چې ما د کوټې خوا ته ګامونه تیز کړل، په تلوار کوټې ته ننوتم او دروازه مې د ځان پسې وتړل. نظر مې پر همغه هوار شوی ځاې ولګېده چې فاتح راته ښودلې وو او ویلې وه! زما جسم هملته وو او سترګې پټې وه! کرار و خواته یې نږدې شوم، پوهېدم دا فاتح دی! او د هغه څخه عجیب لا دا چې فکر مې کاوه دا خوب لکه یو واقعیت دې او څه چې زه دې خوب کې وینم او احساس کوم هغه یې هم احساس کولې شې!

زما د پښو په غږ هغه په تلوار سترګې خلاصې کړې، لکه له سر چې ویده نه وو او له دروغو یې سترګې پټې کړې وه! زما په لیدو په څېر څېر یې راوکتل او په تروش تندی خپل لاس یې خپل په تندی کیخود او د شونډې لاندی کرار ځان سره وویل: خدایه دا نو څنګه عجیب خوب دې! ولې دا یو خوب باید پر ما باندی دوه ځله تکرار شې؟ او ولې دومره واقعي ښکارې دا ټول شیان؟ خدایه که د هغه ناحق څپېړی په خاطر تا زه داسی رانیولې یم نو ما خو نن د هغې څخه بخښنه وغوښته بیا ولې دا لعنتي خوب پاې ته نه رسوې؟

په کرار ګامونو خوا ته یې ورنږدې شوم او داسې حال کې چې د هغه څخه په برابر واټن کې کښېناستم کرار مې ورته وویل: دا خوب نه دې فاتح! یا هم شاید خوب وې خو .. څنګه درته ووایم نن چې ته زموږ کور ته راغلې او هغه خبري چې دې وکړل هغه ټول رښتیا وه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبرو هغه ناځاپه خپل لاس د تندی څخه لرې کړو او خپل ځاې کې کښېناست
او داسې حال کې چې د حيرت څخه يې رډ رډ زما خوا ته راکتل ځان سره يې کرار
وويل: خدايه نور نو کرار کرار دا خوب دې ويرووونکي کېږي، دا له کوم خبره ده چې
زه نن تللې وم د بلقيس ملاقات ته او څه مې ورته وويل؟
بيا څو شېبې خاموش شو او بيا يې کرار وويل: ضرور دا ټول زما خيالات دي! هو
زمونږ خيالات زمونږ خوبونه جوړه وی او دا هم زما خيال دې!

ناځاپه يې زما خوا ته ټوپ کړو او زه له وېرې ورڅخه شاته شوم او د شا په تخته په
هغه دومره جسم او قد او قواره را وغورځېدم، فاتح داسې حال کې چې زما و مخ
ته يې خپل مخ نږدی کاوه په کامل توګه زما پر بدن يې سيورې واچوه، او په
مشکوک انداز يې وويل: زه ستاسو کور ته درغلې وم، دا راته ووايه چې اخر څه
وشو بيا؟

خپل د خولې لاړې مې تېرې کړی او ومې ويل: تا ... تا د دې خوب په اړه خبري کول
او... او بيا د زيات وېرې څخه زما فشار ښکته شو ... او ... او بيا بابا راغلو ته يې
لګان سره د کوټې بهر ويوړې.
فاتح- ښه بيا؟ بيا ستا پلار ماته څه وويل؟

داسې حال کې چې هغه زما په جسم کې وو، او دا چې اوس يې ځان پر ما اچولې
وو اصل کې زما خپل جسم وو خو بيا هم زه داسې د تاثېر لاندې راغلې وم چې فکر
مې کاوه هغه فاتح دې خپل په مردانه جسم کې او داسې يو کار يې کړې!

فاتح- څه رډ، رډ راګوری وايم ستا پلار ماته څه وويل؟ کله چې زه يې د هغه کوټې
څخه وباسلم؟
په بند بند ژبه مې وويل: زه ... زه خو څه علم غيب نلرم، يوازې نيم ساعت وروسته
د دروازې خرپ مې واورېده او مور مې راته وويل چې ته لاړې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خو ثاني په خاموشی راوکتل او بیا زما څخه لرې شو، زه هم کښېناستم د وېرې او هیجان څخه مې زړه په 180 کې درزېده، چې ناڅاپه هغه په خندا شو او ویې ویل: تر اوسه مې فکر کاوه دا زما یو جانبه خوب دې او یوازی زه یې ګورم! خو نه دا خوب ته هم زما سره ګورې، خو حیران و دې خبری ته یم چې ولې زموږ جسمونه یو د بل سره بدل شوي؟

بیا یې زما خواته راوکتل شاید د ځواب ورکولو په تمه! خو ما ورته یوازې په خاموشې وکتل چې هغه د څو شېبو وروسته په تروش تندی وویل: خو یوه خبري باندې زما سر خلاص نشو هغه ځان وژنه آیا تا د رښتیا کړې وه که څنګه؟
ما بیا هم ځواب ورنکړو چې هغه زما خوا ته رانږدی شو او خپل پوښتنه یې یو ځل بیا تکرار کړه: وایم هغه د ځان وژني کیسه صحیح ده که غلطه؟

نه پوهېږم ولې ناڅاپه داسې شجاع او دلېره شوم! شاید له دې سبب چې خپل جسم کې نه وم؟ او دا نړۍ راته هسې یو خوب او خیال ښکارېدو؟ یا که کوم بل چل وو، خو هر څه چې وو ناڅاپه په ټول وجود کې مې داسې د شجاعت احساس وکړو چې حد یېچ نه درلود، په کلک لهجه مې ورته وویل: د هغه وروسته چې تا لکه یو ځناور پشان راسره رفتار وکړو  او ولاړې، نو زما عصاب دومره خراب شوي وه چې خپل د مور د فشار د ګولیو قوطي راوخیست ترڅو د هغه پر خوړلو ځان ووژنم!
د دې خبري پر کولو مې د هغه خوا ته ست ګي خښي کړې چې هغه په افسوس او غمجن نظر راوکتل خو د سترګو کونج کې د غوسي نښي هم ما ته ښکارېدي، خو زه بغېر له دې چې و وېرېږم ومې ویل:

– نه پوهېږم ذهني فشار وو؟ که د خدای لخوا لیکل شوی تقدیر؟ چې همغه وخت کې خوب ورې وم، اا‌و کله چې سترګي مې خلاصي کړې نو په همدې خوب کې وم او خپل جسم مې لېده چې د شفخانی پر کټ پروت دې، هېڅ مې سر نه خلاصیدو چې اخر خبره څه ده؟ خو دا چې هرڅه د رښتیا ښکارېدل او زه ستا په جسم کې وم نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوښښ مې وکړو موضوع هضم کړم او کرار کرار دا واقعیت ومنم او منتظر پاتې شم ترڅو ته په هوښ راشې او زه درته ....

هغه زما خبره پرې کړل او ویې ویل: او کله چې په هوښ راغلم نو تا ماته ټوله کیسه بشپړ وکړل! او زه شوم بلقیس او ته شوي فاتح! او لاړو یو دبل کورونو ته! اهوممم همداسې ده؟
ما سر د هو په بڼه وخوځاوه چې هغه په کراره وویل: کله چې د شفخانې څخه ستا د پلار سره موټر کې کښېناستم او دلته ستاسو کور ته راغلم نو ښه سم غوږ استقبال مې وشو! مور دې له یوې خوا جان او قربان راته ویلو او پلار او ورنو دې له بلخوا! خلاصه چې هر چا یو کار کاوه ترڅو اغلې بلقیس روحیه ښه کړي!

خو ما ته دا حالت د منلو وړ نه وو، دا چې زه دې ستا جسم ته راغلې اوسیږم؟ او ته دې زما!؟ خو د دې ټولو خبرو څنګ کې ستا د مور کله ناکله په پټه،پټه ژړلو زما عصاب خوړلو! او همدا سبب وو چې ما کمپل په سر کش کړو ترڅو هغوي فکر وکړې زه ویده شوی یم او یوازې مې پرېږده، خو همدغه منځ کې ناڅاپه له خوب راپاڅېدم او متوجه شوم چې خپل کوټه کې یم او دشپې ۲ بجې دې! لومړۍ فکر مې چې وکړو نو ځان سره مې وویل دا ټول هسې خوبونه دي، خو زړه مې طاقت ونکړو او سهار وختې ستاسو د کور خوا ته درغلم..

په دروند نظر یې را وکتل او ویې ویل: ما فکر کوو هسې نه دا خوب رښتیا اوسیږي او تا ځان وژنه کړې وي! خو کله چې راغلم، نه پوهېږم ستا پلار ولې او په څه دلېل زما څخه غوسه وو! د همغه لومړۍ سلام علیک وخت کې راته غوسه معلومیده خو خان یې نیولې وو خو ستا د راغورځېدو وروسته چې له کوټې وویستم نو ...

خاموش شو، ډېر مې زړه غوښت ادامه د خبرو یې واورم او پوهه شم چې زما پلار ورته څه ویلې؟ خو هغه ناڅاپه موضوع بدله کړه او ویې پوښتل: ښه ته راته کیسه وکړه شفخانه کې د جلا کېدو وروسته ستا سره څه چل وشو؟
د هغه په خبره مې لومړۍ شې چې خیال ته راغلو هغه د ده د مور بدې خبرې وه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په یاد راوړلو عصاب راخراب کړل او هېڅ مې ونه ویل، چې هغه هم لکه چې څه ناځه وپوهېدي چې نور څه یې ونه ویل او د موضوع بدلولو په پار یې وویل: عجیب ده! بېخې مې سر نه خلاصېږي اخر ولې موږ دواړه یو خوب ګورو هغه هم په داسې حال؟

بیا یې زما او خپل جسم ته اشاره وکړل او ویې ویل: فکر کوم دا هسې دروغ او واهې خیال دې، او ته زما د ذهن جوړ کړ شوې تصور یې او ربښتیا نړۍ کې ته زما سره په دې خوب کې نه یې!
بد بد مې وروکتل دا چې په خوب کې لا داسې شکاک او بدګمانه وو زړه یې راخوړو، دومره ورته کیسه مې د ملا نصر الدین وکړل دې اوس وایې ملانصر الدین ښځه وه که سړی؟ دا دومره لویه کیسه ما ورته وکړل،خو دې تر اوسه لګیا دې او وایې ته زما د ذهن تصور یې کنه موږ دواړه یو خوب نشو لېدلې! زما د قهرجن نظر په لېدو یې وویل:خپله فکر وکړه دا منطقی ندې، چې موږ دواړه دې یو خوب وګورو هغه دې هم داسی حال کې چې جسمونه مو یو دبل سره بدل شوی!

په پوسخند مې وویل: زړه دې غواړې زه درته ثبوت او مدرک راوړم ترڅو باور وکړی موږ دواړه په یو لعنتی خوب کې بند یو او جسمونه موو یو دبل سره بدل شوی؟!

هغه څو ځله د شونډی لاندې ځان سره تکرار کړل ثبوت، ثبوت او بیا ناڅاپه په خوشحالۍ وویل: هو ماته ثبوت راکړه چې ته زما سره دې خوب کې شریکه یې او زما وهم او خیال نه یې؟
په غوسه مې ورته وکتل او ومې ویل: ته لیونۍ یې؟ په دې خراب شرایطو کې زه د څه مرګ ثبوت او دلیل تاته راوړم چې ثابت کړې زه د ربښتیا یم او که ستا خیال؟
هغه څو شېبې فکر وکړو بیا یې په تلوار وویل: د موبایل نمبر!

— څه؟
فاتح- ما ستا د موبایل نمبر په ربښتیا نړۍ کې نزده ته ماته خپل نمبر ووایه د راویښ کېدو وروسته زه تاته زنګ وهم که زنګ د ربښتیا تاته درغلو نو زه باور کوم چې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته په دې خوب کې د رښتیا زما جسم کې یې!

– ما خپل نمبر لیاده نزده!

فاتح- د موبایل څخه دې راته نمبر ووایه.

څو شیبې په ځیر ځیر مې وروکتل او بیا مې وویل: که لږ سم پام وکړې نو پوه به شې چې اوس وخت زه خپل جسم کې نه یم نو زما موبایل زما سره نشته!

فاتح- نو چیرته دی؟

– زه څه خبره یم؟

فاتح- داستا کوټه ده کنه؟

– هو.

فاتح- نو شابه راځه ستا موبایل پیدا کړو.

خپل د خبرې سره سم پاڅېدو او د موبایل په لټولو یې پیل وکړو، که څه هم کار یې بېحد جاهلانه ماته ښکارېدو خو له یوه خوا مې احساس کاوه، چې دا کار به ښه وي په دې رقم زه هم ډاډمنه کېږم چې د رښتیا آیا موږ دواړه دا یو خوب وینو او کنه؟ د څو دقیقو لټولو وروسته خپل موبایل مې د کړکۍ سره پیدا کړو، موبایل مې راوخیست پاسورډ مې وواهه او په بېحد حیرت کې موبایل خلاص شو! او ما هم ورته خپل د موبایل نمبر ورکړو، هغه د موبایل نمبر بغیر له دې چې چیرته ولېکې د ځان سره پر ویلو شو او حیرانه شوم کله چې دویم ځل تکرار کې هغه زما نمبر پوره زده کړو.

بیرته خپل په ځایونو کې کښېناستو چې هغه په لوړ غږ وخندل، کله چې ما په حیرت وروکتل نو هغه وویل: باید اقرار وکړم چې دا خوب څه ناڅه فایدې هم لري.

– لکه څه؟

فاتح- لکه همدا چې ستا نمبر مې درڅخه واخیست کنه تا خوا هسې په ویښه زر کاله وروسته هم نه راکولو.

د هغه په دې خبره زما پر شونډو هم نرۍ مسکا خپره شوه رښتیا ویل، ما په ویښه زر کاله وروسته هم خپل د موبایل نمبر نه ورکو، نه پوهېږم څومره به هلته وم خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور په راتلو پوهه شوم چې زه باید لاړه شم خپل د کور را ووتم، د ماذدیگر آذانو خوا وه کرار کرار د کاکا د کور خوا ته روانه شوم، عجیب احساس وو که څه هم خوب وو خو هر څه پکې داسې وه لکه د رښتیا نړۍ!

د هر څه خوند، بوې او احساس مې محسوس کولې شو، نه پوهېږم ولې ناڅاپه د دې لځایه چې د کاکا کور ته لاړه شم ګامونه مې بې اختیاره خپل د انسټیوټ خوا ته واخیستل، کله چې ورسېدم نو د انسټیوټ پر دروازی مې یو غټ کلف ولېده چې زړه یې را وسوځه وه او بی اختیاره مې له خولې اف وخوت.

څو شیبې هملته ولاړه وم او په زرهاو رقم سوچونو په مخه کړې وم، چې پر اوږې مې یو چا لاس کېخوود! دا چې په فکر کې وم نو وډاره شوم او لځایه وپرېدم، مخ مې چې ور وګرځه وو، یو د 36/37 کالو سړی وو چې خړ کالې اغوستې وه او د هغه په سر یې د ملې اردو وو که هر څه وو خو یو نظامې کورتۍ اچولې وه او د پکول د لاندې څخه یې څني راوتې وه، او یو ټوپک یې هم پر اوږه کړې وو خرماې سترګې او تور ګیره چې دانه مانه سپین تار هم پکې ښکارېده د هغه څخه د اطرافو یو شخص او بلخصوص یو پوخ طالب جوړ کړې وو، زما د نظر په لېدو یې په خندا وویل: وبخښه ورور ستا د وېره ولو اراده مې نه درلود، خو د نیم ساعت څخه مې درته فکر دې چې دلته د انسټیوټ مخې ته ولاړ یې او په فکرونو کې ډوب یې نو ماویل پوښتنه درڅخه وکړم خیرت خو دې؟

د خولې لاړې مې تېرې کړې او کرار مې وویل: هو خیرت دې، مننه.
طالب- دلته استاد وې؟
— نه ولې؟
طالب- انسټیوټ خو د انجونو وو! نو تاسو خو شاګرد په هېڅ صورت نشې اوسیدلې، یا خو ضرور استاد واست یا به هم د انسټیوټ مدیر یا تاجر چې پر دې انسټیوټ یې پیسي لګولې، ته راته ووایه کوم یو یې وې؟
— هېڅ یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخرې نظر مې د انسټيوټ خوا ته وکړو او په نيولې او دردمند غږ مې د تلو مخکې وويل: يو وخت مې خپل د آرمانونو د پوره کولو زيارت بللو دغه ځاې؛ خو اوس يوازې راته د ماضی او حال کې راګير شوی د ظلم يو تور برخليک ښکارې او بس ...

دا خبرې مې وکړل او له هغه ځايه لرې شوم، کله چې د مشر کاکا کور ته ورسيدم نو ماښام اذانونه يې کړې وه، بغير له دې چې څه ووايم هغه کوټه چې ماته د فاتح معلوميده همغه خوا ته ورغلم، کله چې کوټې ته ننوتم نو بېحد راته جالب او خاص ښکاره شوه، يو کال مخکې يو ځل يواځې د يوه دقې لپاره مې دا کوټه لېدلې وه هغه وخت چې فاتح هندوستان کې وو، د هغه وخت څخه يې زيات بدلون کړې وو، يو لوې دوه نفره په سپين او تور رنګ پالنګ د کوټې څنډه کی کيخودل شوی وه، او د هغه څنګ کې يو کوچنې ميز چې څو کتابونه او يو لپټاپ وربانديې وو.

په تور او سپين رنګ کې ډېزاين شوی ښکلې پردې او تر ټولو جالب او زړه راښکونکې په ديوال باندې يو تابلو"نقاشي" چې د يو ښکلې طبعيت منظره وربانديې کښل شوې وه، د لوړو غرونو شاته عظيم لمر مخ پر زوال او ډوبيدو وو، د غرونو سرونه يې داسې ښکاره کول لکه د طلاو کاڼ چې وې، څو مرغۍ په هوا وه او لاندې يو سېند په مستو څپو بهېده، په شنه چمن کې يو د هوسۍ بچې ولاړ وو او واښه يې خوړل، په کرار کرار د تابلو خوا ته نږدې شوم، که ووايم د هغه تابلو انځور مسحوره کړې وم نو دروغ به نه وې، لاس مې اوږد کړو ترڅو پر نقاشي لاس ووهم، چې همدې وخت کې ناڅاپه ...

***

– بلقيس لورۍ پاڅه د سهار مونځ قضا کېږي.

د مور په غږ ناڅاپه له خوب راپاڅېدم! لا مې شاوخوا خپل چاپيريال صحيح درک کړې نه وو چې د بالښت لاندې موبايل ته مې زنګ راغلو؟ په حيرت مې موبايل راوخيست په دې سهار وختې چا ما ته زنګ وهلې؟ د موبايل په سکرين د هغه څلور حرفه نوم په لېدو د زيات حيرت څخه مې موبايل د لاس وغورځېده، چې سم ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وار ورپسې بل مسج راغلو چې ليکل شوي وه: که دا د رښتيا هم ستا نمبر وي نو بايد د قيامت د راتلو تياري ونيسو ...

دومره حيرانه او عين وخت کې خندا مې راغلې وه د هغه مسج ته چې يوازې مې ورته وليکل: هو ښکارې خو همداسې لکه چې اخره زمانه ده؟!

لځايه پاځېدم مونځ مې وکړو، د مونځ د خلاصيدو وروسته دعا ته مې لاسونه پورته کړل او له خدايه مې د يو خلاصون لاره وغوښته، ذهن مې نارامه وو د دې راپيښ شوې حالاتو له لاسه نه پوهېدم څه وکړم؟ جاى نماز مې ټول کړو بيرته خپل ځاى ته لاړم خوب مې نه راتلو همغسې لټ په لټ ځاې کې اوښتم چې موبايل ته مې بيا مسج راغلو خلاص مې چې کړو فاتح وو، ليکلي وه: نن درپسې درځم د ماذديگر خواته ځو د باندې، غواړم درسره خبرې وکړم دا راپيښ شوي موضوعاتو زما عصاب راخراب کړي، ستاسو کور کې سم خبرې نشم کولې نه هم وخت شته چط درسره وغږېږم نو دباندې به لاړشو؟!

پوهېدم چې غټ ترينه مطلب د هغه د عصاب خراب کيدو، زما د ځان وژني موضوع ده پوهېدم هغه غواړې ما ښه په قران او قسم تېر کړې ترڅو پوه شې چې اصلې موضوع څه وه؟ دا چې کور ته د پلار د خبرو له لاسه نشو راتلې نو ويل يې بيرون راشه، خو نه پوهېږم ولې زړه مې غوښت د نورو نامزدانو پشان دا بلنه يې يواځې د چکر او ملاقات وايې نه ده حساب اخيستلو او پوښتنو! خپل په دې فکر مې پوسخند پر شونډو راغلو فاتح او داسى کار چې ما دى بهر چيرته چکر ته ويسې! ډېر مې زړه غوښت ورته ووايم نه درځم او زړه مې نغواړى خو دا راپيښ شوې حالت مجبوره کولم د هغه بلنه ومنم او ورته هو ووايم.

تر ماذديگر خپل ځان مې د کور په کارونو مصروفه کړو ترڅو فکر مې هېڅ موضوع خوا ته لاړ نشې د ماذديکر خواته فاتح راغلو او په يو ډول يې زما د پلار اجازه واخيسته او ماته چې لا تياره نه وم تندى تروش کړو چې تياره شه، ما هم په زړه نا زړه ډول کوټې ته لاړم ترڅو ځان تيار کړم البته څه تيار کيدل! لومړې خو تللم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ته حساب ورکړم او دویم دا چې هغه د سینګار څخه بد راتلل نو یواځې مخ مې ومېنځه او حجاب مې واچوه دا هم زه تیاره! د تلو مخکې مې هېنداره کې ځانته وکتل تور اوږد حجاب، د تور ټېیکرۍ او تور نقاب سره یواځې مې دوه سترګې ښکارېدې او بس!

خپل د دوه سترګو په لېدو د څو کلونو مخکې یوه خاطره مې ذهن ته راغلل!

څو کاله مخکې زما د خاله د زوی واده وو، زه خپل د کاکاخیلو سره دومره جوړ امد نلرم څومره چې د ماماخیلو او خاله او خاله زامنو سره ورشه درشه لرم او د خاله لورګانې راته خویندې او زامن یې راته لکه ورونه ښکارې، هغوې هم هېڅکله ماته بد نظر نه درلود ځکه د ماشومتوب ټول خبر وه زه د ښاغلې بد اخلاق فاتح په نوم یم، نو ټولو راته خور ویل زما د مشر خاله د دویم زوی محسن واده وو هغه وخت د جمهوریت وخت وو او د اشرف غنې حکومت! دا چې محسن ماته لکه یو سکه ورور بشان ښکارېده او بل دا چې د لومړۍ ځل لپاره زموږ د خپلوانو څخه د یو چا واده هوټل کې کېده، د هغه څخه مخکې زموږ د قوم څخه هېچا واده هوټل کې نه وو کړې!

خبره د پیسو نه وه بس عادت او رسم وو ټولو کورنو کې واده کاوه خو دا واده هوټل کې وو نو ټول ورته بېحد خوشحاله وه، تر دې حده چې د لومړۍ ځل لپاره ما په سل زاریو خپل کورنۍ راضې کړل ترڅو اجازه راکړې د خاله لورګانو سره اریشګاه ته لاړه شم! خلاصه چې د زیات زاریو وروسته اجازه صادر شول او زه هم د خاله د لورګانو سره لاړم اریشګاه ته او ځان مې سینګار کړو، له دیخوا الهام ویورم خو له هغه خوا الهام ویل بلال "زما د خاله دریم زوی، به ستاسو انجونو پسې درشې ځکه هغه موټر لرې، او تاسو سېنګار کړې نو د بېګانه موټر څخه خپل موټر ښه دې!

خو نه پوهېږم ولې بلال زموږ پسې رانغلو او کله چې ورته زما د خاله لورګانو زنګونه ووهل نو هغه ویل زما لاس یوځای بند دې او کار لرم تاسو خپله راشې! کله چې موږ ورته وویل آریش مو کړی او څو انجوني یو او یوازی ځان کله کېږي درشو هوټل ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهېږم ولې  هغه ناڅاپه غوسه شو او ويې ويل: ولاکه کوم خر تاسو بيزوګانې وتښته وې موټر ونيسې او راشې! د هغه دا خبر زما د خاله لور ته دومره زور ورکړو چې په ښکنځلو يې ورباندې موبايل بند کړو، ما خپل د خاله لور ته وويل چې زه به الهام ته زنګ ووهم ترڅو هغه زموږ پسې راشې، خو د خاله لور مې دومره غوسه وه چې زما خبره يې وا نه ورېدل او موټر يې ونيوه.

ماذديګر ماښام وخت وو موږ څلور پنځه پيغلۍ انجوني بغير له کوم نر څخه ټکسی ونيول ترڅو هغه هوټل خوا ته لاړشو چېرته چې واده وو! موږ ټولو حجاب درلود خو بيا هم په سترګو کيخودل شوې هغه مصنوعي باڼه او پر هغه باندې لګول شوې زر رقم رنګونه او جلاګانو سترګي دومره غټې ښکاره کول چې د نقاب څخه راوتې وه، او له بلخوا ما په غم لړلې د يوه خاله له لور څخه مې شنه رنګ د سترګو لنز اخيستې وه او هغه مې هم سترګو کې لګولې وه، نو داسي شنې غټې سترګي مې ښکارېدې چې اريشګارې لا را څخه د ښکلا تعريف وکړو!

موټر کې زموږ په کښېناستو موټروان چې د 25/26 کالو ځوان ښکارېده نامردې ونکړل، او په اول ټک کې د موټر هينداره زما د مخ او سترګو خواته برابره کړل!
تر هوټل چې رسېدو د هغه يوه سترګه و ماته وه او بله و سړک ته، داسې په حيواني نظر يې زموږ خوا ته راکتو چې زه مجبوره شوم او موبايل مې راوخيست او الهام ته مې د هغه موټروان مخکې زنګ و واهه او ورته ومې ويل چې موږ داسی رنګ موټر کې ناست يو او يوازی يو بلال زموږ سره نشته او راروان يو د هوټل خوا ته! زما په زنګ وهلو د موټروان تندی تروش شو او لږ چتياټ خبري هم وکړل چې د چا واده دی او څنګه دې؟ او څنګه نه؟ خو زموږ څخه هېچا ورته ځواب ورنکړو.

الهام موبايل کې درې منه ښکنځل اول ماته، بيا بلال ته او بيا د هغه وروسته د بلال ټول قوم او خيل ته وکړل،او اخر کې ويې ويل زه در روان يم، نه پوهېدم چې چيرته روان وو زموږ پسې؟ خو همدا چې ويې ويل زه اوس راځم. زموږ زړه يې لږ راټول کړو، ټوله لاره کې مو دعا،دعا کول چې پخير تر هوټل ورسېږو، د جمهورست وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو او حالت هم داسې خراب وه چې په رښا ورځ لا خلک لوټ کېدل، څه ورسیږی څو پیغلۍ انجونو ته هغه هم په یوازې ځان! دومره موو دعاګانی وکړل، خیراتونه مو په غاړه واخیستل او سورتونه مو وویل چې بلاخره هوټل ته ورسیدو.

هوټل ته د رسیدلو سره سم ټول انجونو د موټر څخه بهر منډه کړل، او د ټولو څخه اول زما د خاله همغه لور چې ویل یې خپل تلې شو تر هوټل او د هېچا راتلو ته ضرورت نشته! زما له بده بخته ځکه چې زما کالې ډیر اوږده وه او هم جګې څپلې مې پر پښو کړې وه او د هغه څخه لا بد قسمته ځکه موټروان د کرایې پیسي غوښل نو زه له موټر راښکته شوم او په لړزانه لاسونو باندې په بکس کې د پیسو پسې په کتو شوم چې موټروان په یو مردار لهجه راته وویل: جااان ته نمبر راکړه خوږی! پیسي دې ستا د دې شنو سترګو بلا واخلې.

د هغه په دې خبره زاره مې وچودل خوله مې جوړه کړه چې بیاب یې کړم، خو زما د هر خبرې او کار څخه مخکې یو قهرجن غږ مې خپل د شا څخه واوریده او د هغه سره سم یو چا زه په زوره شاته ټیله کړم، داسې چې نږدې وو لاندې پر ځمکه وغورځیږم خو په ټیلو، ټیلو مې ځان کنټرول کړو د غورځیدلو څخه، مخ مې چې بېرته د موټروان خواته وګرځه ول نو یو د محشر میدان جوړ وو، فاتح وو چې په ښکنځلو او بوکسانو یې موټروان رانیولې وو! جنګ دومره زور ونیوه چې خلکو نشو راکنټرول کولې او خبره تر پولیسان ورسېده.

پولیسان راغلل فاتح یې حوزې ته ویوړو او موټروان یې شفخانې ته! ځکه ښاغلې فاتح خان د موتروان دوه غاښ، پوزه، او خوله ور ماته کړې وه، سره د یو لاس، د نیم ساعت په موده کې واده پر غم شوو، الهام راورسیده زه یې د سړک له منځه ځان پسې د هوټل خوا ته کش کړم او هغه نور انجونې هم دننه ویوړل، که څه هم په ظاهره واده روان وو، خو ټولو ښځو یو د بل غوږونو کې پس پسک کاوه، ټولو هم د دې جنګ موضوع په اړه خبرې کول، او خبره چې د یوه خولې څخه تر بلې رسیږی نو په سل رنګ او کیفیت بدلیږي خبره د یو نمبر اخیستو وه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو خلکو زر نور کیسي ورسره یوځاې کړل یو به ویل: دا موټروان د بلقیس نفری وو! او فاتح راګیر کړو او داسی و واهه، دا یی بهترینه خبره وه! یعنی هغوي تر دې حده تللې وه چې ځینو یې ویل هغه موټروان د بلقیس سره بد کار کاوه او فاتح پر هغوي رسیدلې وو، یعنی یو نفر کی دومره عقل نه وو چې ووایي چې کوم خر د هوټل مخکې د دومره خلکو په شتون کې جرعت کوې ماته لاس راوړې! کوم غلط کار کول خو لری خبره.

زما په نظر هغه د فاتح غیرت نه وو بلکې بیعقلې وه، که تا غوښتل خپل نرتوب او غیرت ښکاره کړې، نو مورې انجوني به دې هوټل ته لومړۍ استولې وایې او د هغه وروسته به دې هندي فلم پیل کړي وایې، خو ده د جنګ میدان کې چغي وهل زما ناموس ته لاس اچوې! یعنې زما په نظر خلک ملامت نه وه فاتح د هغوي په خوله کې دا خبره ورکړي وه چې هغه موټروان ماته د لاس راچولو اراده درلود، هغه واده چې ما ورته دومره شوق درلود زما پر غم شو، په همغه شپه پلار او مشر کاکا مې ضمانت ورکړو او فاتح یې د حوزي را وویست خو د هغه ورځې په سبا د موټروان قوم او قبیله راغله ترڅو د فاتح څخه خپل د کس د وهلو تاوان واخلې!

خو فاتح یوځل بیا دلته خپل لیونتوب ښاره کړو او بیا د دې خبري پر ویلو چې "هغه زما پر ناموس لاس اچولې او دا چې تر اوسه ژوندي دې، دا لا زما د بېغرتي په ډاګه کوي او زه هغه ژوندي نه پرېږدم!" کله چې هغوي د فاتح داسې لیونتوب ولېد نو باور یې وکړو چې موتروان ملامت وو او د بخښنې په غوښتو لاړل، د هغه جنګ وروسته یو قیامت پر ما جوړ شو زما د کورنۍ لخوا چې... چې.. د هغه ورځو پیاد راوړل اوس لا د ځو کلونو وروسته زما د خولې خوند خراب کوی.

ما هغه ورځ دوه وعدي او قسمونه واخیسل، لومړۍ وعده مې خپل د کورنۍ سره وکړل او هغه دا وه چې یوازی ځان به هېڅکله چیرته نه ځم، او دویم وعده چې د فاتح سره مې وکړل هغه دا وه چې هېڅکله به بهر د تلو وخت کې سېنګار نکوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور په غږ مې د هېنداري څخه نظر واخیست او له کوره و وتم، فاتح کوڅه کې خپل په موټر کې ناست وو، زه هم موټر ته پورته شوم او یو سلام مې د خدای له زور ورته وویلو، هغه مخ را وګرځه وو او د پښو له نوک څخه نېولې د سر تر ویښتو پورې اسکن کړم ترڅو کوم منکراتې کار خو به مې کړی نه وې؟ کله چې د نیم ساعت کتو وروسته ډاډمن شو چې ما کوم سینګار ندې کړې او سم دم د جنازې پشان راغلې یم نو لږ خیال یی راحته شو او موټر یې روښانه کړو..

خپل په خیالونو کې غرقه شوم زیات عجیب وو، ټول شیان همغسې وه څنګه چې ما خوب کې لېدلې وه، همغه سړکونه، دوکانونه، کورونه ټول همغسې وه یوازینې فرق یې دا وو چې زه اوس ویښه یم او خپل په جسم کې یم نه ده فاتح! بس همدومره تبدیلې ماته ترسترګو کېدل

فاتح- همدا ځاې سم دی؟

د هغه په غږ مې وروکتل چې د وریځو په اشاره یې راته د موټر بهر ښودو، مخ مې وګرځه وو او نظر مې په یو هوټل ولګېده، نه پوهېدم د څه لپاره هغه راڅخه داسې پوښتنه وکړل؟

ما بغیر د انسټیوټ ته د تګ او کور ته د راتګ بغیر نور ځاې نه وو لېدلې، زموږ ملګري د انسټیوټ وروسته تلل هوټل کې ډوډۍ خوړل خو زه هېڅکله ورسره نه تلم ځکه زما کورنۍ بد وړل، زما یوازینې نافرمانې دا وه چې د شبنم سره به د چې د انسټیوټ د رخصت کېدو وروسته کله ناکله د انسټیوټ مخکې چې کوم برګر پلورنکې وو د هغه څخه مو برګر اخیست او د نقاب لاندې مو خوړو! دا زما غټ ترینه جرم او سرکشی وه. البته هوټل ته هم تللې یم!

خو د ګوتو په شمار هغه هم یا د الهام سره تللې وم یا د خاله د لورګانو او زامنو سره نور نو یوازې تګ هغه هم هوټل ته هېڅکله نه وم تللې، چې اوس د زما څخه د هوټل د ښه یا بد پوښتنه کول! زه څه خبر وم درسته ورځ هوټلونو کې دې ورک دې نه زه.

فاتح- څه سوچونه وهې؟ وایم هوټل دې په نظر سم دې کنه لاړ شو بل ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور ومې کتل او کرار مې وویل: تا چې انتخاب کړې نو ضرور به سم وي؟
او زړه کې مې وویل: ته د هوټلو تجربه لرې، درسته ورځ پکې ګرځې.

زما په خبره د هغه پر شونډو نرۍ مسکا راغله او ویې ویل: همداسې مې مخې ته راغلو و درېدم که ته کوم بل هوټل غواړې هملته به لاړشو!
– زه کوم خاص هوټل نه پېژنم همدا به سم وي.
او اخر مې زړه طاقت ونکړو او ومې ویل: هسې هم موږ چکر وهلو ته نه یو راغلې! یواځې خبري کو، نو هر چیرته چې وی مشکل نشته.

فاتح څو شیبې په خاموش او تروش تندی راوکتل او بیا ویې ویل: نو سمده ښکته شه زه موټر ورم د هوټل پارکینګ ته زر بیرته راځم.

بغیر د څه ویلو له موټره ښکته شوم، او د سړک غاړۍ ته ودرېدم، فاتح موټر د هوټل مخکې کوم کوچني پارکینګ چې وو هلته ویوړو او ورڅخه راښکته شو، زه هم کرار کرار خوا ته یې ورغلم او بیا یوځاي هوټل ته ننوتو، ښه هوټل وو تر اوسه مې لېدلې نه وو خو زیات لوکس معلومیده! فاتح د هغوي څخه د فاملې ځاي پوښتنه وکړل او هغوی یو سالون خوا ته دعوت کړو کله چې ننوتو نو جوړه، جوړه او کورنۍ راغلې وه! زیاتر نامزدان یا هم واده شوی جنۍ او هلک وو او حتا ځېنې ماته پکې نفریان لا ښکاره شول!

خلاصه چې هر میز کې یو سړی او دوه یا هم یوه ښځه به ناسته وه او دا و د هوټل کورنۍ ځاې! زه پوهېدم چې همدا رقم دې د کابل زیاتر فامیلي د خوړلو ځاى! ځکه یو څو ځله چې د الهام سره راغلې وم لېدلې مې وه خو لکه چې فاتح نه وو خبر چې پښه نیولې همله و درېده، کوم ګارسون چې موږ یې رهنماي کولو هغه ورڅخه وپوښتل: کومه ستونزه ده ښاغلې؟

فاتح شاوخوا وکتل او بیا په کراره غږ وویل: ته ډاډمن یې دا فامیلې ځاې دې؟
ګارسون: هو ښاغلې دلته یواځې هغه کسان راځې چې ورسره زنانه وي، کنه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرېيان چې يوازې راغلې وې هغوي بهر کينې.

فاتح خپل ويښيانو کې لاس کش کړو او شاوخوا يې وکتل، حيرانه وم دا تللې وو هند ته! ټول عمر يې کابل کې تېر کړې وو نو بيا ولې تر اوسه خبر نه وو چې هوټل کې فاميلې ځاېونه همداسې دې! د څو شيبو خاموشي وروسته د سالون اخرې او د ټولو د نظر څخه پټ ميز خوا ته روان شو، فاتح ماته د ديوال خوا راکړل او خپل زما مخامخ کښېناست که څه هم شاته، راسته خواته مې ديوال وو او مخامخ هم فاتح راته په تروش تندی ناست وو، خو چپ اړخ مې خلاص وو او زمونږ څخه لږ لرې مېز باندې چې کوم سړی او ښځه ناست وه، او ماته تازه نامزدان ښکاريدل سم عاشقي بحث يې پيل کړې وو، هلک د جنۍ لاس په مينه نيولې وو او خبره د ماشوم د نوم په سره وه!

ښکارېدل خو تازه نامزدان خو د ماشوم د نوم په موضوع پوهه شوم چې ضرور تازه واده شوي جوړه ده، او لکه چې ماشوم هم په لارۍ وو چې داسې هلک خوشحاله وو او ويل يې زه غوارم ماشوم مې داسې وی او هغسې وې، ما د هغوي دواړو دومره ميني ته په حسرت کتل چې گارسون راغلو او فاتح په گنگس انداز بغير له دې چې زما څخه کومه مشوره وغواړي يو مرگ راوغوښت، که څه ځان ته مې وويل موږ د نورو نامزدانو پشان نه يو او کوم چکر ته نه يو راغلې خو بيا هم د زړه يو کونج مې غوښت زما څخه مشوره واخلی! په هر حال د جاهل انسان څخه گيله کول هم جاهليت دې.

په همدي فکر تندی مې تروش کړو او غوښتل مې د شاوخوا خلکو پر کتو فکر مې دهغه د داسې جاهلانه کار څخه واړوم چې د هغه قهرجن خو عين حال کې کرار غږ مې واوريده چې ويې ويل: شاوخوا مکوره.
په حيرت مې وروکتل، لکه چې د دې وروسته کتل هم جرم دي؟
طاقت مې ونشو او همدا خبره مې په خوله ورته راوړه او ومې ويل: څنگه لکه چې د طالبانو نوې فرمان راغلې ښځې د کتلو حق هم نلرې!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبره هغه له غوسې سترګي پټې کړل او ویې ویل: دلته شاوخوا ټول سرې دې نغوارم د کوم خوا ته وګورې او هغه دې ستا د کتلو څخه کوم غلط معنا واخلې.
— زما په نظر دلته هر یو خپل د ښځي او نامزد سره راغلې! نو دومره بیغرت کس به نه وې چې خپل ښځه خوشې کړې او د بل ښځې ته دې وګورې!
بیا مې کرار د شونډې لاندی ځان سره وویل: هر یو ستا پشان مردار فکر نلرې.

ما دا خبره کراره وکړه خو لکه چې هغه واوریده چې په تند نظر یې راوکتل او داسې حال کې چې خپل دواړه لاسونه یې پر میز کیخودل او داسې حال کې چې خپل غاښونه یې یو پر بل چېچل ویې ویل: هو زما فکر مردار دې، زه فکر کوم جنۍ چې کله د کور راوځې نو ټول خلک د هغې پسې په خبیث او مردار نظر ګورې، او دا زما فکر ندې بلکې حقیقت دې خو تاته نه ښکارۍ.

ډېر مې زړه غوښت ورته یو غاښ ماتونکې ځواب ورکړم خو د هغه حالت ماته نرمال نه ښکاره کېدل! هغه په مشکوک نظر شاوخوا کتل او لکه چې په تمه وې یو نفر د غلطي څخه زموږ د میز خوا ته راوګورې ترڅو دې ورباندې ټوپ کړې او ګریوان یې راونیسي"چې تا ولې زما ناموس ته کتل؟" او جنګ پیل کړې. په دې فکر مې ټول وجود له وېرې څخه ولړزېده او په کرار مې ورته غږ کړل.

— ف.... فاتح ..
زما په غږ هغه په مشکوک نظر راوکتل او سر یې د "څه دې؟" پشان وخوځاوه چې ما ورته په بند، بند لهجه وویل: ه ... هغه وایم دلته زما ساه بندیږې ک ... که بده نه منې نو بووېۍ به واخلو او کور ته به لاړشو؟
زما په خبرو هغه څو شیبې په مشکوک نظر راوکتل او بیا ناڅاپه لځایه پاڅېده، د هغه په داسې ولاړېدو زه وډاره شوم او لږ په څوکۍ باندې شاته لاړم چې هغه وویل: راځه.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل په غیږ کې د کبابو او نورو شیانو قوطي ته مې کتل، لکه چې د هوټل د هر خوراک څخه یې یو شې راخیستې وو! نه پوهېدم چیرته روان دی، د هوټل څخه چې راووتو او فاتح دا شیان واخیستل نو ما ورته وویل راځه کور ته لاړشو، خو هغه وویل موږ خو تر اوسه خبري ندې کړې یو ځاې به لاړشو او په کراره به خبرې وکړو.
خو نه پوهېدم چې دا کرار ځاې چېرته دې؟ ځکه نه زموږ د کور خوا ته روان وو او نه هم خپل د کور خواته!

زړه مې غوښتل ورڅخه وپوښتم چې چیرته روان یو؟ خو د هغه تندی داسې تروش وو چې د څه ویلو جرئت مې نشو کولې، خپل په څوکۍ کې ځاې پر ځاې شوم او خوراکې شیان مې لاس کې سم کړل ترڅو ونه غورځېږي، زما په دې کار هغه د سترګو له کونج راوکتل او ویې ویل: که په تکلیف یې ورسره نو یو څه د موټر مخې ته کېږده.
– ن ... نه کوم مشکل نشته.
هغه موټر یوه کوڅې خواته وګرځو او ویې ویل: په هر حال راورسیدو.

حیرانه وم دا نو کوم ځاې دې؟ ښکلې کوڅه او ښکلې کورونه وه، فاتح موټر د یو کور مخې ته و دره وو، او ژر له موټر څخه راښکته شو موټر څخه راوځرخېده او زما د خوا د موټر دروازه یې خلاصه کړه او زما د لاس څخه یې ټول شیان په یوه لاس کې واخیستل، په حیرت مې ورته کتل ما دا ټول شیان دوه لاسونو کې نشو نیولې ده ټول یو لاس کې ونیو! فاتح په یوه لاس د کور دروازه خلاصه کړه او په سر یې ماته د ننوتلو اشاره وکړل، او خپل یې موټر قلف کړو.

داسې یواځې کور ته راتلل هغه هم د فاتح سره، زما زړه کې وېره اچول. هغه بیحد تریخ او قهرجن انسان وو که یوه خبره په دوه ورسره وشې نو لاس پورته کوې او وهل کوې، دلته هم هېڅ څوک نشته که وهل یې پیل کړل جنازه به مې تر کورنۍ ورسیږي! په دې فکر مې ټول بدن له وېرې ولړزېده چې د هغه غوسه ناک غږ مې واوریده: ولې ولاړه یې ننوځه زما کور دې څوک نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه خوا ته مې وکتل او بیا په کراره کور ته ننوتلم، زړه کې مې وویل: زما وېره هم همدا ده چې کور کې هېڅوک نشته او ته راسره یې.

په لړزانده ګامونو کور ته داخله شوم، ښکلی وړوکې کور وو،د دوه کوټو یو تشناب، یو آشپزخانه،او کوچني دهلېز سره، ښه لوکس ډېزاین شوی وو. کوټو ته ننوتلم نه خو داسې ښکارېدل چې پوښل شوي نه وې! یواځې د هلېز کې یو وړوکې فرش هوار وو سره د یو تکیه شوې بالښت و دیوال ته، نور هېڅ نه وه زه د دهلېز منځ کې ولاړه وم او شاوخوا مې کتل چې د فاتح غږ مې خپل وشاته واوریده داسې حال کې چې خوراکې شیان یې لاندې پر ځمکه کیخودل ویې ویل: دا کور مې تازه اخیستې، زما د کار دفتر ته نږدې دې کله ناکله چې کور ته د تلو حوصله نه وې دلته راځم، ښه خاموش ځاې دې.

په ځیر،ځیر مې ورته وکتل او زړه کې مې ځان سره وویل: یعنې ته وحشي حیوان هم په خاموش ځاې پوهېږې؟ خو مخامخ مې څه ونه ویل هغه خپل پټو پر فرش هوار کړو او ماته یې اشاره وکړل ترڅو کښېنم او ویې ویل: بخښنه کوه نو دلته دومره امکانات نشته دا یو فرش او بالښت مې هم هغه ورځ واخیست نور دومره دلته نه راځم چې وغواړم کامل د کور شیان واخلم.

داسې حال کې چې د هغه پر هوار کړې پټو کښېناستم هغه اخیستل شوې ډوډې زما مخې ته دانه دانه کیخودل او بیا ماته مخامخ پر فرش باندې پلتي ووهل او کښېناست!

فاتح- ښه نوو بسم الله کړه ویخوره!

بغیر د څه ویلو لومړې مې هغه قطار شوي خوراکي شیانو ته وکتل بیا د دهلیز شاوخوا او اخره کې د هغه و سترګو ته مې وکتل، چې هغه په کنایه آمیزه او خندانه لهجه وویل: مه وایه چې زړه دې نغواړې او اشتها نلرې!

د هغه په دې خبره مې تندی تروش شو، منم چې زه لږ نسه وره یم او ډېره ډوډۍ خورم خو دا په دې معنا نده چی هغه دې ماته طعنه راکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همغه ترشو تندی مې وویل: ستا برخه به مې نه وې خوړلی!
زما په خبره هغه په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: زما کوم خاص مطلب نه وو هسې یوازې مې غوښتل درته و وایم چې دا ټول شیان مې ستا لپاره اخیستې چی بیا سبا ورځ ونه وایې، یوه ورځ یې بوډۍ راکړل هغه هم وږی پاتې شوم.
– زه د بوډۍ وږې نه یم چې وغواړم داسې خبره وکړم، الحمدالله کم ده که زیات ده خو رارسیدلې او سترګي مو مړې دې.

زما په خبرو هغه یواځې سر وخوځاوه او نور څه یې ونه ویل، که څه هم هغه مزې داره خوراکونو زما د بدبختۍ معدې غړونه پورته کړې وه، خو د فاتح خبرو په غیرت راوستم ما د سهار څخه ګوله بوډۍ نه وه خوړلې خو د ده په خبرو مې زړه کې قسم واخیست چې ګوله به د دې خوراکې شیانو څخه نکوم، د هغه دا خبري ماته د هغه د خویندو پشان ښکاره شول هغوې داسې خپل پیسې ښایې او بېځایه خبرې کوې.
زما په ناحاپه خاموشی هغه کرار وویل: هوم؟! ولې ناځاپه داسې چوپه شوې؟ زه بخښنه غواړم زما مطلب دا نه وو چې ته ډېره بوډۍ خورې.

هغه دا خبره وکړل او بغېر له دې چې زما خفه او نارحت څهرې ته وګورې، په بیغم فکر یې بوډۍ خوړل پیل کړل! که څه هم بخښنه یې غوښتې وه او ویلې وه غلطه خبره مې وکړل، خو زما په نظر پښېمانه نه ښکارېده، زړه مې ډېر غوښت داسی غاښ ماتونکې ځوابونه ورکړم، چې نور عمر کې ماته نسه وره ونه وایې، خو عقل حکم کاوه خوله بنده وساتم، موقعیت می سم نه وو دا زما د پلار کور نه وو چې زه دې وګواښه وم! د ګواښ په لفظ مې یوه خاطره رایاده شوه.

د نکاح په ورځ کله چې تازه یو ساعت زموږ د نکاح تړلو تېره شوي وه، زما خور دغه زما مخې ته ناسته جاهل غوښت زما کوټې ته راوړې، ترڅو د یو څو دقو لپاره موږ یواځې پاتی شو او مجلس وکړو، زما هغه ورځ هېڅ حوصله نه وه او زړه مې نیولې شانتې وو او بې دلیله مې زړه ژړا غوښته! اصل کې زه د نکاح پر تړلو دومره غمجن نه وم په اصل کې زه میاشتني زنانه تکلیف شوې وم! او هغه تکلیف او مرضتیا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت زه دومره درد لرم چې حد نلري او دومره مې هم عصاب خراب کېږي چې حد نلرې.

په هغه وخت کې ما خپل د ځان څخه لا کرکه راځې څه ورسیږی نورو ته! خو زما خور"حسنا" زما د زر ځله منع کولو با وجود لاړه او فاتح یې زما کوټې ته راوستو، زه د کوټې په کونج کې ناسته وم او ټول نړۍ راته بدرنګ ښکارېده او زړه مې د ژوند پوره تور وو، فکر مې کاوه هېڅ څوک زما په غم کې نه دې! چې همدې وخت کې دروازه خلاصه شوه حسنا او ورپسي فاتح کوټې ته راننوت، د حسنا لاس کې یو پتنوس سره د چای وو. حسنا پتونس زما مخې ته کیخود او د تلو مخکې هم په شیطنت ماته سترګګه ووهل او د فاتح سره یې هم لږ ټوکي وکړل بیا دروازه یې بنده کړل او لاړل.

د هغې د تلو وروسته زه لځایه پاڅېدم او لاړم هسې د دروغو خپل الماری کې لګیا شوم، کله ناکله به مې کتابونه هم اړول،راړول فاتح تقریبا نیم ساعت خاموش ناست وو او یوازی زما کارونو ته کتل،د نیم ساعت وروسته یې حوصله تنګه شوه او راغږ یې کړو چې راشه یو پیاله چاې خو راته واچوه!،

د هغه دا خبره نشوه سم د جنګ جهانې د جنګ اعلامیه او پیل شو، داسې جنګ مې ورسره وکړو چې بیخې خبره وهلو ته ورسیده خو د دې څخه مخکې چې هغه راباندې لاس اوچت کړې ما وګواښه وو چې پلار ته مې غږ کوم! فاتح چې هم زما بې شرمې ولېده نو یواځې برګ، برګ یې راوکتل او لاړو! هغه ورځ مې زړه ورباندې یخ شو ته وا زه یې نوکره یا کنیزه اوسیږم چې هغه داسی پر ما امر کاوه، زه پخپله مریضه وم او د مرګ تر حده مې درد درلود، هغه وخت جناب عالې نخ سلام نه کلام په هغه مرالر لهجه یې وویل:" راشه ما ته چای واچوه!"

د هغه په غږ د فکرونو څخه راووتم، زه وایم ده د جاهلیت ټول حدونه تېر کړې، خو تاسو یې مه منې، بغیر له دې چې دویم ځل د دروغو لا د بوډۍ خوړلو کوم ست راباندې وکړې ټول خوراکې شیان یې ټول کړل او مخامخ و ماته کښېناست، څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیبې په ځېر ځېر راوکتل بیا یې کرار وویل: نه پوهېږم چې خبره څه ده او ولې
موږ دواړه یو خوب ګورو!
لږ خاموش شو بیا یې وویل: هغه هم په داسی عجیب او حیرانونکي توګه باندې! خو
زه دې خوب او نور خبرو ته دومره فکر نه یم ورې! زه یوازی غواړم په دې خبرې
پوهه شم چې ولې دې غوښتل ځان و وژنې؟

په جدی نظر یې راوکتل او خپل خبرو ته یې ادامه ورکړ: منم چې ما درباندې لاس
پورته کړو او چټیاټ مې درته وویل خو دا دلیل نشې جوړ کیدې چې ته وغواړې
دومره یوه لویه پرېکړه د ځان وژني ونیسې.

ور ومې کتل دا چې د دومره خبرو څخه راتېر شوي وو او یواځې خپل بدګمان یې
رانیولې وو زړه راته په درد راوړو، په پوسخند مې ورته وویل: یعنې هغه دومره رټل
سپکې سپورې کول، وهل، د ځان وژنی دلیل نشې کېدلې؟
فاتح- زه منم چې زما کار غلط وو خو دومره هم نه، ماته رښتیا دلیل و وایه.
په همغه پوسخند مې وویل: همدا ته زما د مرګ او ځان وژني غټ ترینه لامل وې
همدا ته ..

زما په خبرو د هغه تندی تروش شو، خو زه بغیر له دې چې پام وکړم دلته یوازی یم
او څوک مې مرسته نشې کولې، په پوره جرئت مې وویل: ته زما د ژوند یو اجبار او
زور یې، ستا د لاسه ما یوه د خیر ورځ نده لېدلې. د کوم وخت څخه مې چې سترګې
خلاصې کړې ته یې او ستا خرتوبـ ...

ژر مې خوله ونیول خو کار تر کار تېر وو د خر لفظ مې ورته په ډاګه ویلې وو، د هغه
مخ د غوسي څخه تک سور شوی وو، او بغیر له دې چې څه و وایې دوه سترګې ما
ته نېولې وه، په وېرې ورڅخه لږ لرې شوم او د خولې لاړې مې تېرې کړل هره شېبه
به تمه وم لکه یو وحشي ځناور په خیر راباندې حمله واچوي او ومې وهې خو هغه
خاموش راکتل، کله چې زما وېرېدلې څهره یې ولېده نو کرار یې وویل: ښه نور څه؟
زما څخه دې د خرتوبې بغیر نور څه لېدلې؟ و وایه غوږ یم اورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بند بند ژبه مې و ویل: ه ... هغه زما مطلب ..... دا نه وو ...
فاتح- هوممم عجب نو مطلب دې څه وو؟
هېڅ مې ونه ویل چې هغه خو شیبې په دروند نظر راوکتل او بیا یې یوه ژوره سا واخیسته او ویې ویل: زه منم دا خبره درسره چې ماشومتوب کې زموږ نوم یو پر بل کیخودل او همغه وخت څخه زموږ دواړو ټاکل د یو بل لپاره یو دم غلط کار وو، او دا کار بېحد جاهلانه، غیر اسلامي او غیر اخلاقي کار وو، ما د همدې لپاره ځان د کور څخه د درس ویلو پر بهانه ورک کړو ترڅو د مور او پلار پر خبرو رانشم او هسې یو غلط کار ونکړم.

ما هم درک کړه، د ماشومتوب څخه زما په غوږونو مې ویل شوې دا دې ښځه ده، دا دې ناموس دې، دا دې عزت دې دومره ډېر راته دا خبرې شوې چې نور مې هغه خپل سر ته اشاره وکړه او ویې ویل: نور مې دا سر راچوې، دومره یې راته وویل چې شوم یو رېوند جاهل چې یواځې مې غوښتل په زوره یا په رضا باندې خپل خبره پر تا ومنم. اوس هم همغه رقم یم ته نه پوهېږې زما پر حالاتو ما ډېر کوښښ وکړو خو ونشو زه تر هغه وخت نشم بدل کېدی تر څو ته راسره مرسته ونکړې، زه ستا لپاره هند ته لاړم ترڅو د ۱۵ کالو په عمر تا را واده نکړم.

د هغه په دې خبره مې سترګې له حیرت را ووتې چې هغه په غمجن مسکا وویل: کله چې د شلو کالو شوم نو پلار مې غوښتل زما واده وکړې، خو ته ماشوم وې تازه د ۱۵ کالو شوې وې، لا دې د ماشومانو سره لوبې کول خاله جانې دې کاوه، د نانځکو لوبه دې کول د توت په ونه دې ځانته ټال اچولې وو ټال دې خوړو، زموږ پېل بېحد خراب شوې وو خو ما غوښتل راتلونکي سم کړم، لاړم خارج ته ترڅو تاته د ماشومتوب او پېغلتوب وخت درکړم، ما هېڅکله نه غوښتل ماسټری واخلم خو کله چې خبر شوم ته غوارې پوهنتون و وایې نو ما ویل زما راتګ ستا لپاره سم نه دې، زما په راتګ پلار مې د واده بندوبست نیوه او ستا درس ویل پاتې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ستا لپاره ځان د کلونو، کلونو لپاره مسافر کړو ترڅو کله چې راغلم، ستا ذهنيت زما په اړه بدل شوي اوسيږی خو نه تا ورځ تر بلې زما څخه کرکه راتلل، ته زما څخه د بد اخلاقي ګيله کوې؟ خو تا يوځل هم ځان زما پر ځاې کېښود او زما حالت دې درک نکړل، څنګه چې ستا کورنۍ پر تا جبر کاوه زما کورنۍ هم کاوه، حتا ستا څخه زر چنده بتره.

د هغه په دې خبره ناڅاپه په خوب کې د مشر کاکا او خواښې کارونه مې مخې ته ودرېدل، د ربښتيا هم د ده کور سم ليونتون وو، مور يې يوه خوا نيولې وه پلار يې بلخوا!

فاتح- زه په ډېرو خبرو نه پوهېږم ته راته و وايه، ما ته تندی مه تروش کوه زه زر خيال نور کوم، پوهېږم دې خبرې کې درته پړ يم خو څه وکړم زما لاس کې ندي، زه تريخ انسان يم منم زه ژر غوسه کېږم او وهل کوم دا هم منم تهمت لګوم او بدګمانه يم دا هم ځانته دليل لرې خو د دې ټولو شيانو با وجود زه کوښښ کوم تاته نږدی شم ترڅو خپل راتلونکې جوړه کړو، خو ته.. ته يوازی خپل ځان وينې او زما خبرو ته غوږ نه نيسې، ضد کوې، بې شرمې کوې، او حتا کله ناکله داسې کار کوې چې انسان حک حيران شي لکه همدا ځان وژنه دې.

د څو شېبو خاموشې وروسته په درونډ نظر يې راوکتل او ويې ويل: که ته فکر کوې زه به تا په دې کارونو خوشې کړم! نو سخت په غلطي کې يې اغلې! په پښتنو کې چا ښځه خوشې کړې چې زه يې خوشې کړم؟ ما خپل عمر هسې ستا لپاره نه دې برباد کړې چې ته دې اوس ماته پوزه کږه کړې او پر ما نخرې وکړې، دلته مې راوستې ترڅو درته ووايم، زما ګرانې ميرمنې بلقيس جانې انسانه شه! او راشه خپل ژوند ته يو نوې شانش ورکړو او د ضد کولو لځايه يو خوشحاله ژوند يو د بل سره جوړ کړو، که نه سمېږې او غواړې همداسې دوام ورکړې نو ...

خپل سر يې زما خوا ته رانږدې کړو داسې چې سا يې زما پر مخ خپرېده، په يو کلک لهجه يې وويل: خو که سمه نشوې يو کار ضرور کوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوره توجه مې ورته کتل ترڅو پوهه شم چې څه کار غواړې وکړې؟ چې هغه راڅخه شا ته شو خپل پر ګیره یې لاس کش کړو او په همغه تنده لهجه چې شاید لږ شیطنت یې هم شاته پټ و وویل: لا څوان یم بله ښځه دربانديې کوم.

د څو شېبو لپاره حک حیران مې ورته وکتل، هغه په شیطنت راکتل پوهه شوم چې شیطنت یې راسره کړې، خو خبره یې زما زړه په درد کړو په غمجن غږ او پوسخند مې ورته وویل: په همدې خبره دې ثابته کړه چې هغه مخکینې ټول خبرې دې هسې دروغ او لافې وه! که غواړې بله ښځه وکړې جناب فاتح خان صیب! نو ضرورت نشته دومره بهانې او دلیلونه راوړې لکه نر پشان ووایه غواړم ښځه وکړم! ورځه تاته دې خدای ځواک درکړې د یو لځایه څلور وکړه، پخدایه که دې کیسه کې اوسیږم.

زما په دې خبره هغه ناڅاپه اور واخیست او زما خواته یې راټوپ کړل داسی حال کې چې خپل غاښونه یې یو پر بل چیچل ویې ویل: زما کیسه کې نه یې؟ څوک دې پیدا کړې چې زما کیسه کې نه یې چې ښځه وکړم کنه؟ هاااا؟
داسې حال کې چې تر مرګ ورڅخه وېرېدلې وم خو د هغه خبرو داسې حالت راخراب کړې وو چې خوله مې بنده نشوه کړې او ومې ویل: خپل مردار تهمتونه پر ما مه تړه زه یوه پښتنه یم که څه هم خپل د پلار د کار څخه چې ماشومتوب کې ستا په نوم کړم د قیامت تر ورځې به ورڅخه خفه اوسیږم خو هېڅکله به داسی کار ونکړم چې د هغه سر له شرم څخه ښکته شي.

او هو بیا هم وایم د مېړې اندازه هم راته اهمیت نلرې چې غواړی یوه ښځه وکړی که دوه، لاره دې خلاصه ورځه سل نور وکړه ...

زما په خبرو هغه لیونې شو په زوره یې ځان کنټرول کړې وو تر څو راباندې لاس اوچت نکړې او ومې نه وهې، لځایه پاڅېده او په غوسه باندې د کوټې منځ کې پر ګرځېدو شو، زما حالت هم چندان ښه نه وه سترګي مې له اوښکو ډکې، ډکې کېدل زړه مې مات شوې وو زړه مې غوښت کاش زه خارجې وایې! او بغیر له دې چې د مور، پلار عزت او غرور ته کوم پام وکړم نامزدی مې د ده سره خلاصه کړې وایې، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم کاش دا کوم امریکایي فلم وایې او ما خپل د لاس چله د نامزدی د ده پر مخ وهلې وایې او ویلې مې وایې: زه تا نغوارم او ورک شه .. خو افسوس چې نه زه خارجې وم او نه هم دا کوم امریکایې فلم وو.

د څو شیبو وروسته هغه زما خواته راوکتل او په کلکه یې وویل: سبا پلار مې دراستوم ترڅو د واده نیټه وټاکې.
بیا یې په تاسف راوکتل او ویې ویل: اوس چې سم فکر کوم همغه ۱۵ کلنۍ کې مې واده کړې وایې بهتره وو! نه دا چې پرې مې ښودي نرۍ وګورې، درس ووایې،پیغلتوب وکړې او اخره ماته د غاړې بلا جوړه شې ...

***

موټر کې ناسته وم او د کور خوا ته روان وو! د نیم ساعت مخکې چې کور کې زموږ منځ کې کومې خبرې پورته او ښکته شوی د هغه وروسته د فاتح تندې درې من تروش وو، خو زه هم خفه وم دومره بې شخصیت انسان! وایې د دې لپاره چې پلار مې مجبوره نکړې ستا سره په ۱۵ کلنۍ کې واده وکړم لارم هند ته! دومره رسوا دروغ؟؟

د سترګو له کونج مې وروکتل مخامخ یې په همغه تروش تندی کتل، دې هند ته زما لپاره نه و تللې و، البته تر کوم ځایه چې زه خبره یم دې هند ته د دې لپاره تللې وو څکه زما په ماماخېلو کې یو څو هلکان د درس لپاره تللې وه! نو پښتانه دي او همغه سیال توبې! دې هم د سیالې څخه تللې وو نه زما په خاطر! اوس ځان څخه یې ملایکه جوړه کړې چې هوو زه خو ستا لپاره لارم! مور او خویندو یې ټول کلې پر سر اخیستې وو چې زموږ زوی ولاړې هند ته ترڅو خلک ونه وایې موږ تر چا پاته یو!

او دې ماته دلته راغلې داسې ډیالوګونه وایې، او بل دا چې ده ګمان کاوه زه خپل د قانوني حق لپاره د ده څخه مننه وکړم؟ ده ماته زما اسلامي او دیني حق په زر جبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زور راکړی وو او هغه وخت دا احسان یې هم پر ما بار کاوه؟ وایې تاته مې د درس ویلو اجازه درکړه، تعلیم زما اسلامي حق دی، نکاح خپل په خوښ کول زما اسلامي حق دې خو دوي زما حقوق ماته داسې راکوي لکه پر ما چې احسان کوې!

جاهل وو او هغه لفظ مې چې ورته وویلو هغه یې حق وو خر دې! که نه وایې نو ده به پر ما باندې زما خپل د انسانې، قانوني او اسلامي حق احسان نه راچوو، دا کوم شیان چې ده ماته یاد کړل دا زما حق وو د هغه څخه بغیر ده ماته څه کړې؟
هندوستان ته د سیالې او ځان خودنې لپاره لاړو،کله چې سند یې واخیست نو د راتلو زړه یې نه غوښت بیا ماته وایې ستا د درس لپاره پاتې شوم ترڅو ته دې درس پوره کړې! هو، هو ته رښتیا وایې زما په خاطر پاتې شوی په هغه غربت کې.
پوسخند مې و واهه او بیا د ځان سره لګیا شوم: و وایه د هغه ځاې آب او هوا او انجونو څخه مې زړه نه جدا کیدو. نه دا چې د دروغو ووایې ستا د درس لپاره رانغلم.

ده ماته څه کړې چې اوس پر ما احسان بار کوې؟ هېڅ یې نه دي کړې هېڅ. د ماشومتوب څخه تر اوسه یوازی بلد دې چغې و وهې، ستونې وشلوې او ووایې ته زما ښځه یې ته زما ناموس یې، او ته زما فلانکې یې، او ته زما بیستانکې یې، خو دا ۲۳ کال کېږي ده ماته یو مات بنګړې لا نه دې راوړې چې ووایې: بلقیس دا واخله دا ما تاته راوړې ځکه ته زما کوژدنه او ښځه یې!

زه یواځې د ده د کنځلو، وهلو، رټلو، سپکولو، احسان بارکولو، او فرمان او حکم منلو ښځه وم. نور خو حق مې نه درلود ورباندې، زما ملګري څه په ښوونځي کې وه، که څه په انستېیوټ کې کله چې به نامزدې وکړل نو په دویم ورځ به یې نامزدانو ورته موبایل اخیست، رنګانګ کالي او ډالۍ به یې ورته په مختلفو بهانو راوړل، چکرونه ته به یې وړل، په هر بهانه به یې ورته جوړه استول، نن به یې د اختر په بهانه ورته ډالۍ واستول او بله ورځ به ورسره لاس په لاس روان وه چې خرید کو بله ورځ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوژدن د عمه د زوی کوژده ده! دا به لا خلاص شوي نه وه چې بیا به د ژمی کالي او خریدونه وه او نازو او نخری به وه.

زه دا خبری د دې لپاره نکوم چې د کالو یا ډالېو وړی او نادیده اوسېږم! خو زړه مې درد کوې کله چې ستونې شلوې چې ښځه مې یې، نو باید د دغه ښځې حق خو هم ادا کړې کنه؟ دغه ښځه خو څه ناڅه حق هم دربانديې لري او کنه؟ کله چې یوه جنۍ د یو هلک پر نوم شې نو مورې پښتنو کې دغه جنۍ ښه، بد، خوراک، څښاک، جامې ژوند ټول پر هغه مېړه باندې تړاو لرې، دې د ښځې پر ویلو تکړه دې خو د حقوق پر ادا کولو یې جاهل ترینه انسان په روې د ځمکې دې.

زما د ژوند ضروریات باید ده پوره کول نه دا چې زه مې ورور یا پلار ته خوله کړه ونیسم چې ماته روپۍ راکړی، نو ما دا خاوند د څه مرګ لپاره کړې؟ که زما ساتنه نشې کولې حدقل ما ته دې اجازه راکړې ترڅو خپله کار وکړم او خپل ځان وساتم، یو کال مخکې مې غوښت یو خصوصي ښوونځي کې د ښوونکي دنده وکړم، د میاشتي یې ۵ زره افغانۍ راکول همغه باندې زما چاره کېدل خو دې د همغه هند څخه ځان سره وشکو چې نه کار ته به نه ځې، عجیب ده په نور موضوعاتو کې خو ښځه یې یم، خو په دې وختونو کې بیا بیخې لیاده وځم چې زه هم ضرورت لرم، انسټیوټ کې ټول انجوني راپسې موښتي وه چې خپل د نامزد یو عکس راوښایه! خو ده ماته عمر کې یو عکس نه وو راستولی چې زه یې چاته وښایم چې دا خیرن مې نامزد دې.

ماته وایې ته ما نه درک کوې! ده زه درک کړې یم چط زه یې درک کړم؟ زمور کورنۍ اقتصاد ډېر ضعیف دې یوازی الهام کار کوې نور ټول بیکاره دې د هغه پیسي هم د یو میاشت څخه تر بلې نه رسیږی هره میاشت یوازی دومره کولې شی چې ماته زر دوه زره روپۍ راکړې، کله ناکله په خندا راته وایې ولې دې د نامزد څخه نه اخلې؟ ستا خرڅه باید اوس پر هغه وایې. خو خبر نه دې فاتح یوازی پر ښځه مې یې، ښځه مې، ویلو کې تکړه دې نور د هېڅ مرګ نه دې، اوس کاش پیسي نه راکول حدقل خوش اخلاق خو وایې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دې مبارک نه یو نرم او مهربانه ژبه لرې او نه هم شخصیت او انسانیت، خویندې یې هره میاشت د ده پر پیسو په بازارونو کې د راغلو نوي مودې کالو دېزاین نه دې ورڅخه پاتې، او هغه وخت زه چې ښځه یې یم او امرونه او فرمانونه یې پر ما دې دا یو کال کېږي یو نوې جوړه کالي مې نه دې اخیستې، دغه حجاب مې چې اچولې دغه لا زما د خاله د لور دې، بیا وایې ته ما درک کړه! کاش ته غریب وایې او ما ویلې وایې چې غریب دې پیسې او وس نلرې ګوزاره وکړه او درک یې کړه.

زړه مې د دې خبرو څخه دومره ونیول شو چې بې اختیاره مې د سترګو څخه اوښکې راوبهېدل، مخ مې د ښیښې خوا ته وګرځاوه ترڅو په دې کمزورې حال کې مې ونګورې پوهېږم زما ژړا خوند ورکوې زما د بیچاره لیدلو تصور ورته خوند ورکوی، زما پر مخ ګرځولو هغه د سترګود کونج راوکتل او تندی نور هم تروش کړو خو ما کور ته تر رسیدلو نور ورته ونه کتل، کله چې زموږ د کور کوڅه کې موټر وګرځوه او موټر یې زموږ د دروازې مخې ته و دره وو په تلوار د موټر څخه راښکته شوم خو د تلو مخکې مې ورته وکتل او داسی حال کې چې کوښښ مې کاوه غږ مې کلک اوسیږی ورته ومې ویل:

– زما په نظر سبا د دې لځایه چې کاکا زموږ کور ته راوستوې، وایستوه خپل د ماما کور ته ترڅو عایشه درته وکړې او دسمال درته راوړی، ترڅو هم ستا ارمان د ښځۍ درلودو پوره شې، هم مور دې د انګور څښتنه شې هسې هم ماته خو مو د لومړۍ څخه هم د ښځۍ په نظر نه راکتل.

دا خبره مې وکړل او بیا بغیر له دې چې د هغه حیرت زده څهری ته وګورم کور ته ننوتم، کور ته په ننوتلو د مور غږ مې غوږونو ته راغلو چې ویل یې" راغلې بلقیس ولې مو دومره ناوخته کړل" خو ما کوم ځواب ورنکړو او په تلوار خپل کوټې ته ننوتلم او دروازه مې د ځان پسی قفل کړه، هملته د دروازې شاته کښېناستم خپل زنګونو مې په غیږ کې ونیول او په زوره، زوره مې وژړل، عایشه د فاتح د ماما لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه زما خواښې په زرهاو کرته زما ومخې ته د هغې تعریفونه کړې وه او ویلې وه، که ته مو فاتح ته نه وایې کړې نو زما زړه غوښت عایشه جان ورته وکړم.

او نن د فاتح خبره هم د هغه د مور پشان وه، ماته یې زر رقم بې منطق خبرې او دلیلونه راوړل او اخر کې وویل بله ښځه کوم! څه د پخوا څخه مې کرکه ورڅخه درلود څه نور هم ورپسې اضافه شوه اوس نو بیخی زړه مې ورڅخه تور شو، راته یو متعصب او جاهل کس ښکاره کېده چې یوازې او یوازې خپل ځان او خپل خواهشاتو ته ګورې، د ښځې د حقوقو څخه یې یوازی همغه ناموس ویل یې زده او جنګ، چې خلک ووهې او ستونې وشکوی چې ته مې ښځه یې او ته مې ناموس یې بس.

مور مې څو ځله د کوټې دروازه راوټکول خو ما ورته ځواب ورنکړو،حتا پلار او الهام هم راغلو خو ما ورته دروازه خلاصه نکړه، خپل د پلار څخه مې هم زړه نیولی وو، ولې هغه زه داسې یو نفر ته ورکړم چې یواځې په وهلو او ښکنځلو او تهمت لګولو کې تکره دې؟ ځان سره مې ویل کاش یو غریب او ساده انسان ته یې ورکړې وایې داسی انسان ته چې د نن پوهې درلود خو د سبا نه! یوازی انسان وایې، مهربان وایې، خوش اخلاق وایې، زما د زړه په خبره پوهېدي بس نور مې هېڅ ورڅخه نه غوښت، زړه مې غوښت ویده شم خو خدای دا لا راباندې حرام کړې وو، خوب مې هم نشو کولې، تر ماښام اذانه ناسته وم ژړل مې د دې نړۍ څخه مې زړه تور شوي وو.

زړه مې غوښت کاش یو داسې ځاې تللې وایې چې هېڅوک نه وایې، یو خالې جزیره وایې مخې ته یې یو لوې سمندر او شاته یې یو لوې ځنګل پورت وایې، او ما هغه ځنګل کې ځانته کور جوړ کړې وایې او هملته اوسېدې، د دې ټول نړۍ څخه لرې، د دې بې وفا ژوند څخه چې په سل رقم رواجونو، خبرو، فتنو، دوکو، امرونو، حکمونو، زور زیاتې او ناروا شیانو څخه لرې په یوه خاموش ځاې کې، زړه مې غوښت دا ټول شیان خوشې کړم او لاړه شم،خو ما حتا په مره کېدو لا د دې عذاب څخه خلاصون نه درلود، لکه خدای چې زه پېدا کړې وم ترڅو په همدی بدبختۍ کې خپل ټول عمر تېر کړم، دومره مې وژړل چې نور مې اوښکې د بهېدلو لپاره نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر خوا ته مې چې کتل لاره راته بنده ښکارېده، لعين شيطان به يوځل راته ويل ځان ووژنه او د دې نړۍ څخه بې غمه شه، بل دقه به يې راته ويل دا کور او کلې پرېږده له کور وتښته او خپل د هېلو او ارمانونو پسې لاړه شه، حتا تر دې حده وسوسه يې راچول چې ذهن ته مې دا خبره راغله چې يو زهر يا هم کومه بله بلا را پيدا کړم او فاتح ته يې ورکړم ترڅو ورڅخه بيغمه شم! دا فکرونو دومره ليونۍ کړم چې لځايه پاڅېدم د کوټې منځ کې پرګرځېدو شوم دومره په هغه دوه متره کوټه کې وڅرخيدم او را وڅرخيدم چې پښې مې په درد شول او د کوټې منځ کې څملېدم د يو جنين پشان مې خپل ځان را ونغاړه خپل ځان مې غيږه کې ونيوه او ډېر ژر د خوب نړۍ ته لاړم.

***

د بدن په درد مې سترګې خلاصې کړې چې ځان مې د فاتح کوټه کې ولېده! بې اختياره مې اه له خولې ووت، خدايه نه د رښتيا نړۍ کې دې د خير ورځ راباندې ولېده او نه هم دلته! هلته مې د دې جسم څښتن زوره وې او دلته تا زه د دې جسم څښتنه کړې يم ترڅو په بار، بار کتو يې لا پسې وکړېږم. خدايه دا انصاف نه دې، پخداى چې انصاف نه دې. زارۍ درته کوم بس کړه دا لعنتې خوب. زه د دې جسم او د دې جسم د څښتن څخه کرکه لرم ولې هره شېبه ما د دغه جسم سره مخ کوې؟ اخر ولې؟

لځايه پاڅېدم د هغه لوکس کوټې ته مې وکتل او کرار کرارد د پالنګ خوا ته لاړم، ورباندې څملېدم او د کوټې چت ته په کتو شوم. ناځاپه مې يو فکر ذهن ته راغلو! زه چې کله خپل نړۍ کې ويده شم نو دلته راځم د خوب نړۍ ته! که د خوب نړۍ کې ويده شم بيا چېرته ځم؟ يعنې شايد راويښه شم او خپل نړۍ ته لاړه شم؟ يا که يل کوم ځاې ته؟ په همدې فکرونو په تلوار مې سترګې پټې کړل ترڅو معلوم کړم اخر کېږي څه؟ خو عجيب وه هرڅومره کوښښ مې وکړو خو ومې نشو کړې ويده شم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې مې خلاصې کړې او بیرته مې چت ته وکتل، نه پوهېدم اخر د دې کارونو او خوب حکمت څه وو؟ تل مې د هر مولا له خولې اوریدلې وه چې ویل به یې "د خدای هر کار یو حکمت لرې چې موږ بندګان یې هغه شېبه کې نشو درک کولې"شاید دې کار کې هم د خداې لوی حکمت پټ دې چې زما پشان عاجزه بنده یې نشې لېدلې. په پالنګ کې کښېناستم اوس څه وکړم؟ دلته هم وخت داسې تېرېده لکه اصلې نړې کې چې تېرېږی، کرار او سترې کوونکې،ناڅاپه مې یو فکر ذهن ته راغلو لځایه پاڅېدم او په تلوار د کور څخه داسې حال کې و وتم چې هېچا ونه لېدم.

زه هلک وم، زه په خوب کې فاتح یم نه بلقیس! نو هر کار چې زړه مې وغوارې کولې شم. اممم څه وکړم؟ ډېر کارونه وه چې ما آرمان درلود تر سره یې کړم خو هېڅکله مې ربښتینې نړۍ کې نشو کولې،ځکه جنۍ وم او انجونۍ هغه کارونه نشې کولې. ما هېڅکله یوازی ځان بیرون قدم نه و وهلې! شاید عجیب وې خو زما زړه غوښت ګوشکې غوړ ته واچوم او همداسې کرار کرار د سړک په غاړه لاړه شم، البته اوس راسره موبایل وو خو ګوشکې نه وه، نو مجبور همداسی روانه شوم. دومره په فکرونو کې غرق وم چې ونه پوهېدم د کوم ځاې څخه کوم ځاې ته لاړم!

خو کله چې مې فکر پر ځاې شو نو خپل د انسټیوټ مخې ته ولاړه وم په دې ماښام! اه زما قدمونو لا یواځې همدا لاره لېدلې او بلد وه، زړه مې غوښت د تل پشان لاړه شم او د برګر خرڅونکې څخه یو برګر واخلم! هسې هم په ربښتنېنې نړۍ کې خو مرګ مې هم ونه خوړل دومره غټ هوټل ته لاړم وږې راغلم. غوښتلم مې برګر والا خواته لاړه شم او ځانته برګر واخلم، البته یو دانه نه اخلم! خپل په شیطانې فکرونو خندا راغله، هسې هم فاتح نن تر اخرې حده خفه کړې وم ربښتینې نړۍ کې مې خو زور نه پر رسیده، البته دلته هم پر هغه خو مې زور نه رسیږی خو کولې شم د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جیب خالي کړم او لږ خپل زړه وباندې یخ کړم، په همدی فکرونو خندا پر خوله روانه شوم، ښه نو څو دانې برګر واخلم؟

لس که شل دانې اخلم پر خلکو یې ویشم خیرات! په دې فکرونو خندا مې راغله، لا یو قدم مې نه و اخیستې چې جیب کې مې موبایل ولړزېده! په حیرت مې لاس جیب ته کړو خپل موبایل مې جیب کې وو! کله چې خپل د کوټې څخه مې راخیستی وو او فاتح ته مې خپل نمبر ورکړی وو، نو موبایل مې خپل جیب ته اچولې وو، د موبایل په سکرین د الهام نوم وو! په حیرت مې وکتل الهام ولې ماته زنګ وهلې؟

زړه نا زړه توګه مې ورته کتل چې زنګ بند شو او ورپسې مسج راغلو چې لیکلې وه: زه یم! دلته راشه کار لرم درسره، ما غوښتل خپل درشم خو دا ستا کورنۍ اجازه نه راکوې، موبایل مې ستا سره دې نو ځکه د الهام په موبایل مې تاته زنګ وواهه، په تمه یم راشه.

په حیرت مې مسج ته وکتل مسج د فاتح وو! ناڅاپه مې یاد ته راغلل چې د هغه موبایل د هغه کوټه کې د لپټاپ پر سر ایخودلې و، باید ورته ورې مې وایې! خو ژر مې یاد ته راغلل چې هغه نن زما سره څه کار وکړو او تندی مې تروش شو د هغه دا خبره چې ویلې وه ستا کورنۍ مې نه پرېږدی چې درشم هم خندا راغله او هم مې زړه وباندې یخ شو، ښه کار وشو تا پر ما نړۍ داسې زندان ګرځولې وو خدای درته خوب کې داسې زندان جوړ کړو چې د حقیقي نړۍ پشان دې.

موبایل ته په کتو داسې حال کې چې تصور مې کاوه فاتح مې مخې ته ولاړ دې ځان سره لګیا شوم او ومې وویل: او هوو کېنه چې درشم درپسې، زه په ویښه نغوارم تا وګورم او ته لا په خوب کې غوارې زه درپسې درشم! کېنه د قیامت په ورځ درځم خیرن. زه خو پوهېږم د هغه ضروری کار څه دې؟ بیا غوارې راسره حساب او کتاب وکړې، زما د هغه اخری خبرو چې د موټر څخه د ښکته کېدلو مخکې مې ورته ویلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه، موبایل مې بیرته جیب ته کړو او په خوشحالۍ مې غوښتل د برګر والا خوا ته لاړه شم او فاتح همډلته پرېږدم ترڅو ښه سم صحیح په تکلیف شي.

خو یو دوه ګام مې چې واخیستل نو موبایل ته مې زنګونه پیل شول! داسې پرلپسې زنګونه چې وار او دمه یې نه ورکول، اخر مجبوره شوم موبایل ځواب کړم همدا چې غوښتل مې ورته ووایم نغوارم درشم درپسې او حق د دې همډلته کور کې بندې اوسیږې چې د پلار د غږ په اوریدو ګونګې شوم.

پلار- فاتح زویه ښه یې؟
ژبه مې بنده شوه نه پوهېدم څه ځواب ورکړم؟ چې هغه بیا غږ وکړو او ویې ویل: تا د بلقیس موبایل اخیستې؟ هغه دلته خفه ناسته ده او ډوډۍ نخوري وایې فاتح ته ووایه زما موبایل راوړه.
پلار مې خپل غږ ښکته کړو او ویې ویل: خپله خو پوهېږې چې تازه لږ ښه شوې نو لږ ورسره مراعات وکړه راشه موبایل یې ورته راوړه، ته د هغې موبایل سره څه کار لرې؟

د پلار د خبرو وروسته مجبوره شوم په نه زړه خپل د کور خوا ته مخه کړم او د فاتح پسې لاړه شم!ش په مکارتوبې کې باید ده ته د ګینس جایزه ورکړې شي، یعنې تللې زما پلار ته یې زما شیطنت کړې؟ عجب د شیطان مغزه لرې شاید پوهېدلې وو چې زه ورپسې نه ځم، په تروش تندې مې دروازه وټکول چې احمد راته خلاصه کړه کور ته ننوتلم او نیغ په نیغ مې غوښتل لاړه شم خپلې کوټې ته او ښه سم جنګ ورسره وکړم چې پلار مې راباندې راغږ کړل.

پلار- څومره ژر راغلې؟
– ه ... هغه بیرون وم چې تاسو زنګ وواهه راغلم.
بیا مې خپل نازنین موبایل د پلار خوا ته ونیوه او ومې ویل: واخلې مهربانې دا هم د ب... بلقیس موبایل زه به مو په اجازه نور لاړشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل مې ژر د هغه ځاې ځان وباسم چې زما د کوټې دروازه خلاصه شوه او فاتح راغلو.
پلار- نه چېرته دومره په تلوار اوس هسې هم راغلې يې زموږ سره ډوډۍ وخوره بيا لاړ شه.

د پلار د خبرى سره سم د مور غږ مې هم پورته شو چې ويل يې پاتې شه او زموږ سره ډوډۍ وخوره، د دې څخه مخکې چې زه انکار وکړم يا کومه بهانه راوړم فاتح وويل: هغه موږ دواړو غوښتل نن ماښام بهر ډوډي وخورو.

په خلاص سترګو د حيرت مې وروکتل، دا ولې دومره دروغجن دې؟ زما پر کتو هغه هم راوکتل د سترګو په اشاره يې پوهه کړم چې زيات خبرې مه کوه او درځه، که څه هم دا خوب وو او دلته زما زور څه ناڅه په هغه رسيدو خو کوم شيطاني فکر چې مې ذهن ته راغلو خوله مې بنده کړه او په شيطان مسکا مې وروکتل او ومې ويل: ولې نه په سترګو که با... کاکا اجازه راکړې لاړ به شو بيـــــرون او ډوډۍ به وخورو.

زما په خبرو فاتح په مشکوک انداز سترګي را تنګې کړې، پلار بيچاره مې هم زړه نازړه وويل: که تاسو غواړې لاړشې، نو زه څه نه وايم پخېر لاړشې مقصد بيرته ژر راشې.

د فاتح خوا ته مې مخ کړو او خپل اصلې ګوزار مې ورباندې وکړو او ومې ويل: هوممم کاکا هم اجازه راکړل شابه حجـــــاب وکړه چې لاړشو.
د حجاب د ويلو سره سم مې په مکارتوب وروکتل، او زړه کې مې ځان سره وويل: صبر جناب فاتح خان صيب داسې چم دربانديې وکړم ترڅو ته اوسيږى بيا ماته ووايې ټيکرى دې داسې کړه، حجاب دې هغسې کړه، او هلته مګوره او دلته مګوره، دا نرۍ لکه چې زما د انتقام اخيستلو ځاې دې هلته ته پر ما کوه دلته زه پر تا سل چنده بد جبران کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاتح هم لکه چې زما پر مقصد او ارادي پوې شو، خو څه يې ونه ويل او د کوټې خواته روان شو ترڅو حجاب واچوی! زه په خوشحالي دهلېز کې کښېناستم او په تمه شوم ترڅو راشي، تقريبا د نيم ساعت وروسته د کوټې څخه را ووت. همغه تور حجاب چې نن ما اچولي وو همغه يې پر ځان وو البته خراب! د هغه د داسې حال په لېدو ټولو په حيرت ور کتل ځکه د حجاب تنې چپه ترلي وه! زه چې د وخت د همدغه شېبې په تمه وم د ده هغه مشهور ډيالوګ مې استعمال کړو، لځايه پاڅېدم تندی مې تروش کړو او په غوسه مې وويل: دا نو څنګه حجاب اچول دي؟ ټول بدن دې ورڅخه ښکارې، دا نو څه بېحيا يې ده، ته زما ښځـــه يې، زما نامـــوس يې، دا څنګه حجاب کول دي؟ هاا؟

زما په خبرو د هغه سترګې له حيرت راووت، البته که د حق تېره نشم بغير د هغه تنو څخه چې چپه يې ترلې وه نور حجاب يې څه ناڅه سم وو، خو بس ما غوښتل د هغه د کار جبران وکړم، تل يې زما په حجاب نيوکه کول او بېځايه غوسه به يې کول، نن زما وار وو ما هم ښه خپل زړه ورباندې يخ کړو. زما په تنده لهجه پلار مې د فاتح خوا ته مخ کړو او ويې ويل: لورې دا څنګه حجاب اچول دي؟ فاتح زوی رښتيا وايې، لږ خو دا ټېکری دی سم کړه ټول ويښتيان دې ښکارې، او دا حجاب دې ولې داسې چپه راسته ترلې.

د دې څخه مخکې چې فاتح کوم شې و وايې ما خپل اخرې ګوزار هم وکړو او ومې ويل: ضرور به يې داسې حجاب اچول د ټيک ټاک د انجونو څخه زده کړې وي، هسې هم بل کوم هنر خو نلرې.

هغه برګ، برګ راوکتل، دا خبره ده ماته کړې وه! او زما په زړه پاتې وه، نن مې خپل غچ ورڅخه واخيست ايا ما بد کار وکړو؟ خو هر څه چې وو او هر څنګه چې و بلاخره له کوره جوړه را ووتو او روان شو، فاتح به هر دوه قدم اخيستلو وروسته يا به ټيکری په سر کش کاوه يا به خپل د لاس بکسه به يې اخوا ديخوا کاوه، او هره شيبه به يې هم خپل د مخ څخه نقاب د سترګو لاندې خوا ته کش کاوه ترڅو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره و وينې، د هغه د داسې حال په ليدو ما كيلو كيلو وزن كاوه، خپل ځان به مې ياد ته راتلو چې ما به سم صحيح حجاب كاوه خو ده به راباندې ځل رقم بنې اسرائيلې نيوكې كول.

او چغې به وهل چې فلانكې ځاې د حجاب دې داسې او بيستانكې ځاې هغسې دې، ښه شو نن لږ زما د زړه په درد پوه شو، زه همدا فكرونو كې وم او ښه كيلو كيلو وزن مې اخيست چې د هغه غږ مې واوريده چې ويې ويل: غواړې پياده لاړشو؟ موټر ونيسه.

ډير مې زړه غوښت ورته ووايم موټر نشته پياده ځو، خو متاسفانه زما پښو هم د دومره تګ وروسته درد كول او پياده نه شوم تللې، عجيب وه خوب كې ما سترېيا، لوږه، ښه او بد ټول محسوس كولې شوه، ټكسي مې ونيول چې فاتح د عادت مطابق غوښتل مخكې د موټروان سره كښنې، خو ما چې ستونې تازه كړو هغه ياد ته راغلل او شاته سيټ كې كښيناستو، موټروان ته مې وويل موږ يو سم هوټل ته ويسه، او هغه هم ناځوانې ونكړل همغه هوټل ته يې ويوړو كوم چې نن سهار په ويښه د فاتح سره ورغلې وم!

د هغه هوټل په ليدو ما شاته سيټ كې فاتح ته وكتل او د هغه سترګې مې ولېده چې پر هوټل خښې پاتې وه، څه مې ونه ويل پيسې مې حساب كړل او همغه هوټل او همغه ميز ته لاړو خو دا ځل په دې بدلون چې زه د فاتح د سهار پر ځاې كښيناستم او فاتح زما پر ځاې، ګارسون راغلو د فرمايش اخيستولو لپاره خو ما ورته وويل منو راته راوړه." منو همغه كتابچه چې هوټل كې كوم خوراكې شيان شتون لرې او نومونه او قيمتونه يې څومره دې ښكاره كوې" ګارسون منو راوړل او خپله هم زما و څنګ ته و دربد، ما په پوسخند فاتح ته وكتل او د هغه د نن كار د جبران په خاطر مې منو د هغه خوا ته ونيول او ومې ويل: څكه چې لومړۍ ځل موږ دواړه بهر راغلې يو نو لومړۍ ته انتخاب كړه چې څه غواړې وخورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په غږ هغه سر راپورته کړو په ځير، ځير يې راوکتل، او بيا بغير له دې چې منو ته وګوري يو شې فرمايش ورکړو. ګارسون زما خوا ته مخ کړو او زما څخه يې هم وپوښتل چې نور شې هم غواړې او کنه؟ ما بيا په همغه پوسخند داسې حال کې چې د فاتح خوا ته کتل ومې ويل: څه فرمايش چې اغلې ورکړې همغه زما فرمايش هم دې.

ګارسو سر وښوراوه او لاړ د هغه د تلو سره سم فاتح داسې حال کې چې خپل غاښونه يې يو پر بل چيچيل په غوسه وويل: دا ډرامه بازي څه معنا لري؟
ور ومې کتل او کرار مې و ويل: ما کوم ډرامه بازې ونکړل، يوازې مې يو بنده خدا ته ښودو چې يوه جنۍ چې هر کله ځان سره بهر وړې نو بايد د هغې نظر ته هم ارزښت ورکړې او د هغې څخه هم وپوښتي.

هغه په خلق تنګې حجاب لږ کش کړو او ويې ويل: زما عصاب خراب شول دلته دومره خلک وه نو ځکه ما ونه پوښتل، او هو ما درته د هوټل د هر خوراک څخه يو دانه واخيست ترڅو کوم چې ستا زړه غواړې وخوري.
په پوسخند مې و ويل: هو مننه ښه ډوډۍ دې راکړل.
فاتح- تا خپل ناز کاوه کنه ما خو درته وويل وخوره!
په غوسه مې وروکتل او ومې ويل: ما ستا برخه کوم وخت خوړلې وه، چې تا راته طعنه راکړل او ما ته دې نسه وره وويل؟
فاتح- زما مطلب هغه نه وو، او بخښنه مې هم وغوښته.

په ريشخند مې و ويل: بخښنه؟ يعني لومړۍ د يو چا زړه ښه مات کړه، ښه يې غمجن کړه بيا ورته ووايه وبخښه نو هر څه خلاص؟
فاتح- ما ستا زړه مات کړو؟
داسې حال کې چې د هغه څخه مې نظر اخيست او د هغه شاته ديوال ته مې سترګي نيولې وه ومې ويل: په دې بهانه دې وغوښتم چې غوارم د دې عجيب غريب خوبونو په اړه خبرې وکړو، بيا دې يو داسې (شاوخوا مې اشاره وکړل او ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې یو هوټل ته راورم، او بیا د داسې یوځای د راتګ غوسه دې هم پر ما خالي کړل.
فاتح- زه پر تا غوسه نه وم.
– هو غوسه نه وې او سور سور کېدې راباندې؟!

فاتح- هرڅه چې وه تېر شو زه نشم کولې د نن ورځې کارونه له سره جبران کړم، او پر بخښنې باندې ته نه خوشحاله کېږې! زه یوازې غوارم په یوه خبره پوه شم!
ور ومې کتل پوهېدم کوم خبره یاده وې، هغه خپل لاسونه پر میز کیخودل لږ زما خوا ته نږدې شو او ویې ویل: ولې دې د تلو مخکې موټر کې ماته هغه خبرې وکړل؟
پر پوسخند مې وویل: حق مې وویل.
فاتح- د څه حق؟

– ګوره د دې څخه مخکې چې زموږ نکاح وتړل شې، هغه وخت چې ته هند کې وې نو ستا مور به هره ورځ زموږ کور ته راتلل، او خپل د خورزې تعریفونه به یې کول او ویل به یې "زړه مې غوارې دا فاتح ته وکړم! خو څه وکړم چې ته یې په نوم یې!" نن چې تا راته وویل چې سمه که نه شوی نو بله ښځه دربادې کوم، نو ماته ستا د مور همدا خبره یاد ته راغلل او پوهه شوم چې مور دې شاید دا خبره تاته هم کړې وې چې د ماما لور دې عایشه درته کوم او ته راغلې نن او ماته دې داسې بهانې راوړل نو ځکه مې داسی وویل.

د هغه سترګي د نقاب له لاندې د حیرت څخه راووت،زما د خبرو د خلاصیدو وروسته یې کرار وویل: ته رښتیا وایې زما مور داسې تاته ویل؟
په پوسخند مې وویل: د دې څخه لا بدې خبرې هم تا راته کړې، هم ستا مور او هم ستا خویندو! یوازېني کس چې راته تر اوسه پیغور او طعنه نده راکړې مشر کاکا دی او بس.

فاتح هېڅ ونه ویل څو شېبې خاموش وو بیا یې په شکمن لهجه وپوښتل: نو ستا دا چلند زما سره سبب یې یوازې همدا وو؟ چې زما مور او خور تاته خبرې کول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوره سا مې واخیسته نه مې غوښتل ورته څه و وایم، خو هغه چې ځان داسې معصوم نیوه زما غوسه یې راوسته، ځان سره مې وویل همدا نن دې فرصت دې خپل زړه وربانديې یخ کړه او هر څه چې زړه کې لرې ورته ووایه، په همدې فکر سترګې مې پټې کړل او خوله مې خلاصه کړه څه چې دا څو کاله مې دده ښځه او دده د مور او خویندو ښځه لېدلې وه او څه چې نن په موټر کې مې ذهن ته راغلې وه ټول مې په سم تشریح ورته په یوه سا وویل! کله چې خبري مې خلاصې شوې نو کرار مې سترګې خلاصې کړې، فاتح د حیرت ښځه خوله خلاصه پاتې وه، ناڅاپه نقاب یې له مخ ښځه لرې کړو او داسې حال کې چې ژبه یې بنده بنده کېدل ویې ویل: دا ... دا .. ته څه ... وایې؟ ما ... تاته خرچه نده درکړې؟ زه ستا ضرورتونو ته پام نکوم؟ ... ها؟

د هغه داسې حیرت زده نظر په لېدو لا غوسه شوم او ومې ویل: هو تا هېڅکله ماته فکر نه وو، یواځې چغې وهلې شې چې ښځه مې او بس. نور خو نګورې چې دا ښځه کوم حق او حقوق هم لرې او کنه؟

زما په خبرو هغه دومره حیران، ګنګس او پریشانه وو چې زما لاس یې ونیو لځایه پاځېدو او ویې ویل: زه دلته خبرې نشم کولې راځه یو کرار ځای کې سم صحیح خبرې وکړو، او د دې سره سم د هوټل ښځه د وتلو لاره یې ونیول،ما په ارمان د هوټل خوا ته وکتل، لکه چې خدای زما نصیب د دې هوټل په ډوډۍ نه وو کړې! چې نه مې په ویښه کې وخوړل نه هم په خوب!

فاتح د ځان پسې کش کړم او د یو پارک ښځګ کې د یوه فلزې څوکۍ سره و درېده، خپل اوږې ته یې لاس کړو خو کله چې پام یې شو چې اوس موږ د خوب حال کې یو او هغه زما په جسم کېدې نه د فاتح! نو ماته یې مخ کړو او ویې ویل: هغه پټو ځانته هوار کړه او وربانديې کینه او ماته پوره کیسه وکړه.

ما هم پټو هوار کړو او خپله وربانديې کېښناستم، هغه زما ومخې ته په تلو راتلو شو، تپه تیاره وه د سړک په غاړه بل شوی ګروپونو لړ دا خوا ړنا کول خو دومره نه، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکله یو موټر هم دیخوا تېر کېده او رڼا یې اچول، هغه زما خوا ته را وڅرخید او په ناآرمه لهجه یې وویل: ته وایې ما تاته خرچه نه دراستول؟ او ما تاته په دې ۲۳ کلونو کې یو مات بنګړې هم نه دې اخیستې؟

په تروش تندې مې سر وښوراوه چې هغه خپل په راسته لاس خپل په تندې څو ځله کرار وارونه وکړل او د ژبې لاندې کرار ځان سره وویل: څنګه امکان لرې؟ ما خو هره میاشت پیسې استول؟
بیا یې زما خوا ته راوکتل او ویې ویل: زه چې کله لومړۍ ځل د هندوستان څخه راغلم او تاته مې د هغه ځاې څخه اخیستلې ډالۍ خپل د خویندو په لاسونو درواستول تا ولې هغه وانخیستل؟ ولې دې ټول بیرته راوستول؟ تا خو زما ډالۍ رد کړې وه، بیا ولې داسې ګیلې کوې کله چې اخلې هم نه ډالۍ؟

په خلاصو سترګو له حیرت مې وروکتل او ومې ویل: کوم ډالۍ؟ کوم نه اخیستل؟ کوم د هندوستان څخه راوړې شیان؟

زما په داسې حیرانه غږ هغه نور هېڅ ونه ویل او یو دم خاموش شو، ما چې ورته هرڅه ویل هغه ځواب رانکړو او اخر کې د راځه چې کور ته لاړشو پر ویلو روان شو.
هغه مې خپل تر کور ورسه وو او بیا خپل کرار کرار د مشر کاکا د کور خوا ته روانه شوم، ذهن کې مې زر رقم نه حل شوې پوښتنې وه، فاتح ولې ناڅاپه داسې حېران شو؟ هغه د کوم اخیستل شوې او ماته د راستول شوې ډالېو یادونه کول؟ کور ته رسېد بغیر له دې چې چاته څه و وایم د فاتح کوټې ته ننوتلم زما د داخلېدو څو شیبې وروسته دروازه خلاصه شوه او زما خواښې کوټې ته را ننوتل او دروازه یې بېرته د ځان پسې بنده کړه.

په حیرت او وېره مې وروکتل زه د دې ښځې څخه وېرېدلم، هغه رانږدې شوه او بیا ناڅاپه په ژړا باندې زما غېږه کې ځان راوچوه! زه وچه کلکه د وېرې او حیرت څخه هلته ولاړه وم چې خپل د خواښې غږ مې واورېده چې په ژړا یې وویل: زه پوهېږم ستا په نظر به زه یوه بده مور راځم خو داسې نه ده، څومره چې ته خپل ژوند او

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکې ته فکر کوې د هغه څخه سل چنده زه ورته اندېښمنه يم او فکرونه کوم. ما د لومړۍ څه د بلقيس څخه ښه نه راتلل هغه ستا لايقه نه وه، هغه ستا په قدر نه پوهېږي.

نا څاپه د هغې په خبرو کې و ولېدم او په غوسه مې وويل: ولې نه ده؟ څه کم لرې د نورو څخه چې ستا د زوي لايقه نه ده؟ ها؟
زما په داسې تنده لهجه هغه لږ زما څخه شا ته شوه او په همغه ژړا يې وويل: ته د دې څخه د ښه ښځې حقدار يې.
په پوسخند مې وويل: يعنې ستا په نظر هغه ښځه و ماته عايشه ده؟ دا راته ووايسته عايشه کوم هغه هنر او غوره والې لرې چې ز.. بلقيس يې نلرې؟ هوم؟

زما په خبرې د هغه تندې تروش شو او ويې ويل: د عايشې يو ويښته په زردانو لکه بلقيس ارزي، بلقيس يوازی بې شرمې کول او ضد زده خو عايشـ..
بيا مې خبره ورپرې کړل او دا ځل په طعنه لرونکې لهجه مې وويل: که تاسو هغې ته خپل د انګور په نظر کتلې وايې او کوم ډالۍ چې ما ورته راوړې وه هغه مو ورته په خوشحالۍ ورې وايې نو شايد هغې هم بې شرمې او ضد نه وايې کړې ..

زما په خبرو هغې حک حيران راوکتل بيا يې په بند بند ژبه وويل: چ ... چا و...
وويلې مورې هغې ته ستا راوړې شيان نه دې ورې؟ تخو خپل شاهيد وې چې ستا خويندو هغه شيان ويوړل خو هغې ببرته راوستول.

تر اوسه مې شک درلود خو اوس په يقين بدل شوو، يعنې فاتح ماته شيان راستول خو مور او خويندو يې ماته نه راوړل؟ په کرکه او نفرت مې دهغې خوا ته وکتل او ومې ويل: کاش پوهه شوې وايې چې اخر په څه دليل مو ورڅخه بد راځې؟

نور مې څه ونه ويل هغې هم هرڅومره چې بې معنا او بې منطق خبرې وکړل ما غوږ ورپسې ونه ګرګو، اخر د مشر کاکا پر غږ چې نارې ورته وهل په تلوار له کوټې څخه ووتل، حيرانه وم نه پوهېدم اخر ملامت څوک دې؟ ولې اخر زما خوابښې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه کوې؟ ولې د فاتح خویندې زما سره داسې چلند کوې؟ د زیات ولې، ولې؟ څخه مې سر په درد راغلو د پالنګ خوا ته لاړم غوښتل مې ورباندې کښېنم چې ناڅاپه ...

***

خپل د دروازی په کلک، کلک ټکولو له خوبه راپاڅېدم، د دروازی د غږ سره سم د پلار غږ مې واوریده چې ناری وهل، په تلوار د دروازی خوا ته لاړم او خلاصه مې کړه، پلار مې په غوسه د دروازی شاته ولاړ وو زما په ورختا لېدو یې په تروش تندی وویل: دروازه دې ولې قلف کړې وه؟ دا درې ساعت کېږي ناری وهم ولې ځواب نه راکوې؟

په بند بند ژبه مې وویل چې ویده وم، هغه هم په مشکوک نظر راوکتل او اخر د دې خبری پر کولو چې مونځ قضا شو لاړو، د پلار د تلو وروسته بیرته خپل د ځای خواته لاړم موبایل مې د بالښت له لاندې راوخیست نه پوهېږم ولې خو په تمه وم چې د فاتح لخوا کوم مسج یا هم زنګ راشي! خو کله چې د نیم ساعت انتظار وروسته هم کومه خبره ونشوه په نامیدې پاڅېدم اودس مې وکړو مونځ مې وکړو او بیا مې لاسونه پورته کړل او له خدایه مې وغوښتل چې لاره راته وښایې او ما د دې ګډوډ حالت څخه وباسي.

تر ماذدېګر یوه سترګه مې پر موبایل وه بل د کور پر دروازه، فاتح پرون ویلې وه چې پلار مې دراستوم د واده د نیټې د ټاکلو لپاره! زه په تمه وم چې یا به هغه راشي او یا به هم مشر کاکا! خو یو هم رانغلو، کرار کرار نامیده کېدلم د هغه د رتالو څخه چې د کور دروازه وټکېدل، په ژوند کې لومړۍ ځل مې د فاتح د لیدو لپاره د زړه درزا پورته شوه غوښتل مې د هغه سره خبرې وکړم او پوهه شم چې چل څه دې؟ خو نن چې زه ورته په تمه وم هغه خان راته په نخرو کې نیولی وو! د دروازی شاته زما د خاله لور سیرت وه نه فاتح!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیرت په لیدو هم خوشحاله شوم څه ناڅه د هغې سره په مجلس کولو مې فکر د فاتح څخه اوړېده. سیرت ماته دومره ګرانه وه چې حد یې نه درلود زما ټول راز او نیاز ورسره شریک وو. د ماښام د ډوډۍ وروسته ترموز چاې مې دم کړل او لاړم خپل کوټې ته دروازه مې هم قفل کړه، سیرت چې هرکله زموږ کور ته راتلل مطلب هغه شپه باید موږ دواړو په ویښه تیره کړې واې! دومره مو مجلس کاوه او د هر خوا مو خبرې راکش کول، هغې له وخت زموږ دواړو ځایونه څنګ په څنګ اچولې وه.

زما په راتلو هغې په شیطنت زما پر نالې چې د دې و څنګ ته هوار وه لاس کش کړو او د یو 60 کلن بوډا پشان چې کلونه د ښځې په ارمان کې اوسیږی او نن ورته نصیب شوی ویې وویل: اخ زما د زړه ټوټې نه د مینی شپه ده مینه ...
د هغې په داسې خبره زما خندا راغله خو پر خوله مې یو څو کنځل ور واچول.

سیرت بیحد شوخه او ټوکې انجلۍ ده البته د شبنم خبره چې یوځل یې سیرت لېدلې وه و ماته یې وویل: د خاله لور دې ښه شوخه جنۍ ده، خو بی حد بی ادب، بی شرمه او بیحد د اطرافیانو خبره مسته ده.
د شبنم د خبرې په یاد راوړلو مې خندا پر شونډو راوستوه، چې سیرت په خندا وویل: هی په دې سرو شونډو انارې دې خاندې و موږ ته او ورکوې هغه ډیره ور ته!؟

– بلا بلا ډیره بې ادبه شوې یې سیرت.
سیرت په همغه خندا وویل: خو رښتیا وایم یوه.. نه رښتیا دا یې دویم هفته ده د نکاح تړلو دې، او خاله ویل چې هره ورځ فاتح خان صیب دلته دې او مزی...

په غوسه مې بالښت ورپسی ګوزار کړو چې هغې ونیو او همغه خندا او شیطنت باندې لګیا شوه، ځان سره یې د مینی داستانونه تعریف کول، ما دواړو ته چاې واچوه بیا راغلم خپل و ځاې کې کښېناستم کمپل مې پر ځان کش کړو سیرت خالې چایو ته وکتل او ناڅاپه یې وویل: ای مرګ دی شه بلقیس، ای زهر دې شه بلقیس.
په حیرت مې وویل: څه؟ ولې؟ څه مرګ مې پر تا کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیرت- ما ته دي خالي چاي راوړې، زهر او مرګ دې شه هغه ککونه او شیرنۍ چې هغه ډېره ور کوژدن دې درته راوړې او ته یې ماته نه راکوې، بخیلې،ورې، تږې.

— نوش جان مې زما کوژدن دې و ماته یې راوړې تاته خو یې نه راوړې چې زه یې درکړم! او هوو ستا یې د هغه په ډېره څه؟ چې دومره وایې ډېره ور کوژدن، ډېره ور کوژدن؟ زما د هغه همدا ډېره خوښېږي که ستا نه خوښېږي کله چې دې کوژده وکړه خپل کوژدن ته ووایه چې خپل ډېره واخلې.
سیرت په خندا وویل: اوووو جان یعنی ډېره دې خوښېږي ورنه؟؟ جان جان!
زما هم خندا راغله او داسې حال کې چې د هغې لاس مې کلک چونډې کو ومې ویل:مرګ،مرګ هسې د انسان له خولې کفر باسې، زما مطلب داسی نه وو، یعنی زما په نظر د هلکانو سره ډېره ښه ښکارې.

سیرت په شیطنت وویل: هوممم هغه دې چې کوژدن دې داسې ببره ډېره او بریتونه پریښودلي! نه پعذاب کېږي کله چې غواړې ...
پرې مې نخوده خپل خبره پوره کړې او پر بالښت مې ووهل: څومره ته بی شرمه شوې یې، اوس د شبنم په خبره مې سر خلاصیږي کله چې ویل یې د خاله لور دې ډیره مسته ده.
سیرت په حیرت وویل: ماته یې ویل مسته؟
— هو، او له حق تېره نشم رښتیا یې هم ویل.

سیرت- بلا، بلا زه ستا په نظر داسې انجلۍ ښکارم؟ زه ستا سره هسې ګپ لګوم، کنه زه تا پیژنم هغه بدبخت بیچاره به دې دا یوه، دوه هفتو کې ولاکه خپل سل متری کې نږدی پرېخودلې وې، دا خبری خو لرې.

او بیا په کټ،کټ پر خندا شوه، د سهار تر اذانو د هر خوا مو مجلس او غیبت وکړو، سیرت راته خپل د فسبوک د ملګرو کیسې کولې او ما ورباندې خندل.
سیرت- باور وکړه بلقیس نه پوهېږم له کوم خوا زما ابډې پیدا کړې وه، په مسنجر کې راته زر رقم مسجونه کیخودلې وه، کله چې لاړم نه سلام نه کلام لېکلې وه راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما سره جوړه شه!
په خندا مې ورته وویل: تا به ورته یوه خبره کړې وی چې هلک امید درته پیدا شوې؟

سیرت په غوسې وویل: مرګ ته خو ما پیژنی زه ټوکې او شیطنت کوم، خو یوازې ستا سره یا هم خپل د ملګرو سره، زه د یو هلک سره هېڅکله داسې لفظ نه استعمال کوم چې هغه دې داسی مردار فکر زما په اړه وکړې، دا خبري چې زه ستا سره کوم دا خو زموږ منځ کې هسې د ټوکو دې زه خو دا خبرې څه په مجازی نړۍ کې د نورو خلکو او بلخصوص هلکانو سره خو نکوم، منم چې زما کورنۍ ماته ازادۍ راکړې خو د هغه معنا دا نه دې چې زه دې ورڅخه داسې ناوړه ګټه پورته کړم.

د هغې په خبرو ما سر وښوراوه، سیرت رښتیا ویل هغه شیطانه او شوخ وه، خو یواځې زما او نور انجونو سره، ما د هغې یو داسې مسج په فسبوک یا کوم بل ځاې کی نه وو لېدلی چې ووایم سیرت بده جنۍ ده.
په مشکوک نظر مې وروکتل او ومې پوښتل: نو دا څوک وو چې داسې مسج یې ستا پسې کړی وو؟
سیرت- د مسج په لېدو یې پوهه شوم چې کوم خپل دې.
په حیرت مې وویل: خپل؟
هغې په شیطان نظر راوکتل او ویې ویل: هو خپل وو ځکه ایډی تازه جوړه کړی وه او خاص زما د په عذاب کولو لپاره راغلې وو، ما ورته وویل څوک یې؟ دا څنګه بې ادبانه خبره ده ته خور او مور نلرې؟

په خندا مې وویل: ښه بیا؟
هغې هم په خندا وویل: بیا دا چې څه مې پر خوله راتلل ورته ومې ویل، او لاړم بلاک مې کړو چې ..

په هیجان مې وروکتل هغې چې زما مشتاق نظر ولېده نو کرار یې چاې څښل پیل کړل، په غوسه مې پر پښه ووهل او ومې ویل: مضریت مکوه ووایه بیا څه وشو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیرت په کرار خپل چاې وڅښو او په همغه هیجان یې وویل: بلقیس باور کوې ما دلته فسبوک کې بلاک کړو هلته وټساپ کې راپسې مسج راغلو!

په حیرت مې وویل: وای، ستا نمبر یې له کومې خوا پیدا کړې وو؟
سیرت- خبره خو همدلته جالبه کېږي، زه هم داسی ستا پشان حک حیرانه شوم او ورپسې مې وټساپ کې مسج وکړو چې ته اخر یې څوک؟ هغه پوهېږې څه وکړل؟
په حیرت مې وویل: څه؟ څه یې وکړل؟
سیرت په بې خوند خوله وویل: خیرن نه سلا نه مشوره غرت خپل درې عکسونه راوستول..
د حیرت څخه مې سترګې خلاصې شوی او ومې ویل: څوک وو؟ و دې پېژنده؟ خپلوان وو؟ څوک وو؟ ها؟؟
سیرت څو شېبې خاموشه شوه بیا یې وویل: زموږ د کور مخکې چې کوم دوکاندار او زموږ همسایه دې ...

په فکرمند انداز مې تندی تروش کړو ترڅو په یاد راوړم د دوي د کور مخکې کوم دوکاندار دې چې د دوې همسایه هم راځې؟ خو زما د فکر کولو مخکې سیرت په غمجن او غوسه ناک لهجه وویل: وحید وو!

د وحید د نوم په اوریدو مې خوله له حیرت وازه پاتې شوه، خو څو شېبې وروسته مې د خندا غږ ټوله کوټه ونیول، سیرت په کنځلو او وهلو غوښتل ما چوپه کړې خو ما خپل زړه نبولې وو او په کټ، کټ مې وربانډې خندل، د سیرت غمجن څهرې ته مې کتل لا مې خندا زور اخیسته، دومره مې وخندل چې له سترګو څخه مې اوښکې روانې شوې همغسې خندا حال کې مې وویل: و ... وحید ... ت... تاته ... مسج ... کړې ... وو ... یعنې ... هغه ... پر ... تا ... مئین ... دی ...؟

او بیا مې خندا زور واخیسته.
سیرت په غوسه دوه درې سوکه په اوږو راکړل او ویې ویل: خداې دی هغه واخلې د عاشقي سره یې لکه څنګه چې ورک یې هم کړو رزیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحید د سیرت دوي همسایه وو چې تقریبا ماشالله یو ۲۰۰ کیلو وزن خو یې درلود داسې خیشت،پیشت سړی وو، ښځه او ماشومان یې درلود خو بېحد بې لارې وو، یعنې په زر وارو موږ خپل په دې ګنهکاره سترګو لیدلې وو چې د انجونو پسې خپل په هغه دیب مانندہ تنه ورپسې کېدو او مزاحمت به یې ورته کاوه، خو د طالبانو په راتګ هغه د وېرې څخه نور دا کارونه پرېښودلې وه، خو لکه چې اصلې نرۍ کې پرېښودلې وه او مجازی کې د انجونو پسې شوی وو.

د وحید هغه قواره او جسم مې ذهن ته راتلو او بیا مې سیرت ته کتل خندا مې راتلل، سیرت تل د هغه څخه بد راتلل او نن هغه ورپسې مسج کړې وو او خپل د ځوانۍ عکسونه یې ورته استولې وه.

په خندا مې وویل: ومنه سیرت دا ستا اصلې سینه چاق عاشق دې! کنه داسې حال کې چې همسایه ګان یاست او ستا ورونه او پلار پېژنی، څنګه دومره جرئت کولې شي چې تاته مزاحمت وکړې داسی؟
سیرت- که خندا دې خلاصه شوې وې نو زه به ووایم ادامه یې؟!
– یعنې ادامه هم لرې؟ خو بلاک کړې به دې وې؟ البته د کنځلو سره!؟

سیرت په شیطنت سترګک راته ووهل او ویې ویل: نه نو تا زه سم نه یم پېژندلې د خاله لورې.
په مشکوک انداز مې وپوښتل: څه دې کړې بلا؟ شابه ووایه.
سیرت- د دې څخه وروسته چې خپل د مردارې قوارې عکسونه یې راوستول، او لګیا شو خپل د مینی د داستان پر ویلو.

د سیرت خبره کې و ولېدم او ومې ویل: یعنې څه یې وویل؟ مطلب ویې ویل مئین یم درباندې یا که څنګه؟
سیرت- ورک دې شې بېحیا انسان، زه یې سم صحیح پېژندلې وم چې څوک یم؟ او څوک نه؟ بیا یې هم نه د همسایه توبې خیال وکړو نه خپل د عمر څخه وشرمېده او نه هم کوم بل شې ته یې وکتل مخامخ یې راته وویل ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیرت خو شېبې خاموشه شوه، ما په راوتلو سترګو ورته کتل غوښتل مې ژر تر ژره د کیسې په اصل موضوع سر خلاص کړم، سیرت داسې حال کې چې د زیات غوسې څخه غاښونه یو پر بل چېچل او خپل لاسونه یې موټ کول ویې ویل: راته ویې ویل" ته یو با سواده، آزاده فکره، او هوښیاره جنۍ یې، زه درڅخه زیات څه نغواړم کله ناکله زما سره خبرې کاوه او خپل اخوا، دیخوا عکسونه راستوه نور مخامخ درڅخه څه نغواړم په بدل کې زه هم درته ایزلوډ کوم او هر څه چې غواړې هغه درته برابر کوم.

د حیرت څخه مې خپل شونډه پر غاښ کړل او ومې ویل: وای باور مې نه کېږي ...
سیرت- زما هم باور نه کېدو، یعنې زه پوهېدم چې دې زنکه باز او پلیت انسان دې خو نه پوهېدم چې تر دې حدد به رزیل اوسېږي..
په بند بند ژبه مې وویل: ب...بیا ...بیا تا څه وویل؟ څه وشول؟

سیرت- هېڅ هغه لګیا وو او دا رقم مرداري خبرې کول چې زه مخامخ ورغلم د پلار کوټې ته مې، دپلار کوټه کې مې محسن او بلال هم وه ما هم پلار ته د وحید هغه مسجونه او خبري وښودل ..

په خلاصه خوله مې ورته کتل خپل پر غوږو مې باور نه راتلو چې داسې څه مې اورېدلې اوسېږي! خو سیرت په نرۍ مسکا باندې خپل د چاې پیاله راخیستې وه او چاې څښل، زما داسې رډې راوتلې سترګې چې ولېده، په خندا شوه.ما په تلوار د هغې د لاس څخه د چاې پیاله واخیسته او ومې ویل: څن... څنګه یې ژوندې پریخودې؟
سیرت- چا؟
— پلار او ورونو دې؟

زما په خبرې سیرت تندی تروش کړو او ویې ویل: زما سره د چا څه کار وو؟ ما خو څه مسج نه وو کړې!
— یعنی تاته یې هېڅ ونه ویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیرت- ولې راته یې وویل..
– څه.. څه یې وویل؟
سیرت- پلار مې لږ ورټلم او ویې ویل" چې کله دې څوک نه پېژنده نو نه باید یو مسج دې لا ورسره کړې وایې، که کوم شناخته وایې لومړۍ درته ځان معرفي کاوه او بیا خبرې کول نه دا چې ته ورڅخه وپوښتي څوک یې؟ او هغه درته عکس دروا‌ستوی."

– بس همدومره؟
سیرت- هوم.
– او وحید؟ ستا پلار او ورونو هغه ته څه ونه ویل؟
زما په خبرې سیرت په پوسخند وویل: محسن او بلال غوښتل په همغه شپه لاړشې د کور مخې ته یې او پوست یې ورباندې وباسې، خو پلار مې وویل هېڅ کار مه کوې او خبره ماته پرېږدې، څکه همسایه دې او بیا خبره زما وه ویل یې شاید نام بدې جوړه شې.

موږ هم خبره پلار ته پریخودل او لاړو کرار ویده شو، سهار وخت د خلکو په شور ماشور باندې سترګي مې خلاصې شوې چې و مې کتل نو د طالبانو رېنجر کوڅه کې ولاړ دې او د وحید پر سر یې توره کڅوړه را کش کړل او رېنجر ته یې پورته کړو.
په حیرت مې وویل: په څه جرم؟ ولې؟ یعنې مړ یې کړو؟ خو ولې؟
سیرت په خندا وویل: بلقیس ته هندې فلمونه زیات ګورې که څنګه؟ مرګ خو دومره اسانه هم نه دې.
– نو څنګه چل وشو؟ طالبانو د هغه سره څه کار وو؟

سیرت- اه ته څومره ساده یې، طالبانو ته زما پلار خبر ورکړې وو، او دا یې هم ویلې وه چې هلته کوڅه کې به شور ماشور نه کوې څکه خبره د ناموس ده! هغوې هم خپ او چوپ راغلل او وحید یې په دې پلمه ګیر کړو چې یو چا ورباندې شکایت کړې بغیر له دې چې ووایې چا شکایت کړې؟ او په څه خاطر یې کړې؟ طالبانو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حوزې ته ویوړو او هلته یې موبایل ورڅخه چک کړې وو،او څکه چې بیحد ټنبل دې نو ټول مسجونه او د هغه نور ۴۲۰ بازیانو او مردار کارونو شواهید او ثبوتونه یې موبایل کې تیار موجود وه، نو طالبانو هم ناځوانې نه وه کړې غو ښه جوړ یو کټک یې ورکړې وو.

خدای دې ورته جنتونه نصیب کړې هر هغه طالب ته چې دغه رزیل یې وهلې وو، د وهلو وروسته یې یو څو ورځې بند کې وساته او بیا په دې شرط یې خوشې کړو چې زمونږ د کوڅې څخه دې لاړشې! البته زما په نظر دغه خبره او شرط زما پلار کېخودلې وه، وحید په څلورم ورځ، په ګوډه،ګوډه پښه او شین مخ راغلو او خپل د کور او دوکان وسایل او سامان یې بار کړل او ورک شو زمونږ د منطقی څخه خیرن.

— یعنې پوهه شو چې ستا د لاسه دا بلاوې یې پرسر راغلې؟
سیرت- څه ناڅه پوهه وو، خو باور یې نه راتلو خو د تلو مخکې کله چې کډه یې بار کړې وه او دې خپل موټر کې کښېناسته ما خپل د کور د دروازی څخه ورپسې غږ کړو او کله چې راوکتل ...
سیرت په شیطان مسکا زما خواته راوکتل او خپل د لاس منځنې ګوته یې ماته وښوده او په خندا یې وویل: نو ما هم دا ورته وښوده، اخ داسې خوند یې وکړو ...

سیرت خندل او ما ورته کتل، یعنې هېڅ مې دا موضوع هضم کولې نه شوه، یعنې یوه جنۍ لاړشې خپل پلار او ورونو ته ووایې فلانکې هلک ماته داسې وایې، او هغوی دی د دې لځایه چې دې ته څه ووایې لاړشې هلک د حکومت په ګیر ورکړی داسې ښکاریده لکه یو تخیلي سینماي فلم داستان! ځان سره مې وویل که د سیرت لځایه دا کار زما سره شوي وایې ایا ما خپل کورنۍ ته خبر ورکو؟ ځواب مې ښکاره وو هېڅکله هم نه، ځکه هغوي د دي لځایه چې د هلک پسې لاړشې لومړۍ زه مړه کولم بیا د هلک پسې تلل، البته ځکه چې کورنۍ مې وه نو لږ په اسانه مرګ یې راکو خو که فاتح خبر شوې وایې بیا نو لومړۍ ټوټه، ټوټه کولم بیا یې راڅخه پوست باسو او بیا یې مړه کولم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې فکرونو پر کولو مې ټول بدن ولړزېده، د سیرت خواته مې وکتل چې په خندا یې ځانته د چایو پیاله ډکول، څومره خوش نصیبه وه چې داسې یوه کورنۍ یې په نصیب شوی وه، سیرت ځکه چې خپل پر کورنۍ باور درلود او پوهیدل چې هغوی به دا ملامته نکړې سم قدم یې واخیست او یو فسادي انسان ته یې د هغه حق وروښود، داسې حال کې چې دغه چل که پر هر بلې جنۍ وشې نو 100% کې 99% سلنه انجونۍ دا خبره خپل د کورنۍ څخه پټ کوی!

ځکه باور نلرې خپل پر کورنۍ او وېرېږي چې کورنۍ د هلک لځایه دا را ونه نیسی، او مړه یې نکړې، زمو په ټولنه کې چې هره جنۍ بدبخته کېږی او یا هم کوم غلط کار ته مخه راوړي د هغه 99% سلنه ملامت د هغه جنۍ کورنۍ ده، که هغوي خپل په خور، لور، ښځه باور وکړي او د وحشت او وېرې لځایه ورته د امنیت او تکیه کوونکي او مرسته کوونکې کس حس ورکړې نو هېڅکله به دا خراب اړیکې رامینځ ته نشي.

هېڅکله به یوه جنۍ د یو هلک د ګواښونو لاندې رانه شې، دا کوم کسان چې وایې جنۍ ته ازادۍ مه ورکوه بیا نخری کوې، دا ټول مفت خبري دې زما په نظر کله چې یوه کورنۍ خپل لور یا خور ته ازادۍ ورکړي او پر هغې باور وکړې بیا هغه وخت تاسو وګورې یوه انجلۍ به ځان مړه کړې خو داسې کار به ونکړې چې د کورنۍ اعتماد او باور یې له مینځه لاړشې، که تاسو سختي وکړې یا په کور کې د شل دیوالونو شاته هم وساتې او خپل په خیال به فکر کوې چې دا خو د شل دیوالونو شاته ده او نور نو نه یې انس وینې او نه جن! بیا به هم هغه د دې شل دیوالونو شاته داسې کارونه وکړې چې تاسو خپله ورته حیران شې.

ما چې څومره د بدنامې او ناموسې جنجالونو کیسي او خبرې اوریدلې سلو کې 85%سلنه داسې خبرې په اطرافو کې پیښ شوې نه شهر کې! زه نه وایم چې شهري جنۍ ټول ملایکي دي، نه هېڅکله هم نه، خو بیا هم څومره چې د دهات ساده خلکو کې ناموسې خبرې راځې هغومره د ښار په تعلیم یافته انجونو کې نشته، د ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجونۍ د درس شوقیاني دي او د کار کولو او په راتلونکي کې یو هدف ته د رسیدلو، خو د دهات انجونۍ سلو کې 98%سلنه یې د خاوند، میني، او داسې خبرو شوقیانې وې، ما یوه ملګري درلود انسټیوټ کې د هغې زیاتر اقوام اطرافیان وه ما او شبنم ته به یې کله ناکله خپل د قومي انجونو کیسې کول، زموږ خولې به د حیرت ورته خلاصې پاتې وې.

هغې به ویل زما د خاله لور د عمه پر زوی مینه ده، د کاکا زوی مې د ماما په لور مئین دې، د ماما هغه لور مې بیا د خاله پر زوی مینه ده، حتا ویل یې یو د خاله لور مې په نوم د عمه د زوي ده، خو دا مینه زما د کاکا په زوي ده او یارانه یې د یو دوکاندار سره اچولې چې ازبک دې؟ یعنې ما او شبنم چې به دا خبرې واورېدل، مغزه به مو ګنګس شول چې دا نو څه چل روان دې؟ د دې خبرو د اورېدو وروسته زیاتر اوقات به مې ویل د کلي د انجونو څخه خو د ښار انجونۍ زیات ښه دي، خپل پردي پېژني، عزت او ناموس پېژني، البته زه ټول د ښار انجونۍ هم ښه نه ګڼم او نه هم ټول د اطرافو انجونۍ بد! خو زما په نظر مهم هدف او یو فکر دې!

موږ هدف د ژوند درس ویل دې اینده کې د یو شي جوړېدل! خو هغوي زیاتر پیغلۍ انجوني د میني پسي ګرځې او څکه چې موبایل او انټرنټ نلرې نو خپل په کور او منطقه کې د کاکا زوی،عمه زوی، خاله زوی سره لین او دین جوړه وی! بیا وایې ټول فساد په ښاریانو کې دي! نه زما په نظر ټول فساد نه په ښاریانو کې دې او نه هم په کلیوالو کې؟ څکه ښاریانو کې هم ما داسې بې لاره خلک ډېر لېدلي! زما په نظر ټول فساد په جاهلیت او ناپوهې کې دې، ټول فساد به بې سوادې کې دې، که دوي سواد درلود د خدای او رسول څخه خبر وایې نو داسې کارونه به هېچا هېڅکله نه وایې کړې.

سیرت- اووو چیرته لاړې؟
د سیرت پر غږ مې وروکتل او بې اختیاره مې وویل: افرین دې ستا پر پلار او ستا پر کورنۍ شې، چې داسې یې خپل لور را لویه کړې چې د هېڅ شې څخه نه وېرېږی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ورسره زیاتې وشې نو خپل د حق غوښتنه کولې شې، له خدایه غواړم د افغانستان هر پلار او هر ورور ستا د پلار او ورونو پشان وګرځوي، ترڅو خپل خویندو او لوڼو ته د امنیت او پناه ځاې اوسېږي نه د وحشت او وېرې.

موږ همدې خبرو کې وو چې زما موبایل ته مسج راغلو، په حیرت مې موبایل راوخیست په دې نیمه شپه چا ما ته مسج کړې؟ موبایل صفحه چې مې خلاصه کړه نو د فاتح په نوم مې سترګي ولګېدي او د هغه مسج چې لېکلې وه: ولې نه وېده کېږي؟ نیمه شپه ده.

نه پوهېږم ولې خو دا چې نن راغلې نه وو او زه ورته په تمه وم، غوسه راغله او مسج مې ورپسې وکړو: زما په خوب هم اوس کار لرې؟
یو دقه لا تېره شوي نه وه چې مسج ځواب راغلو: دومره مو عجیب غریب شیان ولېدل چې درته که ووایم ترڅو چې ته ویده نه شې زه هم نه شم ویده کېدي نو شاید حیرت ونکړې، که څنګه؟
په حیرت مې د هغه راستلو شوي مسج ته کتل، یعنې څه ترڅو چې زه ویده نه شم هغه نشې ویده کېدلې؟

زه په همدی فکرونو کې وم چې سیرت په شیطنت وویل: نور نو به زه ویده شم لکه چې تاسو عاشقانو مجلس په نیمه شپه پېل کېږي...؟
غوښتل مې د هغې ځواب ورکړم چې موبایل مې بیا لاس کې وښورېدو، بغیر له دې چې د سیرت شیطانه خندا ګانو ته کومه توجه وکړم موبایل په لاس پاڅېدم د کوټې ګروپ مې خاموش کړو او خپل ځاې ته راغلم، داسې حال کې چې د هغه را لېږل شوي مسج مې ویلو کمپل مې خپل پر سر کش کړو..

فاتح- ولې تر اوسه ویښه وی؟

بغېر له دې چې د هغه د خبرې ځواب ورکړم ومې پوښتل: ولې ترڅو چې زه ویده نه شم تاته خوب نه درځې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسج د استولو وروسته په شیطنت او هېجان منتظره وم چې د هغه ځواب راشي، نه پوهېږم ولې خو زړه مې شیطنت پېل کړې وو، او امید مې درلود او په تمه وم چې هغه یو مینه ناک یا څه پوهېږم یو داسې خبره وکړي چې پر ما ښه ولګېږي!
د څو شیبو انتظار وروسته چې ماته لکه کلونو پشان تېر شو د هغه مسج راغلو.

فاتح- نه پوهېږم، د هغه شپې وروسته چې دواړه هغه خوب ته لاړو تر اوسه زما د ویده کیدو وخت بدل شوي، یعنې زه تل لس بجو خوا ته ویده کېدلم خو اوس مې خوب خپل په کنټرول کې نه دې، او فکر کوم چې ستا سره زما خوب یو رقم نه پوهېږم څنګه ووایم خو څنګه چې خوب کې جسمونو مو یو دبل سره بدل شوي همداسې دلته هم زما خوب ستا په ویده کیدلو تړلې دې، هر کله چې تاته خوب راشي نو ماته هم راځي، البته زه داسې فکر کوم، او زما په نظر همداسی به هم وی!

د هغه د مسج په لېدو مې حال بې خوند شو، نه پوهېږم ولې خو زه د دې وحشي څخه د یو ښه، ښکلی یا حتا عاشقانه مسج د راتلو په امید وم! خان سره مې ویل شاید اوس یو مینه ناک خبره وکړي نه دا چې ماته علمې بحث تشریح کړي! زما په بیرته مسج نه کولو د هغه دویم مسج راغلو.
فاتح- ښه نو وه دې نه ویل ولې ویښه وي؟ خیرت خو دی؟
په نیولی انداز مې ورته ځواب ورکړو: هو خیرو خیرت دې، هغه زما د خاله لور راغلې وه نو د هغې سره ناسته وم.
فاتح- ښا؟ ښه دې وکړل.

غوښتل مې یو رقم ورسره خدای پاماني وکړم، د اول مې هم ورڅخه زړه نیولې وو او په دې خبرې نور هم زړه مې ورڅخه ونیول شو، هغه هم څه نه ویل نه پوهېږم خبرې زده نه وه یا که زړه یې نه غوښت! البته شپه هم تیره وه ناوخته و، د خداې پامانې مسج مې ولیکو خو د دې څخه مخکې چې وایستوم هغه مسج وکړو.

فاتح- اوممم ما مسج کې تر اوسه د چا سره خبرې نه دې کړې نو نه پوهېږم څه ووایم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې د یو خندا سټېکر راستوه او ورپسې یو مسج چې لیکلي وه: ژر ویده شه راشه زما پسې خپل کور ته، ما تر اوسه فکر کاوه ستا پلار ډېر نرم خوې کس دې! خو بیا یې دوه د خندا اسټیکر راوستول او ویې لیکل: خو دومره ظالم دی اجازه نه راکوی قدم واخلم له کور هر دقه زما پسې دی څه کوي؟ څه نکوې؟ دا راته ووایه دا اصل کې هم داسې دې یا که یوازې خوب کې ماته داسی بلا ګرځېدلې؟

د دې خبری وروسته دوه درې د خندا اسټیکر هم راستول.

خو ماته خندا رانغله، بلکې څو ګډوډ احساسات مې را وپارېدل، یو خوا له دې چې فاتح هغه څه سره مخ کېږی کوم چې زه کلونه ورسره مخ وم او عذاب مې ورڅخه لیده، زړه مې خوشحاله کیدو خو له بلخوا بد احساس مې درلود، له دې چې هغه زما د ژوند په هغه شیانو پوه شو کوم چې ما نه غوښتل هېڅکله پوه شې! زما کورنۍ تل پر ما سختګېره وه خو ما تل فاتح ته داسی ښودل لکه هغوي چې بیحد پر ما مهربانه وی!

دا یو تریخ حقیقت دې، زما پر پلار زما څخه زیات فاتح ګران دی،خو ما نه غوښتل هېڅکله په دې خبر باور وکړم. کوم ځواب مې ورنکړو موبایل مې بند کړو او د بالښت لاندې مې کیخود. زړه مې ونیول شو. پلار، پلار وې هر رقم چې اوسیږی ښه، بد، ظالم، مهربان بیا هم پلار وې. زما پلار باندی شاید زه ګرانه اوسیږم خو دومره نه! یعنې زموږ اړیکه د نور لورګانو او پلرونو پشان نه وه. پر هر لور باندې د مور څخه لا زیات ګران پلار وی! ځکه پلار یې تل خوا نیسې، ناز یې وړې خو پر ما دومره ګران نه وو. هغه زما خوا نه نیول، ماته یې ناز نه راکو د هغه لځایه تل زما مور زما خوا نیول زما مور زما په ډیر کیسه کې وه، پلار مې یوازې هغه وخت زه یاد ته راتلم چې د فاتح نوم منځ ته راتلو.

همدغه فکرونو کې خوب وړې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

سترګي مې چې خلاصې کړې د فاتح کوټه کې وم، انسانان هم عجیب مخلوقات دی! یعنې دوه ورځو کې زه کرار کرار د دې خوب نرۍ سره عادت شوې وم، د دې کوټې سره د دې نوي حالاتو سره حتا د دې جسم سره! ما تل د فاتح د جسم او بدن څخه وېره او کرکه درلود، یعنې فکر وکړې یو تقریبا دوه متر اوږد قد سړی په غټ،پټ بدنه او هغه ږېره او څهرې داسې راته وحشي ښکارېدو خو اوس یو رقم عادت شوې وم ورسره او د پخوا پشان ورڅخه خوف مې نه درلود.

د کوټې هوا روښانه وه، لکه چې دلته سهار شوې وو؟ دا یې لا بل عجیب کار! هلته ماښام شو دلته ورځ؟ لکه دلته چې امریکا وه هلته افغانستان؟ په دې فکر مې خندا راغله لځایه پاڅېدم د تشناب خوا ته لاړم زړه مې غوښت حمام وکړم! خو زړه او جرئت د حمام کولو مې نه درلود، اخر پر سل بنې اسرائیلې روایتو مې ځان قانع کړو، او حمام ته لاړم همدا چې کمیس مې له سر وباسو او خپل جسم ته مې وکتل وشرمیدم، ژر مې په پټو سترګو یو حمام وکړو او همغه کالې مې بیرته واچول، او راووتم، د حمام څخه د راوتلو وروسته په الماریۍ کې د کالو پسې په ګرځېدو شوم ښه څه واغوندم؟

باید هغه څه واغوندم چې فاتح تل اغوندې! فرض خو نه دې اوس لپاره کولې شم خپل په خوښه کار وکړم، په دې فکر مې شیطان مسکا پر شونډو راغله او الماری کې پر کتلو لګیا شوم..

د نکاح په ورځ فاتح یوه جوړه بور رنګه جوړه اچولې وه، داسې حال کې چې چندان حالت مې ښه هم نه وو خو بیا هم د سترګو لاندې چې یو نیم نظر مې وروکتل نو هغه رنګ کالې بېحد ښه ښکارېدل ورسره او خوښ مې شول. اوس هم د هغه پسې ګرځېدم د څو شېبو وروسته هغه جوړه کالې مې د الماری اخری کونج کې پېدا کړل او بغیر له دې چې ورسره واسکت واچوم هغه مې واغوندل، پټو مې هم راونه خیست، د کالو اچولو وروسته بیا الماري کې په ګرځېدو شوم او یو ښایسته ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې پيدا کړو چې چرمې لاسې بندونه يې درلود، هغه ساعت مې خپل په چپ لاس کړو، او بيا همداسې کرار، کرار لګيا شوم د هغه په شيانو کې هر شې مې ورڅخه چک کوو، حتا د کالو جيبونه مې لا ورڅخه وکتل!

د الماري د کتو وروسته راغلم د کوچني ميز خوا ته چې د پالنګ و څنګ ته کېښودل شوې وو، لومړی مې موبايل ورڅخه راواخيست چې د ليپټاپ په سر وو، هغه ورځ ما د مجبورې څخه خبل نازنين موبايل ورکړو فاتح ته! نو اوس د ده موبايل زما دې، ترڅو چې بيرته زما موبايل و ماته راکوې، تر هغه وخت به د هغه دا موبايل زه ګريوګان نيسم، په دې فکر مې خندا راغله، موبايل مې روښانه کړو، ځان سره لګيا شوم، فاتح به خپل و موبايل ته څه پاسورډ ورکړی وې؟ ما خو يو داسې پاسورډ ورکړې وو چې ډاډمنه يم د ټول نړۍ استخبارت هم که راشې بيا هم نه شې کولې زما د موبايل پاسورډ خلاص کړې.

نو فاتح به خپل موبايل ته څه پاسورډ ورکړی وې؟ يو څو دانې مې همداسې توکلې ووهل خو يو يې هم کار ونکړو، ناڅاپه د شبنم خبره مې ذهن ته راغلل هغې به تل زموږ د زياترو د انستيټوټ ملګرو د موبايل پاسورډ خلاصه وو! يوه ورځ چې ما ورڅخه وپوښتل، چې څنګه داسی کوې؟ نو هغې راته وويل: آسانه خبره ده، کوم نفران چی زيات ټنبل وې نو  هغوې اکثريت خپل د موبايل پاسورډ Z.L.M.N ږدې يا هم خپل د نوم لومړې تورې، او کوم کسان چی لږ سماټ او ټنبل وې هغوې بيا انګليسی پاسورډ ږدې لکه abc12345 يا هم khan12345 او يا اخرې او مشهور ترينه پاسورډ 123456789 ما هم همدغه و وهلو، او باور می نه کيدو موبايل خلاص شو. د زيات خوشحالې څخه په پالنګ مې خيزکې وهل پېل کړل، واې دا څومره ساده انسان دې؟!

خپل د موبايل پاسورډ يی يو، دوه، درې نمبر کيخودلې وو ...ض

موبايل چې خلاص شو د زيات استرس او هيجان څخه مې لاسونه لړزيدل لومړی لاړم ګالري شريفې ته يې، يو، يو عکس مې ورڅخه د دروبين لاندې په مشکوک نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېره وو، خیرن نادیده دومره ډېر عکسونه یې هند کې اخیستې وه چې نه ورڅخه ټولګي پاتی وو، او نه هم کور او تشناب! هر چیرته یې اخیستی وه، ټولو کی هم داسی دریشې کړې ولاړ وو چې باور مې نه راتلو چې دا اوس اطرافې قواره چیرته او هغه دریشې کړې سړی چیرته؟اوس خو داسی ښکارېده لکه تازه چې د زندان زاویرا څخه راخوشې شوې وي.

په دې فکر مې پر شونډو یو طعنه لرونکي مسکا خپره شوه او ځان سره می وویل: هو نو ځوانی، عیش، نوش او تماشه یې د هغه تورو هندو انجونو سره وه، او غوسه، قهر، غضب او صوفې ګرت یې زما بدبختۍ په قسمت وو. په دې فکر ناڅاپه غوسه راغله او ټول عکسونه مې ورڅخه ډلیټ کړل، ستاسو په نظر یو سړی د څه لپاره عکس اخلی؟ بې له شک خپل د کوژدن یا هم ښځې لپاره اخلې ترڅو هغې ته یې واستوي، خو کله چی نه یې استوې نو د څه لپاره عکس اخلې؟ بیخیبدې اخلې نه، او نه دې هم عسکونه ساتې، د ګالری وروسته لاړم وټساپ ته دا نو جالب ځاې دی ښه نو ښه..

د یو ساعت جاسوسي وروسته کله چې هېڅ مرګ هم د هغه د کوم شیطنت او مضریت لاس ته رانغله نو ډاډمنه شوم چې څومره بی خوند ژوند لرې دا فاتح خان صیب! اوس مې سر خلاصېږی چې ولې فاتح درسته ورځ زما پسې دې؟ هغه خپل ژوند کی بغیر زما څخه نور کوم هدف نلرې، نو ځکه هر قدم کې لکه سایې پشان زما پسې دې، زه چې جنۍ یم او دومره کورنۍ می سختګیره هم ده، لا می یو د هلکانو اکانټ جوړ کړې په فسبوک کې د ګل اغا شیرزي په نوم او خپل د انسټیوټ ملګري ورباندې پعذاب کوم.

خو دې یواځې یو اکانټ، او یو نمبر لرې او بس نور داسې کوم خلاف کار بیخې نه دې کړې، نچ نچ موبایل مې بند کړو زړه مې غوښت لپټاپ یې هم چک کړم چې، د کوټې دروازه وټکېدل او د هغه وروسته نجلا د فاتح کوچنی خور راننوتل او ویې ویل: لالا پلار وایي راشه لاندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې دا خبره وکړه او روانه شوه، له دې چې مشر کاکا بیا ځانته غوښتې وم، د زړه له تل وېرېدم. ما تل فکر کاوه مشر کاکا یوازې ځهری خطرناک ده، خو نه وم خبر چې د رښتیا هم خطرناک دې او داسې دروند لاس لرې! داسې حال کې چې د قران ۳۰ سپارې مې پر ځان چوف کړل او ایت الکرسي مې ویل د کوټې څخه ووتم په دهلیز کې لوې سرخان هوار وو او ټول ترېنه چار چاپېر ناست وه او د سهار چای څښل! کاکا د ټولو څخه لومړۍ د سرخان مخې ته ناست وو،راسته لاس ته یې نعمان ناست وو .

زما په لیدو د څو شیبو لپاره ټول د ډوډۍ خوړلو څخه لاس واخیست، نه پوهېدم څه وکړم هملته د بت پشان ولاړه وم چې کاکا راغږ کړل او ویې ویل: اوریدلې مې دې ډوډۍ نخورې؟ څنګه چل دې؟
د هغه په دې خبره په تلوار مې وویل: چا ویلې؟
زما ځواب د مشر کاکا لځایه زما خوابښې په ژړا راکړ: کله دې خوړلې؟ له هغه ورځې څخه چې د شفخانې راغلې تر اوسه دې یوه ګوله ډوډۍ نده خوړلې، ځان دې په کومه ګناه نیولې، بیا یې ژړا زور واخیست او همغسې حال کې وویل: ای زما بدقسمته زوی ...

د کاکا تندی تروش شو همدا چې خوله یې خلاصه کړه خبرو ته ما بیړه وکړه او ومې ویل: زه پرون ماښام تللې وم د بلقیس سره هوټل ته!
زما په خبرې ټولو په حیرت راوکتل چې ما هم خپل د خوابښې خوا ته مخ کړو او د هغې د ښه سوځولو پخاطر مې ویل: هغه مې ویوړل بیرون، ترڅو خپل د کار بخښنه ورڅخه وغوارم، زه د ځینو کسانو د خبرو د تاثیر لاندې راغلم او پر هغې مې لاس پورته کړو داسې حال کې چې هېڅ ګناه یې نه درلود، ما ورڅخه بخښنه وغوښتل او اوس هم روان وم د هغوي د کور خوا ته ترڅو یوځل یې وګورم. چې څنګه ده؟ ښه ده؟ کوم شي تخو ضرورت نلرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبرو د ټولو خولې خلاصه پاتې شوې، خو یو نفر په دې منځ کې بېحد خوشحاله ښکارېده او پر شونډو یې نرۍ مسکا خپره وه هغه وو مشر کاکا، زما د خبرو د خلاصیدو وروسته مشر کاکا وویل: زما هم نن اراده وه د میرویس(بلقیس پلار) کور خوا ته لاړشم د بلقیس لور پوښتنې ته، که ته هم هلته روان یې نو دواړه به په ګډه لاړشو، هسې هم وخت ډیر تېر شو غواړم د میروس سره ستاسو د واده د نیټې په ټاکلو خبري وکړم، خیر کار کې چې هرڅومره ځنډ وکړو هغومره به جنجالونه لا پسې زیات کېږي او ستاسو دواړو په منځ کې به خلک منافقت کوی، نو زما په نظر ژر تر ژره باید دا مبارک کار پاې ته ورسه وو.

مشر کاکا دومره خوشحاله وو چې د ډوډۍ خوړلو بغیر پاڅېد او ماته یې ویل راځه چې لاړشو، کاکا د فاتح د موټر مخې ته و درېد او لکه چې په تمه وو زه موټر روښانه کړم! ما یو نظر موټر ته وکتل بیا مې کاکا ته وکتل هغه چې زما حیران نظر ولېده نو ویې ویل: موټر روښانه کړه چې لاړشو د کاکا کور ته دې!
— ه ... هغه ...کا... بابا وام موټر لږ خراب دې نو ټکسي به ونیسو؟
مشر کاکا د موټر خوا ته وکتل او بیا په بې پرواې وویل: سمده درځه.

دواړه کرار کرار د کور څخه ووتلو او د سړک خواته روان شو، دا چې د مشر کاکا سره څنګ په څنګ روانه وم هغه هم داسی یو حال کې، بیخې بل ډول احساس مې درلود، یو ټکسې مې خپل تر کوره ونیول او روان شو، ما د موټر د ښېښې څخه بیرون فضا ته کتل، بیحد عجیب وو هر څه لکه د رښتیا وه، خلک،ځایونه،خبري، کارونه ټول داسی وه لکه رښتېنې نرۍ چې ویې او یوازی زموږ ځایونه بدل شوی وی.

موټر د یو سلمانې د څنګ تېرېده چې ما غږ کړو او ومې ویل موټر و دره وه،موټروان موټر د سړک غاړې ته موټر ودرو، زه د موټر ښکته شوم داسې حال کې چې موټروان ته مې د کرایې پیسې ورکول مشر کاکا ته چې زما خوا ته یې راکتل او پوښتنه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول څه خبره ده؟ ومې ویل: زه تر سلمانۍ ځم خپل ویښتیان لږ سم کوم، تاسو لاړشې زه ستاسو پسې بیا درځم څه ناڅه شیان هم اخلم بلقـــیس ته!

مشر کاکا په ورین تندی وویل: سمده، بیا زر راشه په تمه یم درته.
– په سترګو.

موټر حرکت وکړو او زه د سلمانۍ خواته لاړم، سلمانۍ ته په داخلېدو پر شونډو مې شیطانې مسکا خپره شوه، یو نفر باندې سلمانۍ والا لګیا وو، او ویښتیان یې ورته جوړه ول، و ماته یې فکر نه وو زه د هندارې خواته لاړم او د فاتح څهرې ته په کتو شوم! ښه نو ښه ږیره یې یو څه زیاته شوې، ږیره باید دومره ویې چې موټ کې راشې اسلامی طریقه یې همدومره ده. دا دوه متره ږیره نه ښه ښکاری او نه هم اسلامی! او ویښتیا هم داسې ښه نښکارې د دې ویښتیانو سره یې عمر زیات ښکارې، باید لږ یې کم کړم او خولې نور نه په سر کوم!

زه په همدې چورتو کې وم چې سلمانۍ والا راغږ کړل، هغه نفر تللې وو او نمبر زما وو. په څوکۍ کښېناستم او خپل د زړه فرمایش مې ورکړو، د نیم ساعت وروسته چې سلمانۍ والا لاس ونیو او ما د تازه جوړ شوې فاتح څهرې ته وکتل نو مسکا مې پرشونډو راغله، ږیره یې منظم اصلاح کړې وه ویښتیان لاندې خوا یې اخیستې وه او مخکې خوا یې پریښودی وه د اوس وخت هلکانو پشان راته پیکې پریخودلې وو، په خوشحالۍ پاڅېدم پیسې مې ورکړل او روان شوم، احساس مې کاوه اوس ښکلۍ ښکارم، کور ته ترتلو مخکې یو څه میوه او جوسان مې د فاتح لپاره واخیستل مثلاً مریض و.؟؟!

کله چې کور ته ورسیدم ټولو راته حیران، حیران راکتل خو ما شاوخوا د فاتح پسې کتل، غوښتل مې وګورم څه ریکشن ښکاره کوې زما په دې رقم لیدو؟ یعنی مطلب خپل د دی نوې شکلک په لیدو؟ ټولو ته مې سلام واچو او د مشر کاکا څنګ ته کښېناستم الهام راته یوه پیاله چای راوچول او په خندا یې وویل: ماشالله فاتح جان ځوانۍ دې معلوم شوه دا څو وخته بیخې د پل سوخته معتاد معلومېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه په خبري ټولو وخندل او ما د ټولو څخه زيات، ځکه الهام بيحد ښکلی مثال بيان کړې و، زما په نظر هم د فاتح څهره زيات د معتادانو پشان شوې وه، هرڅه يو حده لرې، فاتح اورېدلې وه چې ډېره پريخودل ښه شئ دې نور نو اصلاح کول يی نه وه اوريدلې، د نيم ساعت خبرو وروسته چې د هر خوا څخه مجلس وشو مشر کاکا اصل خبري ته لاره جوړه کړل او زما پلار ته يې وويل: د ادم تر دې دمه زموږ رسم او رواج دې ميرويس!

چې جنۍ بايد تر کاله د کوژدي حال کې پرېښږدو او واده يې کړو، خو دا رواج د ځينو نور غلطو رواجونو لکه ولور، جيز، او داسې نور خبرو کې راګېر شوي او اوس وخت ځوانان کوژده کوي او کلونه، کلونه واده نه کوې او همدا خبره د زيات خبرو لاره خلاصه وې او زر رقم زړه بدې او ناخوالې منځ ته راورې. دا چې ښځه په نوم د يو نر وې، خو هغه ورسره نږدې نه وې، لېدلې نه شې، خبرې کولې نه شې ورسره، دا خپل د زر ستونزو د را ولاړېدو سبب دی، څه ورسيږی که دې منځ کی يو دوه نفر شيطنت هم وکړې بيا نو بيخی شيطان لاره برابره وې د نکاح د خراب کولو ته.

دا غلطي زما وه چې زوي ته مې واک ورکړو او واده مې ورته ونکړو،او خبره تردې حده ورسيده، که څو کاله مخکې مې ورته واده کړې وايي اوس به يی يو دوه اولادونه پيدا شوې وايې او دا مشکلات ولاکه تا په سترګو ليدلی وايی، خو بس خدای زه کونړ او ړوند کړم او د ده په خبرو مې وکړل او خبره تر دې حد خرابه شوه، خو اوس هم دومره موضوع نه ده خرابه شوي، زه راغلط يم ترڅو که ستا اجازه وی دغه راروان جمعي ته د دغه دوه ځوانانو واده وکړو او دا ستونزی او مشکلات له مينځه ويسو، دا چې دوي دواړه هرڅومره يو د بل څخه لرې وی هغومره شيطان د دوي دواړو په زړونو کې يو بل ته کينه او کرکه پيدا کوې.

د مشر کاکا په خبرو مې پلار يوازې سر ښوراوه او" تاسو سم وايست" تاسو صحيح وايست" ويل او بس. نيم ساعت نور هم د واده به چيرته کو؟ او څنګه به يی کو؟ او څو نفر به راغواړو؟ به اړه وغږيدل او زه کراره ناسته وم، اخر مې زړه تنګ شو و دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرو ته، زه راغلې وم فاتح وګورم او دا نوې څهره يې ورته وښايم بس! نور مې د دې خبرو سره کوم کار نه وو، هغوي لا خبرې کول چې زه لځايه پاڅېدم زما په پاڅېدو ټولو زما خوا ته راوکتل چې ما په بند بند ژبه وويل: ه... هغه زه کار لرم نو زه به لاړشم تاسو خپل خبرې وکړې، او هر امر او خدمت چې وماته وو زه به يې ترسره کړ ان شاءالله.

مشر کاکا- سمده بچی ورځه خدای دی مل شه.

په تلوار له کوټې ووتم خو د دې څخه مخکې چی له کوره و وځم، د فاتح پسې په ګرځيدو شوم، د اشپزخانې څخه د مور غږ مې راتلو چې د يو چا سره لګيا وه او خبري کول.کله چې هغه خواته ولاړم نو فاتح مې وليد چې د ګاز مخي ته ولاړ وو او دريجې پخه ول، او مور مې ورباندې شاباس ويلو او هغه خندل! په حيرت مې ورکتل چې مور مې زما خواته پام شو او په تلوار يې ويل: وې فاتح زوی ته کله راغلی؟

د مور په غږ فاتح زما خوا ته فکر شو، زه د هغه و دې ماهرانه اشپزي ته حيرانه وم او هغه زما دا نوې څهرې ته په کتو حيران وو، کله چې مور مې زموږ دواړو داسې نظر وليد نو په تلوار يې فاتح ته وويل: شابه لوری لاړه شه وګوره فاتح زوی څه کار درسره لری؟
ما په همغه حيران نظر وويل: ه ... هغه زه روان وم .. ويل مې د تلو مخکې يوځل د بلقيس پوښتنه وکړم!

د مور د بيا څه ويلو بغير فاتح کرار وويل: زه به تر دروازې درسه لاړشم.
او د اشپزخانې څخه راووت، دواړه په حيرت کرار، کرار د حويلې خواته روان شو، داسې حال کې چې څنګ په څنګ روان وو ما کرار ورڅخه وپوښتل: دا تا دومره ماهرانه آشپزي چيرته زده کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په پوښتني هغه راوکتل او ویې ویل: هندوستان کې چې وم هلته مې خپل ځانته خپله بووډۍ پخول نو ځکه مې څه ناڅه زده کړې.
څو شېبې خاموش شو او بیا داسې حال کې چې په ځېر،ځېر یې زما خواته راکتل نرۍ مسکا پر شونډو وویل: هوم سم خرابات دې کړې.
په خندا مې وویل: خوښ دې نشو که څنګه؟
فاتح په شیطنت وویل: زما خو خپل جسم دې څه رقم چې راوړې زما خوښ دې، ته وایه خوښ دې شو او کنه؟
د هغه په داسې شیطانه او بې ادبانه لهجه د شرم څخه تکه سره شوم.
– ډېر بې ادب یې.

زما په خبري هغه وخندل او ویې ویل: خو رښتیا وایم مهم ستا نظر دې، زما خو د اول هم خوښ وو ځان.

دا چې داسې شیطانت یې کاوه او غوښتل یې ما پعذابه کړي، راته جالب ښکارېده! هغه هېڅکله داسې شیطانت نه کاوه، البته مورډ هېڅکله تر شیطانت رسیدلو هم نه، مورډ تل رښتینې نرۍ کې یوه خبره د کرارۍ کول خو دویم د جنګ، نو دریمې خبرې ته وخت نه رسېدو چې وغواړې شیطانت او ساتیری وکړی!

– ښه نو زه به لاړه شم نور.
فاتح څو شېبې راوکتل بیا یې کرار وپوښتل: په رښتیا نرۍ کې هم ستا ژوند داسې تېر کېږي؟
د هغه په داسې ناڅاپې پوښتنې په ګنګس انداز مې وپوښتل: څنګه؟
فاتح د حویلې شاوخوا وکتل، خپل پر ښه یې ځمکه ووهل او کرار یې وویل: داسې، د څلور دیوالونو شاته! درسته ورځ یا د دیګ پوخ کولو حال کې یا دې ورور ته څه راوره یا هغه ته، یا د مور کار کول یا د پلار!

څو شېبې خاموش شو بیا یې وویل: نه پوهېږم زه داسې احساس لرم یا که د رښتیا هم داسې خوفناک ژوندچ لرې ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شیبې خاموش شوم، زما ژوند همداسې وو څنګه چې فاتح بیان کړو درسته ورځ همدغه زما کار وو، البته انسټیوټ ماته ډېر ښه وو هلته په درس ویلو او یو څو انجونو لیدلو او خبرو کولو مې زړه خلاصېدو، زما چې خاموشې اوږده شوه هغه را غږ کړل: چیرته لاړې؟
– هېڅ همدلته یم..

بیا مې یاد ته راغلل چې دې هم د هغه کسانو د ډلې څخه وو چې تل یې غوښتل ما د کور د دیوالونو شاته وساتې، په پوسخند مې ورته وویل: دا لا ستا سره مراعات کېږي ځکه د ځان وژني کوښښ دې مثلا کړې وو، او دوي درسره نرمه رویه کوې کنه دا زندان چې تا او زما کورنۍ په دې ۲۳ کلونو کې زما لپاره جوړ کړې وو د دې څخه زیات دردناک دې، جناب فاتح خان.

زما په خبرې د حیرت څخه د هغه سترګي خلاصې شوي او کراړ، کراړ یې تندی تروش شو، غوښتل یې چې څه ووایې خو ما ورته اجازه ورنکړه او په تنده لهجه مې ږویل: زما ډوډۍ خوړل، ویده کیدل، ویښ کېدل، خبري کول، او هر څه پر یو چوکاټ دې، زه حتا نشم کولې خپل په کور کې خپل په کوټه کې په لوړ غږ لا وخاندم! ځکه چې ...

د هغه حیران سترګو ته مې وکتل او ومې وې: ځکه چې زما لوړ غږ حرام دې! زما تګ حرام دې، زما خبري کول حرام دی، زما تعلیم کول حرام دې، حتا زما ....
داسې حال کې چې سترګې مې د اوښکو را ډکېدي په ستونزه مې وویل: زما خپل په خوښه واده کول لا حرام دې.

دا خبری مې وکړل او مخ مې ورڅخه وګرځه وو، غوښتل مې لاړه شم، کرکه لرم له دې چې بیان کړم زه د دوي په نظر یوازې یو د نیاز رفع کولو، کور پاک کولو، او د ماشوم راوړلو فابریکه ښکارم او بس، ولې دوې نه درک کوې چې زه هم انسانه یم! زه هم زړه لرم، خواهش لرم، امید لرم، هیله لرم، ولې ما نه درک کوې؟ اخر ولې؟ لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازي ته نه وم رسيدلې چې لاس مې د شالخوا کش شو، مخ مې چې ور وګرځوه نو هغه مې خپل و مخ ته په تروش تندی ولید چې په دروند غږ یې راته وویل:

فاتح- دا چې کله ناکله یو موضوع تر یو حده بیان کوي هغه هم په نا معلوم توګه او په کرکې باندې، او بیا سر لاندې اچوي او روانه کېږي دا کار دې ډېر غلې دې. ستا دا کار د دې لځایه چې ستونزه حل کړې لا پسې هغه ستونزې زیاته وې! ته باید ما ته خپل د څو شیبو کړې خبرو یو، یو ځواب راکړې ...

بیا یې زما لاس نور هم کلک ونیو او ویې ویل: د یوه، یوه ویل شوې لفظ ځواب درڅخه غوارم، دا ژوند نه یوازې ستا دې او نه هم زما! دا زمونږ دواړو ژوند دې ...
زما لاس یې خوشې کړو د عادت مطابق یې غوښتل چې خپل ویښتیانو کې لاس کش کړې، خو کله چې پوهه شو خپل جسم کې نه دې نو کرار یې څو ځله ځمکه پر پښه ووهل او ویې ویل: زه د رښتیا تا غوارم بلقیس.
را ویې کتل او په کلک لهجه یې وویل: او دا غوښتل د یو یا هم دوه ورځو لپاره نه دې، زه د ټولو عمر لپاره مې تا غوارم چې راسره اوسېږي.

په حیران نظر مې وروکتل چې فاتح په همغه جدیدت وویل: زه غوارم ستا سره یوه کورنۍ جوړه کرم، یو ژوند پیل کرم، خو د دې ټولو خبرو مخکې مونږ باید لومړې دا نا ویل شوی خبري او ستونزي حل کړو، ستا زړه له څه ډک دې بلقیس؟ پر تا کوم ظلم شوې چې ته داسې په کرکه د هغه یادونه کوې؟

څو شیبې خاموش شو بیا یې وویل: دلته نه کیږي، نغوارم ټول خبری مو د خوب او خیال په نړۍ کې اوسیږی غوارم مخامخ درسره خبرې وکرم په حقیقی نړۍ کې.

د هغه په دی خبره په پوسخند مې وویل: لکه هغه بل وار پشان؟
زما په خبرې د هغه تندی تروش شو او ویې ویل: انسان واجب الخطا دې! ما لومړۍځل غلطي وکړل خو زه داسې کس نه یم چې خپل یوه غلطي دې دوه ځل تکرار کرم، زه نن لومړۍ پلار مې ستاسو کور ته دراستوم ترڅو زمونږ د واده په اره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د پلار سره خبري وکړې، همغه وخت زه هم ستا پسې درځم ترڅو موږ بیا په ګډه خپل د ژوند په اړه خبرې وکړو!

***

سهار همغسې وشول څنګه چې فاتح خوب کې راته ویلې وه، لومړې کاکا راغلو د واده نیټې ټاکلو لپاره او بیا فاتح! د فاتح په لیدو دومره حیرت چی ما وکړو شاید هغه خوب کې لا نه وو کړې خپل پر لیدو! فاتح همغه کالې اچولې وه کوم چې ما ورته خوب کې انتخاب کړی وه! همغه رقم یی ږیره او ویښتیان جوړ کړې وه حتا ساعت او ګوتمې یې هم اچولې وه! په ګنګس انداز موټر کې کښېناستم او داسې حیرانه، حیرانه مې ورته کتل چې هغه په خندا مخ راواړو او ویې ویل: که خبر وایې دا ېول کالې اچول او ږیره اصلاح کول دې خوښیږي نو د اول مې همداسې کول ترڅو ته داسې راوګوري.

د هغه په شیطانه لهجه د شرم څخه سره شوم او ژر مې ورڅخه نظر واخیست، فاتح موټر د همغه آشنا هوټل څنګ ته ودره وو، همغه هوټل چې ما نه په دې نړۍ کې ورڅخه ېوډۍ وخوړل نه هم خوب کې ...
فاتح- یو دوه دقې په تمه شه زه ژر راځم.
فاتح دا خبره وکړل او د موټر څخه ښکته شو، څو دقې وروسته د لرې څخه مې ولېد چې د هوتل راووت او د هغه بل ځل پشان یې لاسونه ډک د خوراکي شیانو څخه وه، موټر ته راپورته شو او خپل د کور خوا ته روان شو، همغه کور چې زه دوه ورځې مخکې خبره شوې وم چې د فاتح کور دې.

دا ځل د لومړۍ ځل پشان دومره وېرېدلې او ګنګسه نه وم، فاتح راته د کور کلیانې راکړل او خپل یې موټر قفل کړو ما د کور دروازه خلاصه کړه او د ننه ولاړم، کور شیان د همغه ورځ پشان وه او کوم خاص بدلون پکې نه و رامنځ ته شوي، البته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې يوه نالې پکې اضافه شوې وه سره د يو سپين پرده چې پر کړکې غوړېده! داسې حال کې چې هغه ځل کړکۍ پرده نه درلود.

فاتح د کښېناستو ست وکړو او ما هم بغېر د څه ويلو پر نالې کښېناستم، فاتح و ماته مخامخ په فرش خپل پټو هوار کړو او کښېناست، ټوله څهره يې راته بدل، بدل ښکارېده داسې ناشنا غوندي، هغه زما ومخ ته خوراکې شيان کيخودل او په نرمه خندا يې وويل: که نن راباندې هرکار وشو ټولو ته وايم بلقيس دومره راوکتل چې نظر يې کړم.

د هغه په داسې شيطانه لهجه د شرم څخه سره شوم او سر مې ښکته کړو، چې د هغه د خندا غږ نور هم پورته شو، د څو شېبو وروسته په بيحد محترمانه لهجه يې وويل: ښه نو اغلې بلقيس لومړۍ خو مننه چې خپل ارزښتمند وخت دې ماته راکړو ترڅو يو دوه دقی خبري وکړو، که څه هم ستا سره خبرې کول ډېر شيرين دې خو لومړې به يوه ګوله ډوډۍ وخور البته که ستا خوښه وي ميرمن.

زه خو لومړۍ د هغه داسې څهرې حيرانه کړې وو او اوس د هغه داسې محترمانه خبرو بيخې حک حيرانه کړم، تر دې حده چې بې اختياره مې له خولې ورته ووتل: فکر کوم د خوب نړۍ مو بدله شوې! او اوس د يو خوب لڅايه په رښتينې نړۍ کې هم خوب وينو؟

زما په خبره هغه په لوړ غږ وخندل، او خندا خندا کې وويل: يعنې زه تاته دومره بد انسان ښکارېدم چې اوس زما په دومره لږ توجه ته فکر کوې خوب وينې؟

هېڅ مې ونه ويل نه پوهېدم اخر ووايم څه؟ هغه هم نور موضوع کش نکړل او ماته يې اخيستلې خوراکې شيان رامخکې کړل ترڅو ډوډۍ وخورم، په همغه ګنګسه او حيرانه حالت مې يو څو ګولې ډوډۍ وخوړل او لاس مې ونيو هر څومره چې فاتح ټېنګار وکړو خو ما ورته وويل نور نشم خوړلی بس دي، زما د لاس په نيولو هغه هم لاس ونيو او خپله يې کرار کرار شيان ټول کړل د دې وروسته چې شيان يې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل نو ماته مخامخ کښېناست او په کرار او خاص انداز داسې حال کې چې زما په سترګو یې سترګي ښخې کړې وه وپوښتل: ښه نو اوس راته ووایه ستونزه دې څه ده؟ او ولې دې هغه خبرې وکړل؟

د هغه په داسې لهجه خوله مې بنده شوه او نه پوهېدم څه ووایم.

— ه... هغه ... هغه ...

فاتح- صبر زه یې درته اسانه کړم تا ماته وویل: "ځکه چې زما لورې غږ حرام دې! زما تګ حرام دې، زما خبري کول حرام دی، زما تعلیم کول حرام دې، حتا زما خپل په خوښه واده کول لا حرام دې." ښه دا راته ووایه چې ستا لورې غږ چا حرام کړې؟ او په کوم ځای کې حرام کړې؟

زما خوله د هغه د داسې دقیقې حافظي څخه خلاصه پاتې شوه، ده څنګه زما د خولې وتلې الفاظ بغیر د څه کمې او زیاتې څخه پوره د حفظ څخه زده کړې وه؟ خو هغه بغیر له دې چې زما حیرت ته پام وکړې یو ځل بیا په پوره جدیدت وویل: سم په تفصیل سره راته ووایه چا تاته ویلې چې ستا لورې غږ حرام دې؟ او په څه دلیل یې دا خبره درته کړې؟

زما خاموشي چې اوږده شوه هغه لږ رانږدې شو او داځل په دومره جدیت یې خپل پوښتنه تکرار کړل چې ما بې اختیاره خوله خلاصه کړه او ومې ویل: زما د شعر او شاعرۍ سره زښت شوق او مینه ده.

زه لږ خاموشه شوم چې هغه رانږدې شو او خپل سر یې "د سمده بیا؟" پشان وښوراوه چې ما په بند بند ژبه وویل: یو... یوه ... و.. .ورځ مې ځان ... سره همداسې یو ... زده کړې لنډې ویلو ... خپله کوټه کې چې .. چې پلار مې راغلو او راته یې کنځل وکړل.. ویل یې پر .... پر ... حیا دې لعنت شه ...

د دې خبرې سره سم مې د سترګو څخه لومړۍ څاڅکې د اوښکو وغورځېده چې د هغه تندی تروش شو خو لا هم په تمه وو چې زه خبره وکړم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ویل یې غږ دې راښکته کړه ... چې ... چې نامحرم یې اورې ... ستا غږ حرام دې ...

فاتح په همغه تروش تندې وویل: او دا چې وه دې ویل تګ دې حرام دې؟ څه مطلب؟ چیرته تګ دې حرام دې؟

دا چې بغیر له دې چې زما حالت ته وګورې، لګیا وو خپل حساب کتاب یې راڅخه اخیست سخته غوسه راتله، خو له یوې خوا خوشحاله وم! فکر مې کاوه یو چاته دومره ارزښت لرم چې زما د یوې، یوې خبرې د دلیل پسې ګرځې، د هغه انتظار مې چې ولېد خپل اوښکې مې پاکې کړل او په ژړغونې غږ مې وویل: وای ښځه دې کور کې لا داسې نه ګرځې چې د پښو غږ یې بل سوک واورې ځکه حرام دې، نو ځکه مې وویل زموږ تګ او ګرځېدل لا حرام دې.

فاتح څو شیبې په ځېر،ځېر راوکتل او بیا داسې حال کې چې خپل د ږېرې څو ویښته یې پر ګوتو پېچل ویې ویل: عجیب ده! دا چې ستا ټول خبرې 99% سلنه ماته بې منطق ښکارې.
د هغه په دې خبره زما سترګي له حیرت خلاصې شوي او همدا چې جنګ لپاره مې خوله خلاصه ول هغه خپل لاس زما مخي ته ونیولو او د خبرو کولو څخه یې منع کړم او ویې ویل: دومره زه غوږ شوم تاته، یوه دقه ته راته غوږ شه.

په غوسه مې خوله بنده کړه چې هغه په کراره او نرمه لهجه وویل: ګوره زه درسره دا خبرې چې ته وا کړل تر زیاته حده منم، یعنې په دې څو روځو کې مې خپله تجربه کړل په خوب او خیال کې، نو ځکه تر زیاته حده دې درک کوم، خو دا چې جنګ کوې او د خدای د رحمتونو څخه هم انکار کوي نو دا غلطه خبره ده، ستا غږ حرام نه دې خو ستا غږ باید په پرده کې اوسیږی، دا خبره نه زه درته وایم او نه هم درته پلار دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایې، بلکې دا خبره درته اسلام کوې، ستا غږ عورت دی ته نه پوهېږې خو ستا دا نرم او خوږ غږ پر سړیانو څنګه چمونه کوې، تا ویل ستا شاعری خوښېږي!

نو وکړه شعارې و وایه شعرونه زموږ ام المومنین حضرت عایشه رضی الله عنه غټه شاعره وه، تر دې حده چې هغې رضي الله عنه به تل د پیغمبر صلي علیه وسلم غلطي نیول د شعر ویلو وخت کې. نو شعرو ویل تاته حرام نه دي بلکې هم شعر ووایه هم په لوړ غږ وخانده، خو نامحرم مخکې نه ..

ستا پلار کار غلط وو، ځکه هغه ستا پلار دی او ستا محرم، نو که ستا غږ یې اورېدلې وایې کومه ستونزه نه وه، خو خپله خو پوهېږې چې د پښتنو جامعه ده او سړی نه خوښه ي د ښځې غږ دي پورته شي هغه هم بلخصوص د شعر او سندرې ویلو وخت کې. خو زه درته قول درکوم زما مخکې شاعرې وکړه، سندرې ووایه په لـــوړ غږ یې ووایه زه درته هېڅ نه وایم.

په حیرت مې ورته وکتل چې هغه په خندا وویل: ځکه زه دې محرم یم، ستا غږ به د نورو لپاره حرام وي خو زما لپاره حلال، حلال دې  لکه د مور شیدې.

او خپل د خبرې سره سم په لوړ غږ په خندا شو، چې ما د شرم څخه سر ښکته واچو، خو هغه بغیر له دې چې زما حالت ته پام وکړې خپل خبرو ته دوام ورکړو او ویې وویل: تک دې یاد کړو، نو دې که څه ووایم؟ ګوره اسلام حجاب حکم لومړی سړیانو ته وکړو بیا ښځو ته! خو دا سړي په خبره نه دي زر ځله ورته ووایې د بل چا ناموس ته مه ګوره بیا هم دوي لکه اوړی سپي پشان د سترګو د کونجو ورګورې، نو زما یا ستا د پلار زور خو په ټوله نړۍ نه رسیږی.

نو ځکه تاته وایو حجاب سم وکړه، سم لاړه شه، ترڅو کوم بې ناموس در ونګورې، او ها! دا چې ستا جګې څپلې خوښېږي نو زه یې درته اخلم یو نه چې زر جوړې درته اخلم دلته ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس يې د کور شاوخوا ونيو او ويې ويل: دلته وګرځه،راوګرځه يا که کوم چيرته ميلمنه وې واچوه، خو لارې کې تګ د دې درې لويښت څپلو سره ستا لپاره ښه نه دې، اصلاً کله تګ کېږي په هغه کې؟ خدای نکرده پښه به دې قات شې او لاندې به را وغورځېږې.

دا چې داسې په خندا او نرمه لهجه يې ځوابونه راکول،که څه هم ځينې الفاظ يې بې منطقه وه، او زه ورسره موافقه نه وم خو دا چې لهجه يې مهربانه وه مخالفت مې نشو کولې.

فاتح- دا چې و دې ويل تعليم مې حرام دې، نو دا خبره دې لږ څه کليشه يې وه! مطلب د فسبوک او نور خلکو پشان،خو عموماً زه ستا د درس ويلو سره کومه ستونزه نلرم، خو...

بد بد مې وروکتل دا دې نو لغمان چل، لومړۍ زما خبره تاييد کوې بيا وايې خو ... او ټول خبره راته رد کړې.

زما د بد بد نظر په ليدو هغه کرار وخندل او ويې ويل: خو کاش دا انسټيوټ همغسې وايې څنګه چې ستا خيال او فکر دې ورته، ته ډېره معصوم او ساده يې، هلته زر خبري او زر رنګ کارونه نور کېږي د درس ويلو په نوم، اصلاً که دا خبرې ايله هم کړو ته فکر وکړه تا سند واخيست او يو دولتي يا هم شخصي شفخانه کېدې کار پيل کړ، د دې هلک نرسانو او ډاکترانو او همکارانو څخه به راتېر شم، خو د شفخانې پر اصولو به څه وکړو؟ خبره خو يې د روغتون پر اصولو او قوانينو؟

بغېر د څه ويلو مې وروکتل.

فاتح- د شفخانې يو اصول دا دې چې ته به هفته کې يوه شپه ضرور نوکرې يا هم شفټ پاتې کېږې! مطلب يوه شپه تر سهاره به ته شفخانه کې اوسېږې، ما ښځې په نظر کې مه نيسه، اصلاً فکر وکړه ما درته د کار اجازه درکړه، ته راته دا و وايه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا دا کار به زمونږ کورنۍ کې څوک ومني، چې ته دې یوازې ځان شفخانه کې ټوله شپه پاتې شې؟

خوله مې خلاصه کړه ترڅو ورته ځواب ورکړم، خو هغه بیا اجازه رانکړل او ویې ویل: پوهېږم، پوهېږم اوس د دې فسبوکې او ازاد طبعیت انجونو هغه مشهوره ډیالوګ راخلې چې" که انجونو ته تاسو د درس ویلو، او کار کولو اجازه ورنکړۍ، نو سبا ورځ به خپل ښځه یو نر ډاکتر ته ورښکاره کوې، او هلته به چغې نه وهې چې ولې ښځه ډاکټره نشته؟!" دغه دې ویل کنه؟

د هغه په خبره مې خوله بنده شوه، ځکه زما د زړه خبره یې وکړل ما هم همدا غوښتل ووایم.

فاتح- ګوره ما لومړۍ کې وویل زه ستا د درس ویلو سره ستونزه نلرم، ما و دې خبرو ته ښه فکر کړې، او زه درته بیا هم وایم زه زر کاله وروسته هم په داسې شرایطو تا کار ته نشم پریخودلې، چی یو نر دې د ډاکټر، سر طبیب او نور بهانو باندی ستا شاته او وروسته شې، ستا په نظر زه شاید یو جاهل ښکارم، شاید هو زه اوسم جاهل! خو زه خپل ناموس د خلکو د خدمت په نوم دوه لاسه دا رقم ځای ته نشم استولې چې شاوخوا یې ورېږ لېوه اخوا دیخوا کېږی خو ...

دا ځل مې "خو" ته پرېښخود او په غوسه مې ورباندې خوله خلاصه کړه او ومې ویل: نو ستا په نظر دا ټول ښځې خرابې دې؟ دا چې ډاکټراني دې او د خلکو خدمت کوي؟ دا چې په نیمه شپه ته خپل خور، مور، ښځه ورځغله وې چې هله مریضه ده او مرسته وکړې! او هغوي علاج کوې، ستا په نظر هغوي ټول د نرسانو او ډاکټرانو سره جوړې دې؟ ته څنګه داسې یو فکر کولې شې؟ دا ته یې زمونږ تعلیم یافته باسواده! که ته داسې ذهنیت ولرې نو د دا نورو څخه به مونږ څه ګیله وکړو؟

هغه بغیر د څه ویلو په تروش تندی راکتل، چې زما طاقت ونشو او بیا مې په همغه کرکه او پوسخند وویل: اه افسوس، له یو باسواده ځوان چې نرۍ لېدلې، خلک یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېدلي داسې يو جاهلانه خبره! زما د فکر او تصور څخه وتلې ده، تر اوسه دې ماته اسلام، اسلام ويلو نو هغه اسلام تاته دا نه دې ويلې چې ترڅو مو چې خپل په سترګو يو شئ ليدلي نه وي هيڅکله په اوريدونکو خبرو قضاوت مه کوئ؟

ډاکټري يو ډېر سپيڅلې او پاک مسلک دې، لکه څنګه چې يې نوم سپيڅلي دي همداسې سپيڅلي خلک يې هم روزلي. د هغه په داخل کې داسې شخصيتونه تر سترګو کېږي چې هر يو يې، يو ويښ ضمير، غيرتي وجدان او سوچه فطرت لري، هغوي په کلونو، کلونو زده کړه کړې، خوارۍ يې کښلي، زمونو درد يې خپل درد ګڼلې، او د يو واحد هدف لپاره يې په ګډه ټولني ته د خدمت لپاره ملا تړلې، او هو پاتې شوه زما رشته! نو زما رشته د قابلګي ده، او زموږ بخش جدا دې او هلته نران نه وي پرته له ښځينه پرسنل څخه، او هو بله خبره دا چې ...

د هغه قهرجنو سترګو ته مې په ځېر وکتل او بغير له دې چې د هغه د غوسي څخه د غاښونو چيچلو ته کومه توجه وکړم ومې ويل: او دا چې ته وايې بيرون ټول ډاکټران لکه وږي ليوان دي! دا به تاته ښکارې، خو ته ما نشې درک کولې، ته يوه ښځه نه شې درک کولې او نه پوهېږې کله چې يو قابله يا ډاکټره د يوې دردمندې مور يا خور درد درمنله کوي څومره ثواب ګټي، او څومره د زړه سکون حاصلوي، او هو جناب فاتح خان،که انسان خپله سم وي چې څومره بد خلک يې تر خوا وي هغه خپله تربيه نه هيروي او ځان ساتي، خبره د ذات ده! او الحمدالله زما ذات کچه او خراب نه دې، ستونزه ستا په ذ...

خبره مې پوره شوي نه وه چې د مخ يوه خوا مې وسوځېده او د هغه سره سم هغه د ستونې څخه را ونيولم، د هغه د غوسي څخه ډکې سترګې او راوتلې رګونه د مغزی او سر زه د وېرې څخه تر مرګه ورسولم، ژبه مې د وېرې څخه بنده شوه په رډ،رډ سترګو مې ورته کتل چې هغه په غوسه داسې حال کې چې شيبه په شيبه يې خپل د لاس زور زما په مرۍ زيات کاوه ويې ويل: زما ذات کچه او خراب دی؟ او ستا ذات سم دي؟ بې شرمې! که زما ذات خراب وې خو ستا د هم خراب دې، دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یوه ذات او تخم یو، که زه خراب یم نو ته هم خرابه یې، پوهېږي ټولو ویل خارجیان خو لاړل خو د هغوي روزل شوې بچې همدلته دي! زه تر اوسه د دغه خبرې په مطلب نه پوهېدم خو نن ...

دومره یې مخ زما د مخ سره نږدې وو چې د هغه د غوسې څخه سا اخیستل لا زما پر مخ لګېدل، لکه یو وحشي حیوان پشان یې ستمې کاوه د هغه د هر قهرجن سا اخیستلو سره زما زړه درزا پورته کېدل، نږدې وو چې خفه شم دومره یې زما مرۍ په زوره نیولې وه د مخ رنګ مې شین شو او ساه مې نشوه اخیستلې.

فاتح- خو نن پوي شوم هغوي ولاړل خو ستا رقم بې شرمه، پدر لعنتې یې مورِ ته زمورِ په کور کې وروزل، را شنه کړل او مورِ ته یې را پرېخودل، تاسو د خارجیانو پرکټېیانې ..

د دې خبرې سره سم یې زما مرۍ خوشې کړل او زما د جسم څخه پاڅید، د ستونې د لارې په خلاصیدو په ټوخ وولېدم، هغه په غوسه زما د څنګ پاڅېد څنګ ته کېخودل شوي خوراکې شیانو قوطیان یې پر پښه و وهل، او لکه لیونیانو پشان پر کنځلو لګیا شو، یوه کنځل یې ماته کول، دوه یې ځانته کول، یو یې زما مور او پلار ته کول دوه یې خپل قوم او قبیلې ته کول، تر نیم ساعت لګیا وو د کوټې اخوا دیخوا تلو او کنځل یې کول.

د هغه د داسې حالت په لېدو زه لکه سپي پشان خپل په کړې خبرو پښېمانه شوم، ځان سره مې ویل دا لیونۍ مې ځانته را وپاره وو که همدلته مې مړه کړې ولاکه څوک خبر لا شې، په دې فکر مې ژړا نوره هم زیاتېده زما د ژړا په غږ هغه ناڅاپه د کوټې منځ کې و درېد او په غوسه یې راوکتل د څو شېبو وروسته په غوسه ناک او دروند غږ یې وویل: دغه ستا ادب دې؟ دغه ستا تعلیم دی؟ دغه ستا هغه دومره من، من او پښتنه یم،پښتنه یم ویل دې؟ ایا ستا تعلیم او سواد تاته همدغه در ښایې چې خپل میړه ته ووایې جاهل خراب ذات والا؟ ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ها په لورِ غږ د وېرې څخه زما اوږې وپرېدلې، او اوښکې مې لا په تېزی سره پر مخ روانې شول، هغه څو ګام رانږدې شو چې زه د وېرې څخه د دیواله خواته لاړم، پر دوه پښو و ماته مخامخ کښېناست او ویې ویل: ته ماته ووایه دغه تعلیم تاته ښوونځي او انستیټوټ کې در کول کېده، چې خپل پلار ته بد رد ووایه، که ورور دې یوه خبره وکړل هغه سره خوله واچوه که خاوند دې ستا په خیر باندې هم یوه خبره وکړل ته ځان څخه رنږدې جوړه که او پرتوګ په سر کړه او ورته کنځل وکړه؟ ما درته دا دومره خبرې په مینه وکړل، په عقل او منطق مې وکړل حتا ...

څو شېبې راوکتل او په تاسف یې وویل: حتا غوښتل مې تا کار ته پرېږدم ..

د هغه په دې خبره مې سترګي له حیرت خلاصې شوي، څه یې وویل؟ ویل یې غوښتل یې ما کار ته پرېږدي؟ خو ده خو همدا څو شیبې مخکې وویل زه زر کاله وروسته هم تا هغه ماحول کې نه پرېږدم چیرته چې سرې دې بیا ولې داسې وایې؟ لکه چې زما په پوښتني پوهه شو چې سر یې وښوراوه او په تروش تندې کرار وویل: تا زه تر بسم الله، الله اکبر پرینخودم لکه یو فا...
خبره یې پرې کړل او په کلک لهجه یې وویل: لکه د یو بې شرمې ښځۍ پشان زما خبره کې را وغورځېدې، کنه ما درته غوښتل ووایم چې زه دومره هم جاهل نه یم چې ستا دا دومره درس حرام کړم او تاته دې اجازه درنکړم ترڅو ورڅخه ګټه واخلې.

په منتظر نظر مې وروکتل څه مطلب؟یعنې څه چې زه دومره هم جاهل نه یم چې ستا درس ضایع کړم؟ ده همدا څو شیبې مخکې ویلې وه کنه چې زه دې کار ته نه پرېږدم؟ نو اوس دا څه لګیا دې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څو شېبو خاموشۍ وروسته هغه کرار وویل: که ما ته کار ته نه پرېخودې اول کې مې درته ویل ضرورت مې دومره بهانو ته نه درلود، زه ستا څخه څه ډارېږم یا ستا د پلار او کورنۍ څخه چې خبره کش راکش کړم ها؟

هېڅ مې ونه ویل یواځې د ژړا څخه په ډک نظر مې وروکتل د مخ یوه خوا مې درد کاوه او پوهېدم چې د دغه وحشي ځناور د لاس نښې دې وربانډې، زما د اوښکو ډک نظر په لېدو یې وویل: زه چې هندوستان کې وم، یوه ورځ ستا پلار زنګ را وواهه او اجازه یې اخیستل ستا د انسټیوټ تلو لپاره.

په حیرت مې وروکتل یعنې څه؟ پلار مې زما د انسټیوټ تلو اجازه د ده څخه اخیستې وه؟

فاتح- کله چې ویې ویل ته زیات ټېنګار کوې، نو څه مې ونه ویل او خبره مې کاکا ته پرېخوده، بیا خبر شوم چې کاکا اجازه درکړې نو همدلته مې ځان سره وویل چې د افغانستان دولتي او شخصي شفخانو ته د کار لپاره خو یې زر کاله وروسته هم نه استوم خو دا پرېکړه مې وکړه چې راځم به او شخصاً به تاته یو ځاې نیسم چېرته چې ته وکولې شې یو کوچنې معاینه خانه جوړه کړې او د ښځو سره مرسته وکړې، ترڅو نه دې درس ویل ضایع شې او نه هم زما غیرت ته زیان ورسېږي، او هو ما تاته دا ونه ویل چې هغه انجوني خرابې دې او د ډاکترانو سره یارانې لرې.

په ځېر، ځېر یې زما د غمبرې خواته وکتل او په تروش تندې وویل: ما درته وویل د هغه ځاې سر طبیب، نرس یا هم کوم یو بل نفر به اراده ورته خرابه شې. ته خپله فکر وکړه زر نارینه هلته کار کوې ټول خو ملایکې نه دې؟ که ستا په نظر ټول فرښتې دې که ځنګه؟ یو نه یو خو یې شاید یوه ورځ تاته په بد نظر وګوری، د شهوت او بې ناموسې په نظر وګورې، ته یې زغملې شې؟ دا زه بیخې څه نه وایم دا ته یې منلې شې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره کله چې درته وايم ساده يې ومنه زما خبره، ستا د خولې څخه تر اوسه د شيدو بوې ځې، ته د دې نړۍ په قوانينو نه يې خبره دا ډاکترانو چې تا يې دومره خوا ونيول او دومره دې نيک او صالح کړل او د خدای بيخې وليان دې وګرځول دا اکثريت قصابان دي، دا د انسانانو قصابان دي په زر رقم دروغو او چل او چلبازۍ يو نفر څخه پيسې شکوی او زر نور حراميتوب کوې، نه وايم ټول خراب دي. وې به نيم دانه سم هم خو ټول نه دي سم، لکه ته چې طالبانو ته خوله نيسې او وايې طالبان خراب دي او جاهلان او وحشيان دي هغوې کې هم ښه او بد شته هر ځېز کې ښه او بد شته هېڅکله يو شې پوره ښه يا پوره بد نشته، مور انسانانو هم پوره ښه او پوره بد نه يو مور نيکي او بدي دواړه لرو.

لړ خاموش شو بيا يې زما د مخ خوا ته راوکتل او ويې ويل: وګوره څه دې وکړل. په همغه حال کې مې بد بد وروکتل، وهلې هم زه يم بيا وايې څه دې وکړل؟ هغه لړ رانږدې شو او داسې حال کې چې خپل لاس يې زما د غومبرې خواته راوړ کرار يې وويل: ګوره تا تعليم کړې ما هم ستا د تعليم قدر کړې، ته کار غواړې ما هم درته قول درکړو چې يو ځاې به نيسم او تاته به شخصې يو معاينه خانه جوړه وم، چيرته چې ته وکولې شې د يو څو نور انجونو سره د ښځو سره مرسته وکړې.

لاس يې زما پر مخ کش کړو چې ما ورڅخه مخ وګرځه وو او د سترګو څخه مې اوښکې لا پر بهېدو شول چې هغه په تلوار وويل: وبخښه.. باور وکړه دا زما لاس کې نه دي کله چې تنده لهجه کوې، کله چې زما خبرې نه اورې، بې اختياره مې درباندې لاس پورته کېږي.

ورومې کتل د پخوا څخه لړ ارامه ښکارېدو، د هغه ارامه لېدو باندې بيا مې زړه وکړو او په کرکې مې وويل: پر ښځې باندې لاس پورته کول د بيغرته سړي کار دې.
هغه خپل لاس زما پر مخ کوم ځاې چې خپيړه راکړې وه، تېره وو کله چې زما خبرې واورېدل نو ويې ويل: کومه ښځه چې ژبه يې لکه مار غوندې وې او نيش لګوې د هغه د ادب کولو لپاره وهل اخرې چاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– زما ژبه لکه مار نه ده، زه نیش نه لګوم. تا زما حق کې بې انصافې کړې او دا ..
خپل و مخ ته مې اشاره وکړل او ومې ویل: دا یې لومړۍ ځل نه دې هغه ځل دې د دوه شعرونو په سر ووهلم، ورټلم، او زر رقم تهمتونه راباندې ولګول، او اوس..
اول خبره تا غلط پیل کړل..

فاتح- تا اجازه رانکړل مکمل یې کړم.
په پوسخند مې وویل: ته چې اوس زر ځله هم ځان په اب زم زم پرېوې او قسمونه واخلې بیا هم زه ستا په خبرو باور نلرم، ته فکر کوې تا وویل زه درته معاینه خانه جوړه وم، نو زه به وزرې وکړم او الوتنه به وکړم؟ چې هله خاوند مې راته شخصي روغتون جوړه وې؟

په پوسخند مې خپل خبره پوره کړل: تا چې 23 کالو کې و ماته یو مات بنګړې وانخیستلې شو اوس غوارې وماته شخصي روغتون جوړ کړې؟

زما په خبرو د هغه تندی تروش شو او ویې ویل: ما تاته میاشت په میاشت پیسي دراستول، د راتلو وخت کې مې درته ډالۍ واخیستل خو تا..
خبره مې ورپرې کړل او ومې ویل: تا ماته یوه روپې هم نه ده راستولې او هو پاتې شول د ډالۍ خبره هغه سپینه جوړه پنجابې کالې یاده وې؟

فاتح په حیرت راوکتل، چې ما په تریخ مسکا وویل: هغه جوړه کالې ستا مور ورکړې وه روقیه ته!
مسکا مې لا پسې ترخه شوه او ومې ویل: ما د هغې په ځان د اختر پر ورځ ولېدل، په خوشحالې ویل دا راته فاتح جان راستولې.

هغه ورځ مې یاد ته راغلل چې روقیه او د فاتح خویندو څنګه پر ما ملنډۍ وهلې وه، او بیا مې د ده اوسنې کار چې زه یې په څپېړۍ ووهلم رایاد شو. په کرکه مې وروکتل نه پوهېږم زما سترګو کې هغه څه ولېدل چې په تلوار یې وویل: داسې ماته مه ګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ته کنځل کوې، رټل کوې، تهمت لګوې، وهل کوې، بیا هم امید ساتې چې درته په مینه وګورم؟ تا ماته وویل راشه خبري وکړو او بیا دي وهل پیل کړل، تا کوم د میني کار کړې چې زه درته په مینه وګورم؟
فاتح زما لاسونه خپل لاسونو کې ونیول هرڅومره چې کوښښ مې وکړو خپل لاسونه ورڅخه جلا کړم اجازه رانکړل او ویې ویل:

فاتح- ګوره ... ګوره دا خبری مکوه چې کرکه درڅخه لرم، او بد مې درڅخه راځي،او تا زما حق کې کوم د میني کار کړې؟

زه پوهېږم زه خپل ملامتي منم، خو ته یې هم ومنه! تا ځان داسې نیولې لکه چې بیخې غلط کار دې نه وې کړې او دا ټول غلطي زما ده، ته دا درې ساعت کېږي لګیا یې زما حق، زما حق، او زما حقوق او زما حقوق، دا موږ حق نلرو؟ دا ټول حقونه ستاسو ښځو دې؟ ګوره زه ستا څخه په عمر کې پنځه کال مشر یم، یعنې ته نړۍ ته نه وې راغلې ما پنځه کاله دې مردار نړۍ کې تېر کړې وه. ګوره ته د ورځې یو ساعت شاید بهر لاړه شې د یو کار لپاره، خو زه ۲۴ ساعت بیرون یم، زه دا ټول خلک داسې په رسمیاتو او داسې په زبر او زیر پېژنم چې تا به هېڅکله خیال کې لا نه وې لېدلې.

دا نړۍ هغسې نه ده، دا ډاکتران چې تا ماته داسې مفتیان او قاریان او اولیا د خداې کړل دا داسې نه دې،په قسم که دا رقم وې، که زما په خبره باور نه کوې زه به درته په قران لاس کېدم او قسم به واخلم چې دا ټول داسې نه دې څنګه چې ته فکر کوې، ها! دا رقم درسره منم چې ځېنې انجونې شاید روغتون کې کار کوې او د هغوي سر څوک دومره غرض نلري، او د هغه دلیل دا دې چې د هغه انجونو پلار، کاکا، ورور، ماما، خاوند یا هم کوم بل خپلوان هملته دې د سرطبیب په شکل یا ډاکټر، نرس یا هم یو بل مرګ او درد په شکل هلته موجود دې وظیفه کوې یا کورنۍ کې یو دوه ډاکتران دې او فامیلې د نور ډاکترانو سره شناخت لرې نو د هغوي په خاطر دا جنۍ باندې نظر ساتې او په هغه ماحول کې چې سرې دې د دې جنۍ سره مخامخ کوم کار نه لرې او کوم غلط سوچ نه ورته ساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه پوهېږي چې دغه جنۍ د فلانکې ډاکټر یا سرطبیب یا مدیر خور ده، لور ده، وریره ده، خورزه ده، یا کوژدن ده یا بل بلا بتر ده، نو په هغه دلیل ورته څه نه وایې، خو کوم انجوني چې هېڅ واسطه شاته ونلرې او کوم شناخت ونلرې هغوي چې کله لاړ شې په سلو کې د 98% سلنو سره داسې خبرې پیښ شوي چې ویل یې لا بده ده. اصلاً دا ټول دې سم وې دا د روغتون ډاکټران دې سم، د روغتون مدیر او رئیس دې سم، اصلاً ستا په خبره د روغتون ټول پرسونل او کاروکونکي دي سم، دا ټول دې ملايکي، ته فکر وکړه د یو مریض سره یو سړی راغلو او هغه سړي بد سترګه مردار وو او هغه تاته یوه خبره وکړل ستا سره یې په یو موضوع خوله واچول، یو کنځل یې درته وکړل ...

خاموش شو بیا ځان سره د شونډو لاندې لګیا شو: اه څنګه دې پوهه کړم، سنګه دې پوهه کړم؟ ولې نه پوهېږي، ولې نه پوهېږي؟

بیا یې ماته مخ کړو او ویې ویل: ګوره وظیفه اخیستل په افغانستان کې ډېر مردار شرایط لرې، زه درته خپل ځان یاده وم زه چې نر یم زه چې کله وظیفي پسي ځم نو زر رقم داسي بنې اسرائیلې، کفري شرایط راڅخه غواړې چې مجبور واسطه ولګوم شاهید راوړم، پیسې ورکړم او خلاصه باید زر رقم 420بازی وکړم، هغه هم داسې حال کې چې زه د خارج څخه ماسټری سند لرم، ته فکر وکړه هغه وخت ته چې جنۍ یې او سند دې..

په پوسخند یې وویل: ستا سند چې دوه کلنه قابلګي ده! تاته به څه کار درکړي؟ ته لاړه شه ورته ووایه زه کار غواړم او دوه کلنه د قابلګي سند لرم، هغه هم د یو شخصي انسټیوټ څخه چې بیخې انسټیوټ لا په حساب نه راځې، ته د دې سند سره لاړه شې، پوهېږي ستا د سند په حساب ستا وظیفه د روغتون پاک کارې ده، خو!

تندې تروش کړو او ویې ویل: خو د دې لپاره چې جنۍ یې، ځوانه یې، شاید د یو خدای ناخبره ډاکټر د لاس لاندې نرسه دې کړي او هغه به دربانډې فرمایشات کوې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاقو راکړه دا قیچي راکړه، دلته لاړه شه او هلته لاړه شه، اصلاً ته ماته دا ووایه چې زه ستا لپاره بد غواړم؟ یا ستا مور او پلار ستا لپاره بد غواړې؟ ګوره زه چې یو شې وایم یو خبره کوم ستا د خیر لپاره یې کوم نه ستا د بد لپاره، دا چې زه تا منع کوم د هر ځاې تللو څخه د ایله خبرو یا ایله کارونو څخه دا زه ولې کوم؟

بغیر د څه ویلو څخه مې وروکتل پوهېدم اوس غواړې د تل پشان ووایې ځکه ته زما ناموس یې زما ښځه یې، او همغسې هم وشول هغه وویل: ځکه چې ته زما ناموس یې، زما ښځه یې، زه پر تا غیرت لرم نغواړم د یو مردار، هوس باز سړی سترګې دې پر تا ولګېږي، زه ولې دا غیرت او دا قیدګیری او سختګیری په نور کاکا لورګانو نه کوم؟ ولې د خپلوانو په نورو انجونو نه کوم؟ ماته وګوره قسم درته اخلم که خدای نکرده خدای دې ونکړې که مثال د خبرې زه ستا خور یا خپل د کاکا بله لور د یو بیګانه هلک سره وګورم ولاکه ورته څه لا ووایم!

په حیرت مې وروکتل چې هغه په بې پروا یې وویل: ځان سره وایم پر ما یې څه؟ ورور لرې پلار لرې، خاوند لرې، هغوي دې فکر وراندې وساتې پر ما یې څه؟ خو ته زما ناموس یې زه درته نه وایم چې ته زما مال یې، ځکه چې ستا خبره ته هم انسانه یې او حق او حقوق لرى، خو ته زما ناموس یې زه ستا پر سر ستا د حیا او عزت په خاطر هم یو نفر مړ کولې شم او هم مړ کېدلې شم. ته پوهېږی نکاح په څه معنا؟ نکاح مطلب ستا ښه او بد زما پورې وتړل شې، هره خبره چې پر تا مربوط ویې د نکاح وروسته پر ما هم مربوط شې، ستا فکر بیحد سر سرې او ماشومانه دې، ته لکه خارجی فلمونو او سریالونو پشان فکر کوی.

ته د یو کار اخر پاې ته نګورې ته حتا خپل د خبرو پاې ته لا نګوری. تا ځان سره یو پلان جوړ کړې وو چې درس به وایم کار به کوم، سهار به ځم روغتون ته او ماښام به راځم کور ته، ته ماته وایه ژوند داسې کېږي؟ زه نه وایم چې ستا پلان خراب دې خو پلان فکر او ذهنیت دې مشکل سل په سلو کې لرې، تا درس وویل ښه کار دې وکړو نوش جان دې، ته غواړې کار وکړې، د هغه روغتون د دننه ستونزو څخه که راتیر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته فکر وکړه موږ واده وکړو او زه به سهار په شپږ بجو روان یم وظیفې ته، او ته به هم د سهار په شپږو بجو روانه یې وظیفي، ته زه به هم د شپي اته بجي کور ته راځم او ته به هم دشپې اته بجې کور ته راځې، ستا په نظر دغه ژوند شو؟ دغه زندګي شول؟ زه د کور ځم چې کار وکړم خپل کورنۍ ته یوه ګوله حلال رزق راوړم، ته هم ځې چې پیسي نه .. پیسي نه ..ته ځې وظیفه کوې چې ستا په خبره د خلکو خدمت وکړې.

د خلکو مرسته وکړې، تخو ان شاءالله اسلام منې؟
داسې بد بد مې وروکتل چې هغه وویل: د دې نظر پر کولو دې مطلب هو منې، نو اسلام کې پر تا اول د خدمت حق د چا دې؟
نظر مې ورڅخه واخیست پوهېدم غواړې څه ووایې.
فاتح- ها زما خوا ته وګوره اول په اسلام کې پر تا د خدمت حقدار څوک دې؟
خپل ځان ته یې اشاره وکړل او ویې ویل: اول حق زما یعنې ستا د خاوند دې، ته چې زما حق ادا نکړې ته که دا ټول نړۍ د دې ټول افغانستان د ښځو درملنه وکړې او هغوې په تهجد په ویښه او ناسته درته دعاګانې وکړې بیا هم ولاکه د جنت بوې لا احساس کړې.

خوله مې خلاصه کړه ترڅو ورته ووایم "چې ښه ده د جنت ټېکټونه هم ته ویشې" خو اجازه رانکړل او ویې ویل: داسې ماته مه ګوره زه درته حق وایم البته که حق منې، ستا هغه ټول خدمتونه هسې باد پر هوا دې ولاکه د غنم اندازه هم ثواب ویسې ترڅو چې زما زړه رضا نه وې. اسلام ته ګوره لږ د هغه حقوق زنان څخه را ووځه اسلام ته وګوره، زه درته زر ځله نور هم وایم زه ستا د درس ویلو سره مخالف نه یم، زه ستا په کار کولو مخالف نه یم، خو زه وایم دا ټول په چوکاټ کې په یو نظم، په یو اصول کې، زه زر کاله وروسته هم تا و داسې روغتون ته نشم استولې د کار لپاره او نه دې هم هغه ځاې استولې شم چې سهار په شپږو لاړه شې او د ماښام په اتو راشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاید ستا خبره صحیح وي زه به یو جاهل انسان اوسیږم څکه زه نه سم کولې تاته ووایم: ګرانې ته لاړه شه کار ته او زه به درته کور پاک کړم، لوښي ومېنځم او که ماشوم مو درلود نو هغه به هم زه ساتم، څکه زما ښځه د خلکو خدمت کوي.

نا څاپه غوسه شو داسي لکه چې زه د رښتیا سهار تللې یم کار ته، او ده کور پاک کړې، لوښي مینځلې، او زموږ هغه نه پیدا شوي ماشوم یې هم کرار کړې؟
فاتح- دا خدمت دې زما سر وخورې دا روشنفکرې دې زما سر وخورئ.

***

د هغه دومره خبرو، جنجالونو، وهلو وروسته موږ دواړه هېڅ پایلې ته ونه رسېدو او د هغه بل څل پشان فاتح په تروش تندې او زه په مات زړه د هغه موټر کې ناسته وم او دکور خواته روان وو، نه پوهېدم څه وکړم؟ فاتح درې سوه کتابه نصیحتونه راته وکړل خو یوه خبره یې هم زما په زړه ونکړل، کاش د نصیحت لځایه په مینه یوه خبره راته کړې وایې، کاش د وهلو لځایه په مهربانه لهجه ویلې وایې، کاش د دې لځایه چې په منطقي او اسلامي توګه راته خو، خو ووایې په مینه یې راته یو خیالي !نرۍ جوړه کړې وایې، کاش خپل فکر او ذهنیت یې راته نه وایې ویلې

یوازې خندلې وایې لکه څنګه چې هغه اول کې زما خبرو ته سر ښوراوه او ویل یې هو ته شاعرې وکړه زه درته غوږ نیسم او زه درته جګې څپلې اخلم او زما مخکې وګرڅه، کاش لږ په مینه یې سر خلاصیدو او له دې لځایه چې بحث وکړې شاعرانه توګه ویلې وایې زه به دې مریض شم ته مې طبابت وکړه!

د دې خبرې سره سم مغز مې راته وویل: ستا رشته قابلګي ده! نو ته به څنګه دهغه علاج وکړې؟ هغه خو څه ماشوم نه دي په نس؟
تازه چې خپل دې خبرې ته مې فکر وکړو نو خندا مې راغله، یا الله لاړم لیونۍ شوم خپل څان سره خبرې کوم؟ او خپل هم څانته دلیلونه راوړم؟ او هو زما هوښیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مغزه زما مطلب دا نه وو چې دې مریض شې یا هر بل مرګ ما مطلب داسې وو چې د جنګ لځایه دلدارې راکړې، زه خپله د هغه په دې خبرو پوهېدم، ما پخپله خپل دا نمونه قوم پېژندانه.

زموږ ټول قوم کې یوه جنۍ تر دولسم ټولګي درس لا نه وو ویلې انسټیوټ ویل او کار کول خو لرې خبره، په ټول قوم کې زه په بې شرمې او ژبه ورې مشهوره وم! ځکه زه لومړې جنۍ وم چې ښوونځي مې خلاص کړو، زه لومړۍ جنۍ وم چې انګلیسې کورس ته لاړم، زه لومړې جنۍ وم چې فسبوک مې جوړ کړو، هو زموږ ټول قوم کې جنۍ فسبوک نه درلود لومړۍ ما جوړ کړو اول خو ټولو راپسې بد رد وویل، خو وروسته ټولو جوړ کړل حتا د دغه جناب چې تندی تروش نیولې ټول خویندو یې ځلور، څلور اکانټونه جوړ کړل ما خو لا یو جوړ کړو، او هغه هم قسم پر خدای خپل د یوازینې کار څخه چې تر اوسه پښېمانه یم همدا فسبوک جوړه ول وه.

ما خپل فسبوک بیرته ژر خراب کړو، البته داسې ژر هم نه یو څه لږ قدرې شیطنت مې وکړو یو د هلکانو په نوم مې اکانټ جوړ کړو، خو زه په درس ویلو شوم او فسبوک راڅخه پاتې شو، خو د ده محترم خویندو، دهغوي په یاد راوړلو په شونډو مې پوسخند راغلو زړه مې غوښتل ورته ووایم جناب باغیرت صیب ته چې دومره سینه ټکوي او ناموس او غیرت واې، ایا ته خبر یې خور دې په فسبوک کې سل دانې یارانې لرې؟

ما د شیطنت خپل د هلکانو په اکانټ "ګل اغا شیرزی" باندې ورته مسج وکړو، سلام څنګه یې ښکلۍ؟ البته تر اوسه پښېمانه یم د کوم خوا ښکلۍ وه چې ما داسې خبره وکړل؟ خو غوښتل مې د هلکانو پشان لهجه وکړم! او باور مې نه کیدو همغه دقه یې ځواب راکړو او د هغه څخه لا حیرت ناکه خبره دا چې په یوه هفته کې مې ګپ ورکړو او عکس مې ورڅخه واخیست! یعنې دا جناب باغیرت صیب خور څخه ما د یو هلک په دروغجن اکانټ باندې عکس واخیست؟ د عکس راستولو وروسته د هغې لځایه زه و ویرېدم ټول فسبوک مې خراب کړو او ترننه بیا نه یم تللې فسبوک ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته د الهام خبره فسبوک نه! فساد بوک، د رښتیا هم چې فساد وو، یعنې هلته ما داسې خبرې واوریدل او پوهه شوم چې حد یې نه درلود. یعنې په دې خبرې فاتح خبر دې چې خور یې داسی یارانې لرې فسبوک کې؟ ور ومې کتل نه امکان نلرې چې خبر اوسیږی، دې دومره تریخ او وحشي انسان دې که خبر شوی وایې اوس له وخت یې پر ګل پرې قیامت جوړه وو، یعنې ورته ووایم؟ که مثلاً ورته ووایم جناب فاتح خان با غیرت صیب چې هر دقه سینه ټکوي او د غیرت خبري کوې لاړ شه خپل خور درکنټرول کړه چې ټول کابل سره یې عکسونه دې.

نه که داسې ووایم اول شک یې پر ما راځې چې زه څنګه خبره یم؟ او که زما د هغه "ګل اغا شیرزی" د اکانټ څخه خبر شو بیا ماته مصیبت جوړیږي، او بل دا چې دومره وحشي دې چې امکان لرې ګل پرې مړه کړې! یعنې ده چې زما دوه خبرو باندې داسې تند ریکشن ښایې او وهې مې، که خپل د خور د کارونو څخه خبر شې همداسې به یې پرېږدي؟ زړه مې راته ویل بلقیس هسې د ضد له لاسه داسې کار مکوه چې اخر پښېمانتیا یې تاته پاتې کېږي، زه په همدي فکرونو کې وم چې د موټر دننه د راډیو پر غږ پر خود شوم.

په حیرت مې د هغه خوا ته وکتل، ته وخدای دا دومره ښایسته موټر کې ناست دې راډیو اوری؟ هغه هم د یو مولا خبري چې خلک ورته زنګ وهې او پوښتنې ورڅخه کوی، د ده پر دې کارونو ما ته زړه کې شک راځې چې دې اوس هند ته تللې وو د درس لپاره؟ یا که هلته تللې وو د تبلیغانو جماعت ته؟ ټول کارونه یې راسته چپه دې، په قران.

په نامیده نظر مې مخ د ښېښې خوا ته واړو چې راډیو کې یوي ښځې مولا ته زنګ وواهه او پوښتنه یې ورڅخه وکړل چې مولا صیب ایا اسلام کې جواز لرې ښځه خپل د خاوند لاس ښکل کړې؟

په دې پوښتني ناڅاپه موږ دواړو د راډیو خواته وکتل، دواړه په تمه وو چې مولا صیب څه وایې؟ فاتح یو نظر ماته وو یو نظر د راډیو خواته! او پر شونډو یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوسخند ووا لکه چې د مولا په ځواب پوهېدي نو ځکه يې داسې راکتل او په سترګو سترګو کې راته ويل غوږ شه ورته څه درته وايې، او ما هم ورته کتل چې مولا که لږ داسې کړه تعصبې خبره وکړې ښه مې زړه ورباندې يخ کړم، خدايه دا نو څنګه عذاب دې؟ ولې بايد دا ښځه داسې پوښتنه وکړې؟ ولې پوښتنه نکول چې ښځه پر خاوند څه حق لرې؟ يا که خاوند مې بد اخلاقې وې زه څه وکړم؟

ولې بايد حتماً داسې يوه پوښتنه وکړې؟ شيطان راته ويل چې دا به فاتح له قصد راوړې وې؟ خو نه راډيو د همدا نن ورځې لايف برنامه وه!

مولا صيب د څو نور پوښتنو د ځواب کولو وروسته همدې پوښتنې ته راغلو او ويې ويل: نه دې کې هېڅ ستونزه نشته که ښځه خپل د خاوند لاس يا پښه ښکل کړې.
ما نور د هغه تفسيري بيان وا نه وريدو چې څه يې ويل؟ او څه نه؟ ځکه فاتح په زوره په خندا شو او داسې حال کې چې موټر يې د سړک څخه زموږ د کوڅې خواته ګرځوه په پوسخند وويل: لکه چې مولا صيب ټول افغانستان سرپيان بې ښځې کوې که څنګه؟ وايې لاس او پښې ښکل کړې؟

بيا يې زما خواته راوکتل او د شونډې لاندې وويل: دوي زموږ خبره لا نه منې او دې وايې لاس اوپښې ښکل کړې د خاوندانو.

– ښه خبره کوې، مولا!
زما په خبرې هغه په حيرت راوکتل چې ما وويل: حتا پيغمبر"ص" فرمايلي: که د خدای څخه بغير سجده چاته روا وايې نو ما ويل ښځې دې خپل خاوندانو ته سجده وکړې.

هغه بغير د څه ويلو موټر زموږ د کور مخکې و دره، ما غوښتل د موټر څخه ښکته شم چې هغه زما لاس ونيو او په تروش تندې وويل: دا خبري دې څه مطلب؟ يعنې اوس غوسه يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغير د څه ويلو مې وروکتل او ومې ويل: نه ولې غوسه؟ دا حق خبره ده اسلام همدا ويلې.

فاتح په شکمن انداز راوکتل، خپل شونډه يې د غاښ لاندې کړل او کرار يې وويل: که فکر کوې ما له قصد د راډيو دا چينل راوړې وو چې تا پر غوږ و وهم يا خفه کړم نو باور وکړه داسې کوم مطلب مې نه درلود.

– ما تاته څه ويلې؟ يا که ستا خبره مې رد کړې؟ هم ستا خبري سم وه او هم د هغه مولوې خبري، زه په غلطه وم منم خپل غلطي او بخښنه هم غوارم، او قول درکوم د دې وروسته به هېڅکله د کار کولو نوم وانخلم.

د دې خبرې سره سم مې غوښتل د موټر څخه ښکته شم چې هغه اجازه رانکړل او داسې حال کې چې زما لاس يې کلک نيولې وو او خپل خوا ته يې کش کولم په انديښمن انداز يې وويل: په دې خبرو دې بيخې ډاډمن شوم چې خفه يې..

څو شيبې په ځېر ځېر راوکتل بيا يې په انديښمن لهجه وپوښتل: ستا دماغ کې خو بيا کوم غلط سوچ روان نه دې ها؟

پر شونډو مې غمجن مسکا راغله او ومې ويل: تشويش مکوه زه ځان نه وژنم، نور هېڅکله داسې کار نکوم چې تاته يا هم زما کورنۍ ته دې کوم رسواې او بدنامې جوړه شې.

فاتح په بې قرار انداز وپوښتل: ناخاپه دا يوه دقيقه کې پر تا څه وشول؟ ولې داسې شوي؟ تخو ...

فاتح غوښتل څه بل څه هم ووايې چې د همسايه د کور دروازه خلاصه شوه او د همسايه زوی راووت د هغه په راتلو فاتح زما لاس خوشې کړو او داسې حال کې چې خپل ويښتيانو کې لاس واهه ويې ويل: لاړه شه کور ته زه درته بيا زنګ وهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغیر د څه ویلو روانه شوم د کور خوا ته، کور ته چې لاړم نو مشر کاکا تللې وو، ادې راته وویل چې زما د واده تاریخ ټاکل شوي د جمعې په ورځ یعنې د نن څخه درې ورځې وروسته زما واده وو! بغېر د څه ویلو خپل کوټې ته لاړم خپل نالې مې هوار کړه او بغیر له دې چې خپل حجاب لرې کړم کمپل مې پر ځان کش کړو او پریوتم، غوښتل مې ویده شم یو داسې خوب چې نوره راویښه نه شم. ۲۳ کال ما خپل د قوم، کورنۍ، کوژدن، پلار، مور، ورونو او ټول نړۍ سره جنګ کړې وو ترڅو ټولو ته ثابته کړم چې زه هم د ژوند حق لرم، او زه هم حق لرم خپل د ژوند په اړه پریکړه وکړم.خو نن د مولا په هغه یوه خبره راته ثابت شوه چې زما دا ټول کارونه هسې دې .. هسې ...

زه اول او اخر د یو سړي نوکره یم او بس، که نوکري ونکړم ټول راته د یو فاحشې، رنډې، او بې شرمې په نظر ګوري او د فاتح خبره زما د کنټرول کولو لپاره د وهلو لاره چاره مخ ته نیسې، هغه و ماته زر کنځل وکړل، زر رقم تهمتونه یې د دوه شعرونو لپاره راباندې ولګول ویې وهلم، ویې رټلم او اخر کې بیا هم بده زه شوم! ځکه چې د خاوند سره مې ژبه ووهل، دا شل کاله د هغه کورنۍ مور، خویندو ماته پیغورنه راکړل زه یې په خپل او بیګانه کې د ټولو مخ کې شرمنده او ذلیله کړم حتا مور یې ورته بله ښځه انتخاب کړه د هغه راستول شوي ډالۍ ورواستول خو دا ټول خبرو پوهېدلو با وجود فاتح زما په حق کې یوه خبره ونکړل یوازې ویې وهلم، ځکه چې ما ورته ویلې وه بد ذات!

او فاتح چې هغومره کنځل وکړل هغه خیر، ځکه نر دې! غوسه کې کنځل کوې، وهل کوې، نر دې هېڅ ستونزه نلرې خو ته باید خپل ژبه کنټرول کړې، په دې فکرونو بې اختیاره مې اوښکې پر مخ وبهیدلې، هر جنۍ ته د هغې د پلار غېږه د امن ځاې دې خو ماته هغه لا نه وو حتا زما کورنۍ لا نه وه، حتا زما خاوند چې زما مرګ او ژوند ورسره تړلې وو حتا هغه لا نه وو، زه یوازې وم، ما تل په دې دومره وخت کې غوښتل یو نفر ولرم چې ما درک کړې، ما چغې وهل بې شرمې مې کول ځکه هېڅکله زه چا نه وم درک کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشومتوب څخه تراوسه ما خپل حق په چیغو وهلو اخیستي وو په ژړا او زارۍ مې اخیستې وو، لسم ټولګي کې پلار مې ویل نور بس دې ښوونځي ته مه ځه په ژړا او چیغو مې ورڅخه اجازه واخیستل، ترڅو درس ووایم انسټیوټ کې همداسې، انګلیسي کورس ویلو کې همداسې، ما یوازې غوښتل د دې کور څخه لرې اوسیږم د دې قید څخه، زما پلار ډېر تند خویه او بد خولې سړی وو او اوس هم دې، هغه تل زما مور ته کنځل کول البته تر اوسه یې کوې هغه به تل مورږ وهلو، ماشومتوب کې کور کې به لوبو ته یې نه پریښودو او وهلو به یې چې ستاسو غږ زما عصاب خرابه وې، بیرون کوځي ته به چې لاړم بیا به فاتح د ویښتیانو څخه نیولم چې دلته هلکان دې.

زه د ماشومتوب مجبوره وم کوټه کې یوازې کینم خور مې درلود خو په نوم، هغې تل ځان د کور څخه باسه او تلل به د کاکا کورنو یا هم د نیکه کور ته خو زه به دلته یوازې پاتې کېدلم، زه یې نه ورم ځکه مور یوازې وه او بل دا چې زه د فاتح په نوم وم نو پلار به را باندې پېره کوله، چې کوم غلط ګام وانخلم. ما ډېر کوښښ وکړو ځانته لږ نرمال ژوند جوړ کړم وخاندم، خوشحاله اوسیږم خو د چا قسمت کې چې بد قسمتي لیکلی وی هغه هیڅکله نه بدلیږی، زما مشکل د فاتح سره د کار کولو او نه کولو په سر نه دې زمورږ اړیکه د جړ څخه خرابه وه، او فاتح د هغه د صحیح کولو لځایه هغه یې لاپسي خراب کول.

ما نه کار غوښت، نه مې د هغه پیسي غوښتل، نه د هغه ډالۍ، او نه هم کوم بل شې ما یوازې غوښتل راسره مینه وکړې د یو انسان پشان، نه د یو شئ او حیوان پشان، ما غوښتل زما خبرو ته غورږ شې زما خبره ورته ارزښت ولرې زما درد وګوري، د هغه کورنۍ زه درده ولې وم دا شل کال ما غوښتل فاتح د هغه زخمونو مرحم شې خو ده هرځل په هغه زخمونو مالګه وشېندل.

ما ورسره ضد کاوه بې شرمې مې کول زه یې منم، خو ما دا ځکه کول ځکه ده درد را رسه ولې وو او ما غوښتل په هغه تنده او بد لهجه ورباندې جبران وکړم خو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر کوم زما ژوند یو بې معنا ریشخند دې او بس، زه یو بدبخت جنۍ یم چې هېڅوک ورسره مینه نه لرې کورنۍ بوږۍ ورکوي او ساتې ځکه که مړه شول سبا ورځ دوي ته پیغور دې، زما د ژوند څخه زیات زما کورنۍ ته خپل عزت مهم دې، خاوند مې ورېې خپل کور ته ځکه پر نوم یې یم او د خلکو له شرمه مې ورېې او غوارې خپل د زړه خبري راباندې ومنې کنه خلک به څه وایې؟

هلته به د هغه د مور او خویندو خبره منم کنه ټول به راته وایې بې شرمه راغلې نه ده او خپل د خواښې سره یې جنګ شروع کړې، دې منځ کې زما هېڅ حق نشته هېڅ، او بیا دا فکر مې ذهن ته راغلو چې خاوند دې یوه ګوله بوږۍ درکوي نو لاس او پښې ورته ښکل کړه، په زوره زوره مې وژړل او وژړل ځان راته په دې ټول نړۍ کې یوازې ښکاریده هر خوا ته مې چې کتل نو راته زور او زیاتې ښکارېده، پلار او کورنۍ مې نه غوښتم او ژر یې ځان راڅخه بیغمه کوو، فاتح ورلم ترڅو د کور نوکره یې شم.

پوهېدم چې هلته په تګ د هغه د مور نخري راباندې پیل کېږي او فاتج به تماشا کوونکي جوړېږي د هغوي د ظلمونو چې پر ما یې کوي، په دې ټولو خبرو پوهېدم خو نور مې وجود کې د مقابلې انرژی نه وه پاتې. زړه مې تر هغه حد ډک وو چې یوازې مې غوښتل خوله بنده کړم او یوځاې خاموش پریوځم، او یو سره لیکه خپل شاوخوا راکش کړم او ولیکم چې زما خوا ته مه راځې، او مه هم راسره خبري کوې.
او خپل پر حال مې پرېږدې، زه د دې ټول نړۍ څخه نامیده شوي یم.

دوه شیان زموږ ژوند کې نعمت دې البته زما ژوند کې نعمت وه چې اوس هغه هم راڅخه خدای اخیستې وه، یو ژړا، چې کله انسان ډېر زړه تنګ شي نو ژاړي او په ژړا باندې زړه سپک کېږي او هغه ستونزي څه ناڅه لیاده وځې، خو زما ژړا زما زړه نور هم ډک کاوه هرځومره مې چې ژړل هغومره مې خپل بدبختۍ یاد ته راتلل، او دویم خوب! کله چې انسان د ټول نړۍ څخه نامیده شي نو خوب هغه وسیله ده چې موږ د دې نړۍ څخه جدا کوي او د څه وخت لپاره مو د بېخبرې نړۍ ته وړې، خو اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب هم حرام وو، خوب هم زه بيرته همدی نرۍ او همدې خلکو ته راوستم البته په بل جسم او شخصيت.

ماښام خواته مور مې راغله بيچاره مور مې فکرې کړې وو چې زه خپل د واده د خبر په اوريدو غمجنه او خفه يم! راغله او ماته يې نصيحت پېل کړو او دلدارۍ راکول، خو ما هېڅ نه ويل نه پوهېږم ناڅاپه ولې داسې شوم؟ خپله هم حيرانه وم، غوښتل مې خبري وکړم خو يو حس مې ويل هېڅ فايده نلرې هېڅوک تا نشې درک کولې ستا هره خبره ستا پر ضد ده، ستا هر خبره و دوې ته بې شرمې او کفر ښکارې. دا خبرو هڅه ولم چې خاموشې اختيار کړم، او هېڅ و نه وايم. مور مې د نيم ساعت خبرو او دلدارۍ راکولو وروسته کله چې زما له خولې يو سپړ هم وانه ورېدو د کوټې څخه لاړه.

د هغې د تلو وروسته د موبايل زنګونه مې يو د بل پسې په ټنګ، ټنګ شروع شوه، پوهېدم چې فاتح دې خو حوصله مې د هېڅ شې نه درلود، موبايل مې بند کړو او فکرونه مې پېل کړل.

***

درې ورځې ما داسې حال باندې تېر کړل چې لفظ خبره مې د چا سره ونکړل، نه په خوب کې مې خبره وکړل نه په ويښه. فاتح څو ځله زمونږ کور ته په بېلابېلو بهانو راغلو او هرڅومره چې کوښښ يې وکړو ترڅو ما د پخوا پشان په خبرو کړې خو ناکام شو، د هغه و هر خبري ته ما سر خوځاوه او د هغه هر امر مې بغير د چون او چرا څخه منلو، راغلو او د دې لپاره چې ما په خبرو کړې ويې ويل" زما واده کې سپين کالې بد راځې چې ناوي واچوي!" منتظر وو زه د تل پشان بې شرمې وکړم او ژبه ووهم او بحث وکړم، خو ما يوازی ورته وويل سمده هر رنګ چې ستا خوښ وې همغه رنګ کالې اغوندم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې دا پلان يې ناکام شو نو د بل بهانې سره راغلو او ويې ويل "زما د ښځو د سينګار څخه بد راځي نو د واده په ورځ زيات سينګار مه کوه" ما بيا هم بغېر د کوم مخالفت څخه وويل"سمده آرايش نه کوم." پوهېدم چې فاتح غواړې په دې رقم خبرو ما تحريک کړې ترڅو ورسره ژبه ووهم او جنګ وکړم، خو خبر نه وو چې ما د دې ژوند څخه نور لاس مينځلې وو، او بغير د مخالفت مې د هغه هر خبري ته غاړه کېخودل. ا بل دا چې هسې هم طالبانو آريشګاوي بندې کړې وه، نو که ما غوښتلې هم وايې آريشګاه نه وه، او ما هم کوم شوق او هيجان و دې واده ته نه درلود چې وغواړم بې شرمې وکړم چې نه زه بايد فلانکې کالې واچوم او بيستانکې اريش وکړم.

هغه چې هر رقم بنې اسرائيلې شرطونه او خبري وکړل ما يواځې د يو کنيزط او نوکرې پشان ورته "هو صيب"سمده صيب "وويل بس. پلار مې امر وکړو ما ويل په سترګو، ورور مې خبره وکړل ما ويل په سترګو، مور مې خبره وکړل ما ويل په سترګو، فاتح امرونه وکړل ما وويل په سترګو، خواښې مې د نکريزو په شپه زما د لاسونو لځايه لومړۍ نکريزې د عايشي په لاسونو ووهل ما هېڅ ونه ويل، کوم کالې چې د نکريزې د شپې لپاره ماته اخيستل شوي وه، د همغه دوکان څخه بهترينه جوړه يې زما خواښې عايشي ته اخيستې وه ما څه ونه ويل، د فاتح خويندو په محفل کې د دې لځايه چې زما مخکې نڅا وکړې، او ماته ورېندار و وايې د عايشي شاوخوا وګرځېدل او هغه يې کش راکش کړل خو ما هېڅ ونه ويل.

خو د هغوي کار تر دې حده بې احترامې او سپکاوي وو چې پر مور مې لا دهغوي کارونه بده ولګېدل او تر منځ يې لږ لفظي شخړه پېښ شول، خو ما هېڅ ونه ويل، زما د واده ورځ داسې وه لکه فاتح چې د عايشي سره واده کړې وي او اوس خپل د پلار او خلکو په جبر زما سره دويم ځل واده کوي! همدومره خراب همدومره کرکجن، زما خواښې د دې لځايه چې خوشحاله اوسيږي چې د زوی واده يې دې، تندی درې من تروش نيولې وو، لکه زه چې د هغې په خورزې باندې د بنې په توګه ورغلې اوسيږم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته دا حال یوازې زما د خوابښي نه وه بلکې د فاتح د ټولو ماماخیلو همدا حال وو، د ټولو څخه حیرت مې عایشي ته راتلو داسې راکتل لکه یو بنه! داسې حال کې چې هغه زما د خاوند پسې وه نه زه، د هغې دومره وقاحت او سپین سترګي ته مې غوسه راتلل خو بیا مې زړه ویل شاید دوي خبره کړې وي، شاید فاتح غوارې د هغې سره واده وکړي؟ شاید کوم امید یې ورکړې وي؟ کنه یوه جنۍ دومره جرئت کله کولې شي چې داسې د یو نر پسې خپل نوم وتړي! او ټول کورنۍ او خپلوان یې هم د هغې پر خوا اوسېږي؟ ضرور فاتح خپل مور ته ویلې چې دا مې راواده کړل پر سبا یې راته روقیه وکړه؟

د هغه څخه هېڅ کار هم ناممکن نه وو، په هغه اخلاقو یې او دا چې بیا خپل د مور خوا او سیل هم دومره نیسي بېخې نو دا شک مې په رښتیا بدل کېدو. پوهه نشوم چې واده کې مې څه ډوډۍ ورکول شوه؟ او څومره کسان راغلل؟ او څوک وه او څوک نه؟ لکه بت پشان خپل د کوټې کونج کې ناسته وم شبنم او سیرت په زور راباندې یوه جوړه شنه کالې چې فاتح اخیستې وه راباندې واغوندل او لږ سینګار یې هم خپل په رقم راته وکړو، بس همدا زما واده وو، نه کوم شوق وو نه کوم خوشحالۍ.

د خداې پامانې وخت کې مې یو څاڅکې اوښکه هم توې نکړل، د څه پسې مې ژړلې وایې؟ د هغه پلار پسې چې ماشومتوب کې زه خپل د غاړې لرې کړم او خپل په وراره یې خرڅ کړم؟ هغه پلار چې عمر کې یو ځل لا زما په سر د مینې او شفقت لاس نه و تېر کړې. یا د هغه ورونو پسې مې ژړلې وایې چې د دوې په مخ کې فاتح په لس ورونو ځله زه وهلې وم او دوي زما د خوا نیولو لځایه زما د وهلو تماشا کوونکې وه. یا که د هغه خور لپاره مې ژړلې وایې چې تل یې زه یوازې پریخودلې وم او خپله د دې منحوس کور څخه یې سترګي پناه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور غیرېه کې مې هم و نه ژړل له دې چې خپل قومې خوشې کړې وه او راغلې وه زما د دې بې سواد قوم او بې سواد پلار ښځه شوی وه او یو عمر یې کنځل خوړلې وه او خپل ماشومان یې هم په سر وهل او ویل یې که خاوند مړه کولې نو د دې لځایه چې منع یې کړې چاړه هم په لاس ورکړه، ورځخه مې زړه نیولې وو. زما د مور کورنۍ او اقوام ډېر تعلیم یافته او با سواد خلک وه، هغوي زموږ د کورنۍ پشان داسې نه وه چې د جنۍ درس ویلو ته په بده سترګه وګوري هغوي زیاتر انجونۍ پوهنتون ویلې وه، خو زما د مور د بد قسمت ځخه دا زما د پلار ښځه شوه او داسی بلاوي په سر راغلل. د سیرت غیرېه کې مې وژړل د شبنم سره د خدای پامانې وخت کې مې وژړل، بس همدا دوه نفر مې د ژړا لایق بلل او بس.

فاتح سپین کالې او تور واسکټ اچولې وو په تروش تندې د ګل پوښ موټر ځنګ کې ولاړ وو، خپل کالو ته مې وکتل چې شنه جوړه وه! ما خپل د واده په ورځ سپین جوړه وانچول، ما خپل د واده په ورځ سینګار ونکړو، ما خپل د واده په ورځ په خوشحالۍ چیرته په پټه ونه خندل او زړه مې خوشحاله نه شو، فکر مې کاوه په بدو کې واده شوی اوسیږم هغه هم هغه سړی ته چې یوه ښځه لرې.

بغیر د ځه ویلو د موټر خوا ته روانه شوم، موږ رسم درلود د پلار له کور ځخه ناوی د خسر کور ته نبغ په نبغ نه وړې بلکې په موټر کې لږ ځرخه وې په ګل پوښ موټر کې او یو ځو نور موټر هم ورپسې روان کېږي او په دا ډول ښکاه کېږې چې دا تازه ناوی ده موږ کونډېه او هغه ناوی چې بدل کې وی هغه بغیر د ساز او سرود مخامخ د پلار له کور ځخه د خسر کور ته وړې، خو د دوه سړکو ځخه د تېردو وروسته فاتح په تروش تندې خپل ورور ته وویل موټر د کور خواته وګرځوه او بس دې.

فاتح د دې لځایه چې زما سره شاته سیټ کې کینې خپل د ورور سره چې تازه د خارج ځخه زموږ د واده لپاره راغلې وو په مخکې سیټ کې په تروش تندې ناست وو، زه یواځې په شاته سیټ کې ناسته وم، دا هم زما واده! سر مې ګنګس وو زړه مې غوښتل ویده شم خو امکان یې نه درلود ځان مې لږ د موټر د ښیښې خواته کش

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو او خپل سر مې پر ښېښه تکیه کړو احساس مې کاوه جسم مې د سر وزن نشي برداشت کولې او سر مې په ټول بدن دروند دې.

د ښېښې د شا څخه په هغه تپه تیاره کې مې هغه خلکو ته کتل چې ځېنو به خندا ځینو په حسرت او ځېنو په امید زموږ ګل پوښ موټر خواته راکتل، پوهېدم ټولو به ویل دا دومره لوکس موټر او دا دومره خلک چې د موټر شاته مخکې ورپسې دې حتماً خانان خلک دې او څومره به خوشحاله او خوش نصیب وې! خو نه پوهېدل چې زه چمتو وم د سرک د غاړې هغه سوالګره اوسیږم خو نه دا ګل پوښ موټر کې ناسته ناوې ...

– مخ دې د ښېښې څخه را واخله خلکو ته ښکارې.

د فاتح په قهرجن غږ په تلوار د موټر د ښېښې څخه لرې شوم، د فاتح د ورور مصطفی غږ مې واورېده چې فاتح ته یې په نرمه او خندانه لهجه وویل: هغه درې من شال او ټېکری پر مخ دې، بلخوا هم شپه ده ولاکه چاته ښکاره شې او دیخوا موږ هم په تېزۍ روان یو، نو دومره به چا دروبین د وریندارۍ مخ ته نه وې لګولې، پرېږده لږ ارام وکړې دا د افغانستان ودونه خلک د لاس او پښو اچوي.

د هغه د خبرو په ځواب کې هېڅ هېڅ و نه ویل زه د ښېښې څخه لرې شوم او خپل د سر ټیکري مې لا پسې خپل په مخ را کش کړو، خپل سر مې ښکته واچو نظر مې خپل په سره کړو پښوا ولګېد، مور مې پرون ماښام په زوره راته لاسونه او پښې سره کړل، که څه هم ما نه غوښتل، سترګو کې مې اوښکې ډنډ شول، زړه کې مې وېره وه د راروان حالتو څخه خواښې مې تر کوره پرینخودم او همغه د واده په شپه یې هم خپله او هم لورګانو یې راسره د دښمنې اعلان کړې وو.

د مصور ښځه هم لږ د دوې پر خوې او بوې وه او لږ داسې چینجن کارونه یې کول، خو نور د لیوره ښځې چې خارج کې اوسیدل هغوې داسې نه وه، لکه د مصطفی ښځه چې یو تعلیم یافته جنۍ وه، زما سره یې ډېر ښه رفتار وکړو او بیحد مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خوش اخلاقه وه، حق هم داسې دي د ليوره ښځه نو پر ما څه کار لرې چې وغواړې تندي راته تروش کړې يا خوله راته کږه کړې؟ البته خوابښې او ايندرورګانې هم حق د اسلامي نظر خو نلرې خو د پښتنو له نظر د خاوند څخه لا زيات حق همدا او د دې لورګانې لرې.

د فاتح پر غږ پر خود شوم، موټر د هغوي د کور مخکې ولاړ وو. د خولې لاړې مې تېر کړل يو خو معمولې زندان وې لکه زما د پلار کور. بل بيا د غټ مجرمانو لپاره خطرناک زندان وې چې بيخې د خلاصون او تيښتې لاره نلرې لکه د اوس وخت زندان ګوانتانامو! چې د فاتح دوي کور هم همغه زندان ګوانتانامو وو، دلته په يو وخت کې درې حکومتونو پاچاهې کول لومړۍ د فاتح د پلار يعنې زما د مشر کاکا ديکتاتوری نظام، بل زما د خوابښې شوروي نظام او دريم د فاتح نيم اسلامي او نيم مغلوې نظام. البته په دې منځ کې يو څه جاسوسي انتظامات هم قايم وه، لکه د فاتح خويندي!

— څه استخاره کوې راښکته شه.
د فاتح پر غږ نور زړه نا زړه اوسيدل مې پريښودل او د موټر څخه راښکته شوم.

زموږ د راتلو څخه مخکې د کور نور غړې رارسيدلې وه، کور ته ننوتلم د کور د ماحول څخه دومره ورخطا نه وم، زما وېره په دې کور کې د موجود کسانو څخه وه، کور سره څه ناڅه بلده وم دا يو مياشت کيدل راتلم، البته که څه هم خوب وو خو بيحد رښتيا ښکارېده، فاتح بغير د څه ويلو خپل د کوټې خواته روان شو، ما حيران، حيران شاوخوا کتل نه پوهېدم څه وکړم؟ ګل بې بې عمه مې خوا ته راغله او زه يې له لاسه ونيولم، ټول کسان خپل کوټو خوا ته روان وه او لکه چې غوښتل يې ويده شي. ما ځان سره فکر وکړو چې ايا د يو نوې ناوې سره داسی کيږی؟

د دی وضعيت څخه دومره غمجنه نه وم څومره چی د عايشي شتون غوسه کولم، نور هېڅوک نه وه راغلې يوازی دا راغلې وه، زما د ماما زامنو هم ودونه وکړل ولاکه يې ما کور ته شپه کړې وې، خو دا ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې دومره آرایش او دومره په نخرو خبرو ته حیرانه وم، عمه مې د فاتح د کوټې خواته ویورلم او همغه لاره، لاره کې راته یو څو نصیحتونه وکړل او د دې څخه مخکې چې لاړه شې یو سپین د سمال یې هم زما لاس ته راکړو او په بېحد کرار غږ یې وویل: دا کار ستا د مور وو چې راشې او دا خبرې درته وکړې، خو خپل پلار خو پیژنی ستا مور ته یې اجازه ورنکړل.

خپل د پلار خبري مې یاد ته راغلل د خدای پاماني مخکې مور مې غوښتل موټر کې زما سره کینې او راشې، زمور رسم و خور یا مور د ناوی سره د خسر کور ته د یو څو ورځو لپاره ځې خو پلار مې مور ته وویل"دومره لرې مو نه ده ورکړې چې ته اوس ورسره روانه یې، دوه قدم لاره ده سهار بیا لاړه شه."

د هغه خبرو په یاد راورلو پر شونډو مې پوسخند راوسته، چې عمه مې زما لاس کې هغه سپین دسمال ته اشاره وکړل او ویې ویل: سهار بیا دا دسمال خپل خواښي ته ورکړه.

د عمه په دې خبري د شرم څخه مې سر ښکته کړو، او نرۍ خوله مې د ملا په تیر راغله، زړه مې غوښت ځمکه وچوې او زه پکې ننوځم دومره د خجالت او شرم احساس مې درلود. هغې په مهرباني زما تندی ښکل کړو او زه یې کوټې خواته هدایت کړم، په تلوار کوټې ته ننوتم او دروازه مې بنده کړه، د هغې د پښو غږ مې واوریده چې کرار کرار د کوټې د دروازی څخه لرې شوه، تراوسه د شرم څخه مخ مې تک سور وو، خپل لاس کې هغه سپین دسمال ته مې وکتل د دې رواج څخه کرکه لرم زه د پښتنو د زیات رواجونو سره کرکه لرم خو دا یې زما په نظر په ټولو کې بدترینه دی.

دا بېحد شخصي موضوع ده او دا چې حتا ستا د خوب د بسترې په شیانو هم دوي کار ولري دا نو بېحد رزالت دې، د یو جنۍ پاکي او ناپاکي یوازی د هغې په خاوند باندې مربوط ده نه په خواښې او نه هم پر بل چا. خدایه د هر هغه کارونو څخه مې چې کرکه درلود هغه ټول دې زما پر سر راوسته، بیا مې خپل و لاس کې هغه سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسمال ته وکتل او د کرکي او غوسي څخه ټول بدن مې ولړزېده بې اختیار مې د شونډو لاندې ځان سره وویل: کرکه لرم ستاسو د دې کارونو څخه کرکه لرم ...

— د چا د کار څخه کرکه لرې؟

د فاتح په ناڅاپه غږ له وېرې څخه و پرېډم، تازه مې د هغه شتون ته فکر شو چې کرار د کوټې پر پالنګ پروت وو او په مشکوک او شکمن انداز یې زما خواته راکتل، د هغه په لېدو په تلوار مې هغه سپین دسمال خپل شاته پټ کړو، خو لکه چې هغه زما د لاس خواته فکر شو ځکه تندی لا پسې تروش کړو، او په تمه وو ترخو زه یوڅه ووایم خو زه بغیر د څه ویلو ولاړه وم او ورته کتل مې، تل مې کیسو کې، فلمونو کې، ډرامو کې لېدلې او اورېدلې وه چې ناوي په کوټه کې په تمه وې او زوم راځې، د هغې د مخ شال لرې کوې.

خو دلته خبره سرچپه وه دې پر پالنګ پروت وو او زه د کوټې د دروازې سره ولاړه وم! بغېر د څه ویلو د سینګار میز خواته روانه شوم، په دې درې ورځو کې پلار او مور مې په تلوار دا دومره د واده خرید وکړو البته زما د واده تیاری دوې شل کاله مخکې پیل کړې وه هره ورځ یې یو شې اخیست چې دا بیا تاته درکو واده کې، دومره شیان مې اچولې نه وه خو همدا غاړګې او غوږوالې پعذاب کولم دوه ټېکرې راته په سر اچولې وه یو نرۍ شال وو خو دا بل ډبل ټیکری و چې زیات د فاتح د پېټو پشان وو نه ټیکرۍ.

سپین دسمال چې عمه راکړې وو هغه مې د سینګار میز په روک کې کیخود بغیر له دې چې د فاتح خواته وګورم خپل د غاړې غاړګې مې غوښتل خلاصه کړم چې خپل شاته مې هغه احساس کړو او بیا د هغه نارینه لاس چې زما پر لاس کیخودل شو ترخو غاړګې خلاصه کړې.د هغه لاس چې زما پر مغزی ولګېده ټول بدن مې ولړزیده خپل شونډه مې وچېچل، خپل په لاس مې سینګار میز کلک ونیو زړه مې غوښتل لاس یې ټېله کړم او چیغه کړم ورباندې چې ماته لاس مه راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه تازه احساس چې دا څو ورځي کېدل زما وجود کې پیدا شوی وو د دې کار څخه منع کولم او راته ویل یې دا دې خاوند دې ستا په دې منع کولو او بې شرمې هېڅ نه کېږي، یوازی خپل ځان د دې څخه لا زیات ذلیله کوې. په دې فکر مې سترګي کلکې وتړل د هغه ګرم سا مې خپل د غوږ شاته محسوس کولې شوه، غاړګې ختا کړل او بغیر له دې چې لري شې خپل سر یې زما پر اوږې کیخود او پر یو لاس یې زما زنه ونیول، سترګي مې خلاصې کړې هنداره کې مې د هغه څهره واضح لېدلې شوه، د هغه سترګي په هنداره کې زما سترګو ته خښې وه او بیا کرار او په دروند غږ چې زما د غوږ څنګ ته پورته شو او زما ټول بدن یې ولړزوه وویل:

فاتح- تر کله غوارې د چوپتیا روژه ونیسې؟

ځواب مې ورنکړو چې هغه خپل ژوره سا زما د غوږ څنګ ته وکښل او سر یې زما د اوږې څخه پورته کړو، زما د غوږوالیو په لرې کولو اخته شو او همغه حال کې وویل: فکر کوم د دې هندوستانیانو رقم دې خپل خاوند ته روژه نیولې؟

بیا مې هم څه ونه ویل چې د هغه نرمه خندا مې تر غوږ شوه.

فاتح- هغوې یو رسم لري نه پوهېږم کومه ورځ ده په هغه ورځ ښځه خپل خاوند لپاره روژه نیسي، البته زما په نظر هغه ورځ خبري هم نه کوی!
بیا یې کرار وخندل او ویې ویل: څنګه تا هم هغه کار کړې؟

په دروند نظر بغېر د څه ویلو مې ورته وکتل، زما د داسې خاموش نظر په لېدو د هغه حوصله خرابه شوه او ویې ویل: ولې خبري نه کوي؟ ها؟
— څه ووایم؟
فاتح- شکر چې غږ دې وکړو فکر مې کوو ګونګه شوي یې.
بیا مې هم هېڅ ونه ویل، چې هغه وویل: تا د هغه ورځي خبري دا یوه هفته کېږي چې په زړه نیولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په بیا ځواب نه ورکولو هغه کرار وویل: ما درته هغه دقه وویل چې کوم خاص مطلب مې نه درلود او وبخښه، بیا ولې تراوسه غوسه یې؟

بیا هم بغیر د څه ویلو مې ورته کتل چې هغه په غوسه ناک انداز خپل ویښتیانو کې لاس کش کړو، حیرانه وم ورته همدا ده به تل ویل" کوم ورځ به راشي چې ستا د دې مار پشان ژبه بنده شي؟" نو نن بنده شوي وه البته دا څو ورځي کېدل چې بنده شوي وه بیا ولې داسې غوسه وو؟ او غوښتل یې زه خبري وکړم؟ دې خو باید خوشحاله وایې خپل ارمان ته ورسیدو، په دې فکر مې پر شونډو پوسخند خپور شو چې هغه په غوسه راوکتل او ویې ویل: زما د دې حالت څخه خوند ورې؟ له دې چې دا احساس راکوې چې پر تا مې ظلم کړې او زه یو بد خاوند یم؟

بیا مې هم څه ونه ویل چې هغه د کټ خواته ټیله کړم، او په شیطان لهجه یې وویل: خبري نه کوې؟ سمه ده بیخې له سر کوه مه څوک دې د غږ پسې مړه دې؟ اصلاٍ اوس تازه هغه ښځه شوي کوم چې ما غوښتل، ارامه او عاجزه، ښځه باید یوازی "سمده" په سترګو" ووایي او بس.

د هغه په دې خبرو مې سترګو کې اوښکي راغله، که څه هم پوهېدم همداسې جاهل دې خو توقع مې نه درلود داسې مخامخ راته ووایې، رانږدې شو غوښتل مې منع کړم خو بیا هم همغه لعنتي احساس د هر رقم کار او خبري څخه منع کړم، فاتح لکه هغه حیوان په نظر راته کتل لکه زمري چې خپل په لومه کې راګېر شوې هوسۍ ته ګورې، هغومره شرور او ناپاکه، داسې نظر چې زما د وجود ځانګه، ځانګه او ریښه، ریښه یې ولړزول.

فاتح زما پر شونډو سترګي خښې کړې وه، بغیر له دې چې زما خراب حالت ته پام وکړې په داسې لهجه چې زما زړه یې سینه کې په ټوپونو کړو ویې ویل: شل کاله کېږي د دې شونډو په ارمان وم، شل کاله کېږي د دې شپې په ارمان وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خپل د دې خبرې سره سم زما خواته رانږدې شو د هغه د هر ګام رانږدې کيدلو سره زما معده سوځېده او فکر مې کاوه نږدې ده ټول هغه خوړلې او ناخوړلې شيان قې کړم، د هغه لاس چې زما پر لاس کيخود شول زما زړه راته وويل ورته زارۍ پيل کړه، ورته ووايه بد مې کړې خير دې خوشې مې کړه، د هغه د سا اخيستلو څخه مې لا کرکه راتلل، د هغه د خبرو څخه، ناز ورکولو څخه، مهربانې څخه د هر شې څخه مې کرکه کيدل، هغه چې زما په ظاهر تسليم شوی حالت خو سترګو کې کرکه ولېدل، لاپسې وحشي شو، خپل غوسه، خشم او قهر يې غوښت په هغه رقم پر ما خالي کړې

هرڅومره چې کوښښ يې وکړو ترڅو شايد زه وژاړم يا زارۍ وکړم يا حتا يوه بله خبره وکړم خو ما هېڅ ونه ويل هېڅ، کله چې کار يې خلاص شو او لکه  يو وحشي ځناور پشان په ستمې راڅخه لرې شو، زما اوښکې پر مخ وبهېدې، خپل ټول ژوند مې په بربادې کې ليده، خپل سر انجام مې هغمه قوطي ګولې او ځان وژنه لېدل، لځايه پاځېدم د سينګار ميز خواته لاړم او د لاندې روک څخه مې سپين دسمال راوخيست، اوښکې مې بې اختياره پر مخ په بهېدو وه، هنداره کې مې خپل رنګ پرېدلې څهرې ته وکتل، نور راته ځان په هنداره کې نه ښکارېده فکر مې کاوه هغه بلقيس چې پېژندل مې مړه شوی، شايد نن ماښام د هغې پاتې اخری نښې هم لمېنځه لاړل ...

***

سهار د مولا د آذان څخه مخکې د کوټې د دروازی خرپ مې واورېده او پوهه شوم، چې زما د جسم او روح قاتل له کوټې ووت، هغه هم تندی تروش نيولې او خفه وو، البته د هغه خفګان زما سره د کړې کار له امله نه وه، بلکې هغه خفه وو ځکه د خوب په نړۍ کې ما همدې کور او کوټې ته دې د ناوی په شکل راوستې ووا! شايد که پخوانې حالت کې وايې د دې خبرې پسې مې ښه په زوره خندلې وايې له دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب کې فاتح مجبوره شو سینګار وکړي،سپین جوړه جامې واچوی، او خپل کور ته را وداه شې، خو اوس راته دا خبره دومره د ارزښت وړ نه وه، اوس راته دا خبره با ارزښته وه او مهمه چې زه به هېڅکله فاتح د دې کار لپاره ونه بخښم هېڅکله هم نه، او نه به خپل کورنۍ وبخښم او نه هم د ده کورنۍ، که زه هم د خدای بنده اوسیږم او خدای راته څه حق او حقوق راکړې وې نو زه له خدایه خپل حق غواړم نه د هغه د بندګانو څخه، د هغه بندګان د انصاف کولو جوګه نه دي.

سهار شپږ بجو خواته خوابنې مې په پوسخند او سپک کونکي انداز زما کوټې ته راننوتل، او داسې حال کې چې راباندې چغې وهل او ویل یې پاخه دا ستا د پلار کور نه دی چې تر غرمي ویده یې، د هغه سپین دسمال غوښتنه یې وکړه، زړه مې نه منل چې داسې کار دې وکړم، که هغه پخواني بلقیس وایې قیامت مې جوړه وو، داسې کار به مې کړې وایې چې دا خپله خپل د دې کړې خبري څخه پښېمانه شوی وایې خو هغه بلقیس فکر مې کاوه کلونه، کلونه کېږي چې مړه شوي، او ما لیاده وتې چې داسې کوم شخص هم یو وخت موجود وو.

په کرار ګامونو د سینګار میز خواته نږدې شوم، د میز روک مې خلاص کړو او هغه سپین دسمال چې اوس په څو ځاځکو وینو لړل شوي وو خپل د خوابنې خواته ونیو، له خدایه مې غوښت چې یا ما واخلې یا دا جاهل قوم چې زه یې تر دې حده یو سپک عمل تر سره کولو ته اړ ویستلې وم برباد کړې، خوابنې مې په تلوار دسمال زما له لاسه واخیست او په خبرو لګیا شوه، خو زما حالت دومره خراب وو چې همدلته د سینګار میز څنګ کې پر ځمکه کښیناستم، خوابنې مې یو څه نور چتیاټ هم وویل او له کوټې ووته، زه پاتې شوم او دا ژړا چې د راتلو نوم یې نه اخیست فکر مې کاوه چیغه او فریاد مې په ستونې کې بند شوي، او هرڅومره کوښښ مې چې کاوه نه مې شو ژړلې.

ګنګسه وم، زړه مې غوښت خدای یو معجزه وکړې او دا حالت خلاص شې، زړه مې غوښت کاش بیرته ماشومه شم او خپل د مور غېږه کې سر کېږدم او هغه راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویښتیان ګمنځ کړې او راته کیسې وکړې، ځان راته د ټول نړۍ بدبخته ښکارېده دومره مې بدن درد کاوه او دومره کمزوي شوي وم چې لځایه د پاڅېدو توان مې نه درلود، هملته د سینګار مېز سره ناسته وم او ژړل مې چې ناڅاپه د کوټې دروازه خلاصه شوه، د دروازې په خرپ په تلوار خپل اوښکې مې پاکې کړل او لځایه پاڅېدم فکر مې کاوه فاتح راغلې؟ نه مې غوښتل هغه زما دا حال وګورې او بیا خپل خرتوب را وښايي.

خو کله چې مې د عایشي طعنه امیز غږ واوریده فکر مې وکړو ځمکه او آسمان مې پر سر چپه شول، هغه دلته زما کوټه کې په دې سهار وختي څه غواړې؟ په تلوار مې مخ ور واړو هغه کوټې ته راننوتل او داسې حال کې چې په پوسخند یې راکتل د کوټې شاوخوا په ګرځېدو شوه، د پالنګ خواته ورغله همغه خوا ته چې فاتح پروت وو هملته کښېناستل، ژوره سا یې واخیسته او ویې ویل: د فاتح بوی کوې! دیخوا پروت وو کنه؟

د هغې د دې دومره بې شرمي او سپین سترګي څخه مې سترګي له حیرت خلاصه پاتې شوې، ځنګه تر دې حده بې شخصیت کېدې شې چې زما کوټې ته، زما د خاوند ځاې ته راشې او زما د خاوند د ویده کیدو او د بدن د بوی په اره خبري وکړې؟ هغې چې زما حیرت زده څهره ولېده نو په همغه مرداره پوسخند بغیر د کوم ځنډ وویل: د یو چا صاحب اوسیدل مهمه نه ده، مهم د هغه شئ او کس لیاقت درلودل دي، چې ته یې نلرې. ته د فاتح لیاقت نه لرې هغه تا نغواړې، فاتح د خلکو د شرم او خپل د پلار د کړې قول په خاطر ستا سره واده وکړو کنه، ټول پوهېږي چې فاتح ما غواړې نه تا، خو پوهېږي ما پر تا زړه سوځېږي.

په همغه تحقیر لرونکي انداز یې راوکتل او ویې ویل: پر تا هم اجبار او زور زیاتې شوې، زه پوهېږم چې ته هم فاتح نغواړې.

د هغه په دې خبري غوښتل مې خوله خلاصه کړم اوووایم ته حق نلرې زموږ شخصي موضوع کې لاس وهنه وکړې، خو ناڅاپه رایاد شول چې ما نن خپل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصي ژوند او بیحد خصوصي او شخصي موضوع په اړه کوم چې اسلام د هغه په اړه ویلې وه چې باید د ښځې او خاوند منځ کې راز اوسیږی او هېڅوک یې په اړه خبر نشي او نه دې هم دوي د هغه موضوع په اړه چاته خبري وکړې، ما نن د هغه کار دلیل او ثبوت دوه لاسه خپل د خوابشې په لاس ورکړې و، نو نور حریم شخصی چیرته ما ته پاتې وو؟

عایشه- ګوره زه دلته د جنګ په خاطر نه یم راغلې زه راغلې یم ترڅو ستا سره مرسته وکړم.

په مشکوک نظر مې بغیر د څه ویلو وروکتل، دا راغلې زما سره مرسته وکړې؟
– څنګه مرسته؟
زما په پوښتني د هغې لږ تمه پیدا شوه او په خوشحالۍ وویل: ګوره ته فاتح نغواړې هغه هم تا نغواړې، اورېدلي مې دې ته په انسټیوټ کې پر یو هلک مینه وې!؟
د دې خبري سره سم یې په شیطانی خندا وویل: البته پر ما مربوط نه ده ستا مینه او مینتوب زه غواړم پر تا احسان وکړم او درته لاره جوړه کړم ترڅو ته خپل میني ته ورسیږی او زه خپل.

په سر کې مې د هغې خبري ګرځېدل راګرځېدل "اورېدلي مې دې ته په انسټیوټ کې پر یو هلک مینه وې!؟" البته پر ما مربوط نه ده ستا مینه او مینتوب زه غواړم پر تا احسان وکړم او درته لاره جوړه کړم ترڅو ته خپل میني ته ورسیږی او زه خپل."
– دا ته څه وایې؟
عایشي په خندا وویل: دلته څوک نشته چې خبره ورڅخه پټه کړې،ټول کلې خبر دې چې ته پر یو چا مینه شوی وې..

بیا یې په یو مکار لهجه وویل: ګوره بلقیس زما تل ستا شخصیت او اخلاق خوښېږي، ته نه پرېږدي څوک دربانديِ زور ووایې او نه هم پرېږدي څوک دربانديِ په جبر یو کار وکړې. فاتح او ستا ذهنیت ډېر فرق لرې ته یو تعلیم یافته او باسواده جنۍ یې، او فاتح که څه هم تعلیم کړې خو تر اوسه د اطرافیانو پشان تریخ مزاج او بدخلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، ته ولې غوارې خپل ژوند د هغه سره تباه کړې؟ زه درته لاره خلاصه وم خپل د مېني سره لاړه شه او دا ژوند چې سراسر پکې ظلم او ستم دې پرېږده.

غوښتل مې ورته ځواب ورکړم چې ناڅاپه دروازه خلاصه شوه او فاتح راننوت، د هغه په راننوتلو عایشه په تلوار د پالنګ پاڅېده او په یو ناز او نخرو د فاتح خوا ته ورغله او ورسره خبري پیل کړل، چې ما د حیرت خوله خلاصه پاتې شوه، دا باید تللې وایې هندي فلمونو ته دلته څه کوي؟ خو فاتح بغیر له دې چې د هغې خبرو ته کومه توجه وکړې په تروش تندی لومړۍ زما خواته او بیا د کوټې خواته کتل، د عایشې په هغه ډول خبرو کولو زما خوا وګرځېده زړه مې غوښتل قي ووهم.

عایشه په شیطانه لهجه وویل: د ماما زو د واده په اول سهار څوک خپل ناوی یوازی نه پرېږدي، خلک ښه ګمان نه کوی.

فاتح داسې حال کې چې د دروازی له مخې لرې کېده او هغې ته یې د وتلو لاره ورکول په تنده لهجه یې وویل: چا ویلې ما یوازې پریخودلې؟
بیا یې خپل د لاس پلاسټیکونه پورته کړل او داسې حال کې چې د عایشې مخکې یې ښوراوه ویې ویل: شاید تللې وم د واده په لومړۍ سهار خپل د میرمنې د زړه او فرمایش خواره ورته راوړم.

د فاتح په خبره د عایشې د غاښونو د چېچولو غږ مې واضح واوریده، خو د دې څخه مخکې چې کومه خبره وکړې فاتح وویل: البته پاتې سوه د خلکو خبره، نو د ماما لورۍ ماته د خلکو داسې بیځایه خبرې د سپی د کورنچېدو هومره هم ارزښت نه لرې، که زحمت کم کړې غوارم خپل د ښځې سره صبا نارې وکړم یوازی ...

د فاتح په خبرو چې واضح ویل ورکه شه زما له کوټې څخه، عایشه په غوسه د کوټې څخه ووتل او دروازه یې داسې بنده کړل چې د ټک څخه یې زما اوږې وپرېدې، او د فاتح غږ مې هم واوریده چې د شونډی لاندې په غوسه وویل: دا هم د ترکې سریالونو برکت، ای لعنت دې وې پر شیطان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې په تلو فاتح تازه زما خواته فکر شو او په ټُنده لهجه يې وويل: ته دومره عقل نلرې کله چې زموږ ځايونه هوار دې نه بايد څوک کوټې ته پرېږدي، بلخصوص دا، خو تا د اجازه ورکولو سره مجلس هم ورسره پېل کړې؟ يو شئ په نوم د شخصي حريم وي! ځېنې شيان بايد د ښځې او خاوند منځ کې راز اوسيږي او د دې کوټې څخه دباندې و نه وځې، ته څنګه تر دې حد ساده کېدلې شې چې، سهار داسې حال کې چې زموږ د شپې د خوب ځايونه هوار دې يو نفر کوټې ته پرېږدې، دا خبرو باندې ستا سر نه خلاصېږي؟ دا خبري هم بايد زه درته وښايم؟ اصلاً تا په دې سهار وخت د هغه شلی..

فاتح خپل خبره پرې کړل او داسې حال کې چې خپل ويښتيانو کې لا کش کاوه ويې ويل: ما د هغې څخه هېڅ ښه نه راځې نو کوښښ وکړه که نور نه وې زموږ د کوټې څخه يې لرې وساتې کرکه لرم له دې چې زموږ کوټه کې وګرځېږي.

بغير د څه ويلو مې ورته وکتل، هغه ويل شخصي حريم؟ راز خبري؟ زموږ کوټه؟ دا همغه انسان وو چې پرون ماښام يې لکه يو څېرونکي ځناور پشان زما سره رفتار وکړو، او د همدغه کس مور راغله زما سره يې بد چلند وکړو او هغه خبره چې د ده پر وينا راز او خصوصي وه، هغه يې رسوا کړل، زه حيرانه و دې خبري ته وم، چې څنګه د دې دومره کارونو باوجود دې کرار ولاړ دې او وايي" زموږ کوټه، او خصوصي حريم!"

کله چې زما ځواب يې وانه وريدو نو تندې لا پسې تريو کړو او غږ يې کړل: پوهه شوې او کنه؟

دومره مې ورڅخه بد راغلې وه چې حتا زړه مې نغوښت د دې وروسته غږ يې لا واورم، په همدې خاطر ژر مې سر وخوځاوه ترڅو نور خبره کش نکړې، هغه خپل د لاس پلاستيک پر پالنګ کېخود او داسې حال کې چې د الماری خواته څرخېدو ويې ويل: اممم تاته مې د بيرون څخه ډوډۍ راوړې، يو وخت د يو چا له خولې څخه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورېدلې وه چې ستا برياني ورېژې خوښېږي! نو ما هم هغه راوړل البته ځکه چې سهار وختي وو نو په بېحد زحمت مې پيدا کړل.

بغير د څه ويلو مې ورته وکتل، شايد يوه شيبه مې دا فکر له ذهن څخه تير شو چې اخر چا ورته ويلې زما برياني خوښېږي؟ خو دومره دا فکر ژر تېردونکې وو چې بيخې توجه مې ورته ونکړل.بغير د څه ويلو د پالنګ خواته لاړم او پلاستيک مې راواخيست که بل هر وخت واې نو د دې وريژو لپاره به مې خولې اوبه کړې وايې خو اوس يوازې مې غوښتل يو څو ګولې وکړم چې هم د کمزورتيا له امله را ونه غورځېږم او هم د دې لپاره چې د فاتح خوله بنده شې او نور څه ونه وايې.

هغه په ظاهره و ماته شا کړې وه او نه پوهېږم الماری کې د څه پسې ګرځېدو، خو زه ډاډمنه وم چې د هغه ټول فکر او هوش زما خوا ته دې او هسې هلته لګيا دې. او شک مې هغه وخت په يقين بدل شو کله چې ما د دوه ګولې ډوډې خوړلو وروسته لاس ونيو او هغه په تلوار مخ راوګرځه وو او ويې ويل: ولې دې لاس ونيو؟
کرار مې وويل: مړه شوم.
فاتح- تا خو يوازې دوه ګولې وخوړل، دومره ژر مړه شوې؟

نه مې غوښتل ورسره خبری وکړم، د هغه داسې مظلوم نمايې زما زاره چول، د هغه دومره بلاو او مصيبتونو وروسته چې ده زما په سر راوړل، اوس يې ځان داسې مهربانه، مهربانه کاوه او زړه يې غوښت د ماشومانو پشان ما په يو وريژو ختا باسې! نه پوهېدم څه وکړم؟ نه مې بهر د تلو زړه غوښت او نه مې هم دلته يوازې د ده سره د پاتې کېدلو زړه وو، اخر د ناچارې څخه مې کمپل پر ځان کش کړو او څملېدم ترڅو شايد زما د سر لاس واخلې او لاړ شې خپل د کار پسې خو، د څو شېبو وروسته کله چې زما څنګ ته پالنګ ښکته شو او ورسره د هغه غږ مې خپل د غوږ څنګ ته واوريده پوهه شوم چې دا عذاب دايمي دې او د ده څخه نور و ماته نجات نشته.

ما کمپل خپل د سر لرې نه کړو نه مې غوښتل د هغه منحوس څهره وګورم، خو د هغه لاس مې محسوس کاوه چې کرار کرار يې زما د ويښتيانو سره تېره وه، د څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېبو خاموشي وروسته هغه په يو پښېمانه لهجه وويل: زه درځخه بخښنه غواړم، باور وکړه ما هېڅکله نه غوښتل زموږ پېل دې داسې بد اوسيږي، خو ستا داسي ناڅاپه خاموشي او هېڅ نه ويل ما تر جنون رسه وې، زه غواړم ته راسره خبري وکړې را ته ووايې چې کوم کار مې صحيح دې او کوم غلط؟ دا چې ته څه و نه وايې او داسې چوپ کينې د دې څخه بتر حات شايد راپيښ شې، نو خواهش درځخه کوم بلقيس! زما سره خبري وکړه.

د هغه په خبرو مې سترګي له اوښکو ډکې شوي، اوس چې هرڅه يې له مينځه ويوړل اوس وايې خبري راسره وکړه؟ زه د هغه پښېمانتيا څه وکړم کله چې هغه زما روح را ووژل، وايې خبرې وکړه ترڅو ستونزه حل کړو! همغه ژړا حال کې پوسخند مې پر شونډو خپور شو، ما چې هر ځل کوښښ کړې د ده سره خبري وکړم هغه ورځ يوازيني شئ چې نصيب شوي مې دې د دغه کس وهل وه او بس. ما نور د ده سره د خبرو کولو زړه نه درلود نه مې غوښت ورسره خبري وکړم، ده يواځې خپل ځان ته کتل او خپل ځان ورته مهمه وو، نو د داسې انسان سره بحث کول داسې دې لکه د خر په غوږ کې د ياسين تلاوت کول.

فاتح څه کم او زيات يو ساعت زما و څنګ ته ناست وو او خبري کول خو ما د هغه د دومره خبرو په مقابل کې يو سپږ لا د خولې څخه ونه وت، ما د هغه څخه خپل ټول اميدونه شلولې وه، هغه هېڅکله نشو سم کېدلې داسې نه ده چې ما کوښښ نه وې کړې نه، ما د دې خبرو څخه ډېر مخکې په وار وار کوښښ کړې وو چې د ده سره خبرى وکړم او خپل ستونزه حل کړو خو هر ځل زموږ خبره وهلو او کنځلو ته رسيدلې وه، او بس.

څه کم يو ساعت يا هم نيم ساعت وروسته کله چې فاتح زما د خبرو کولو څخه نامېده شو، او پوهه شو چې زه خبري نه کوم ورسره نو په غوسي زما له څنګ پاځېد، بيا د دروازه کلک ټک چې د هغه د تلو ګواهي ورکول، کمپل مې د سر لرې کړو سترګي مې چت ته ونيول، په دې ټول نړۍ کې ځان راته يوازى،يوازى ښکارېده، فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې کاوه هر چا ته که خپل د زړه درد ووایم نو هغه به ما ته بد وایې، او ما به ملامته کړې، سترګي مې د اوښکو ډکي شول، او هغه یوازینی کس ته چې تر اوسه راسره پاتې و په هر غم او هر خوشحالۍ کې موجود او حاضر وو، و هغه ته مې د زړه ګیله پیش کړل "خدایه ته راسره مرسته وکړه، هر چا په یو بهاني زه یوازی پریخودم یوازی ته راته پاتې یې،زه نه پوهېږم چې د دې لارې په پاې کې څه ښېز زما په تمه دې؟

خو هر شې چې وي که شر هم وي خدای ته یې و ماته خیر کړه، زه ستا څخه بغیر نور هېڅ مرسته کونکي نه لرم. ته مې مدد کونکي اوسیږه ته هغه شئ را پیښ کړه کوم کې چې زما خیر وي، موږ انسانان بېحد بې صبره او جاهل یو موږ ډېر وخت خپل په خیر او شر نه پوهېږو، ته چې د هر شئ څخه با خبر ذات یې ته راته لاره وښایه.

ښه مې چې د خدای سره خبري او ګیلې وکړل لځایه پاڅېدم حمام مې وکړو خپل ویښتیان مې ګمنځ کړل، یو جوړه سم کالې مې واچول او اراده مې وکړل د کوټې څخه ووځم د غرمي وخت وو چې د کوټې څخه ووتلم که څه هم زړه مې نه غوښت او هغوي هم راباندې غږ نه وو کړې خو مجبوره وم چې لاړه شم، هسې خپل مکار خواښې مې پېژندل پوهېدم له قصد پر ما غږ نه کوې ترڅو کله چې فاتح راشې زما شیطنت ورته وکړې چې فلانکې او بستانکې راغلې وه خو ستا ښځه یو ځل سر دې خوا راښکاره نکړو، پر شونډو مې نرۍ پوسخند راغلو دا چې څومره زه پېژنم هغومره یې ولاکه زما کاکا چې د دې خاوند دې لا وپیژنی.

دې دواده مخکې څو ځله دا رقم کارونه او خبري کړې وه نو ډاډمنه وم چې بیا همغه کارونه کوې. کله چې دهلیز ته لاړم نو سرخان هوار وو او ټول د کورنۍ غړي بغیر د فاتح او مصور څخه په دسترخان ناست وه او ډوډۍ خوړل، دا چې داسې یوازی او بغیر د چا د ست څخه راغلې وم ځان راته بل ډول ښکارېده د شرم څخه تکه سره شوم، ځان سره مې وویل کاش کوټه کې پاتې وای خو داسې نه وای راغلې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسترخوان سر ته مشر کاکا ناست وو زما په لېدو یې په ورین تندی وویل: پخیر راغلې ناوي!

بغیر د څه ویلو مې ورته وکتل چې مشر کاکا په خندا وویل: د ناوی پر ویلو عادت نه یم، ته ماته تل د گل پرې او فاطمې پشان وې، اوس چې وایم ناوی! نو فکر کوم، کومه بیگانه جنۍ ده، نه زمورِ بلقیس.
بیا یې وخندل او ویې ویل: راځه ولې ښه نیولې د دروازی سره ولاړه یې؟ بیخي په ښه وخت کې راغلې ما همدا اوس گل پرې ته وویل لاړه شه او بلقیس لور ته غږ که چې راشې خو هغې ویل ته ویده یې! زه ښه شو چې راویښه شوې او راغلې، ډوډۍ په گډ سرخان ښه خوند کوې.

په حیرت مې د گل پرې خواته وکتل چې هغې په تروش تندی راڅخه نظر واخیست، ښه نو د همدې لومړې ورځې څخه دوست او دښمن معلوم شول، البته د اول هم معلوم وه خو دومره ښکاره نه! کاکا بیا ست وکړو او مجبوره شوم د سرخان خواته روانه شوم خو نه پوهېدم چېرته کینم؟ خو ښه و فاطمې راته خپل څنگ ته لږ ځای راکړو، فاطمه لږ، لږ د زغمولو وړ وه، یعنې کله ناکله ښه کېدل زما یاد دې مورِ دوارو به ماشومتوب کې یوځای سره لوبې کول، خو گل پرې دې خدای پر مخه نه راولې سم خپل د مور دویم ورژن ده، حتا د هغې څخه لا سل چنده بتره.

وریژی او غوښه یې پاخه کړې وه، ټولو ډوډۍ خوړل خو زما خوابښې لکه چې خپل د بدن غوښه خوړل؟ ځکه د قهر او غضب څخه یو ځل په دې څنگ کېدل بیا دا بل. د هغې نظر مې تعقیب کړو او سترگې مې په نعیم "د فاتح په دریم ورور" ولگېده چې زمورِ د واده لپاره د خارج څخه راغلې وو، هغه خپل د ښځې سره یوزای ناست وو او خپل ښځې ته یې هر څه نږدې کول ترڅو ویخورې، د هغه په دې کار مې ورباندې افرین وویلو نر باید داسې وې، نه دا چې خپل ښځې ته ووایې ته څومره نسه وره یې! د همغه ورځ څخه چې فاتح دا خبره راته وکړل له سر له ډوډۍ خوړلو و ولېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې نظر خپل خوابښې ته شو چې د زیات قهر نږدې وه وچوي، د هغې د داسې حال پر لېدو په شونډو مې نرۍ مسکا راغله، دیته ویل کېږي قصاص! زړه مې ورباندې یخ شو، البته ما ته خو د هغوي دا کار غلط نه ښکاریده، میړه او ښځه وه که خاوند یې ورته یو ګوله ډوډۍ ورکړې یا یو شې ورته نږدې کړې ترڅو ویخورې نو په دې کار به څه قیامت راشې؟ البته منم چې هغوي یو څه بیحد با محبت کارونه کول، چې هغه هم د ګیلې وړ نه و ځکه خارج کې اوسیدل، البته ما د نعیم ښځه مسکان که څه هم دومره نه وه لېدلې خو همدا څو ورځو کې چې راغلې وه او یو څو لفظ خبرې مو سره رد بدل کړې وه نو زما په نظر ډېره ښه جنۍ ښکارېدل.

البته هر څوک چې زموږ په قوم او قبیله کې و نه اوسیږي هغه ښه خلک دي، یوازینې بدبخت، تنګ نظر، او جاهل قوم او قبیله همدا زموږ وه چې نه یې خدای درسره منلو او نه هم رسول.زما د خوابښې د داسې غوسې سبب دا وو چې مسکان او نعیم دواړه پوهنتون کې د درس ویلو وخت کې یو دبل سره اشنا شوي وه او واده یې وکړو، البته هغه هم څنګه واده وو! زما خوابښې نه منل او دومره تهمتونه او خبرې د بیچاره مسکان پسې وکړل چې اخر د مسکان کورنۍ پښېمانه شول او ویې ویل موږ لور نه درکو تاسو اوس چې زما په لور دومره تهمتونه تړې د واده وروسته به څه حال وی؟

خو د دوي دواړو مینه پاکه وه او هم د خداي رضا وه چې ټول یې یو رقم راضي کړل او همدا چې واده یې وکړو نعیم خپل د ښځې لاس ونیو او د وطن څخه لاړ، بس د هغه ورځې زما خوابښې د مسکان سره توره سترګه وخوړل او هر چیرته چې کښېناستل نو د دې بیچاره ګې بد به یې ویل" چې زما زوی راځخه پردې کړو، زه یې پریښودم او د دې سره د وطن لاړ" البته زما خوابښې خپل یو انګور هم نه خوښېدل که هغه مسکان وه، که زه وم، که مشر انګور یې زر بې بې وه، یا هم که د کشر زوی سلیمان چې فرانسه کې ژوند کاوه او ښځه یې د دې د طایفي وه او خورزه یې کېدل هغه یې هم نه وه خوښه، نه پوهېږم دې اخر څنګه انګور غوښته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا هم د دوي ټولو سره ښه وه څه ناخه ګوزاره يې کول خو زما سره، زما سره داسې وه لکه نسل تر نسل چې دښمني راسره لرې.

د ډوډۍ خوړلو وروسته غوښتل مې مرسته وکړم ترڅو سرخان او لوښي د نورو سره ټول کړم، خو خوابښې په طعنه لرونکي انداز راته وويل: ضرورت نشته ته ځان دلته اوس په دې دوه لوښو اخته کړې چې بيا خاوند او خلکو ته ووايې چې ناويتوب ته يې پرينخودم او لا مې تخت ټول شوې نه وو چې کارونو ته يې راپاڅولم.

خپل د خوښې منطق او فکر ته حيرانه وم، نه پوهېدم ولې داسې رفتار زما سره کوې؟ ما و دېته څه بد رسه ولې وه؟ سرخان لا کامل نه وو ټول شوي چې ځېنې خپلوان ښځې راغله او مورې يو رسم درلود که څه هم زما په نظر چندان مهم نه وو خو مورې تل په کلک دا رسم ترسره ماوه، زما مور، خاله ګانې او خور هم راغلې وه، د مور غيرې کې مې ځان په زوره کنټرول کړو ترڅو ونه ژاړم، ماته له سر بيرته ځاې هوار شو په دهليز کې زه يې په ډېر عزت په يو نالې کښېنولم او زما غيرې کې يو دوه کلن ماشوم راکړې شو.

نه پوهېږم ترڅو ساعتو به هلته ناسته وم او هغوي مجلس کاوه او چاې څښل د څو ساعتو وروسته، ټول يو د بل سره په مشورې شول او ګل بې بې عمه يې وټاکل ترڅو ما د دې عذاب خلاص کړې، هغې زه د ځايه پاڅه ولم او کوم نالې چې زه ورباندې ناسته وم پورته کړل، د نالې لاندې زمورې رواج وو د جنۍ کورنې پيسې کېږدې او ما مور هم دوه زرګونه کېخودلې وو.

دې رسم ته مورې ويل د تخت ټوله ول، او زما په خيال فارسيبانانو ورته ويل پاتختي! دا ماشوم ځکه د ناوې غيرې کې ورکوي چې د دوي د جاهلانه رسم په مطابق دوي عقيده لرې په دې رسم خداې به ناوی ته هم کوچني ورکړي، او جالب لا دا چې تل د ناوې غيرې کې هلک ماشوم ږدې نه جنۍ! او تخت ټوله ول مطلب هم داسې ده چې ناوې ته وايې ميلمستيا دې خلاصه شوه او ته نور د دې کور يوه غړۍ يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې که دا خبري زه يو فرهنګ دار کس ته وکړم، ولاکه زما په خبرې باور لاوکړې چې داسې عجيب کارونه دې هم کېږې، خو څه وکړم چې داسې رواجونه موږ درلود او تر اوسه يې عملې کوو، د ماښام د آذانو وخت وو چې راغلې کسان يو، يو روان شول اخرې کسان چې پاتې وه زما مور او خاله ګانې وه، مور مې چې چادرې په سر کړل ترڅو لاړه شې زما مقاومت مات شو او اوښکي مې پر مخ وبهېدل، زړه مې غوښت زه هم حجاب وکړم او د مور سره کور ته لاړه شم، هلته که څه هم تل د پلار ځُند مزاج او سختګيرى وه

خو د دې ځاې څخه په زر ورو بهتره وو، مور او خاله ګانو مې په وار وار مخ ښکل کړو او خداې پاماني وکړه، تر دروازې ورسره لاړم، د دروازی مخکې ولاړه وم او خپل د مور قدمونه مې شمارل چې د کوڅي څخه ووتل او زما له سترګو پناه شول، نو زما اوښکو هم پر مخ لاره ونيول، په ژړا مې د کوڅې خواته کتل چې همدې وخت کې مشر کاکا د کوڅي د سر ښکاره شو، په تلوار مې دروازه بنده کړه او کور ته ننوتلم.

مشر کاکا اخلاق ما پېژندل هغه خپل د زوي څخه سل چنده بد زړه او شکمن وو، که زه يې لېدلې وايې د دروازی مخکې ښه يې بيابه کولم او د دې لياظ يې هم نه کاوه چې تازه ناوي يم يا که د ده وربره يم. خپل کوټي ته لاړم په پالنګ پريوتم او همغسی مې ژړل زړه مې خپل کور خپل کوټه او خپل ځاې غوښت، زړه مې مور غوښتل، زړه مې د الهام هغه بې نمک ټوکي غوښتل چې زموږ د خنده ولو لپاره يې کول، خو افسوس چې بغير د ژړا څخه نور هېڅ کار مې نشو کولې، همغسې ژړل مې او پر پالنګ خملېدلې وم چې نظر مې ناڅاپه د فاتح پر ځاې ولګېده، همغه ځاې چې نن سهار عايشه هلته کښېناستلې وه او هغه بيځايه اپلاتې خبري و ماته ويلې وه، کرار د فاتح د بالښت خواته نږدې شوم د بالښت د لاندې څخه يې ماته يو تور تار ښکارېده چې لاندې راوتې وو.

په مشکوک انداز مې بالښت پورته کړو چې پر يوه کړې ستنې باندی مې نظر ولګېده چې په کامل توګه په بالښت کې ننوتې وه يوازی هغه تار يې چې لس دولس غوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود لږ راوتې وو، چې هغه هم که سم غور مې نه واې کړې امکان يې نه درلود ويې وينم، کړه ستنه مې د هغه تور تار سره چې لس دولس غوټې خوړلې وه راوخيست، د هغه په ليدو مې يوازې يوه خبره ذهن کې ګرځېدل او هغه دا چې دا جادو دې! خو ولې؟

د دروازې په خرپ په تلوار مې هغه کړه ستنه خپل په لاس کې پټه کړل، چې نظر مې په فاتح ولګېده په سترې ستومانې څهره کوټې ته راننوت او د شونډو لاندې په بېحد سترپيا يو سلام راوچو، داسې حال کې چې هغه کړې ستنې مې فکر ګډوډ کړې وو د هغه څواب مې د هغه پشان يا هم د هغه څخه لا بتره په کرار عليک کړو او لځايه پاڅېدم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاتح په درانه ګامونو کوټې ته راننوت خپل پټو يې پر پالنګ کېخود او خپل د لاسې ساعت په خلاصيدو شو او همغه حال کې زما څخه چې د الماري څنګ ته جوخت ولاړه وم او هغه کړه ستنه مې لاس کې پټه کړې وه وپوښتل: څنګه يې؟ ورځ دې پخير تېره شوه؟

بغير د څه ويلو يوازې سر مې وښوراوه، هغه نيم نظر بغير د سر ګرځولو زما خواته واچو، خپل د لاس ساعت يې د پالنګ څنګ ته په ميز کېخود او هغه نرۍ جمپر چې اچولې وو هغه يې هم لرې کړو، او پر پالنګ کښېناست، دا چې د پالنګ هغه بلخوا زما پر ځاې کښېناستلې وو نو تندی مې تروش شو، زه نور هلته نه ويده کيږم خپل ځانته لاندی ځاې اچوم، زړه خو مې غوښته بيخې د هغه کوټه کې چې دې موجود وې او اوسيږی هلته ونه اوسيږم خو افسوس چې پوهېدم که داسې کار وکړم نو بېحد بدې پايلې به ولرې. هغه کامل زما ځاې کې څملېده خپل د کميس د يخن يو دوه تڼې خلاصې کړل او بيا يې نظر زما خواته کړو او ويې ويل: ولې هلته په دوه پښو ولاړه يې؟ راځه کښېنه.

او خپل څنګ ته پالنګ خوا ته يې اشاره وکړل، له دې فکر چې بيا و هغه ته نږدې شم او د ده بوې استشمام کړم زړه مې بد کېده او زړه مې غوښت قی ووهم، شايد زما له څهرې زما پر احساس پوی شوی وو چې تندی تروش کړو او ويې ويل: چې نه کينې نو هسې هم ولاړه يې ماته يو پياله اوبه راوړه خپل د خيره.

بغير د څه ويلو له کوټې ووتم، تازه مې سا واخيستل شوه، فکر مې کاوه د هغه په شتون کې سا لا نشم اخيستې، د آشپزخانې خواته لاړم هلته زر بې بې او ګل پرۍ لګيا وه د ماښام لپاره يې ديګ پاخه وو، زما په لېدو له ورايه ښکارېده چې د دواړو تندي تروش شوو،د هغوي په دې کار پښه نيولې د آشپزخانې دروازی سره ودرېدم نه پوهېدم ولې داسې رفتار راسره کوې؟ ما د دوي په حق کې اخر څه کړې وه؟ ما خو د دوي د ورور سره په زور خو واده نه وو کړې؟ يا ما خو څه ورباندې ناره نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهلې چې د مجبورۍ او د خلکو له شرم یې راسره واده کړې وي؟ اخر د دوي ستونزه زما سره په څه خاطر ده؟

د دوي په دې کار مې زړه په درد شو، ما خپل ټول کورنۍ مور، پلار، ورونه، خور هغه بیغمه ژوند ټول پریخود او د دوي کور ته را واده شوم، او هغه وخت دوي د یو ګوله ډوډۍ، او د سر له پاڅه د یو چت په خاطر پر ما احسان بار کوې او داسې تندی راته تروش کوې کنه نور خو ما د دوي ځای نه دې تنګ کړې، په خفګان مې یو پیاله د اوبو ډکه کړل او بغیر له دې چې د دوي سره کوم خبره وکړم د کوټې خواته روانه شوم، دروازه مې چې خلاصه کړه نو فاتح زما ځای کې څملېدلې وو او خپل لاس یې هم خپل په سترګو کېخودلې وو د دروازې په خرپ یې لا سترګي خلاصي نکړې، لکه چې ویده شوي وو؟

نه پوهېدم غږ ورباندې وکړم او کنه؟ د څو شېبو کش مکش وروسته و دې پایلې ته ورسیدم که تږې اوسېږي نو خپله راویښ کېږي او ماته ضرورت نشتهرچې راویښ یې کړم، د همدې پرېکړې پر بنسټ پیاله اوبه مې د پالنګ څنګ ته پر میز کیخودل او خپل د کوټې هغه بلخوا خپل د راوړې بکسونو خواته لاړم، دا دوه غټ بکسونه زما د 23 کال ژوند سامان وه خپل د پلار کور کې، نه پوهېدم چېرته یې ځای پر ځای کړم. د لومړنۍ بکس خوله مې خلاصه کړه زما کالې او نور سامان وه پکې ببرته مې بنده کړه، د دویم بکس خوله مې چې خلاصه کړه نو نظر مې خپل د پوهنتون په چپټرونه او کتابونو ولګېده او سترګې مې د اوښکو ډکې شول.

همداسې په نامیدې مې کتل چې نظر مې د یو کتاب پر جلد ولګېدې، د ناول کتاب وو شبنم راته راکړې وو نه پوهېږم ولې خو هېڅکله مې ونه لوست! داسې حال کې چې دومره د ناولونو سره مې مینه او شوق وو خو هېڅکله مې دا ناول ونه ویلو شاید دلیل یې د ناول نوم وو! "د هدیرې ناوي" نوم یې راته تر ډېره بریده غمجن ښکارېده او ما فکر کاوه ناول به ضرور د یو جنۍ د ژوند په اړه وي چې خاوند به یې مړ کېږي او پر دې به ډېري ستونزې او مشکلات راځې، که څه هم دا ناول مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ځېنو ملګرو ته ورکړې وو د ویلو لپاره او هغوي ټولو د ناول د ویلو وروسته ډېر تعریف ورځخه کړې وو.

خو ما به چې وپوښتل څنګه کیسه یې وه؟ نو ټولو به راته ویل ترڅو خپل یې و نه لولې زموږ په خبرو د کیسي پر مفهوم نه پوهېږي. تقریبا یو کال کېده دا ناول راسره وو، او د دې دومره مودې وروسته تازه اوس مې لږ زړه غوښت دا ناول ووایم، او شاید دلیل یې هم زما خپل غمجن حالت وو کله چې موږ غمجن یو نو غمجن شیانو خواته جذب کېږو، او غمجن کتابونه، لیکنې او شیان وایو یا هم غمجن سندرو ته غوږ نیسو، داسې حال کې چې یو اراوپوهني مقاله کې مې لوستلي وه چې داسي وختونه کوښښ وکړې د غمجن څېزونو د اوریدلو او لوستلو څخه ځان وساتي او د هغه لځایه خپل فکر پر یو بل شې مصروف کړې یا حتا لاړ شې او مزاحیه ټوکي ویډویوګاني وګورې.

خو د دې دومره شیانو د پوهېدو با وجود ما غوښته همدا ناول چې زما په نظر غمجن وو ووایم! اراوپوهنه او روحي او راوني او فلانکي او بیستانکي خبري دې هم پر بلا شې. کتاب مې راوخیست او بیرته مې د بکس سر بند کړو نه مې غوښت د اوس لپاره خپل شیان سم کړم شاید زما پر ټک، ټک فاتح راویښ شوي واې، البته ما سره د هغه د خوب کوم غم نه وو، یوازې نه مې غوښتل راپاسېږي او بیا زما څخه هسې پوښتني پیل کړې، هملته د الماري څنګ کې کښېناستم او کتاب مې پرانیسته، د کتاب پیل کولو مخکې یو نظر مې د فاتح خواته چې بیغمه پر پالنګ پروت وو او کرار ویده و واچو او زړه کې مې ورته ښه کنځل وکړل.

مور او خویندو یې دلته پر ما قیامت جوړ کړې و او زما سره یې دښمني راخیستې وه د ماما هغه لیونۍ لور یې جادو ته ملا تړلې وو، څلور ساعت زه هلته په دوه پښو ناسته وم او ښور مې نشو خوړلې د هغه بېځایه رواج لځایه او اوس دې خان صیب راغلې او د یو پوښتنې او امر وروسته کرار بیغمه پروت و او خوب یې کاوه. بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايې ولې زما سره خبري نه کوې او ستونزه د خبرو له لارې نه حل کوې! دې ډېر د خبرو دې؟

په کرکه او نفرت مې ورځخه نظر واخيست او د کتاب خواته مې وکتل، چې ناڅاپه يو فکر مې ذهن ته راغلو!

فاتح ويلې وه ترڅو چې ته ويده نشې نو ماته هم خوب نه راځې! نو اوس څنګه زه خو ويښه وم او دې ويده شوی؟ يعنې اوس ويده دې او تللې همغه د خوب نړۍ ته؟ کوم چې څه کم دا يو مياشت کېدل موږ دواړه پکې بند پاتې و؟

شيطان ويل نړدې ورشه او وګوره چې ويده دې يا که د دروغو د ويده کيدلو چل کوې؟ شايد د رښتيا ويده وی، يا هم ويښ به وې او همداسې پروت به وې، بيا مې د ځان سره وويل اصلاً پر ما يې څه؟ خپل اوږه مې په بې پرواې پورته واچول او خپل ناول مې راوخيست "د هديرې ناوې" اصل کې يو ايراني ليکوالۍ ليکلې وه بيا زموږ يو پښتني ليکوالۍ په نوم د "فرشته سعيدي" پښتو ته را ژباړلې و، د ناول اول صفحه کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ يو غړۍ "فرشته سعيدي" ته د دې ناول د ژباړلو لپاره افرين ويلې و چې د فارسي ژبې څخه يې ناول زموږ ژبې ته را ژباړلې و او دومره لوې خدمت يې پښتو ادبياتو ته کړې وو، مقدمه مې لړ لړ ورڅخه وويل او دويم صفحه مې راوړل ترڅو ژر تر ژره ناول پيل کړم.

خو دويمه صفحه کې هم د همدی اکاډمۍ يو بل غړۍ ورته شاباس ورکړې وو، بيا مې هم څه ونه ويل او دريمه صفحه مې د ناول ويلو په اميد واړول، چې ګورم دلته هم د همدې اکاډمۍ يو بل غړۍ ورته افرين او شاباس او درې منه نور تعريفونه ليکلې وه! حوصله مې تنګه شوه دا نو څه ريشخند دې، افرين ورته وايست لاړشې ژباړونکي ته مسج وکړې او جار او قربان ورته ووايست دا نو څه معنا چې درې صفحي د ناول ته يواځې د فلانکي صيب او بستانکي صيب څخه مننه وکړې؟ د ځان سره بنګ،بنګ مې وو او د ناول پسې مې ورقې اړول خو په نهايت خندا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریشخندې کې د هغه 160ورقو ناول څخه 12/13 صفحې یوازې د افغانستان د اکاډمۍ غړو مبارکیاني وه چې اغلې فرشته سعیدي ته یې ورکړې وه.

د دوي په دې کار مې د یو څو وخت مخکې د ویل شوي کتاب د لیکوال خبره مې یاد ته راغلل هغه لیکوال خپل د کتاب په مقدمه "سرېزه" کې ډېر یو جالب خبره کړې وه چې تر اوسه مې ذهن کې پاتې، هغه ویلې وه " زموږ خپروندي اداري د دې څخه ګیله کوي چې لیکوالان نشته ترڅو کتابونه ولیکې او یا یې هم وژباړي، ترڅو زموږ علمي بهېر پرمختګ او رشد وکړي! خو هغوي دېته نه ګورې چې افغانستان کې د کتاب چاپ کولو بهېر څومره ظالمانه دې، یو لیکوال چې تازه د لیکوالۍ ډګر ته راشې او شاته کلک واسطه ونلري د هغه کتاب د چاپ کولو لپاره هېڅوک ورسره مرسته نه کوي، هغه کس مجبوره دې خپل کتاب خپل په شخصي پیسو چاپ باندې کړې.

کله چې چاپ شې نو اخیستونکې څوک نشته ځکه دومره مشهوره نه دې چې څوک یې کتاب واخلې، نوځکه زیاتر لیکوالان مو په مجازي توګه کتابونه لیکۍ چې هغه کې بیا بیچاره ګانو ته دا ستونزه وې چې هغه لیکل شوي اثر یې یو بل نفر خپل پر نوم نشر کوي او د ده دومره خوارۍ هسې ضایع کېږي، او همدا لړې د یو سم منبع د نه درلودو او د تشویق نه کولو د دې سبب کېږی چې لیکوالان کتاب لیکلو ته زړه ښه نه کړې او له بلخوا، هغه یو څو لیکوالان چې شاته کلک واسطه لرې هغوي زیاتر داسی موضوعات راخلې چې نوي نسل نشې را جذب کولې او دا په پایله کې دا ټول دلایل د دې سبب کېږي چې زموږ ټولنه د کتاب ویلو او لیکلو څخه زړه تور شې.

نو زما توصیه دا ده چې د دې لځایه چې خپل په کتاب کې سلګونو او زرګونو کسانو نومونه واخلې او تعریفونه ورڅخه وکړې، د هغه لځایه یو آدرس یا یو پته ولیکې ترڅو دا تازه لیکوالان خپل لیکل شوي اثار هلته واستوي، هغه وخت به تاسو ووینې چې موږ څومره تکړه او با استعداد لیکوالان لرو."

اوس هم دا ناول څه ناڅه ما ته همغسې ښکاریده زړه مې غوښت له سر یې بیخې ونه وایم خو د بیکاره کښېناستلو څخه بهتره وو په 13 صفحې کې ناول پیل شو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر ساده او روان قلم.

یو جنۍ په نوم د زینب په کلي کې اوسیږي، کیسه د جنۍ د ماشومتوب څخه یې پیل کېږي هغه وخت چې دا ماشومه ده یو بل ماشوم هلک چې نوم یې محسن دې او د دوي همسایه دې د دې جنۍ سره مینه لرې، همغه ماشومتوب کې دوي دواړه یو پر بل مینان دي او په کلي کې لاس نیولې سره ګرځې، د ناول منځ کې سوچونو پر مخه کړم واقعاً زه حیرانه یم هغه کسانو ته چې وایي زه د ماشومتوب څخه خپل د کاکا یا ماما یا خاله په لور مین وم یا مینه وم! اخر ماشومتوب کې کله مینه کېږي؟ هغه وخت د ضد او ماشومتوب دوره وې! زما چې خومره یاد ته راځې ماشومتوب کې زه به وم کوڅه به وه او فاتح به وو او ټک به وو بس!

ولاکه ما ماشومتوب کې لېدلې اوسیږي چې فاتح دې یو شې واخلې او ماته یې راکړې یا کوم داسې د مینتوب کار وکړې، البته ګیله هم نه کېږي ځکه ماشومان و، په دې کارونو مو سر نه خلاصیدو، که رښتیا ووایم نو تر اوسه مې ولاکه سر خلاصیږي چې دا مینه اخر څه شې ده؟ څه بلا ده؟ څه رقم ده؟ زما د عمر په دې 23 کالو کې ولاکه یو چا راته د دروغو لا ویلې وې چې مینه درسره لرم. دا خلک څنګه د ماشومتوب څخه مینه لرې، یار لرې، عاشق لرې او هغه وخت زه تر اوسه د یو دروغو" مینه درسره لرم" د لفظ پسې مې سترګي وتې!

یا خو له سره د ماشومتوب وخت کې د مینه کولو خبره دروغ وه، یا هم زه په یو بل نړۍ کې لویه شوي وم، چیرته چې دا خبري نه وه. خپل فکرونه مې لرې کړل او بیا مې د ناول یوه ورقه وویل د زینب دوي کلي ته بنجارى والا راځې د هغه سره یو ښکلې شني سترګي نانځکه وي زینب هغه نانځکه ډېره خوښه کېږي خو ځکه چې غریبانان دې نو هغه نانځکه نشې اخیستي زینب په ژړا خپل کور ته ځې محسن چې د دوي ګاونډې دې زینب د ژړا حال کې ګورې او پوهېږي چې دا نانځکه غواړې، نو هغه په منډه خپل کور ته ځې خپل خزانه ماته وي او د بنجاري والا پسې ځغلې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوي د کلي څخه لرې تللې وی، خو محسن یې پېدا کوي او همغه نانځکه زینب ته اخلې، کوم چې زینب د هغې د درلودو لپاره ژړل.

نه پوهېږم ولې خو دا ناول زما د ژوند پشان راته ښکارېده البته چپه! ما هم ماشومتوب کې یوه نانځکه خوښېدل په سل جبر او زارۍ مې واخیستل او فاتح زما د هغه نانځکې ټول طلاي ویښتیان وشکول بیا یې زما نانځکه راته په چاقو ټوټه، ټوټه کړل.ناول ته مې زړه تنګ شو هغه کې داسې خبري وه کوم چې ما یې تل ارمان درلود، ما تل غوښتل یو داسې کس لکه د همدی ناول د محسن پشان زما سره وي او زما د خوښي کارونه راته وکړې خو بدل کې خدای دا، د کتاب څخه مې نظر واخیست تر څو د هغه بیغمه او خوبولې خواته وګورم چې نظر مې د هغه په خلاصو سترګو پاتې شو چې له ورایه یې پرق واهه او دوه سترګي یې ماته نیولې وه.

د هغه د ځېر، ځېر نظر په لېدو ورختا شوم او ناول مې راښکته کړو، دې له کله داسې ماته سترګي نیولې وه؟ چې زه خبره لا نه شوم! فاتح چې زما نظر ولېده نو په نرۍ مسکا یې وویل: انسان کتاب د بیځایه فکرونو څخه د خلاصون او د یو شې د زده کولو لپاه وایې، نه دا چې غوسه شې او جوش وخورې اوس دا" دهدیرې ناوې" کتاب کې څه لیکلې وه چې ته داسې د غوسي ورته تکه سره شوي؟

بغیر د څه ویلو په تلوار مې کتاب بند کړو او غوښتل مې چې بکس کې کېږدم چې فاتح را غږ کړل: مه ..
ور ومې کتل چې هغه د څملېدلې حالت څخه راپاځېده او کښېناست، بډه یې زما پر بالښت ولګول او ویې ویل: دلته راوړه کتاب.
بغیر د څه ویلو مې وروکتل زړه مې نه غوښت کتاب مې هغه ته ورکړم، فاتح چې هرکله زما شیانو ته لاس وهلې نو راته خراب کړې، او بیا د هغه وروسته جنګ هم راسره کړې، زما خاموش نظر چې هغه ولېده نو دا ځل یې په کلک او څه لږ طنز لرونکي انداز باندې وویل: راوړه وعده درکوم چې کتاب دې ونخورم. که مبادا ومې خوړو یو بل درته اخلم قسم دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې نه غوښت خو مجبوره وم، بغير د څه ويلو پاڅېدم او کتاب مې د هغه خوا ته ونيو؟ چې فاتح د کتاب اخيستلو وخت کې په يو ناڅاپه حرکت کې زما لاس هم خپل د ځان خواته کش کړو، دومره ناڅاپه دا کار يې وکړو چې د وحشت او وېرې څخه بې اختياره مې د خولې څخه چغه ووتل، خو هغه بغير له دې چې زما وېرېدلې حالت ته کوم پام وکړې زه يې پر پالنګ خپل د غيږې خوا ته کش کړم. د څو شېبو وروسته چې وېره مې لږ کمه شوه نو ځان مې د هغه په غېږه کې پوره ورکه شوی ولېده. د شالخوا د هغه په سينه مې تکيه وهلې وه او هغه خپل دواړه غښتلې نارينه لاسونه زما څخه راچاپير کړې وه او کتاب يې لاس کې نيولې وو.

خپل د موقعيت او حال په لېدو نږدې وو زړه مې تر خولې راشې، د هغه د پرون ماښام وحشيانه کړنه مې د سترګو ښکته او پورته شوه او د وجود زړه، زړه مې د هغه څخه د لرې کېدو فرياد او کوکاري وهلې، خو فاتح بغېر له دې چې زما حالت ته کومه توجه وکړې سر يې زما و مخ ته نږدې کړی وو او ساه يې زما د غوږ څنګ ته ويستل، د هغه د هر ساه اخيستلو سره زما ټول بدن زړه،زړه د هغه څخه د کرکې او بې زارۍ اعلان کاوه، بغير د څه ويلو لکه بت پشان غيږه کې ناسته وم، چې هغه په ږږ غږ وويل: د دې لځايه چې د کوټې هغه سر کې کښېنې او يوازې ځان کتاب ووايې څومره ښه به وشې چې راشې دلته زما غيږه کې راته کتاب ووايې، داسې هم ته راحته يې او هم به دېيو فايده ماته را ورسيږي.

فاتح خپل د خبرې سره سم کرار په خندا شو، د هغه د خبرو او خندا په اوريدو مې زړه غوښت حمله ورباندې واچوم او ورڅخه لرې شم، د هغه خبرې ماته ټول د شهوت، هوس او خواهشاتو څخه په ډک رنګ کې ښکارېدل، د هغه غيږه راته نا امنه او مرداره ښکارېده، که څه هم شرعي نکاح مو ترل شوي وه او هغه زما خاوند او محرم په حساب راتلو، خو بيا هم ما د هغه څنګ ته په اوسيدو بد احساس درلود، زما د دې ټولو منفې احساساتو دليل همدې پر خپله وو، هغه زما سره د يو وحشي او تېرې کونکي کس پشان کړنه وکړه، د هغه کار شايد د ده په نظر حلال وو خو ماته د زر حرامو څخه لا حرامتره ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای فرمايي چې اسلام کې زور نشته، نو بيا دا کوم کړنه چې زما سره کېدل ايا دا زور نه وو؟ ايا د اوه ورځو په عمر ماشومه د بل چا په نوم کول زور نه وو؟ ايا دا نکاح چې زما په زړه نه بلکې د کورنۍ او د خلکو له شرمه ترسره شوه ايا دا زور نه وو؟ ايا دا زما واده خپله سراسر زور، ظلم او ستم نه وو؟ او د فاتح د ماښام کار ايا هغه زور، زياتي او جنسي تېري نه وو؟ او حتا همدا اوس د ده دا کار زور نه دي؟ زه دده دا کار ته مينه او محبت نه وايم بلکې ناوړه ګټه اخيستل او زور او زياتي وايم.

فاتح د کتاب يو څو صفحې واړول او د هغه وروسته يې کتاب بند کړو او ويې ويل: څومره اپلاتې ويلې وه، دا نو کتاب شو چې ته يې وايې؟
هېڅ ځواب مې ورنکړو، چې هغه زما زنه ونيول او خپل خواته يې زما مخ وګرځوه او ويې ويل: ولې خبرې نه کوې؟ هومم؟

بيا هم بغير د څه ويلو مې ورته وکتل چې د هغه په تندی کې څو کرښې د غوسې را برسېرې شوې او دا ځل يې لږ په کلکه وويل: تر کله غواړې دا رقم د چوپتيا روژه ونيسې او خبرې ونکړې؟

دومره مې ورځخه زړه تور وو چې بې اختياره مې ورته وويل: د مرګ تر ساعت.

زما په داسې کلکه او تُنده لهجه د هغه سترګې له حيرت خلاصې پاتې شوې، خو بېر ژر د حيرت ځاې غوسې ونيوه، او ويې ويل: يوازې په دې خاطر چې کار ته د تلو اجازه مې در نکړه؟

هېڅ مې ونه ويل چې د هغه غوسه لا زياته شوه، په لوړ غږ يې وويل: ځواب راکړه تاته وايم، يوازې په همدې دليل ځکه هغه مردار ځاې ته د کار کولو لپاره دې نه پرېږدم؟ هاا؟

د هغه په دومره لوړ غږ غوږونو کې مې انګازې پيل شوې، نه پوهېږم ولې نور مې ورځخه ډار نه درلود يوازې کرکه او نفرت و بس، کوښښ مې وکړو ورځخه لرې شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه اجازه رانکړل، په بېحد ورو او په مات لهجه مې ورته وویل: زه ستا ښځه هېڅ نغوارم، هېڅ.

زما په خبری هغه په پوسخند زما لاس خوشې کړو د میز له سره یې ګیلاس اوبه راوخیستل او په یوه ساه یې ټول وڅښل بیا یې زما خواته چې د هغه د اوبو څښلو څخه مې ګټه پورته کړې وه او د هغه له څنګ د پالنګ هغه بل څنګ ته تللې وم راوکتل او ویې ویل: څه مطلب زما ښځه هېڅ نغوارې؟
نه مې غوښت ځواب ورکړم، خو کله چې د هغه قهرجن نظر مې ولېدو نو په نه زړه مې ورته وویل: نغوارم درسره خبري وکړم.
فاتح- خو زه غوارم درسره خبري وکړم، ته زما ښځه یې او دا زما حق دې چې پوهه شم چې اخر څه بلا را نازله شوي چې ته داسې رفتار زما سره کوې؟

بیا هم بغیر د هېڅ خبري کولو مې وروکتل، خبري نه کول لومړۍ کې ډېر سخت وې خو کله چې تر یوه هفته د چا سره خبري ونکړې نو ورو، ورو عادت کېږي خپل خبری د ځان سره وکړې نه دبل چا سره او ما هم همدا عادت اخیستی وو ما د ځان سره په ساعتونو، ساعتونو خبری کول خو د بل چا سره یوازی "سمده" ضرور" په سترګو" صحیح ده" او داسې الفاظ خولې ته راتلل، په دې یوه هفته کې ما د خبرو کولو چل لا لیاده وتې وو! داسې لکه کلونه، کلونه چې کېږي خبری نه کوم، البته باید ووایم چوپتیا هم ځانته یو خوند لرې، چې هر یو یې په خوند نشې پوهېدي.

زما د داسې خاموشې څخه د هغه عصاب خراب شول او خپل اصلې شخصیت یئ راښکاره کړو، او په غوسه یې وویل: ماته وګوره کله چې خبري درسره کوم نو ځواب راکوه، کنه په خدای قسم دا ژبه دې در پرې کوم ترڅو سم ورڅخه بیغمه شې.

بیا هم بغیر د څه ویلو مې یوازی وروکتل، فاتح زما خوا ته لاس اوږد کړو خو د دې څخه مخکې چې لاس یې ماته راورسیږي د کوټې دروازه وټکېدل او د هغې سره جوخت د فاطمی غږ مې واوریده چې موږ دواړه یې د ماښام ډوډۍ لپاره غوښتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاتح په غوسه" سمده اوس درځو وویل" د هغې د تلو وروسته فاتح څو شیبې زما خواته په ځېر، ځېر راوکتل خو کله چې زما خاموش نظر یې ولېده نو له پالنګ پاڅېده څو ځله د پالنګ څنګ ته په قدم اخیستلو شو او خپل ویښتیانو کې لاس تېر کړو او اخر کې د یو کلک  استغفرالله پر ویلو بغیر له دې چې زما خواته وګورې د کوټې د دروازی خواته روان شو، له کوټې ووت او دراوزه یې په دومره کلک د ځان پسې بنده کړه، چې د سنګار مېز هنداره لا وخوځېده.

د هغه د تلو څو دقې وروسته زه هم ورپسې روانه شوم، نه مې غوښتل څوک زموږ د اختلاف او جنګونو په اړه خبر شې، سرخان د غرمې رقم په د هلېز کې هوار وو مشر کاکا د سرخان سر کې ناست وو، راسته خواته یې مصور ناست وو او د هغه څنګ ته فاتح ناست وو او نور ټول د غرمي رقم په سرخانه ناست وه، زما په راتلو فاتح یو نظر راوکتل خو څخه یې ونه وی، زه هم د فاطمې څنګ ته کښېناستم او که څه هم بوږی خوړل مې زړه ته نه کېدل خو د زړه له زوره مې یو دوه ګولې وکړل، د بوږی خلاصیدو وروسته مې مرسته وکړه سرخان مو ټول کړو او هغوي لا چاي دمه ول چې زه د کوټې خواته روانه شوم.

بېحد خوب مې راتلو داسې بل بول سم خوب زنګه ولم، زړه مې غوښت یوځاې سر کېږدم او ویده شم، کله چې کوټې ته لاړم د پالنګ په لېدو مې بیا ټول وجود د کرکي او نفرت څخه را ډک شو، زړه مې غوښت بیخې د دې کوټې څخه لاړه شم خو افسوس چې امکان یې نه درلود، د پالنګ لاندې مور مې یو څو کمپلونه اضافه کېخودلې وه، د هغمه کمپلونو څخه مې یو را واخیست او لاندې په فرش مې هوار کړو بل مې هم پر ځان کش کړو حتا بالښت مې لا د پالنګ راونخیست او یو اضافه نری کمپل مې قات کړو او د سر لاندې مې کړو، همدا چې څملېدم کرار، کرار سترګي مې ګرمي شول او د خوب خواته روانه وم.

چې د کوټې دروازی خرپ وهل او زما خوب یې لړ ویره وو، بغیر له دې چې وګورم څوک دې بیا مې د ویده کیدلو کوښښ وکړو چې د فاتح غوسه ناک اواز مې تر غوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو.

فاتح- ولې پر ځمکه څملېدلې یې؟
پوهېدم که ورته ووایم ځکه چې پالنګ ستا منحوس بوي کوي او ستا هغه غیر انساني کړنې مې یاد ته راوړې، نوځکه لاندې غوارم ویده شم، نو بغیر له کوم شک ضرور په دې نیمه شپه یو جنګ جوړه وی، نو اراده مې وکړه ځان په خوب واچوم چې شاید خوشې مې کړې، خو هغه کرار زما خواته رانږدی شو او داسې حال کې چې پر دوه پښو زما و مخې ته کښېناست ویې ویل: ځان په خوب مه واهه، کله چې ته ویده شې نو زما هم خوب راځي او مجبوره یم ویده شم خو اوس ماته خوب نه راځي نو مطلب ته ویښه یې، نو د انسان بچي پشان راته ووایه ولې لاندې پریوتلې یې؟

اه لعنت دې په دې ریشخند کار شې چې زما خوب یې لا دده سره بند کړې او بهانه لا نشم ورته راوړلې سترګې مې پوره خلاصې کړې او دا ځل مې یو بل بهانه ورته راوړه.

– کله چې پر پالنګ وېده کېږم نو ملا مې درد کوي، عادت نه یم د پالنګ سره نو زه به پرځمکه ویده شم، ته پر پالنګ ویده شه راحته.

زما په ځواب د هغه وریځې له حیرت پورته شوې او څو شېبې وروسته لږ په اندیښمن انداز یې وویل: ډاډمنه یې چې د ملا درد دې د پالنګ له لاسه دې؟ کوم ستونزه خو نلرې؟ ښه یې نوره؟

پوهېدم چې د هغه اشاره څه ته ده نو ځکه مې تندی تروش کړو او ومې ویل: ښه یم که اجازه راکړې ویده شم لا به ښه شم.

زما په خبرې فاتح بغیر د څه ویلو پاڅېده او ویې ویل: هو .. هو ویده شه په کراره. دا چې دومره زر قانع شو او زه یې خپل پر حال پریخودم حیرت مې وکړو، خو له بلخوا خوشحاله شوم چې نور که نه وي د خوب وخت کې خو د ده له لاسه بیغمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم. په همدي فکرونو خندا پر شونډو سترګي مې وتړل چې خپل و څنګ ته د يو شي په غورځېدو ژر مې سر وګرځه وو چې فاتح په شيطان مسکا خپل بالښت زما وشاته کيخود او ويې ويل: که ته پر پالنګ نشې ويده کېدلې او ملا دې درد کوې نو زه خو په فرش ويده کيدلې شم.

او خپل د خبرى سره يوځاې زما شاته په هوار کړې کمپل څملېده، د څملېدلو سره سم يې زما کمپل راڅخه کش کړو او جوخت زما سره پريوته، ما کوښښ وکړو ځان ورڅخه لږ لرې کړم خو هغه لا د ځان خواته کش کړم او خپل لاسونه يې پر ما راچاپير کړل او کرار يې وويل: دومره لغطي مه وهه کراره ويده شه، مګر ستا خوب نه وو راغلې؟

نور مې ځان ونه ښوراوه، او د هغه غيږ کې مې ارام ونيو د هغه ساه چې له شالخوا په ويښتيانو او غاړې مې لګېده نو د بدن ريشه، ريشه مې ورڅخه د کرکي او بې زارۍ ښکاروندوي کوه، خو نه پوهېږم ولې د کرکي او نفرت څنګ ته يو ناشنا او ګنګس احساس مې درلود، داسې احساس چې ما خپل لا نشو درک کولې، ما د فاتح د داسې زور ويلو او ما په خبرو راوړلو او داسې کارونو د کولو څخه کرکه کېدل خو نه پوهېږم ولې لږ،لږ مې خوښېدل هم!

خپل احساساتو ته په حيرت وم له يوه خوا مې ورڅخه بد راتلل خو له بلخوا د هغه داسې پاملرنه او خيال ساتل مې خوښېدل، نه پوهيږم ولې دا دوه بېل او متفاوت احساسات په يو ځل ناڅاپه زما وجود کې سرونه راپورته کړې وه؟ داسې احساس مې درلود لکه خپل د ځان سره چې په جنګ يم، يو خوا زما عقل راته نصيحت کاوه او ويل يې چې منطقي فکر وکړه او خپل ژوند هسې په بېځايه ضد کولو مه برباد کوه، هر شې چې وو اوس تېر شوې د دې وروسته خپل ژوند وژغوره، خو له بلخوا احساس مې کاوه چې د زړه په کونج کې مې يو قهرجن او غوسه ناک ماشوم پلتې وهلې ناست دې، او د دې ټولو کارونو څخه ناراضه دې او هغه راته د جنګ کولو، لرې کېدو او انکار کولو امرونه صادر کول، او هر دقه يې راته ويل چې دا ژوند نه ژوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زه د دوارو منځ کې بنده وم، او خاموشۍ مې اختیار کړې وه نه مې د عقل او منطق خبره منلې شوه او نه هم د هغه قهرجن او نامیده ماشوم چې یواځې راته د بربادۍ خبرې کول، همدغه ګډوډ فکرونو او سوچونو کې خوب وړی وم ...

***

د رڼا په لګېدو سترګي مې پرانیستي د فاتح کوټه کې پر پالنګ څملېدلې وم، لومړۍ فکر مې چې ذهن ته راغلو دا وو چې زه خو لاندې پر فرش ویده شوم بیا دلته څنګه راغلم؟ په تلوار مې د فاتح پسې وکتل چې خپل و څنګ ته خپل په جسم مې نظر ولګېده او تازه مې فکر شو چې زه د خوب نړۍ کې یم او د لته سهار دې، عجیب وو خو فاتح لا تراوسه ویده وو! که راویښ شې بیا دلته مجلس راخلې او زما هېڅ حوصله ورته نه وه، ځان سره وبنګېدم په خوب کې لا د ده له لاسه بېغمه نه یم.

په تلوار پاڅېدم او بغیر له کوم شور ماشور څخه له کوټې بیا له کوره ووتم، لا سهار وختي وو شاید پنځه یا هم شپږ بجي شاوخوا وه، ژوره ساه مې واخیستل پر بدن مې د یخ لرزه راغله خو کوم پام مې ورته ونکړو او کرار کرار د سړک خوا ته روانه شوم، دا خوب دومره هم غضب نه دې باید ومنم چې دلته بیغمه ګرځم هر کار چې کوم څوک راسره کوم کار نلری او هر کار چې ربښتینی نړی کې نشم کولې دلته یې ترسره کولې شم او دومره واقعي ښکارې چې فکر کوم ربښتینی نړۍ ده نه د خوب.

تقریبا دا یوه هفته کېدل چې له کوره هېڅ ځای نه وم تللې، د چا سره خبري مې نه وکړی او د فاتح خبره د چوپتیا روژه مې نیولی وه زړه مې دومره تنګ وو چې حد نه درلود، همداسې کراره، روانه وم او شاوخوا دوکانونه، سړکونه او خلکو ته مې کتل او دا فکر مې کاوه چې ایا دا خلک چې دلته دي ایا دا په ربښتینی نړۍ کې هم شته؟ یا هسې دلته ماته ښکارې؟ خو عجیب وه څو ځله دلته چې کوم کسان مې لېدلې وه هغه مې په ربښتینې نړۍ کې هم په همغه قد،قواره، اخلاق او څهري لېدلې وه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ ځل چې په دې موضوع پوهه شوم یوځه و ډارېدم، خو بیا وروسته دا موضوع راته جالبه ښکاره شوه، فکر وکړې دلته چې زه هرڅوک وګورم،خبرې وکړم، معلومات ورڅخه واخلم، هغه کس په رښتینی نړۍ کې هم هغه اخلاق، فکر، ذهنیت او همدا ژوند لرې؟ ناڅاپه یو شیطاني فکر مې ذهن ته راغلو.

شیطان ویل لاړه شه او عایشي سره خبري وکړه! زړه مې غوښت پوهه شم چې ایا فاتح و هغې ته د رښتیا کوم داسې پېټه وعده د پردې تر شا ورکړې وه یا که دا هسې زما د خواښې په خبرو تر دې حده سپین سترګي شوي وه؟ همدی فکرونو کې زړه نا زړه وم چې د جیب څخه مې د موبایل غږ اوچت شو، جیب ته مې لاس کړو د فاتح موبایل مې جیب کې وو او ورته زنګ راتلو، شماره مې نه پېژنده نه پوهېدم څوک دې؟ زړه نا زړه وم چې ځواب ورکړم او کنه؟

بیا مې ځان سره وویل چې دا خو خوب دې او زه هم فاتح یم! نو ځواب ورکول ورته کوم جرم نه دې، هسې هم فاتح نه خبر کېږي، په دې فکر په شیطنت مې شنه تڼې ووهل او هلو مې کړل.

زما د هلو د ویلو سره سم د هغه خوا یو مردانه غوسه ناک اواز مې تر غوږ شو چې ویې ویل: مرګ او درد یې هلو د کافر خنزیر اولاد.

د هغه په ټُنده لهجه مې خوله له حیرت خلاصه پاتې شوه، دا څوک دې چې فاتح ته کنځل کوي؟ او هغه هم تر دې حد بد او مردار؟

موبایل مې راښکته کړو نوم مې ورڅخه وکتو فاتح د دغه بې ادب کس نوم ثبت کړې وو، "سیاوش" نوم مې ورڅخه څو ځله د ژبې لاندې له ځان سره تکرار کړو، عجب نوم یې دې سیاوش! تراوسه مې په پښتنو کې داسې نوم ببخې نه وو تر غوږ شوي، د هغه د کنځلو غږ لا راتلو چې ما موبایل ورباندې بند کړو، خیرن! نه پوهېږم ولې خو دا چې فاتح ته یې کنځل کړې وه راباندې بد ولګېده. د سرک څخه مې غوښتل تېره شم زړه مې غوښت د بولاني خرخونکي خواته لاړه شم او یو دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولاني واخلم، دا بولاني خوړل داسې به بيغمه زړه د سړک غاړه کې يو بل خوند او مزه لرې چې د بيان وړ نه ده.

لا بولانې والا ته نږدې شوي نه وم، چې په ناڅاپه توګه مې احساس کړو مخ پر هوا يم، او روح مې د بدن څخه د وتلو حال کېده، غوږونو کې مې د بنګهارې اوازونه پورته شول او داسې احساس مې کاوه چې يو څوک ما په زوره،زوره ښوراوي، يوه شيبه مې احساس وکړو چې ساه مې بنده شوه او د هغه سره سم په ژوره ساه او راوتلو سترګو له خوب راويښه شوم.

تېزه، تېزه ساه مې اخيستل فکر مې کاوه نږدې ده زړه مې د سينې څخه را ووځي، يو چا مې پر ملا لاس تېر کړو او د هغه سره سم د فاتح غږ چې په انديښمن لهجه يې وويل: ارامه اوسيږه هيڅ خبره نشته، راويښه شوی.

د څو شيبو وروسته چې لږ زړه مې د ټوپ وهلو څخه کرار شو او يو غړپ اوبه چې فاتح راته راکړل و مې وڅښل او نفس مې ځاې ته راغلو په حيران او قهرجن نظر مې د فاتح خواته وکتل، ده زه له خوبه راپاڅولم هغه هم داسې په يو بد ډول باندې نږدې وو زاره راوچوی، د کړکې خواته مې وکتل لا د ماښام تياره خپره وه، ساعت ته مې وکتل د شپې يوه بجه وه، په همغه ګنګس، حيران او غوسه ناک نظر بيرته مې د هغه خواته کتل پيل کړل ترڅو پوهه شم ولې زه راويښه کړم؟

خو فاتح راته بيحد غير نرمال ښکارېده تندی تروش نيولی و، سترګې تکې سرې وي نه پوهېدم چې څه چل دې؟ هغه چې زما حالت لږ ښه ولېده نو لاس يې زما د ملا څخه لرې کړو او په يو نارامه لهجه يې وويل: بلقيس يوه پوښتنه درڅخه کوم او قسم در کوم چې د چوپ اوسيدو يا هر بل کار لځايه سم صحيح ځواب راکړې سمده؟

حيرانه، حيرانه مې وروکتل نه پوهېدم ولې ناڅاپه داسې شو؟ فاتح زما لاسونه خپل لاسونو کې ونيول او داسې حال کې چې سترګې زما سترګو کې خښې کړې وه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

درانه غږ وویل: هغه شپه ستا لاس کې څه وو؟

د هغه په پوښتنې لا پسې ګنګسه شوم نه پوهېدم کومه شپه او څه یاده وي؟ فاتح چې زما ګنګسه او حیرانه څهره ولېده لږ نور هم را نږدې شو او ویې ویل: پرون ماښام کله چې ته کوټې ته راغلې ستا لاس کې یو شې وو او ځان سره دې د ژبې لاندې لعنت، لعنت ویل هغه څه وو؟ او څه شو؟

د فاتح په دې خبره سترګي مې لا پسې له حیرت را ووت، ناڅاپه مې زړه کې زر رقم فکرونه راغلل او ټول هم منفي، بغیر د څه ویلو مې یوازې ورته وکتل، هغه چې زما خاموش نظر ولېده زما لاسونه یې په کلک وځنډل او تقریبا په لوړ غږ یې وویل: ځواب راکړه بلقیس، داسې چوپه مه اوسېږه. هغه څه وو؟ او څه شو؟ ووایه چې اوس هم ستا سره دې ..

د فاتح غږ کې یو رقم عجز، درد، او ناباوری وه، دومره یې لهجه خواره وه چې ما خپل ځان سره هغه کړې وعدي او خبري لیاده وویستي او د شرم څخه په ډکه لهجه مې وویل: هغ... هغه ... سپین دسمال وو ..

چوپه شوم او د فاتح خواته مې وکتل د هغه مخ له غوسي تک سور شو، خو خاموش وو او په سترګو یې ویل چې خبره پوره کړه. د هغه د داسې حالت په لېدو و ډاره شوم غوښتل مې ورڅخه لرې شم خو فاتح زما لاسونه کلک ونیول او داسې حال کې چې د غوسي څخه یې خپل غاښونه یو پر بل چیچل ویې ویل: د څه لپاره و؟ او څه دې کړو؟

په څېر،څېر مې وروکتل دومره جاهل نه وو چې په دې ریشخند او غیر اخلاقي رسم یې سر خلاص نشې، خو عجیب وه چې ما احساس کاوه هغه غوارې دا موضوع زما له خولې واوری! که بل هر وخت وایې نو شاید ویلې مې وایې دا هم بل مضریت او رزالت یې چې هغه موضوع پر ما بیانه وي! خو اوس د هغه حالت ماته بیحد خراب

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومیده، داسی لکه چې زما په خبرو شکنجه کېږی! هغه زما لاسونو ته زور ورکړو ترخو خبري وکړم.

د هغه مخ ته په کتو مې وویل: ګل بې بې عمه راکړو و... ویل یې دا حق ستا د مور وو چې دا درکړې خو هغه نشته ... او ... او ... د

خبره مې نشو ویلې خو نه پوهېږم پر هغه څه مرګ شوی وه چې داسي په جدیت په تمه وو ترخو زه ورته داسي یو خرابه موضوع تشریح کړم، کله چې پوهه شوم بل لاره نشته او باید خبري وکړم نو سترګي مې پټې کړل او په یوه ساه مې ټوله کیسه بیان کړل ..

د خبرو خلاصیدو وروسته مې سترګي خلاصي کړې او د نامیدې اوښکي مې پر مخ وبهېدي، هغه ورځ ما له خدایه د مرګ غوښتنه کړې وه خو نه دا چې دومره دې سپکه شم، هغه ورځ مور او زوی دواړو زما پر حریم تېري کړې وو، بغیر د زره شانتې رحم څخه ...

فاتح په همغه نظر چې نامیدي، غوسه،قهر، درد، او زر رقم نور احساسات ورڅخه څرګندېدل بغیر د څه ویلو راته ځېر شو، په ظاهره یې و ماته کتل خو د څهري څخه یې ښکارېدل چې فکر یې په نور ځایونو او خیالونو کې چکري وهې ...

***

په آشپزخانه کې لګیا وم د غرمي لپاره مې بانجان پخول، زما د خوښې خوراک وو. نو ځکه مې په ډېر خوند ورته پیاز میده کول او غوړې مې سره کول، خواښې مې خپل د دواړو لورګانو سره تللې وه خپل د ورونو کور ته، زر بې بې هم خپل د اولادونو سره تللې وه خپل د پلار کور ته، مشر کاکا هم نه پوهېږم چېرته تللې وو، او فاتح هم د تل پشان کار کې وو، او زه یوازی په کور کې لګیا وم خپل د خوښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوارہ مې پخول کور کې ارامه ارامي وه، البته کور کې هر کله چې زما خواښې ونه اوسيږو نو تل همداسي ارامي وي، البته د حق تېره نشم نو دا څو وخته کېدل چې خواښې مې دومره زما سره خوله نه اچول!

نه پوهېږم څه تعويذ جادو ورباندې شوی وو خو دقيقاً که ووايم نو د هغه شپې وروسته چې فاتح په هغه بډول راويښه کړم او هغه عجيب غريب پوښتنې راڅخه وکړل د هغه شپي د سهار څخه نيولې تر همدا يوه مياشت چې زما د واده او دلته راتګ څخه تېرېدل، نه خواښې مې راپوري د پخوا پشان کار درلود نه يې لورګانو او نه هم زر بې بې، عجيبه وه خو د هغه شپي وروسته ناڅاپه ټول شيانو تغير وموند حتا فاتح!

د هغه شپی وروسته نور فاتح زما په خبرو نه کولو نه غوسه کېده، نور يې جنګ او دعوا نه کول، يو دم شخصيت يې 180 درجې تغېر موندلې وو، بايد ووايم چې عاجز او سنګين شوي و، نور د ماشومانو پشان د هر خبري پسې نه ګرځېدو، هر دقه يې ناقه بهاني او جنګونه نه کول، مهربان شوي وو! بايد ووايم د هغه په داسې رفتار او کردار په دا يوه مياشت کې زه لږ، لږ و دې ژوند ته په اميد شوي وم، ما هم خپل ضد کول څه ناڅه کم کړې و، ورو، ورو دوارہ يو نرمال او عادی ژوند خواته راروان وو.

او زه بيحد منندوي وم له دې چې د فاتح ذهنيت داسې بدلون موندلې و، که دا بدلون ورته هرچا، هر کس يا هم هر خبري او حتا که تعويذ لا ورکړې اوسيږی، زه د هغه کس څخه په زرګونه واره منندوي وم او جنتونه مې له خدايه ورته غوښتل چې داسي تعويذ يې پر فاتح کړې وو. نور مې ذهني او فکري جنګ نه درلود، د ژوند لاره راته تر يوه بريده واضحه ښکارېدل، که څه هم تراوسه له دې چې اجازه يې نه وه راکړې چې کار وکړم لږ مې زړه ورڅخه نيولې وو خو بيا هم کوښښ مې کاوه د دې موضوع سره جوړه راشم، او خپل ژوند په دې خبرو تريخ نکړم.

دا دومره پرمختګ زموږ په رابطه کې هغه هم په دې دومره کمه موده د يوه مياشت کې ټول د فاتح د ښه کېدو له وجهې وه، هېڅ رابطه او اړيکه يوه طرفه او يو جانبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅکله نه جوړېږي او د هغه څخه لا مهمه دا چې یوه اړیکه تر هغه وخت د هغه پر معناو او اصولو نه پالل کېږي ترڅو درې اثاثي ټکي پکې مراعات نشي، لومړی او تر ټول مهم دوه جانبه احترام!

ترڅو چې مور په یو اړیکه کې د مقابل جانب احترام ونه ساتو، تر هغه وخت به همغه جنګونه او ناخوالې وي کوم چې مور دا 23 کال ورسره لاس او پنجه نرمول، فاتح په دا 23 کالو کې زما د خبرې، زما د نظر، زما د احساساتو احترام ونه ساتو او زمور پایله شوه جنګ او جګړه، خو دا یوه میاشت چې هغه کوښښ کاوه زما خبرو، زما نظراتو او زما احساساتو ته پام وکړي او احترام یې راته د کورنی، خپلوانو او پردیو مخکې راکوو نو زما د زړه هغه کرکه او نفرت ورو ورو ورته په مینه او محبت بدلیده.

مور ښځې د احترام وړې یو، مور غواړو زمور د ژوند شریک ومور ته احترام راکړې توجه وکړې، نه دا چې یوه خبره پورته ښکته شوې نه وي او د ده بوکسان او لغتې شروع شوې وي. دویم شئ چې ما تل ارمان یې درلود او د یو اړیکې اصلی محور هم دې هغه اعتماد او باور پر یو بل دی، چې دا 23 کال مور یو پر بل نه درلود، فاتح به تل ماته د انسټیوټ د هلکانو څخه نیولې د لارې، کوڅې، بازار ټول کسان ماته یاده ول، او ویل به یې چې ته د دې ټولو سره اړیکه او یارانه لرې او وروسره جوړه یې.

ما به هم تل د هغه د داسې تهمتونو په بدل کې د هغه د مردار فکر طعنه او پیغور ورکوو، البته زما زړه هم د عایشې په موضوع کې فاتح ته بیحد خراب وو او اوس هم څه ناڅه شکمنه یم خو دومره نه چې وغواړم خپل ژوند ورباندې خراب کړم، کله چې مور دا طعنې، پیغورنه، او شکونه پریخودل او پر یو بل مو باور کول پیل کړل نو باید ووایم زمور ژوند کی معجزه وشوه، نور یوه خبره ما د دې لپاره نه ورڅخه پټ کول چې فاتح که خبر شي نو بد ګمان به وکړي، بلکې همغه دقه مې ورته ویل فلانکې کار داسې شو او بیستانکی هغسی، او دا کار د دې سبب کېدو چې زمور

(c) ketabton.com: The Digital Library

اریکه لا یو د بل سره مظبوطه شي او خپل خبري، ستونزی یو دبل سره شریکې کړو، او د دې ټولو برکت یوازی او یوازی یو پر بل باور کول وه.

د پیازو په سوځېدو د فکرونو لړې مې وشلېدل او په تلوار د دیګ خواته لاړم، ژر، ژر مې اور ورڅخه مړ کړو او رومیان مې ورواچول اه لږ پاتې وو ټول دیګ مې خراب شې،

د رومیانو سره کېدو وروسته بانجان، مالګه او دیګ دوا مې ورواچول او د دیګ سر مې بند کړو ترڅو پخه شې، او خپل لګیا شوم او خیرن شوی لوښې مې راټوله ول، د لوښو راټوله ولو حال کې مې هغه سندره چې څو ساعت مخکې په ټېک تاک کې اورېدلې وه د ژبې لاندې مې ورو، ورو د ځان سره زمزه کول.

په سپین مړوند به دې ویده کړم تر سهاره
وی زما د میني یاره دیدن دی راوړه
وی زما د میني یاره دیدن دی راوړه ...

کوم غابونه چې پریمنځلې مې وه هغه مې غوښتل پورته الماری کې کېږدم خو لاس مې ورته نه رسیدو، اه دا الماری ولې دومره لوړه جوړه وی؟ خو باید زموږ ښځو پر قد یې جوړ کړې نه د نرانو پر قد! اوس مجبور کوم چوکۍ راپیدا کړم، زه په همدی کش مکش کې وم چې یو شوخ خندان غږ مې خپل د شا څخه واوریده چې ویې ویل:

ناز او نخري دې تر آسمانو رسیدلي زما د زړه ټوټې.
خو لاس دې تر الماری نه رسیږی ...؟

د فاتح په طنز امیز لهجه په تلوار مې مخ وروګرځوه چې هغه مې خندا پر خوله د اشپزخانې دروازې ځنګ ته ولېدو، د هغه شوخ لهجي زما خندا راوستوه او ومې ویل:
ماشالله د فرمان عسکر دنده هم ته مخ ته بیایې خبره نه وم.!
زما په خبري د هغه د خندا غږ لا پسې لوړ شو، او ما د لومړۍ ځل لپاره د هغه د خندا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غږ په اوریدو زړه ولړزېده، او زړه کې مې خوږ احساس وکړو، د هغه خندا او ښه انرژۍ ما ته لا ښه احساس راکړو او پر شونډو مې مسکا ښوره شوه، داسې حال کې چې بیرته د لوښو منظم کولو لپاره می سر ګرځوو هغه ته مې وویل: نن څنګه وختي په دې غرمه کې راغلې؟

فاتح- اممم زما مرغانو خبر را ورسه و چې کور خالي دی، او میرمن دې غواړې.
په خندا مې د هغه داسې شوخي لهجي ته ځواب ورکړو او ومې ویل: اممم مرغان دې خبره غلطه در رسه ولي جناب!

کوښښ مې کاوه ترڅو غاب په پورته الماری کې کېږدم، خو نه کېدو لعنتي ډېر پورته وو، همدغه وخت کې مې فاتح خپل وشاته احساس کړو او بیا د هغه لاس چې زما د لاس څخه یې غاب واخیست او په الماری کې کیخود همغه حال کې په نرمه لهجه یې وویل: زما د مرغانو خبر راوړل هېڅکله دروغ نشې اوسیدلې اغلې، خپل پر خبري څخه اوړېدل نشته ویل دې کنه" په سپین مړوند به دې ویده کړم تر سهاره، وی زما د میني یاره دیدن دی راوړه " نو وګوره دیدن مې راوړو اوس به خپل خبره عملې کوي.

په خندا مې هغه شاته ټیله کړو.
— دا د مرغانو خبري دې پرېږده، دا ووایه ولې راغلې؟
فاتح څو ګامه شاته لاړو بیرته د آشپزخاني دروازي ته یې ډډ ووهل او ویې ویل:
خفه یې کې خوشحاله چې راغلم؟
— ولې خفه اوسیږم؟
فاتح- مطلب خوشحاله یې؟
د هغه خندا او خوشحاله نظر ته مې وکتل او په شیطنت مې وویل: خود خوشحاله یم زما یوازی ډوډۍ خوړل نه خوښېږي.

زما په خبري د هغه خندا لږ کمرنګه شوه او ویې ویل: یعني یوازی د دې په خاطر خوشحاله یې چې ډوډۍ خوړلو وخت کې یوازی نه یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه د داسې خفګان څهري په لېدو خندا مې راغله د دې څخه مخکې چې کوم خواب ورکړم د هغه موبايل ته زنګ راغلو او هغه د ځواب ورکولو په پار د دهليز خواته روان شو، د فاتح و دي کارونو ته مې خندا پرشونډو راغله، راڅخه د پيازو او غوړو بوی تلو، لومړۍ ځل وو موږ دواړه داسي کور کې يوازی پاتې کېدو او غوښتل مو يوځاي ډوډۍ وخورو.

په تلوار خپل د کوټې خواته لاړم ترڅو کالې مې بدل کړم او لږ عطر ووهم، ما تل د هغه ښځو څخه بد راتلل او خبري مې ورته کول کوم چې خپل خاوندانو ته يې ځانونه نه سينګار کول، سينګار او ښايست خدای انجونو ته ورکړي چې خپل خاوندانو ته يې وکړي، په تلوار مې کالې بدل کړل، عطر مې وواهه نور ارايش خو نه کيدو يوازی يو سور کمرنګ لب شيرن مې پر شونډو کش کړو، د دې څخه مخکې چې د هنداري څخه لرې شم خپل حالت ته مې وکتل، باور مې نه راتلو چې دا دې زه اوسيږم چې په دومره شوق لګيا وم د فاتح لپاره مې سينګار کوو!

په عمر کې مې سوچ لا نه وو کړې چې زه به يوه ورځ د فاتح لپاره ځان جوړه کړم هغه هم په دومره شوق او ذوق!

د کوټې د باندې د فاتح غږ مې واوريده چې ماته يې ناری وهل، د هنداری څخه مې نظر واخيست او له کوټې ووتم زما په ليدو د فاتح پر شونډو مسکا راغله، او زه د شرم څخه تکه سره شوم، سر مې ښکته واچو او غوښتل مې د اشپزخانې خواته لاړه شم، چې هغه کرار وويل: چيرته؟

— ډوډۍ راخلم.

فاتح پر خندا زما لاس ونيو او داسې حال کې چې د دهلېز خواته يې وړلم ويې ويل: يو قاب بانجان وه نور خو څه نه وه ما راوخيستل.

دهلېز ته پر ننوتلو په هوار شوي سرخان مې نظر ولګېده، او حيرت مې وکړو هر شئ راخيستې وه، ډوډۍ،بانجان، اوبه حتا يو پياز يې هم ميده کړې راخيستي وو. د لومړۍ ځل لپاره موږ دواړو په خندا او خوشحالۍ بغير د کوم جنګ او دعوا څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناست وو او بوډۍ مو خوړل، البته فاتح بانجان نه خوښېده او د هر ګولۍ په خوړلو به يې تندی تروش کاوه خو زما لپاره د بوډۍ تر اخره لاس يې د دروغو کاسه کې وهلو، تر دې چې ما ته خندا راغله او ومې ويل:

– زه د هغه ښځو پشان نه يم چې جنګ درسره وکړم چې ته ولې زما د لاس بوډۍ نخوري؟ که زړه دې نغواړې مخوره زه به درته بل شې پاخه کړم.

زما په خبري هغه هم وخندل او ويې ويل: نه کوم ستونزه نشته، ما بوډۍ دفتر کې خوړلې وه، هغه تا ويل چې يوازی ځان بوډۍ خوړل خوند نه درکوي نو ځکه مې يو دوه ګولې بوډۍ درسره وخوړل.

د هغه دومره توجه او پوهي ته مسکا مې پر شونډو راغله او کرار مې وويل: مننه.
فاتح بغير د څه ويلو راته د څو شېبو لپاره ځېر شو او بيا د يو ژوري ساه په اخيستلو يې کرار وويل: د غرمي د لمانځه وخت دې زه تر جومات ځم مونځ کوم، ته يو دوه پيالي چای دم کړه.

سر مې د "سمده" پشان وخوځاوه چې هغه بيا وويل: د جومات څخه د راتلو په وخت څه دې زړه غواړې چې درته د دواکان څخه يې واخلم؟ هوم؟
لږ مې فکر وکړو څه مې زړه غواړې؟
– اممم ماته ګلاب جامون راوړه.

زما په خبري فاتح نرۍ مسکا وکړل او د سمده پر ويلو، له کوره ووت. زه هم په خوشحالۍ لګيا شوم د لوښو پر راټوله ولو، د لوښو مېنځلو او چاې دمه ولو وروسته د کوټې خواته لاړم مونځ مې وکړو، او بيرته لګيا شوم خپل د اريش په سم کولو، خپل کم رنګ لب شيرني مې په تک سور لب شيرين بدل کړو، سترګي مې هم توري کړل او خپل پېکې مې هم را ايله کړو پر مخ، چې همدي وخت کې د کور د دروازي خرپ مې تر غوږ شو په دې فکر چې فاتح بلاخره راغلو په خوشحالۍ له کوټې ووتم زما د وتلو سره سم د دهلېز دروازه خلاصه شوه او مشر کاکا راننوت!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه په لېدو په تلوار مې خپل ټېکرى په سر سم کړو او کوښښ مې وکړو خپل هغه تک سور لب شيرنې لږ پاک کړم خو افسوس چې خبره تر خبرې تېره وه او مشر کاکا په حيرت وهلې انداز زما خوا ته راکتل، ورو مې وروکتل غوښتل مې ورته ووايم پخير راغلې کاکا، خو کله چې د هغه نظر مې ولېدو خبره مې خوله کې وچه شوه، هغه داسې د کور شاوخوا او ماته راکتل چې بغېر د څه ويلو د سترګو له نظر يې هر شئ په ډاګه ځرګند وه، او هر کس پوهېدلې شو چې هغه د څه په اړه فکر کوي؟

د کاکا په دې نظر د شرم څخه زيات بد احساس مې وکړو، هغه داسې ما ته او بيا د کور شاوخوا ته کتل لکه غواړې هغه کس چې ما کور ته د ځان لپاره رابللې ووينې! دا يوه مياشت کې څه ناڅه د کاکا په شکمن او تريخ لهجه مې عادت کړې وو خو دا کار يې د حد زيات دروند راته تمام شو، په کلک لهجه مې ورته وويل: وبخښې ما فکر وکړو فاتح راغلو.

ما غوښتل د دې خبرې پر کولو هغه متوجه کړم چې غلط فکر کوي او ما ځان داسې فاتح ته جوړ کړې وو نه کوم بل چا ته، خو لکه چې موضوع مې لاپسې شکمن کړه ځکه مشر کاکا په تروش تندی وويل: فاتح په دې وخت کور ته کله راځې؟

د مشر کاکا د خبرو او لهجې څخه په ډاګه ښکارېده چې پر ما پوره بدګمانه شوي و، او غوښتل يې زما غلطي راونيسي، خو ما نور يو لفظ لا خپل د سپيناوي بيانه ولو لپاره و نکړو، اوس سم صحيح درک کوم چې د فاتح شکمن زړه، او وحشي خوي او وهل کول د چا خواته تللې! يو دم خپل د پلار کاپي وو. د دې څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم د دهلېز دروازه خلاصه شوه او فاتح په خندا کور ته راننوت، سر يې ښکته وو او خپل بوټونه يې ويستل او مشر کاکا ته چې د هغه څو قدمي کې ولاړ وو تر اوسه صحيح پام شوی نه وو،د بوټو د ايستلو حال کې وويل: څلور دوکانه وګرځېدم د ګلاب جامنو قحطي لکه چې راغ..

سر يې چې پورته کړو او په مشر کاکا يې چې نظر ولګېده خبره يې نيم کله پريخوده او په تلوار يې وويل: پلارا! ... سلام تاسو کله راغلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشر کاکا هوسا ساه اخیستل مې ولېدل او خپل زړه کې مې پوسخند و واهه بغیر له دې چې ور وګورم د آشپزخانې خواته لاړم، باور مې نه کیدو دا دې زما همغه مشر کاکا اوسیږی چې خوب کې په فاتح ټوپک راخیستي وو چې ته ولې زما وریږې ته خبري کوي او تهمت وریسي تړې؟ اوس د فاتح لځایه ده پر ما داسي ګمان کړې وو. دا یو میاشت کې د مشر کاکا څهره راته ښکاره شوي وه، او باور پخدای خپل په خوابنې مې کله ناکله زړه سوځېده، مشر کاکا کله ناکله بغیر له دې چې پام وکړې موږ انکورګیانې هلته موجود یو یا لورګاني،زامن او لمسیان یې هلته حاضر دې زما خوابنې ته پوچ رد کنځل کول.

او داسې سپکه کول چې د هغې لځایه ما زړه غوښت ځان ووژنم، تل به یې ورته ویل د موچي لورۍ! نه پوهېږم زما د خوابنې پلار که نیکه د موچي ګرې(د شکېدلې بوټانو د ګنډلو او رغولو کس ته موچي وایې) کار کاوه او کاکا به مې تل هره خبره کې خوابنې ته د هغه پیغور ورکاوه! او ویل به یې" ته خبري مه کوه د موچي، سوالګر لورۍ" خپل په خوابنې مې پخدای زړه سوځېده، دا یوه میاشت کې ما تل کوښښ کاوه د هغې سره لږ ښه رفتار وکړم، ځکه هغه هم راته اوس بېګناه ښکارېده.

د هغې دا ټول جنګونه او جګړې د مشر کاکا له لاسه وو، مشر کاکا پر هغې پټکه کول او هغې خپل د ځان خالي کولو لپاره پر موږ خوله خلاصول، د فاتح پر غږ چې ناری وهل راشه پلار ته بووېږ راوړه، په تلوار مې خپل لب شیرن خپل د ټیکری په پیڅکه پاک کړو، او د وچي بووېږ او سرخان په راخیستو له کوټې ووتم، سرخان مې د کاکا ومخکي هوار کړو هغه نه راکتل شاید خپل د څو شپبو غلط فکر له امله شرمنده وو، خو ماته مهمه نه وه هغه تهمت لګولې وو او د تهمت څخه نوره غټه ګناه اسلام کې بل هیڅ شئ نشې اوسیدلې.

د سرخان هوار کولو وروسته د آشپزخانې خواته لاړم کاکا ته مې غاب بانجان راوخیستل او فاتح ته مې ترموز چای او پیاله، د بانجان کیخودلو او چاي پیالۍ بږک کولو وروسته، د هغوي له څنګ لرې شوم او خپل د کوټې خواته لاړم، زړه مې د کاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هغه مشکوک نظر بد غوندي وو بد احساس مې درلود، له دې چې د کاکا په نظر زه تر دې حد یو جاهل، سپین سترګی جنۍ ښکاره شوم چې فکر یې وکړو ما خالې کور ته ... ویل د هغه لفظ لا زما زړه خراب کاوه، د دهلیز څخه د فاتح او کاکا غږونه راتلل چې د یو موضوع په سر یې خبري کول خو زه پوهه نشوم څه په اړه وو؟

زه خپل په فکرونو او نرۍ کې غرقه وم، د نیم ساعت وروسته د کوټې دروازه خلاصه شوه او فاتح نرۍ مسکا پر خوله کوټې ته راننوت، داسې حال کې چې په خندا یې زما خواته کتل ویې ویل: اوس تازه د هغه کس پر خبري مې سر خلاص شو چې ویل یې: خطرناک ترینه او ماهرترینه قاچاقبر هغه سړی دې چې ګډ کور کې خپل میرمني ته په جیب کې(خپل د واسکټ جیب ته لاس کړو او ورڅخه د ګلاب جامن قوطي راوخیست او همغه خندا پر خوله یې وویل: په پټه شئ راوړي.

د هغه په دې خبره نرۍ مسکا مې پر خوله راغله خو زړه مې دومره د کاکا د هغه شکمن نظر څخه نیولې وو چې نور مې څه ونه ویل، زما د خاموش نظر په لېدو فاتح په ځېر،ځېر راوکتل او ویې ویل: څه شوي؟ ښه یې؟

— هو ښه یم.

فاتح- بیا نو ولې داسې خفه ښکارې؟ همدا نیم ساعت مخکې چې زه مسجد ته تلم لا ته خوشحاله وې!

بیا یې نظر نور هم ځېر کړو او لکه چې یوه خبره یې ذهن ته راغلې وې په مشکوک او لږ خندانه توګه یې وپوښتل: ته د پلار په راتلو خفه شوې؟ له دې چې یو بل نفر هم راغلو کور ته؟

له دې چې فاتح فکر کوم ځاې ته تللې وو خندا مې راغله، غوښتل مې ورته ووایم چې نه اصل موضوع بل څه ده خو زما د خندا په لېدو هغه فکر وکړو چې زه د رښتیا د کاکا په راتلو او له دې چې زموږ خلوت او یوازیتوب خراب شو خفه یم!

فاتح تر خبري پرېنخودم او په بیحد محبت او جار او قربان یې وویل: قربان دې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خفګان څخه شم، یو څو ورځي نور وزغمه د هغه وروسته درته قول درکوم داسي ځای ته به لاړشو چې تل یوازې و اوسیږو او څوک مزاحمت ونکړي.

د هغه په دې خبره حیرانه شوم او ومې پوښتل: چیرته ځو؟
فاتح په خندا زما خواته راغلو او ویې ویل: نچ اوس که ووایم بیا خوند یې ځې، څو ورځي وروسته به خبره شې.

غوښتل مې ټېنګار وکړم او بیا ورڅخه وپوښتم چې چیرته ځو؟ خو هغه تر خبرو پرېنخودم او په شیطان توګه لګیا شو زما په ویښتیانو کې په لاس وهلو. د هغه د لاس وهلو او راکتلو انداز بل ډول وو نو ځکه مې په ګواښ کوونکي لهجي ورته وویل: فاتح شاته لاړشه.
زما په خبره هغه په کراره وخندل او ویې ویل: ولې لرې؟ زه د هغه دنیا سر راغلم چې نږدې اوسیږم درته نه لرې.

– شاته لاړ شه اوس د دې کارونو وخت نه دې، بده ده کاکا به څه فکر کوي؟
فاتح په خندا وویل: امممم وایي به چې څومره ښه انګور لرم د زوی خدمت مې کوي.
– بلا بې شرم.
فاتح په خندا وویل: ولې شرم خپل حق غواړم وی! زمانه څومره خرابه شوې خپل د حق په غوښتلو درته بی شرم وایې.
– مکوه پخدای د دې کوټې څخه د باندې غږونه وځې.

فاتح زه شاته، ساته د پالنګ خواته ویوړم او همغه حال کې په خندا وویل: لاړ دې شې زه خو کوم غلط کار نه کوم ښځه مې یې.
د هغه په داسې خبرو مخ مې د شرم څخه تک سور شو او تقریبا په چیغه مې وویل: حیا وکړه، تاته به بده نه ښکارې خو سبا ورځ زه د کاکا سره د سترګو جنګولو قابله نه پاتې کېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاتح په شیطان لهجه وویل: نو تاته چا ویلې چی زما د پلار سره سترګي جنګي وکړه؟ بیخې له سر ورته ګوره مه.
په غوسه او قهر مې څو ځله په سینه وواهه خو هغه په خندا خپل ځان پر ما واچو او زه یې خپل د ځان لاندې پر پالنګ بنده کړم، کله چې پوهه شوم زور او ګواښه ول ځواب نه ورکوي نو د میني محبت لاره مې مخي ته ونیول.
– فاتح ...
فاتح داسې حال کې چې خپل مخ زما وینښتیانو کې ننویستلي وو زما د غوږ څنګ ته یې وویل: جان فاتح.

په زاریو مې ورته وویل: کاکا کور کېدي شاید یو شئ پکار شې غږ به وکړې، یا دې خوا راشې په قران شرم دې.
فاتح- نچ ناري نه وهې، ما هغه ته داسې خبر ورکړو چې تر ماښام به لګیا وي او د هغه په اره به فکرونه کوی.

موږ دواړه لا همدي کش مکش کې وو چې د کاکا د کوټې د دروازی خرپ شو، او د هغه سره سم په دهلیز کې مې د کاکا د ستوني صاف کولو غږ واوریده،لکه چې غوښتل یې یو چاته ناره ووهې! زما خو ساه ایستل لا لیاده ووتل فاتح هم د څو شیبو لپاره خپل د کار لاس واخیست او غوږ پر هوا شو ترڅو د کاکا اواز واوری، خو د څو شیبو وروسته لکه چې کاکا د غږ کولو څخه پر شا شو او د دهلیز او ورپسې د حویلي د دروازی غږ مې واوریده چې د کاکا د تلو ګواهې ورکول.

د کاکا په تلو فاتح په خندا وویل: لکه چې پلار لاړو؟
په غوسه مې یو دوه سوکه په سینه ووهلو او تقریبا د ژړا په حالت مې ورته وویل: په قران قسم چې زموږ غږونه یې اوریدلې او له شرم له کوره ووت.
زما په خبره فاتح په زوره وخندل او ویې ویل: نه فکر نکوم چې زموږ غږونه یې اورېدلې اوسیږی، اوهو که اوریدلې هم وې، نو وګوره څومره ښه، مهربانه، پوه پلار لرم چې کور یې راته خالی کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چغه مې نوم ورڅخه واخیست: فاتـــــح ...
زما د چغي په غږ د هغه د خندا غږ پورته شو ...

***

کاکا هغه شپه د ماسخوتن لمانځه وروسته لا کور ته رانغلو او کله چې فاتح ورپسې زنګ و واهه نو ویې ویل چې زه د میروس کور کې یم او لږ کار لرم او نن شپه نه درځم. شاید کاکا د رښتیا کار درلود خو نه پوهېږم ولې زه د شرم ګز،ګز د ځمکې لاندې تلم او فکر مې کاوه هغه زموږ دواړو لپاره کور ته رانغلو، هغه ورځ خواښې دوي مې هم رانغله او مصور چې هم کله ماذدیګر خواته کور ته راغلو او کور یې خالي ولېد خپل د ښځي پسې د خسر کور ته لاړو او شپه هم هملته پاتې شو. هغه شپه چې ما هرڅومره کوښښ وکړو د فاتح د خوله څخه د هغه خبر په اړه معلومات واخلم کوم چې ده ویلې وه کاکا ته مې وکړو او ډېر ژر به د دې حالت څخه خلاص .شو! خو زما تېینګار او د هغه انکار و

ویل یې اوس پر ویلو د خبري خوند ځي، که څه هم شیطان راته ویل په دې موضوع ورڅخه مروره شه، خو نه مې غوښت خپل هغه خوشحاله شېبې د یو نامعلوم خبري لپاره خراب کړم. سهار د ټولو ورځو پر خلاف چې زه به ویده وم او فاتح به کار ته تلو، فاتح راویښه کړم او خپل په لاس پخه کړي هګي راکړل او بیا په خندا، خندا خپل د کار خواته لاړو او زه کور کې تر لس بجو یوازی پاتې شوم، د لس بجو وروسته خواښې دوي مې راغله، او بیا ورپسې مشر کاکا. کوښښ مې کاوه د مشر کاکا د نظر څخه پناه پناه وګرځم.

لومړۍ خو په دې خاطر چې پر ما یې بدګمان کړې و زړه مې ورڅخه نیولې و او دویم هم د فاتح د کار له امله شرمېدم د کاکا سترګو ته وګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدي خبرو کې دوه درې ورځي تيرې شوي، زموږ د واده په دويمه ورځ زما ماماګانو، خاله ګانو او د فاتح ماماخيلو موږ دوارو ته ميلمستياوي کول پيل کړي وه، او زه ټولو ته په ورين تندی تللې وم بغير د عايشي دوي کور ته! د هغې د کار په ياد راوړلو زړه مې غوښت سم جوړ جنګ ورسره وکړم، خو بيا مې ويل داسي کسان په جنګ لا نه ارزي. نن د يو مياشت وروسته زما د پلار کور ماته ميلمستيا کړي وه او دا خبره ماته مشر کاکا چې هلته تللې وو راکړو، نه پوهېږم ولې خو بل ډول احساس مې درلود؟ تر ماښام نه پوهېږم څنګه کور کې لګيا وم چې حتا د خوابښې فکر مې لا راته وشو او زما د حال پوښتنه يې وکړه.

دا يوه مياشت کېدل خپل مور، پلار، ورونه او خور مې نه وه لېدلې. خپل د کورنۍ څخه مې زړه نيولې و هغوي زه له کور رخصت کړم او يوځل يې لا شاته راپسي و نه کتل چې ايا بلقيس مړه ده که ژوندي؟ خوشحاله ده که خفه؟ احساس مې کاوه د هغوي په غاړه کې يو بوج او مصيبت وم چې داسي لځانو څخه يې لرې کړم او حتا يو سر يې لا بيا راپسې معلوم نکړو يوه پوښتنه يې لا راپسي ونکړه.

د ماذديګر خواته فاتح راغلو او زما په لېدو چې بغير له کوم تيارې او سنګار کولو څخه د کوټې پر پالنګ خفه ناسته وم حيران شو!
فاتح- خيرت دې؟
د هغه په پوښتني مې وروکتل خو هېڅ مې ونه ويل چې فاتح د کوټې دروازه بنده کړه او کرار زما خوا ته رانږدې شو زما و څنګ ته په پالنګ کېښناست او ورو يې وپوښتل: نغوارې خپل د پلار کور ته لاړه شې؟
د هغه پر پوښتني مې سترګي له اوښکو را ډکې شول او په نيولې غږ مې وويل: هغوي زه يوازی پريخودم، زه يې خپل د ځانو څخه داسې لرې کړم لکه يو مردار ټوکر چې خلک لځان لرې کوي.

د دې خبري سره پر مخ مې اوښکي راوبهېدې او په ژړا مې وويل: ايا زه دومره بده جنۍ وم خپل و پلار ته چې هغه زما د مرګ او ژوند پوښتنه لا ونکړل؟ ايا يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه پر ما حق درلود؟ ایا زه پر هغه باندې کوم حق نه لرم؟ ایا اسلام کې یوازې مور او پلار حق لري؟ لور حق نلري؟ ما تل کوښښ کاوه چې داسې کار ونکړم چې پلار مې شرمنده شې چاته، تل د هر کار د کولو وخت کې هغه مې د سترګو وړاندی راتلو او هغه ...

خبره مې پوره نشوه کړې او ژړا مې لا پسې زیاته شوه چې فاتح خپل د غیرې خواته دعوت کړم، کله چې هغه غیږه کې ونیولم نو زما ژړا لاپسې زور واخیست، فکر مې کاوه تازه یو غیږه د ژړا او د ګیلو کولو لپاره مې پیدا کړې، ژړل مې او ورته خپل د کورنۍ مور،پلار،خور، ورونو په اړه شکایت او ګیلې کول دومره مې ورته ګیلې وکړل، وکړل چې ښه مې زړه سپک شو. په لومړۍ ځل فاتح بغیر له دې چې څه و وایي زما خبرو ته یې غوږ نیولې وو او زما د ارام کېدو کوښښ یې کاوه.هېڅکله مې فاتح داسې نه وو لېدلې، د نیم ساعت وروسته مې ژړا خلاصه شوه،چې هغه په کراره خپل د غیږې څخه جلا کړم او په نرمه مسکا یې وویل:

فاتح- هې لیونۍ! هې! ګوره کله چې پوښتنه او خبري نه کوي نو ښکاره خبره ده چې خپل د ځان سره خپل په مغزو کې به دومره لویه کیسه جوړه وي، چې بیخې له سر صحیح او رښتیا ده نه.

بغیر د څه ویلو مې د فاتح خواته وکتل چې هغه خپل په لاس زما اوښکې پاکي کړل او په کراره یې وویل: ګوره یوه خبره درته کوم خو وعده راکړه چې لیونتوب به نه کوې.

نه پوهېږم ولې خو ناڅاپه د فاتح په دې خبره د زړه درزا مې پورته شوه او بد احساس مې ټول بدن کې خپور شو، احساس مې کاوه د مخ رنګ مې د ډېر استرس او وېرې څخه والوت چې فاتح په تلوار وویل: اووو! په کراره، ما لا څه ویلې نه دې او ستا دا حال شو کـ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه مې ورنکړل نور خبري وکړې او په تلوار د هغه د خبري منځ کې مې وویل: څه شوی فاتح؟ څه خبره ده؟ ته د څه وعده زما څخه اخلې؟ د څه لیونتوب ونکړم؟

زما د داسې پرلپسی پوښتنو او اندیښمن څهرې په لېدو فاتح خپل لاسونه زما د اوږو څخه راچاپیر کړل او زما د ارام کولو کوښښ یې وکړو، خو زما زړه نه ارامه کېدو، بې اختیاره مې ژړا راغله او همغه ژړا حال کې مې وپوښتل: څه شوي فاتح؟ قسم درکوم راته ووایه خیر دې ..

زما د ژړا په لېدو فاتح په غوسه خپل د غیږې خواته کش کړم او ویې ویل: هېڅ نه دې شوي لیونۍ ولې داسې کوې د ځان سره؟ ها؟

کوښښ مې وکړو خپل اوښکې راکنټرو کړم، خو نه پوهېږم ولې زړه مې بده ګواهې راکول په زاریو مې فاتح ته بیا وویل: سمده چغي، بوغي نه وهم، خو خیر دې راته ووایه څه شوی؟
فاتح لږ په مشکوک نظر راوکتلو او بیا یې په کراره وویل: اوس لپاره خیرو خیرت دې خو درې هفتي مخکې ستا پلار یو کوچني تصادف او ټکر د یو موټر سره کړې وو، خو اوس شکر الحمدالله یو دم روغ رمټ دې.

نور مې وا نه ورېدل چې فاتح څه وویل او څه نه، غوږونو کې مې یوه خبره کرنګېده"درې هفتي مخکې ستا پلار یو کوچني تصادف او ټکر د یو موټر سره کړې وو"درې هفتي مخکې ستا پلار یو کوچني تصادف او ټکر د یو موټر سره کړې وو" د سترګو مخکې مې هرڅه دوه، دوه کېدل، او سر مې راباندې دروند، دروند کېدو د فاتح اندیښمنه څهره مې لېده چې یوڅه یې ویل او زه یې ښوره ولم، خو ما د هېڅ شې د اورېدلو قابلیت او توانایې نه درلود ...

خپل پر مخ باندې د اوبو د څاڅکو پر شیندلو سترګي مې خلاصي کړې، چې ځان مې د فاتح په غیږ کې ولېده. هغه هم داسې حال کې چې ټول کورنۍ زما شاوخوا ولاړه وه، د څو شېبو لپاره هېڅ خبره مې ذهن ته رانغل او نه پوهېدم چې څه کیسه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا ټول دلته څه کوي؟ خو د څو دقيقو وروسته تازه مې هوش سر ته راغلو او د فاتح هغه خبره چې ويې ويل"درې هفتې مخکې ستا پلار د موټر سره ټکر کړې وو." را ياد شول، او د هغه سره سم اوښکې او سلګۍ مې بې اختياره پيل شوې په همغه ژړا، ژړا کې مې د فاتح ګريوان ته چې زه يې خپل په غيږه کې نيولې وم لاس واچو او ومې ويل: ولې دې هغه وخت ماته ونه ويل فاتح؟ها؟ ولې؟

او بيا مې اوښکې په پر مخ په بهېدو شول، فاتح په تروش تندی غوښتل يو څه ووايي خو د هغه د کوم لفظ د ويلو څخه مخکې مشر کاکا په کلک لهجه وويل: همدا پرون زه تللې وم لېدو ته يې!
په تلوار مې د کاکا خوا ته وکتل چې د دروازې چهار چوکاټ کې ولاړ وو او دوه سترګې زما خواته نيولې وه په کراره يې وويل: شکر الحمدالله جوړتيار وو، تاته مو خبر درنکړو ځکه پلار او مور دې ويل د ناڅاپه خبر څخه وېره لرې او که خبره شې حالت دې خراب کيږي.

د کاکا په دې خبره ژړا مې لا پسې زياته شوه، ما څنګه دومره ژر د هغوي په اړه قضاوت وکړو او هغوي تر کومه حد زما په فکر کې وه، اوس مې تازه سترګې خلاصې شوې ياد ته مې راغلو چې مور او ورونو مې دا يوه مياشت کې هره ورځ راته زنګ واهه او پوښتنه يې راباندې کول خو ځکه چې زما لېدو ته نه راتلل ما د هغوي زنګونو ته ځواب نه ورکو او ځان سره مې ويل دوه قدم لاره ده د زنګ لځايه ولې نه راځې چې ما ووينې چې ښه يم او کنه؟ خپل په دومره ژر او غلط قضاوت دومره پښيمانه وم چې يوازې مې ژړلې شوه او بس.

مشر کاکا چې زما خراب حالت ولېدو په تروش تندی د فاتح خواته وکتل او بيا يې ماته وويل: دومره خطرناک ټکر نه وو، يوازې لږ د ميرويس پښه ضرب لېدلې وه ماته شوی لا نه وه، هغه هم اوس ښه شوی نو ځکه يې نن ميلمستيا کړې وه ترڅو ته خپل لاړه شې او وې وينې ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کاکا په دې خبره په تلوار لځایه پاڅېدم زه یې باید خپل په سترګو ووینم، د دوي خبري ماته د دلدارۍ راکولو او دروغ پشان ښکارېده نه حقیقت. زما په ناڅاپه پاڅېدو فاتح او ټولو په حیرت راوکتل چې ما په ژړا فاتح ته وویل: راځه چې لاړشو، زه غواړم خپل پلار ووینم .. راځه خیر دی..

د فاتح د څه ویلو مخکي خواښي مې چې تراوسه د کوټې پر پالنګ ناسته وه او زمور خوا ته یې راکتل ویې ویل: دا رقم غواړې لاړه شې هلته؟
د هغې په خبره مور ټولو وروکتل چې خواښې مې تندی تروش کړو او ویې ویل: په دا رقم سر اوشکلک هلته لاړه شې هغوي به زمور په اړه څه فکر وکړي؟ ستا کورنۍ یوه میاشت دا خبره پټه کړې وه ترڅو ته ښه اوسیږې او اوس ته غواړې په دي خراب حالت هلته لاړه شې چې د هغوي حالت ور خراب کړې؟
په ژړا مې وویل: زما پلار ټکر کړې زه نه پوهېږم چې ښه دی او کنه دې؟ او تاسو وایست زه سینګار وکړم؟

خواښي مې بغیر د څه ویلو د پالنګ څخه پاڅېده او د کوټې څخه د وتلو مخکې وویل: ما هم ونه ویل چې درې منه سرخي سفیدي په ځان و وواهه، که نور نه وي یوه جوړه سم کالې خو واچوه او لاس و مخ خو دې پرې مېنځه ...

***

ده یوه میاشت وروسته په هغه لاره روانه وم کوم چې د تلو وخت کې مې قسم کړې وو چې نور به هېڅکله د دې کوڅه خواته ګورم لا نه، د رښتیا چې هم د غوسي او قهر وخت کې شیطان د انسان په جلد کې ننوځې او داسې خبري او فکرونه یې ذهن ته راوړې چې د هغه وخت څخه د تیریدو وروسته د هغه خبرو په یاد راوړلو انسان خپل په حماقت خنده وی او کله ژړه وي. فاتح په تروش تندی زمور د کور دروازه وټکول او زه په ناقرارې په تمه شوم ترڅو دروازه خلاصه شي، څو شېبې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد دروازه خلاصه کړه او ما چې ټول عمر کې هیڅکله د چا ومخ ته ژړلي نه و لکه لیونیانو پشان په بې پرواي مې خپل وړوکې ورور په غیږه کې ونیو او په زوره زوره ژړل مې پیل کړل.

بیچاره احمد زما د ژړا په لیدو نه پوهېدو څه وکړي یوازې ویل خوری څه شوي؟ خوری ښه یې؟ فاتح چې د دروازې و مخ کې زما دا حال ولیدو د اوږې څخه یې ونیولم او کور ته یې ننویستم او په ټُنده لهجه یې د شونډې لاندې د ځان سره وویل: عجب بد مې وکړل چې ورته ومې ویل.

زمورږ په شور ماشور مورمې او الهام له کوره راووت د مور په لیدو د احمد بیچاره له غیږې څخه چې رنګ یې الوتې او ورخطا غوندې وو لرې شوم او د مور خوا ته لاړم، کله چې د هغې د میني او شفقت څخه ډک غیږې ته ننوتم او د هغې د محبت او رحمت څخه ډک لاس مې پر ویښتیانو تېر شو تازه پوهه شوم چې څومره مې خپل حق کې ظلم کړې وو، چې د داسې امن او مینه ناک ځاي څخه مې د یو میاشت لپاره ځان محروم کړې وو، داسې یو میاشت چې پر ما لکه زرګونه کلونو پشان تیره شوي وه، الهام په سترګو سترګو کې د فاتح څخه زما د داسې حال پوښتنه وکړل او فاتح په همغه ټُنده لهجه وویل: د غلطي څخه د خولې څخه مې وپریدل چې پلار دې ټکر کړې، نور نو ...

زما خوا ته یې اشاره وکړل او ویې ویل: نو دا یې حال ده دا یو ساعت کېږي چې خوله یې خلاصه کړې او ژاړې.

د فاتح په خبره الهام په زوره وخندل او زما خواته راغلو داسې حال کې چې مورږ ټول یې د کور خواته دعوت کولو ویې ویل: بس نو د کاکازو دغه کار دې تاته درس د عبرت شي چې د دې وروسته زما خور ته داسې خبرونه ورنکړې.
فاتح- ما خو ایله کوه چې زما اوه نسلو ته دې درس د عبرت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فاتح په خبره ټولو وخندل، مور مې زه لځان جلا کړم او په نرمه لهجه يې وويل:
قربان دې شم لور جاني، پلار جان دې روغ رمټ دې شکر، داسې د ځان سره مکوه.
د اوښکو څخه په ډک نظر مې وروکتل او په ژړغونې غږ مې وويل: چ... چيرته دې؟
مور- کور کېدي راځه وه يې ګوره ترڅو زړه دې په ارامه شې.

مور مې د دې خبري سره سم زه د ځان پسې خپل د کوټې خواته روانه کړم فاتح او الهام دوي په ميمله خانه کې کښېناستل، د دهلېز څخه د تيردلو وخت کې نظر مې خپل په کوټه ولګېده خو دومره مې فکر خپل و پلار ته خراب وو چې وخت نشو خپل د کوټې په لېدو کوم ريکشن وښايم. په لړزانده ګامونو د پلار د کوټې خواته لاړم.

جرئت مې نه درلود چې دننه لاړه شم شيطان زر رقم سوچونه ذهن کې راوړل له ځان سره مې ويل که زيات خوږ او زخمي و بيا څه وکړم؟ که د پخوا پشان نه وو بيا څه وکړم؟ زه لا خپل د فکرونو سره په کش مکش کې وم چې مور مې دروازه خلاصه کړه او زه يې د کوټې خواته ټيله کړم او په همغه حال کې په خوشحالې وويل: وګوره څوک دې راغلې ديدن ته؟

کوټې ته په ننوتلو په پلار مې نظر ولګېده چې د کوټې کونج کې پر نالې پروت وو او يو لاس يې خپل په سترګو کيخودلې وو، زموږ په داخلېدو هغه خپل لاس له سترګو څخه لرې کړو، او په حيرانتيا يې ماته را وکتل زما نظر هم د پلار و سترګو ته ځېر پاتی شو، د سترکو لاندې يو دوه کوچني خطونه او دوه غټ خطونه د تندې او وريځو په منځ کی له ورایه ښکارېدل چی تندی يی ورنه لا زيات تريو او بوډا معلومه ويی. پښه می مخکی ولانړه او هملته د دروازي خوله کې ودرېدم خو مور مې د پلار خواته ټيله کړم، يو شئ زما په ستوني که و او د ساه اخيستو لاره يې راتنګوله، يو شئ چې زړه يې رانيولې وه، يو شې چی د سترګو ديد يې راکم کړې وو او نه يې پريښودلم ترڅو د پلار هغه مات شوي او بوډا شوي څهري ته سم وګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو شئ چې زه يې پوهه ولم چې يوه مياشت ډېره موده ده، يوه مياشت يو عمر دې، يوه مياشت يو ژوند دې يوه مياشت زما د پلار د هغه ځوانۍ ښخه د داسي ناڅاپه مات کېدلو انځور دې. زه هملته د کوټې منځ کې ولاړه وم او اوښکي مې پر مخ رابهېدلې چې پلار مې په ستونزمن انداز ځاې کې کښېناست او د لومړۍ ځل لپاره په بېحد مينه ناک انداز يې خپل لاسونه خلاص کړل ترڅو زه يې غېږې ته ورشم، خو ما يو ګام لا د هغه خواته وانخيستلې شو، مور مې په زوره د هغه خواته ټېله کړم او د پلار لاسونه مې زما پر اوږو راچاپېر شول او زه يې غېږه کې ونيولم، تندی را ښکل کړو، خو زه لا تراوسه په حيرت کې وم.

هم خپل د پلار د دې دومره ناڅاپه مهرباني ښخه! او هم د دې ښخه چې په يوه مياشت کې ښنګه تر دې حده بوډا شوې؟ هېڅکله پلار مې غېږه کې نه وم نيولې، تازه مې سر خلاصيدو په مطلب د امن او پناه غېږه! دا غېږه ماته د پناه او امن ځاې وو. د څو شېبو وروسته پلار مې خپل د غيږې ښخه جلا کړم او داسې حال کې چې د دويم ځل لپاره يې زما سر ښکل کاوه په خوشحالۍ او مهرباني وويل: ښنګه يې زما کوچني پيشوګۍ؟ ولې دومره ډنګره شوې يې؟ مريضه خو نه يې؟

د پلار په راکړې لقب ژړا مې لاپسې زور ونيوه، 17کال کېدل چې پلار راته نور نه و ويلې کوچني پيشوګۍ! شايد په ظاهره يو بې معنا لفظ وو خو دا لفظ زما لپاره دومره د ارزښت وړ و چې حد يې نه درلود، پخوا هر وخت به چې کله پلار راته نارې کړل" زما کوچني پيشوګۍ چيرته ده؟" نو ما به فکر کاوه د ټول نړۍ بختوره جنۍ زه يم. خو 17 کاله کېدل چې د دې لفظ ښخه محرومه وم، 17 کاله کېدل د دې غيږې او د دې ميني ښخه محرومه وم. زما د ژړا په لېدو پلار مې بيا غيږه کې ونيولم او په خندا يې وويل: ای جار،جار د دې اوښکو ښخه دې داسې مه ژاړه، وګوره رک روغ يم هېڅ شئ نه دې راباندې شوې.

مور مې د کوټې منځ کې ولاړه وه او مور پلار او لور ته چې لکه د کلونو وروسته مو يو بل لېدلې او داسې مو سره ژاړل په مينه،مينه راکتل چې پلار مې ورباندې غږ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ویې ویل: چیرته دې هغه ستا زوم جان؟
مور مې په خندا وویل: تر پرون خو ستا زوم جان وو نن بیا څنګه زما زوم جان شو؟
د مور په خبره مې پلار کرار وخندل او ویې ویل: ځکه چې زما لور یې سمه نده ساتلې نو ځکه مې ستا زوم جان کړو ترڅو وکولې شم لږ ورباندې زړه خالي کړم.

د پلار په خبره مې کراره وخندل، چې هغه خپل و څنګ ته کینولم او همغسې په خوش اخلاقي د مور سره لګیا شو، باور مې نه کېدو دا دې زما همغه بد اخلاق پلار اوسیږی؟ د پلار دا خوش اخلاق او خوش طبع څهره په زرهاو کلونو کې یوځل نصیب کېدل او نن له چې د همغه ورځو څخه یوه وه!

پلار- زه خو په دې ګوډه پښه تر میلمه خانې نشم درتلې، فاتح خو څه بیګانه نه دې ورته ووایه چې دلته دې راشي.
د پلار په خبره مې مور د سمده پر ویلو له کوټې ووته، ما د سترګو له کونج د پلا د پښو خواته کتل ترڅو وګورم څومره خوږه شوي؟ خو پلار مې کمپل پر ځان اچولې وو او ماته نه ښکارېده، زما د نظر په لېدو د پلار پام مې هم زما خواته شو او په مهربانه لهجه یې وویل: څنګه دې د کاکا کور دې؟ کاکا، خواښې، ایندروګیانې، فاتح او دهغه کورنۍ ښه چلند درسره کوي؟ کوم ستونزه خو نلرې؟

د دې څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم فاتح د الهام او احمد سره کوټې ته راننوتل، الهام زما په لېدو چې د پلار څنګ ته ناسته وم په خندا وویل: هې، هې نو له چې ټکني لور یې راغله نور نو د دې ناڅکه زوي حیثت صفر شو؟
د هغه په خبره پلار مې کرار وخندل او ویې ویل: شابه هلک ته مې د سترګو څخه پناه شه،چې دا یوه میاشت کېږي زما د سترګو وړاندي ښکته کېږی عصاب دی راخراب کړل.

د پلار په شوخ لهجه ټولو وخندل او الهام لکه یو ماهر اکټر پشان چغي او بوغي پیل کړل او لا یې مورې خندا کولو ته وهڅولو، د الهام او پلار په خبري مې د زړه د خلاصه د یوه میاشت وروسته خندل چې د یو چا دروند نظر مې خپل په ځان احساس کړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر مې چې وګرځه وو نو نظر مې په فاتح ولګېده چې په ځېر، ځېر یې زما خواته راکتل، د هغه د نظر په لېدو مې تندی تروش کړو او مخ مې ورځخه وګرځه وو، هغه حق نه درلود داسې یو مهم موضوع زما څخه پټه کړې، دا زما د پلار د ژوند او مرګ مثله وه او بیا پټ کول هم یو حد لري یوه ورځ، دوي ورځې یو هفته، دوه هفتې نه دا چې یوه میاشت داسې یو مهمه خبره زما څخه پټه وساتي، زه په همدې فکرونو کې وم چې د پلار په غږ د سترګو له کونجو مې بیا د هغه خواته وکتل.

پلار- ته څنګه یې فاتح زویه؟

فاتح خپل ستوني صاف کړو او د پلار سره په خبرو لګیا شو، حسنا نه وه راغلې او مور مې یوازې ځان آشپزخانه کې لګیا وه، لځایه پاڅېدم او د مور مرستې ته مې ورغلم، مور مې د مرستې کولو څخه منع کړم ویل یې تازه ناوې مې راوستې یې کار ته به لاس نه وهې، او ما خندل د مور په دې خبره. هغې به تل په زوره زه کار ته پاځولم او نن یې ویل کار مه کوه، مور چې هرځومره منع کړم بیا هم ما د قورمې دیګ راوخیست او د غابونو په جوړولو لګیا شوم او همغه حال کې مې پوښتنه وکړل: حسنا مو ولې نه ده راغوښتې مورې؟

مور مې ژوره ساه واخیستل او په تاسف یې وویل: پرون مې ورته زنګ و واهه ویل راځم خو نن چې بیا مې زنګ و واهه ویل مور ته میلمانه راغلې او نشم راتلې.
په مشکوک انداز مې وپوښتل: دومره لوی کور کې یوازې میلمانه د دې په غاړه وه؟
مور- نه خبره د میلمنو نه وه.
د مور خبرې بل ډول ښکارېدل، شکمن شوم چې په حسنا څه شوی نه وي، نو ځکه مې مخ د مور خوا ته وګرځه ترڅو ورځخه وپوښتم خیرت خو دی؟ چې مور مې په کرار غږ داسې حال کې چې د وریژو لپاره یې مجمې په ټوکر پاک کول ویې ویل: سرې د زور د اوریدو طاقت نلرې، هغه هم د یو ښځې څخه یې خو بیخې نلرې.

زما خواته راوکتل او ویې ویل: که تاسو فکر کوي په زور سره به وکړې شې خپل خبره پر هغوي ومنې نو دا ستاسو لویه غلطي ده. که خدای ښځه او سړې د زور

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزمیښت لپاره پیدا کړې وایې نو دوارو ته به یې یوشان زور او ځواک ورکړې وایې نه دا چې ښځو ته ناز او نرمې ورکړې او سړیو ته د مټو زور او ځواک!

پوهه شوم چې حسنا ضرور خپل د خاوند سره جنګ کړې، خاوند یې همداسي وو هر کله به چې لږ جنګ جګړه به یې په منځ کې راغله نو حسنا یې زموږ کور ته نه پریښودل. لږ مې خیال راحت شو ځکه پوهېدم د حسنا خاوند داسي بد انسان نه دې چې لاس ورباندې پورته کړې یا هم کوم زیان ور ورسه وې، نو ځکه په شیطنت مې وویل: خو کله ناکله همدا سړي په هېڅ لاره او چاره ندې، په هېڅ صراط المستقیم نه دې، زموږ خبره بیخې منې نه! نو مجبور لږ د زور څخه کار واخلو کنه؟
مور مې بغیر له دې چې زما د پوښتني ځواب راکړي ویې پوښتل:
مور- پوهېږي دویم ښځه ولې په اکثریت نارینو د لومړۍ میرمني څخه زیاته ګرانه ده؟

بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې زما په خاموشی مور مې سر وښوراوه او ویې ویل: ځکه دویم ښځه ډېر ناز او نخرې کوې! او سړي د ناز او نخرو پسې لیونۍ دې نه د زور او جنجال! هغوي خپل پشان جنجالې، غوسه ناک او قهرجنه میرمن نغوارې،هغوي مینه ناک، ناز او عشوه داره ښځه غوارې هغوي هغه جنۍ غوارې چې پر دوي سل من ناز او نخرې وکړې او د دې ټولو څنګ ته د هغوي خبرو ته هم غوږ شې او مینه محبت وکړې، دا ښځې هغه ښځي دې چې سړي ورته نوکري کوي او چمتو دې د دوي لپاره خپل ځانونه و وژني ...

په حیرت مې خپل د مور خواته وکتل خو څو شېبو وروسته پر شونډو مې نرۍ مسکا راغله عجیب نه ده داسي خبري وکړې، زما مور هغه ښځه وه چې زما د پلار پشان سرکش سړی سره یې یو عمر تیر کړې وو او هغه یې ځان ته رام کړې وو، د لومړۍ ځل لپاره د مور خبري راته د فکر وړ وګرځېدي! ما تل د هغې خبرو ته چې ویل یې میره دي داسې دي او میره دې هغسې دې دومره توجه نکول او تل به مې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې خبري د غوږ شاته اړول، خو نن مې غوښتل ورځخه واورم، شايد ځکه چې خپل ځان مې هم په همغه شرايطو کې لېده؟

غوښتل مې ورځخه مشوره واخلم البته غير مستقيم نه مې غوښتل فکر وکړې چې زما او فاتح منځ کې کومه خبره ده او انديښمنه شې، که څه هم ما او فاتح دا يو مياشت اوربند کړې وو خو دا اوربند دايمي نه وو، لکه همدا نن چې په يوه خبري بيا ما ورځخه مخ ونيو او هغه هم تندی تروش کړو ما نه غوښتل زموږ ژوند دي داسی مخکي لاړشي ما د فاتح حالت د تل لپاره د دې يو مياشتي پشان مهربان غوښت خو نه پوهېدم څنګه دا کار وکړم؟

د خندا په لهجه مې وپوښتل: ستاسو زياتر خبره د ښځو په اړه وه موری! که مثال د خبري سړی قصد د جنګ ولرې او نه په ناز وي نه په نخره بيا د هغه سره ښځه څه وکړې؟

زما په خبري مور مې د مجمو پاک کولو څخه لاس واخيست په ځېر نظر يې او د څو شېبو خاموشي وروسته يې وويل: يوه هوښياره ښځه بايد په هر حالت کی خپل د خاوند طرفدارې او حمايت وکړې پوهيږی ولې؟
مور خوا ته مې وکتل چی هغې کرار وويل: ځکه چې سړيان ټول کارونه د ښځو څخه زده کوي، بلخصوص د ژوند په اول کې. هغه ستا د کارونو هيندار ده هر کار چې کوي هغه ځواب به ګوري نو ښه کار وکړه چی ښه نتيجه وګوري، صبر وکړه، مينه ورکړه، احسان يې ومنه، احترام ورته وساته، نو هغه به هم په بدل کې همدا شيان درکوي، خو که ته په تمه اوسيږې چې هغه دې پيل کوونکي ددې شيانو وې نو د ګوتو په شمار سړيان پېدا کېږي چې لومړي پيل وکړې ...

د مور خبرو فکر کولو ته اړ ويستم، ما تل ځان سره ويل ولې بايد ښځه په يو اړيکه کې ځان ښکته راوړې او ولې هغه بايد وهل، رټل، کنځل وزغمي ترڅو خدای هغه نر ته هدايت وکړې او ښه شي؟ ولې بايد تل صبر کول زموږ ښځو لخوا وي؟ نو ځکه مې ځان کم نه راوړو خو د هغه ګوتو په شمار سړيانو څخه چې مور مې يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځخه وکړه یو یې فاتح وو چې ماته یې ځان ښکته کړو او لومړۍ هغه د صلحي لاره ونیول! نو اوس حق زما وو چې خپل د ضد څخه راښکته شم او یوځه؛ ډېر همه نه یوازي یوځه د مور په خبرو او نصیحتونو عمل وکړل او کوښښ وکړم د ضد او مرورتیا لځایه د فاتح په خبرو او کارونو سر وخوځوم.

بووبۍ مو تیاره کړل سرخان مو د مور پلار کوټه کې هوار کړو، د غابونو وړلو وخت کې الهام او احمد راغلل او د مور په زیات ویلو زه لاړم کوټې ته، کوټې ته په ننوتلو پلار مې خپل وځنګ ته د کښېاستلو اشاره وکړل او زه هم هملته کښېناستم د فاتح خواته مې وکتل تندی تروش وو، او په خاموش نظر یې دوه سترګي لاندي غالي ته نیولې وه. بووبۍ راغله او فاتح په همغه تروش تندي او بغیر د څه ویلو په بووبۍ خوړلو لګیا شو، پلار او مور مې هم هر یوه دقه کې زما و مخ ته یو شي کیخودو او ویل یې وخوره دا ستا خوښېږي، زړه مې غوښتل د مور کړې نصیحتونه همدلته عملي کړم!

نو ځکه خپل د مخ څخه مې د غواي د قورمي غاب د فاتح خواته ونیو او ومې ویل:
اوممم واخله ستا قورمه زیات خوښېږي.
زما په دې کار فاتح په ځیر ځیر راوکتل او بغیر د څه ویلو یې غاب راځخه واخیست، خو په ښکاره مې ولېدل چې تندی یو څه ورین شو او مسکا یې پر شونډو راغله، باور مې نه کېدو چې د رښتیا زما دومره یو کوچني محبت د هغه حالت دومره ښه کړې اوسیږي؟ تشویق شوم ترځو نور هم امتحان کړم، ګیلاس اوبه مې مخې ته ورته کیخودل، دا یوه میاشت کې پوهه شوی وم چې فاتح د بووبۍ خوړلو وخت کې ضرور وچ بووبۍ راخلي یو رقم عادت یې وو چې د وریژو خوړلو وخت کې لا ګوله د وچي بووبۍ سره کول او هسې نخوړل.

نو ما هم خپل د مخ څخه بووبۍ د هغه خواته ورکړل، او حیرت مې هغه وخت وکړو چې هغه خپل د مخ څخه د بانجان غاب بغیر د څه ویلو زما و خواته را ټیله کړو! د هغه په دې کار په حیرت او مسکا مې وروکتل ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډوډۍ خوړلو وروسته چاي راغلو او د تل پشان سرېان لګیا شول په سیاسي بحث کې او زه و مور مې لاړو خپل کوټې ته، خپل د کوټې په لېدو عجیب احساس مې درلود شاوخوا مې په زړه تنګي کتل هرڅومره ښکلې او بهترینه ځاي ته انسان لاړشې بیا هم انسان هېڅکله هغه ځاې نشې هېر کولې کوم ځاې کې چې خاپوړې کړې وي، خپل د کتابو د الماری خواته لاړم خلاصه مې کړه خالې وه هېڅ شئ پکې نه وه په خندا مې مور ته وویل: تل مو ویل دا الماري دې راکړه زه پکې د اشپزخاني لوښي کېږدم، ما ویل زما د تلو سره سم به مو راخیستي وې، خو دا خو لا تراوسه همدلته ده.

مور مې په حسرت راوکتل او ویې ویل: زړه مې ونشو.
څه مې و نه ویل چې مور مې کرار وپوښتل: خوشحاله یې بلقیس؟
مخ مې وروګرځه وو، که یوه میاشت مخکې وایې ضرور مې خوله خلاصول او درې زره طعني، پیغورنه مې ورکول او ضرور مې ورته ویل "چې تاسو غاړه کې بوج وم چې داسې مو ژر ځان راڅخه بیغمه کړو او ما څه کوي تاسو به ښه خوشحاله یاست" خو اوس د دومره خبرو وروسته پوهېدم داسې خبري کول ماشومانه او بې منطق وي، په نرۍ مسکا د مور خواته وګرځېدم او ومې ویل: خوشحاله یم مور، راضي یم خپل د ژوند څخه. تاسو زما غم مه کوي دا وواېست چې کله به لخیره دې کور ته انګور راوړې؟

زما په خبره د مور تندی تروش شو او په خفه لهجه یې وویل: نه پوهېږم زما خو بېحد زړه غواړې ژر تر ژر الهام ته واده وکړم او دې کور ته انګور راوړم ترڅو هم زما لاس سپک شي او هم به د الهام کور ودان شي خو هغه یې نه منې، د ماستړي غواړم وکړم، یو سم کور او ژوند غواړم جوړ کړم او وخت یې نه دې، او داسې نه دې او هغسې نه دې پر بهانو ما او ستا پلار شاته، شاته کوې کله ناکله فکر کوم هسې نه دا بهاني د دې لپاره کوې چې پر کوم جنۍ مئین دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور په خبرو زما زړه کې هم شک وولید، امکان یې زیات درلود د اوس وخت هلکان وه هر چا غوښتل خپل پر خوښه او خپل په زړه واده وکړي زما رقم خو نه وه چې د ماشومتوب د بل په نوم وم او د هیچا په اړه مې د فکر کولو جرئت لا نه درلود مینه کول خو لرې، ناڅاپه زړه مې راته وویل"ایا تا د فاتح څخه بهتره کس پیدا کولې شو؟ تعلیم یافته، با سواده، ښایسته، اوس هغه دې خوش اخلاق شوي هم دې نور څه غواړې؟"د دې فکرونو په راتلو نرۍ مسکا مې پر شونډو ښوره شوه لکه چې لاړم لیونۍ شوم خپل ورباندې عیب لګوم او خپل بیا ورڅخه تعریف کوم!

تر ډېره د مور سره ناسته وم او مجلس مو کاوه، نه پوهېږم ساعت به څو بجې وو چې فاتح د تلو غږ وکړو، که څه هم مور او پلار مې زیات ټېنګار وکړو چې ناوخته ده او شپه پاتې شې خو فاتح غوښتل لاړ شي، او په سترګو، سترګو کې ماته ویل چې انکار به نکوي او راځه، د هغه د داسې نظر په لېدو ما هم کوم مخالفت ونکړو او د تلو لپاره مې حجاب ته لاس کړو، که څه هم ډېر مې زړه غوښت هغه شپه د دومره مودې وروسته خپل د پلار کور ته پاتې شم.

خو د فاتح د زړه په خاطر مې د مور او پلار غوښتنه رد کړل او د ټولو سره مې خدای پاماني وکړل او د فاتح پسې روانه شوم، فاتح موټر روښانه کړو او د کور لاره یې مخ ته ونیول، په لاره کې زما دومره خوب راتلو چې سر مې پر چوکۍ تکیه کړې وو او سترګي مې پټې، پټې کیدل.

فاتح څو ځله د موټر د ښیښې څخه زما خواته راوکتل او لکه د یو خبري په کولو او نه کولو کې چې زړه نازړه وی؟ خو اخر طاقت یې ونشو او ویې پوښتل: ښه خو یې؟

بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې هغه په خندا وویل: ما فکر کاوه له دې چې داسې موضوع مې درڅخه پټه کړې وه تر یوه دوه میاشتو به بیا ...
د هغه خبره مې ورپرې کړل او ومې ویل: زما جنګ به وي؟
فاتح د سترګو له کونج راوکتل چې ما په پوسخند وویل: زه دومره هم جنګېره نه یم، او هو ستا د هغه کار څخه خفه یم خو جنګ کول کوم ستونزه نه حل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاتح ځو شېبې بغير د څه ويلو څخه مخامخ ته وکتل او بيا يې کرار وويل: دا پرېکړه زما نه وه، ستا پلار او کورنۍ وويل خبر مه ورکوه، نو ما هم څه ونه ويل.

دومره خوب راتلو چې د خبرو د پورته ښکته کولو او بحث کولو حوصله مې نه درلود نو ځکه مې خپل خوله بنده کړل او چوپه شوم، کور ته تر رسيدلو نه نور ما کومه خبره وکړه نه فاتح. کله چې کور ته ورسيدو نيمه شپه وه ټول ويده وه مور هم بغير د کوم شور ماشور څخه خپل د کوټې خواته روان شو، همدا چې پر پالنګ څملېدم نو احساس مې وکړو چې سترګي مې د زيات خوب له لاسه يو پر بل پسې و موښتي، غوښتل مې ويده شم چې د فاتح غږ مې خپل وځنګ ته واوريده چې راغږ يې کړل.

فاتح- يوه خبره مې درته کول!
سترګي مې په زوره خلاصي کړې او ومې ويل: اه هغه ګډ خوب هم زيات فايدي درلود.
د فاتح د خندا غږ مې واوريده چې کرار يې وويل: لکه څنګه فايدي؟
— لکه دا چې هغه وخت هر وخت زما خوب راغلې وايې نو ته هم اتومات ويده کېدي، او خبري مو د خوب نرۍ کې کول.
فاتح- امممم خو افسوس چې هغه ښکلې وختونه پاي ته ورسيدل او مجبور په رښتيني نړۍکې يو دبل سره خبري وکړو نو راپاڅه شابه.

د هغه شپې وروسته چې فاتح په هغه بد ډول له خوب راويښه کړم، او هغه عجيب غريب پوښتني راڅخه وکړل تر نن چې يوه مياشت روڅخه تېرېدل، مور دواړه نور هغه د خوب نرۍ ته نه و تللې، ما خو بيخي دا يوه مياشت کې له سر کوم خوب نه و لېدلې، ماښام به ويده کېدم او سهار به راويښه کېدم، بس هېڅ داسي عجيب، غريب يا حتا عادي خوب مې لا نه و لېدلې دا يوه مياشت کې.
فاتح- پاسېږي او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما يو بد عادت درلود کله چې به خوب راغلو نو حاضره وم ټول نرۍ اوبه ويسي خو ما دی خوب ويسي، او اوس هم همغسي کلک خوب نيولې وم په چونګ، چونګ او بد اخلاقې مې وويل: ته وخدای پريږده ويده شم، هر خبره لرې سبا سهار يې وکړه.

دا ځل مې د فاتح ساه خپل د غوږ څنګ ته محسوس کړل او بيا د هغه لاسونه چې زما څخه چار چاپېر شول او زه يې خپل غيږه کې ونيولم.همدا چې سر مې د هغه په سيني برابر شو او د غوږ لاندي مې د هغه د زړه درزا واوريده داسي مې محسوس کړل لکه يو مور چې خپل د ماشوم د ويده کولو لپاره "الله هو" وايې، همدومره د آرمښت او سکون څخه ډکه، فاتح لګيا وو يو څه يې زما د غوږ څنګ ته ويل او ما يوازی ورته اهوم، اهوم ويل، د فاتح اخرې خبره چې د پوره ويده کيدو مخکې مې واوريدل هغه د فاتح کراره زمزمه وه چې ويې ويل:

فاتح- نن ماښام مهربانه او هوښياره شوي وي، د ماشومانو پشان دې شخ ونکړو بلکې د يو تعليم يافته، باسواده، عاقل او بالغ ښځي پشان دې رفتار وکړو، او زما زيات خوښ شو، لومړۍ ځل لپاره مې احساس وکړو چې کولې شم خپل په کارونو کې درڅخه مشوره واخلم بغير له دې چې و وېرېږم چې ته به اوس ضد وکړې او يا به کار خراب کړې.

ژوره ساه مې ورڅخه احساس کړل چې سينه يې پورته ښکته شوه او بيا داسې حال کې چې زما د سر ويښتيان يې ښکل کول د پخوا څخه لا په کراره غږ يې وويل: غوارم يو تازه پيل وکړم ستا سره زما بدماشې پيشوګۍ...

***

شبنم وګوره نور څو نفر پاتې؟ —

زما په خبري شبنم په سترېيا خپل نظر خپل په لاس کې د موجود نسخو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخيست او په دروغي ژړا يې وويل: نه يم خبره خو زه مړه شوم بلقيس! په قران د سهار څخه تراوسه په دوه پښو ولاړه يم او اخوا دېخوا ځغلم راځغلم.
د هغي په سترې لهجي مې وخندل او ومې ويل: يو ساعت نور پاتې وګوره که ښځي دېرې وې نو ورته ووايه نيم نور دې سبا راشې.
زما په خبري شبنم په همغه ناراضه څهره لځايه پاڅېده او بيرون ولاړل، چې ډاکتري سپيدي و ماته راغږ کړل.

ډاکټر سپيده- بلقيس جانې د دغه ميرمني سونوګرافي وکړه او وګوره چې د ماشوم جنسيت يې څه دي؟

د سمده پر ويلو له چوکۍ پاسېدم او د کوټې هغه بلخوا چې يو کټ د سونوګرافي د ماشين الاتو سره يوځاي کيخودل شوي و لاړم، او هغه جنۍ چې ډاکټري راته د سونوګرافې د اخيستلو لپاره ښودلې وه، په کراره ګامونو زما خواته راغله پرده مې پورته کش کړل او هغې ته مې وويل چې په کټ څملېږي او خپل خيټه لوڅه کړې، جنۍ راغله د عمر څخه ماشومه نه وه، او دا يې لومړۍ ماشوم هم ماته نه ښکاره کېدو! څکه بېحد په دې شيانو پوهه وه لکه ډېر چې لېدلې اوسېږي؟ بغير د څه ويلو په کټ څملېدل، او خپل نس يې چې د څلور پنځه مياشتو ماشوم پکې ښکاره کېدو لوڅ کړو، ما لا د سونوګرافې شيان سم کړې نه وه چې هغې راته په خندا وويل: ډاکټر صايبې که د لور زېږې دی راباندې وکړو نو هر څه چې غواړې درته اخلم يې!

د هغې په دې خبره حيرانه شوم او فکر مې وکړو چې سم مې خبره ورڅخه نه ده اورېدلې نو څکه مې وپوښتل: د لور زېږې که د زوي؟
زما په خبري هغې وخندل او په همغه خوش اخلاقې وويل: د لور زېږې، ماشالله درې زامن لرم خاوند مې ويل يوه لور راته راوړه او نور اولادونه بس کړه.

په خندا مې وويل: لومړۍ ښځه يې چې وايې د لور زېږې راباندې وکړه، دلته چې څومره ښځې راځې تول زارۍ کوي او وايې چې د زوي زيږې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبري هغې کرار وخندل او ويې ويل: ولای څه ووايم زما خپل هم هلک خوښېږي خو څه وکړم چې خاوند مې وايې لور غواړم.

نور مې څه ونه ويل که څه هم ډېر پوښتنې مې ذهن کې وه خو خاموش شوم، د سهار څخه تراوسه د دومره ښځو سره مې خبري کړې وه چې نور د يوه اضافه خبري ځای مې مغزو کې نه درلود، د هغې ښځې ماشوم هلک وو، کله چې ورته ومې ويل لږ خفه شوه خو د شکر هلک د خدای نعمت دې پر ويلو له کټ پاڅېده، زه هم بيرته خپل د چوکۍ خواته لاړم او کښېناستم د بل مريض د راتلو په تمه.

درې مياشتې کېدل چې دلته مې کار کول پېل کړې وه، د هغه شپې وروسته سهار چې هرڅومره فاتح ته مې وويل ماښام دې څه ويل غوښتل؟ خو فاتح راته خبره ونکړه غرمه خواته د کار څخه وخت راغلو او راته ويل يې راځه يو ځاي دې ورم! کله چې موټر کې کښېناستم نو راته کيسه يې وکړل، فاتح غوښتل خپل د مشر ورور مصور څخه ويش واخلي او تنها کور ونيسي، او دغه خبره هغه ورځ فاتح مشر کاکا ته کړې وه نو ځکه کاکا فکر مند غوندي وو، فاتح غوښتل د ويش وروسته پلار، مور او دواړه خويندي زموږ سره ژوند وکړي! فاتح راته خپل د مور د بد اخلاقيو او له دې چې عايشه ماته دومره پورته ښکته کول دليل وويلو.

زما د خواښې دوه زامن خارج کې وه او د مشر زوی مصور ښځې زر بې بې نور نه غوښتل د خواښې او خسر سره ژوند وکړي نو ځکه يې بهانې کول او زما د خواښې سره يې کله ناکله جنګ کاوه، او زما خواښې فکر کاوه چې درې زامن خو مې د لاس لاړل او يواځې ورته فاتح پاتې وو او هغې فکر کاوه چې زه يوه نازولې او خود سر جنۍ يم او د خواښې، خسر د ساتلو نه يم نو ځکه يې غوښتل خپل وريره عايشه فاتح ته وکړي ترڅو دا وساتي! که څه هم فکر يې بيحد غلط وو خو زړه مې ورباندې وسوځېده، په دې ټولنه کې د يوې ښځې حيثت که په هر مقام او رشته کې اوسيږي د پښو لاندې دې او ورباندې ظلم او ستم کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه که د مور په حیث وي،د ښځې په حیث وي، د خوابنې په حیث وي، د لور په حیث وي، د خور په حیث وي، که په نور سلګونو او زرګونو رشتي او حیثیت کې اوسیږی بیا هم وربانديې ظلم کیږي. د پلار په کور که جنۍ اوسیږي ورونه او پلار یې د هغې د رضایت بغیر واده کوي، کله چې واده شي لومړۍ خو د خاوند، خوابنې، خسر، لیوره، د لیوره د ښځو منت به وړې او خدمت به یې کوي کله چې د خوابنې، خسر څخه ویش واخلې بیا خپل د ماشومانو په غټ کولو، درس ویلو، ساتلو کې خپل د زړه ویني و څښې، خپل د سر ویښتیان سپین کړې او خپل د بدن هډوکې ورته خاوري کړې کله چې اولادونه غټ شې لورګانې به د هغوي د بخت پسې واستوي او د زامنو د واده وخت چې کله راشې نو همغه اولاد چې دې د زړه په وینو لوې کړې وي همغه زوی خپل د ښځې لپاره یا هم په زر نورو بهانو خپل همدا زاړه مور او پلار لرې غورځوي، او شاته ورته ګورې هم نه. ایا دا بې انصافې نه ده؟

فاتح ویل زه مې مور، پلار او دواړه خویندي خپله ساتم خو زړه نا زړه وو لکه چې زما د ریکشن څخه په ویره کې وو، هغه هم خپل د مور پشان فکر کاوه چې شاید زه بې شرمې وکړم او انکار به وکړم، خو کله چې ما ورته دلداری ورکړل او ورته و مې ویل که ستا د مور دا ټول ضد او جنجال په همدي خاطر وو او نور زما سره په زړه کې کومه کینه او دښمني نلري زه هغه خپل په سترګو ساتم، ستا پلار زما کاکا دې او ماته د پلار حیثیت لرې، او زه به یې خپل د پلار و مور پشان وساتم. کله چې مې دا خبري فاتح ته وکړل نو هغه دومره خوشحاله شو چې سترګي د زیات خوشحالۍ څخه ځلیدل څو ځله یې زما تندی ښکل کړو او جان او قربان یې راته وویلو، او بیا د هغه کور خواته یې ویوړم چې ده اخیستي وو.

درې منزله لوي کور وو البته باید ووایم تعمیر وو نه کور، ځکه حویلې نه درلود درې پوړه ودانۍ وه د هغه تعمیر لاندې منزل فاتح پوره ماته روغتون جوړ کړو! البته ځکه چې زما رشته یوازې قابلګي وه او نور د ښځو په امراضو مې سر نه خلاصیدو نو فاتح خپل د ملګري ښځه چې ډاکټره وه دلته راوړل د سر طبیبې په توګه، هغې مریضان کتل دوا یې لیکل او ما یوازې سونوګرافي او د ماشوم ولادت کاوه البته ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

او شبنم، یو څو نور انجوني هم راغلې وه چې زیاتره یې د همدي ډاکټرې سپیدي خپلوان وه، ښه لایقه ډاکټره وه داسي چې په راتګ یې په یوه میاشت کې ښځې ورته په صف ودرېدل او موږ ته یې د سر ګرولو وخت لا نه راکو، د همدي تعمیر په دویم پوړ کې مشر کاکا، زما خواښې او د هغې دوه لورګاني اوسېدل! او دریم پوړ کې زه او فاتح.

که څه هم په لومړۍ میاشت زما خواښې دا ټول کارونه زما د سر لاندي بلل او سم جنګ جهاني راسره وکړو خو کله چې غور یې وکړو او پوهه شول چې ټولو دا شړلې ده او همغه جنۍ چې دې د رنګ څخه لا بد راتلو دا ساتي، نو کرار کرار زما سر یې د صلحي لاره مخي ته ونیول، اوس هم کله ناکله چې حوصله یې تنګه شي راځې دلته زما وځنګ ته او د راغلو ښځو سره مجلس کوې دلته هم د خدای مجلسي ښځې راځې، یوه ورته خپل د انګور کیسي کوي چې ماشوم یې نه پیدا کېږي بله ورته خپل د لور کیسه کوې او څه خو ورته خپل د ژوند د بد یا ښه حال داستان بیانه وي او دا هم ورته غوږ نیسي، خلاصه چې ښه سات یې تېر دې حتا کله ناکله راځې د سونوګرافي په وخت کې زما و څنګ ته درېږي او پوښتنه کوې چې ماشوم هلک دې او که جنۍ؟

هر وخت چې ورته ووایم هلک دې نو دومره خوشحاله کېږي چې حد نلري، خو کله چې ووایم جنۍ ده نو خفه کېږي حتا په سلګونو ځله یې د هغه ښځو سره ژړلې چې ما به ورته ویل ماشوم مو جنۍ ده! هر کله چې ورته وایم ولې داسي کوې؟ نو وایې که جنۍ زیات راوړي بیا خاوند یې ورباندې بله ښځه کوي، او د دې ژوند خراب کېږي.

خپل د خواښې د دې خبرې به مطلب سم نه پوهېدم یوه ورځ مې د فاتح څخه پوښتنه وکړل او هغه راته کیسه وکړل چې زما د خواښې مور اوه انجونۍ نرۍ ته راوړي وه او د هغې پلار د دې په مور بله ښځه کړې وه د مور بنه یې د دې د مور او خویندو سره ډېر بد چلند کاوه نو ځکه دا داسې احساس کوې که هر چا لور راوړل نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې ژوند خراب کېږي، په دي څو میاشتو کې ما خپل د خوابنې هغه څهره ولېده چې هېڅکله مې باور نه راتلو چې دې ښځې دې دومره ستونزي ګاللې وي! او باور مې هم نه راتلو چې یوه ورځ به زه دا دومره مهربانه وګورم! همدي فکرونو کې غرقه وم چې د کوټي بهر د جنجال غږ مې واورېده، په تلوار لځایه پاځېدم او د بیرون خواته لاړم ...

یوه ښځه چې د څهرې څخه د اطرافو ښکارېده او غټ بخمل کمیس یې اچولې وو او پر زنه و تندي شنه خالونه وهلې وه په بېحد ځنده لهجه د شبنم سره خبري کول، په تلوار د هغوي خواته ورغلم شبنم مې د اوږي څخه ونیول او ومې پوښتل چې څه ستونزه ده؟
شبنم په غوسه د هغې اطرافي ښځې خواته وکتل او په کرکجنه لهجه چې ما عمر کې د شبنم څخه نه وه اوریدلې وې وویل: بلقیس دې ښځې ته ووایه چې د دې ځاې څخه لاړه شي.

په حیرت مې د شبنم خواته وکتل هغه مې هېڅکه داسې نه وه لېدلې، د دې څخه مخکې چې زه کوم څه ووایم هغه اطرافي ښځې په جنګ کوونکي انداز وویل: ته به بد وکړې چې ما د دې ځاې څخه وباسې، ستا پلار ما د دې ځاې څخه نشې ویستلې، ته صبر زه خپل زوی ته راغږ کړم ترڅو ستا فح** کار دروکړي..

دا ځل مې په خلاصه خوله د هغه ښځې خواته وکتل چې په تلوار د دباندی خواته روانه شوه، د شبنم خواته مې وکتل او د دې څخه مخکې چې زه کوم څه ووایم هغې په غوسه وویل: کرکه لرم له داسې خود پسند، مغرور خلکو څخه، ماته یې داسې راکتل بلقیس لکه زه چې نوکره یم، ژر تر ژره دا ددې ځاې څخه وباسـ..
د شبنم خبره لا نه وه پوره شوي چې هغه بوډی ښځې یو سړی د لاس څخه نیولې دننه راوړو ما په تلوار خپل ټیکری پر مخ کش کړو او هغه ښځې ته مې وویل: خاله جانې دلته زنانه ځاې دې ولې مو نر رانوییست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې هغه سړی ته چې د سر وشکلک څخه طالب ښکاریده او کلاشنکوف یې هم پر اوږه وو مخ واړو، د هغه په داسی ځیر،ځیر کتو وډاره شوم او په لړزانده غږ مې وویل: وروره دا زنانه ځاې دی بهر لاړشې.
د هغه د کوم ځواب راکولو مخکې هغه اطرافی بوډې ښځې ما ته خوله ونیول او داسی بی ادبانه لهجه یې راسره وکړل چې یوازی مې ورته کتلې شو بغیر د یو لفظ ویلو څخه، هغې موږ ټول له الف څخه نیولې تر یا ټول موجوده پرسونل ته یې بد لمنۍ وویل بیا یې خپل زوی موږ ته مخ ته او شاته کړو او ویې ویل چې دا طالب دې یا زما انګور وګوری چې څه ستونزه لرې؟ یا دا ټول روغتون مو په سر در خراب کوو.

د هغې په خبره تازه مې د دوي دواړو مور او زوی شاته په یو ۱۵/۱۶ کلنۍ جنۍ نظر ولګیده چې ښکلې حجاب یې اچولې و او د ویری له لاسه لړزیده.

شبنم- که موږ ناپاکي او بد لمنۍ یو نو تاسو بد نه کوي چې خپل انګور مو دلته راوړې؟
د شبنم ځواب همغه طالب سړی په غوسه ناک لهجه ورکړو او ویې ویل: خوله دې بنده کوه، پوهېږی که خبر ورکړم دلته تاسو داسی کار کوي نو څه حشر به مو وې؟
ما شاوخوا راغلو ښځو ته کتل چې په ویرې، وېرې موږ خواته راکتل، شبنم غوښتل د هغه ځواب ورکړی چې د شالخوا مې د مشر کاکا غږ واوریده چې په بیحد کلک لهجه یې په هغه سړی غږ کړو:

مشر کاکا- هلک دیخوا راشه، هلته زنانه دي، مریضان دي.
د کاکا پر غږ موږ ټولو د هغه خوا ته وروکتل چې کاکا په کراره او نرمه لهجه سړی د دباندې خواته روان کړو، او هغه هم په تروش تندی د تلو لاره ونیول خو د وتلو مخکې وویل چې زما ښځه وګوري چې څه مشکل لرې کنه زه مو چاره کوم، د هغه په خبره د کاکا تندی تروش شو خو بغیر د څه ویلو یې یوازې د بهر تلو وویل، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سرې ووت نو مشر کاکا په همغه تروش تندی هغه بوډۍ ښځه مخاطب کړل او ورته وې ویل:

مشر کاکا- دا یو شخصي ملک او یو شخصي روغتون دې! او بل دا چې زما اینګور ستاسو نوکره نه ده چې تاسو داسې ورباندې چغې وهې، که ستا مریض د مرګ حال کې هم اوسیږی که دا وواېی زه یې نه ګورم نو تاسو حق نلرې ورباندې چغې ووهې، که خپل د زوی په یو کلاشنکوف او دا چې طالب دی نازیږی او موږ ورباندې ګواښه وی، نو موږ هم سرونه د لوټې د لاندی څخه نه دې راپورته کړی، داسې کسان په طالبانو کې پیژنم چې په یوه زنګ وهلو ستا دا زوی سره ده هغه کلاشینکوف داسې درته په کور کېنوي چې خپل پوهه شې د محمود خان الکوزي سر ډغرې وهل پای یې څه ده!

د مشر کاکا په خبرو بوډۍ ښځه خو لرې زه لا و ډاره شوم، مشر کاکا دومره په کلک او ګواښونکې انداز باندی دا خبرې وکړل چې د بوډۍ ښځې خوله یې بنده کړه. د بوډۍ ښځې وروسته کاکا زما او د شبنم خواته مخ کړو او په نرمه لهجه یې وویل: تاسو هم یاد کې ساتې چې تاسو درس ویلې ترڅو همداسې مریض او احتیاج خلکو سره مرسته وکړې، نو د دوي جاهلیت ته مګوري او د خدای او انسانیت له مخې ورسره مرسته وکړې.

کاکا دا خبرې وکړل او د بیرون خواته روان شو، د هغه په تلو بوډۍ ښځه بغیر د څه ویلو ولاړه وه او موږ خواته یې راکتل، ما بیا د هغې د انګور خواته کتل او دا فکر مې کاوه چې ایا د رښتیا دا ماشومه جنۍ د هغه سړی ښځه ده؟
د شبنم په غږ مې د هغې خواته وکتل:
شبنم- د همدې جاهلانو له لاسه خو زموږ دا حشر دې.
بیا یې د بوډۍ ښځې خواته وکتل او لا په طغنه لرونکې انداز وویل: او اوس دلته راغلې او زره یې غواړې چې موږ د دوي نسل هم ورته وساتو؟ زه خو وایم خدای ستاسو نسل د ریښې څخه برباد کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حیرت مې خپل شونډه وچېچل او د دې څخه مخکې چې بیا کوم جنجال جوړ نشي په غوسه مې د شبنم لاس چونډي کړو او ومې ویل: بس کړه وه جنۍ، کاکا رښتیا وایې زموږ دنده دا ده چې د خلکو مرسته وکړو، نه دا چې دین، مذهب، قوم او نژدا ته وګور زموږ دنده د انسانیت ساتنه بغیر د کوم تعصب څخه ده او بس، که ته داسې خبري وکړې نو ستا او د یو جاهل انسان فرق په څه کېدي؟

زما په خبرو شبنم تندی تروش کړو او په غوسه زما د څنګ څخه لرې شوه او همغه حال کې وویل: د دې ټولو خبرو با وجود زه ولاکه لاس لا ورته ووهم علاج کول خو لرې، تا به لیاده وتې وي خو زما یاد کېدي همدوي جاهلانو پر موږ انسټیوټ بند کړو، تعلیم یې بند کړو، او اوس خپل ښځه یې وماته راوستوي چې وګورم څه ستونزه لرې؟ ولاکه یې وګورم، ولې نه ورېې مولا ته؟ هسې هم د دوي هر کار خو مولا ورته کوي ماشوم دې هم مولا وربانديې راوړې او علاج دې هم مولا ورته وکړې، او هوو هسې هم زه خو بد لمنه او ناپاکه یم.

بد بد مې وروکتل چې هغې هم په مقابل کې تندی راته تروش کړو او کوټې ته ننوته، بغیر د څه ویلو مې د بوډې ښځې خواته وکتل چې د کاکا ګواښونو سم وېره ولې وه.

— څه ستونزه لرې د څه لپاره راغلې یاست؟

بوډې ښځې په تروش تندی وویل: اینګور مې راویستي هم وګوري چې ماشوم یې څه دی؟ او هم وګورې چې څه مرګ لرې چې هره ورځ زموږ غوږونه یې راخوړلې او وایې درد لرم.

بغیر د بل کوم خبري روانه شوم او جنۍ ته مې هم وویل چې راپسې شې، د سونوګرافې کټ خواته لاړم بوډې ښځه هم زموږ پسې وه، څه مې ورته ونه ویل او جنۍ ته چې خپل حجاب یې کلک موټ کې نیولې و وروکتل او کرار مې ورته وویل: ګرانۍ په کټ څمله او خپل نس لوڅ کړه.

زما په خبري جنۍ په وېري او وحشت راوکتل خو هغه بوډۍ ښځې چې خواښه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدل په بد خلقۍ د کټ خواته ټیله کړل او ویې ویل: شابه ژر کوه چې معلوم شې څه مرګ د دې؟ چې ژر تر ژره د دې مردار ځاې څخه لاړشو.

جنۍ په لړزانده ګامونو د کټ خواته راغله او خپل په هغه کوچني لاسونو یې کمیس لږ پورته کړو، په حیرت مې نس ته وکتل او ومې پوښتل: د څو میاشتو دې ماشوم دی؟

ما پوښتنه د جنۍ څخه کړې وه خو ځواب یې خواښې راکړو: ولاکه پس مرګه د پنځه شپږ میاشتو به وې.

د هغې په خبره حیرت مې لا زیات شو، نه ښکاریده چې د پنځه شپږ میاشتو ماشوم اوسیږی نس یې بیحد کوچني وو، بغیر د نور څه ویلو مې سونوګرافې پیل کړل خو جنسیت صحیح نه ښکارېده، دومره راته ښکاریدل او پوهېدم چې جنین بیحد کمزوري دې او جنۍ هم بیحد کم خونه وه او جنین ماشوم په زوره ژوندي پاتی، دا ټول خبري مي خواښې ته وکړل او ورته ومې ویل: صحیح وساتي کنه امکان لرې ماشوم د زیات کمزورتیا څخه ضایع او نقصان شې.
خو هغه بوډې ښځې بغیر له دې چې زما خبرو ته کوم غوږ ونیسې یوازی ویل یې ماشوم هلک دی؟ ماشوم هلک دی؟ دومره یې وویل چې زه غوسه شوم او په ټُنده لهجه مې ورته وویل: نه معلومیږی.

جنۍ مې د ډاکتر سپیدي خواته ویوړل ترڅو یو نظر وربانڍی واچوي، ډاکټر سپیده چې دا نیم ساعت بغیر د څه ویلو زموږ خواته راکتل، جنۍ معاینه کړل او نسخه یې د خواښې خواته ونیول ترڅو دوا راوړې، خواښې غوښتل جنۍ هم لځان سره ویسي خو ما وویل دوا راوړه ترڅو موږ وګور صحیح ده او کنه بیا انکور مو ویسي، زما په خبری بوډې ښځې په تروش تندی سر وښوراوه او د کوټې څخه ووتل، ما خپل د چوکۍ خواته اشاره وکړل او جنۍ ته مې وویل: ګرانۍ ترڅو چې خواښې دې راځې هلته کینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خپل بیا د ډاکټري خواته ورغلم ترڅو راته ووایې چې جنۍ خو کوم بل خاص ستونزه نلرې؟

ډاکټر سپیده- جنۍ او ماشوم بیحد کمزوري دي او باید ووایم چې ماشوم د مور نس کې سوءتغذیه شوي، یو څاڅکي وینه د مور په رګونو کې نشته او بېحد زیات امکان لري که مور سم تقویت نشي ماشوم د نهه میاشتو مخکې بې وخت نړۍ ته راشي، او هو لږ میکروب هم لرې او دا دردونه یې د میکرول له سبب دې.

مورې دواړه همدې خبرو کې وو چې د درد څخه ډک یو اواز مې تر غوږ شو چې ورو، ورو یې زمزمه کول:

غږ مې حرام دې مخ مې کافر دې.
وطن دوزخ دې او ملا رهبر دې.
ادکي موري اوربل مې پټ کړه.
ایمان لړزېږي دین ته خطر دې.

په حیرت مې شاته وکتل چې ګورم همغه وړه جنۍ دغه زمزمه کوې او خپل په نس لاس تېره وې، لکه دا زمزمه چې خپل ماشوم ته کول؟ زما د نظر په لېدو هغې په ژړغوني غږ وویل: ډاکټر صاییبې که ماشوم جنۍ وې ته وخدای داسې دوا راکړې چې نس کې مې مړه شې او دې بدبختۍ نړۍ ته رانشې، ترڅو زما پشان بدبخت شې ...

***

لګیا وم د وریژو لیاره مې رومي مېده کول خو ټول فکر او ذکر مې د یو ساعت مخکې صحنو او خبرو کې وو، هغه کوچنې جنۍ مې یاد ته راتلل د هغې خبرې د هغې هغه دردونکي زمزمه، د هغې اوښکې او نامیدې، هغې راته په یوه دقه کې خپل د ژوند غمجن او دردونکي انځور په څو لفظونو کې بیان کړو. ویل یې مور مې مړه شول پلار مې بله ښځه وکړل او زه یې خپل د نوي ښځې ورور ته چې د لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې ځخه یې نارینه هلک نه کېدو په ۹ لک افغانۍ ورکړم، هغوي راباندي ډېر ظلم کوي، او دا مې د واده اتمه میاشته ده چې ماشوم لرم او خواښې مې راته ویلې که جنۍ دې راوړل له کور دې شړو او د پلار ځخه دې هم خپل پیسې اخلو.

هغې ویل زما مېړه طالب نه دې او د طالبانو په راتګ یو کلاشنکوف یې راخیستي او ځان طالب، طالب کوی. د هغې دا خبره بغیر د اګر او مګر ځخه زړه ته و ولیده، ما دا درې کالو کې طالبان څه ناڅه لېدلې وه او پوهېدم چې څنګه اخلاق او رفتار لرې، منم چې هغوي تند مزاج او بد اخلاق به و اوسیږی خو داسي بیغرت او داسي سپین سترګي هېڅکله نه شې کېدلې چی یو زنانه ځای ته ننوځې او یو جنۍ وګواښه وی!

ما د انسټویټ بند کولو په ورځ هغوي لیدلې وه چې ځېنې انجونو هغوي ته مخامخ ښیراوي کول، بد رد یې ویل او هغوي په ځواب کې یوازی  سرونه ښکته اچولی وه او ویل یې خویندو خدی مهربان دی. اوس مې سر خلاص شو چې ولې هغه بوډۍ ښځه د کاکا په ګواښه ولو تر هغه حده و وېرېدله! لکه چې کاکا پوي شوي وو چې هغه سړی طالب نه دې؟ نو ځکه داسی و ګواښه ول؟
اصلاً هغه جنۍ د څه لپاره هغه غمجن بیتونه لځان سره ویل؟ دومره غمجن چې

تراوسه زما دماغو کې انګازی کول"
غړ مې حرام دې مخ مې کافر دې.
وطن دوزخ دې او ملا رهبر دې.
ادکي موړې اوربل مې پټ کړه.
ایمان لړزېږي دین ته خطر دې."

د دې بیتونو زیات مقصد طالبانو ته وو؟ نو هغې خو ویل زما خاوند طالب نه دې او هسې د طالبانو چلونه کوې؟ نو ولې بیا هغې له طالبانو ځخه دومره بد راتلل؟ ذهن کې مې یو وخت کې زر رقم سوچونه راغلل، شاید دې درس ویلو او ځکه چې طالبانوورباندې ښوونځي بند کړو نو د دې پلار به دا دغه سړي ته ورکړی وې نو ځکه یې بد راتلل د هغوي ځخه؟ بیا مې ویل شاید په دې خاطر یې بد راځې چې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند يې خپل په ليكه کې نيولې؟ خو خلاصه دومره عجيب غريب فكرونه مې ذهن ته راغلل چې بيخی د كور د دروازی د خلاصيدو او د فاتح راتګ ته مې پام نشو.

کله چې ناڅاپه د شالخوا هغه خپل غیږې خواته کش کړم نو د وېرې څخه مې چغه له خولې ووت خو ډېر ژر د هغه د عطر په بوي چې زما د پوزی لاندی وپېچل شو نو بغير د كوم مقاومت څخه لا مې خپل ځان د هغه غيږ کې ځاې پر ځای کړو چې فاتح په خندانه لهجه زما د غوږ څنګ ته وويل: په كوم فكرونه کې ډوبه وې زما ښکلۍ ملکې؟

د هغه په خندانه او خوشحاله لهجه زما پر شونډو هم مسكا راغله او په شيطنت مې وويل: لګيا يم غوښه درته پخه وم، فكر مه كوه چې خبره نه يم هغه ورځ تللې وې اوخپل مور ته دې درې منه اوښکي توې كړې وه چې زما ښځه راته وريژي او غوښه نه شې پخه ولې!

زما په خبرې هغه په تلوار زما مخ خپل و خواته وګرځو او په حيرانه لهجه يې وپوښتل: کله؟ كوم وخت؟ پخدای كه ما داسې خبره کړې وې.
د هغه د داسې انديښمن لهجې په اورېدو مې په شيطنت وخندل، چې هغه زما خندانه څهرې ته پام شو او پوې شو چې ټوكې مې ورسره وکړل نو وريځې پورته کړل او ويې ويل: زما سره شيطنت كوې ميرمنې؟
د هغه په دې خبره مې لا په لوړ غږ وخندل چې هغه وويل: ګوره زما سره شيطنت كول اخر ښه پايله نلرې.

زړه مې غوښت ورسره شيطنت وکړم نو ځكه په ناز مې وويل: كه وکړم بيا؟
زما په خبري هغه نور هم د ځانته خواته نږدې کړم او زما پشان په شيطانه لهجه يې وويل: هغه وخت نو د ډوډۍ لځايه به تا وخورم چې نور داسې شيطنت ونكړې.
كرار مې په سينه وواهه او ومې ويل: بې شرم، ته له كوم وخت څخه داسې سپين سترګې شوې يې؟ همدا څلور مياشتې مخكې زما خواته دې كتل لا نه او اوس خبرو ته دې ګوره؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبرو هغه په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: مه یې رایاده وه چې تراوسه مې زړه درد کوي.
– ولې؟

فاتح- اخ یوازې کور ته مې ویوړلې هغه هم یو وار نه بلکې دوه واره! نه کوم څوک وو؟ نه کوم نامحرمه وي راته، نه کوم بل خاص ستونزه وه او ما د دې لځایه چې دا انارې شونډې دې ښکل کړم ناست وم جنګ مې درسره کاوه! زه څومره بیعقل وم.
د هغه په دې خبره هم د شرم تکه سره شوم او هم مې خندا راغله، چې هغه ناڅاپه ښکل کړم، دومره ناڅاپه چې بې اختیاره مې "وې" کړل او فاتح په لوړ غږ وخندل، د هغه خندا ته مې وکتل او دې خبرې ته مې فکر وکړو چې که چیرته خدای نکرده زه د هغه جنۍ په شرایطو کې وایې ما څه کول؟ خپل ځواب مې خپله ځانته ورکړو ما بغیر له کوم شک او تردید څخه ځان واژه!

اوس پوهه شوم چې ولې ټول ماته وایې نازولې؟ زه وم نازولې ما ټول عمر کې یو منت نه وو خوړلې یو کلک خبره مې نه وه اوریدلې هر وخت هر فرمایش مې چې کړې وو پر ځاي شوي وو، که هغه مې پر پلار کړې و که په ورونو یا که په فاتح!
فاتح خو بیچاره لاس په نامه ولاړ وو چې زه یو شې ووایم او هغه په سترګو راته ووایې، زړه مې غوښت هغه جنۍ سره مرسته وکړم د هغې شرایط راته خپل د هغه منفي وختونه یادونه کول او د زړه له کومې مې غوښتل ورسره مرسته وکړم په هر ډول چې کیږي، هغه ماشومه وه او هغې ماشومې بل ماشوم درلود!

دا نړۍ څومره ظالمانه ده یو پلار څنګ دومره لوي ظلم خپل د لور خپل د زړه د ټوټې په حق کې کولې شې؟ په همدې ګډوډ فکرونو کې مې ډوډۍ تیاره کړل سرخان مې هوار کړو او پتمه شوم ترڅو فاتح خپل د ماښام مونځ خلاص کړې کله چې سلام یې وګرځه وو او لاسونه یې دعا ته پورته کړل نو بې اختیاره مې ورته وویل: یو چا حق کې دعا کوې که درته ووایم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبره فاتح راوکتل او په کراره يې پوښتنه وکړل د چا؟ او ما ورته د هغه جنۍ يادونه وکړه فاتح بغير د بل خبرې کولو سر وښوراوه، د دعا کولو وروسته جای نماز يې راټول کړو او زما خواته راغلو زه د هغه مخامخ ناسته وم چې هغه په تروش تندی وویل: دا يواځې منزل مې د دې لپاره واخيست چې د ډوډۍ خوړلو وخت کې زما څنګ ته کينې نه زما څخه لرې.

بغير د څه ويلو په مسکا باندی پاڅيدم او څنګ ته يې کښېناستم، فاتح داسې حال کې چې يوه ګوله خپل خوړل او يوه ګوله يې ماته راکول خبرو، خبرو کې د هغه جنۍ او هغه سړی او د کاکا او خلاصه د نن ورځې زما د ټول کړې کارونو معلومات راڅخه واخيست کله چې د جنۍ او د هغې په نس د ماشوم خبره مې ورته وکړل، نو تندی تروش کړو او کرار يې وویل: موږ دې نړۍ کې د ټولو ژوند نشو سم کولې هر کس خپل د ژوند مسئول دي، ته د هغه جنۍ حق کې د دعا کولو بغير نور هېڅ کار نشې کولې.

– خو د هغې حق کې بې انصافي روانه ده.
فاتح- هـــې! زما خوږې دا نړۍ بيا چيرته با انصافه او مهربانه ده؟ د دې جنۍ په حال به شکر وباسي حدقل دومره کس خو لرې چې تر يو ډاکتره يې ورسوي او که نه وي خپل د ماشوم راوړلو لپاره يو دوا خو ورباندی وکړي. تا جامعه نه ده لېدلې نه يې خبره بيرون له دې کور څخه څه خبري روانې دې؟ خلک خپل ماشومان سر عام خرڅه وي ديوه ګوله ډوډۍ لپاره، ځوانې انجونې د يو ګوله ډوډۍ لپاره د سهار څخه تر بيګا په سړکونو باندې هګې او قلمونه خرڅه وي، دا نړۍ هېڅ ځاې با انصافه نه ده چې ته واې د دې جنۍ په حق کې بې انصافې شوي.

د فاتح په خبرو په زړه کې مې وېره خپره شوه او ځان مې د هغه خواته نږدې کړو، هغه هم پوي شو نو ځکه خپل غښتلې لاسونه يې زما شاوخوا راچاپير کړل او داسې حال کې چې زما د سر ويښتيان يې ښکل کول کرار يې وویل: ترڅو چې زه ژوندې يم د هېڅ شې څخه مه وېرېږه بلقيس!

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې بغير د څه ويلو د هغه غيږ کې وم او د هغه جنۍ په ياد راوړلو مې سترګې د اوښکو څخه نمجني کول چې د فاتح کرار غږ مې واوريده چې ويې ويل:

د غاړې تاويزونه کومې څاه ته واچوه
دا ټولې انديښنې او ګيلې شاته واچوه

اتڼ ته ورته مخکې شه، دا مړۀ زړونه ژوندي کړه
اوږده اوږده لاسونه دې دريا ته واچوه

ما ولې د يوسف غوندې په نۀ جرم رانيسې
عزيزه! ځنځيرونه ژُليخا ته واچوه

تۀ وخانده چې څنګه د تقوا پولې نړېږي
اورونه په دې سپينه خولۀ دنيا ته واچوه

راځه چې نن د زړۀ حال له يو بل سره شريک کړو
دا نورې کيسې ټولې يوې خوا ته واچوه

تقدير چې څۀ کوي "جانانه" بس هغه به کېږي
د غم پاڼې ټوټه ټوټه هوا ته واچوه ...

په خندا مې مخ وروګرځه وو چې هغه په شيطانه لهجه وويل: امممم شاعر نه وم
چې هغه هم ستا د مينې په خاطر شوم نور نو څه غواړې خوږې؟
په خندا مې وويل:

هر چه به جز خيالِ او
قصد حريمِ دل کند

در نگشايمش به رو
از درِ دل، برانم

(c) ketabton.com: The Digital Library

#مولانا

فاتح- امممم مطلب پښتو شعرونه ګوزاره نکوي او باید فارسي هم زده کړم؟
بیا یې کرار وخندل او داسې حال کې چې زه یې خپل غیږه کې کلک نیولم ویې ویل: زموږ خلک یو لفظ کوي وایې: دومره چې پر لیلا ولاړل دا یې دې د لیلا پر بنګړو لاړشي، نو ما چې دومره صبر تاته وکړو یو څه به ستا د خوښې اشعارو په زده کولو کې وکړم، هسې ګوره زه هم د فرهاد څخه په کمه نه یم که هغه خپل د مینې په خاطر غر کیندې شي نو زه خو به د اوبو څښلو پشان دا فارسي شعرونه زده کړم.

د هغه په دی خبرو په لوړ غږ مې وخندل او ومې ویل: هو، هو ته یې کولې شې.
د دې څخه مخکې چې پرخود شم د هغه شونډې زما پر تندی ولګیدل او په خمار لهجه وویل: شک مه کوه چې کولې شم، مګر هغه مشهور خبره دې نه دې اورېدلې چې وایي: د هر کامیاب نارینه د کامیابي شاته د یو ښځي شتون دې، نو ستا شتون که اوسیږي شاعري خو کوم عدد نه دې زما د زړه سره، زه به ستا په شتون کې د نړۍ هر ناممکن کار ممکن کړم، ته یوازي راسره څنګ کې اوسیږي بلقیس او تماشا کوه ...!

زما غږ حرام حرام ناول پای.
لیکوال: خواجه زی.

د داسي نور ښایسته ناولونو د ویلو لپاره زموږ د ټلګرام چینل ته راشي دا هم زموږ د چینل لینک: https://t.me/pashtoonovels0
دا هم زما شخصی ایډی: @shuhab09
او دا هم زموږ د یوتیوب چینل لینک دلته غږیز ناولونه نشر کو..
چینل لینک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09
دا هم د مدیر د جمیل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com
دا هم د خواجه زی صیب د فسبوک ایډی:
https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما کتابونه اوس تاسو د کتابتون څخه هم ترلاسه کولې شې ملګرو.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library